د عُلماو، طُلباو، مُقرِرینو او عامو مسلمانانو لپاره په مختلفو موضوعاتو باندې

د تقریرونو یوه مُفصله، مُعتمده، علمي او تحقیقي ذخیره!

# اِصلاحي

# مُدلّل تقریرونه

پنځم جلد


تألیف: ابو الشمس مولانا نور الهدیٰ عفی عنه

مُدرِس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی، مردان



زیر اهتمام

کفایت الله ارماني

0344-9995990

مکتبهٔ اعزازیّه محله جنګی پشاور

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797

📚 کفایت دینی کتب خانه 📚
په دی چینل کی دټلیگرام کتابونه نشرکیږی
دحنفی مذهب په رڼاکی
لکه تفاسیر شریف
اوفقه شریفه
اوفتاوی؟
د درجوں کتابونه
اوداسی نور کتابونه لکه.
صرف اونحو
اومنطق
اوعقائد
نوهیله لرم چی دالینک دثواب په خاطر نشر کڑی
https://t.me/kafayat2395

کفایت الله واٹس ایپ نمبر 03052488551

د دا کتاب pdf کول خاص د الله تعالیٰ د رضا د پاره دی

د ټولو لوستونکو او فایده اخستونکو
د دعا په هیله

دَ قرآن کریم، نبوي احادیثو او د امت د اَسلافو د قیمتي اقوالو، اِصلاحي نصیحتونو، عِلمي لطائِفو او د عِبرت نه ډَک زړه راښکونکو مُعتمدو واقعاتو په رڼا کښې د معاشرې د اِصلاح، خَوفِ خُدا، د حقوق الله او حقوق العبادو اَهمیت او د دارینو د سَعادت او نیک بختئ په باره کښې د علماو، طلباو، مُقرِرینو او عامو مسلمانانو د پاره یوه مفصَلَه مُعتَمَده عِلمي او تحقیقي ذَخِیره:

# اِصلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِیْرُوْنه

جلد ۵

تالیف

اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د كتاب نوم : اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه جلد ۵

مؤلف : اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونى مردان
فون نمبر ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

كمپوزر : مؤلف پخپله

د چاپ كال : ۱٤۳۸هـ ق ، ۱۳۹٦هـ ش، مطابق ۲۰۱۷ ء

نوټ : د كتاب ټول حقوق د مكتبه اعزازيه سره محفوظ دي

مكتبه اعزازيه
محله جنگي پشاور

زير اهتمام
كفايت الله ارماني
۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

# سریزه ( د پنځم جلد )

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ . اَمَّابَعْدُ!

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ . د ډیرو عِلمي کوششونو او شَب و رُوز د مِحنت په نتیجه کې د الله جل جلاله په فضل و کرم سره د " اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنَه " کتاب پنځم جلد هم ستاسو په لاس کې دی.

اګر چې ددې کتاب شائقینو د دې د پاره ډیر اِنتظار وکړو ، خو چونکه د صبر میوه خوږه وي ، اُمید شته چې ددې پنځم جلد په کتلو سره به د دوی سترګې یَخې شي ، او عِلمي تَنده به یې پرې ماته شي.

که د الله ﷻ توفیق شاملِ حال شو ، او ژوند و صِحت وَفاء وکړه نو اِن شاء الله د **شپږم جلد** لیکلو په طرف به هم قدم پورته کوم چې هغه هم د قلم د څوکې نه اُوباسم ، ددې د پاره چې کومو ملګرو رانه په څو مخصوصو موضوع ګانو باندې د لیکلو مطالبه کړې وه چې د هغوی دې آرزوګانو ته هم عَملي جامه وَر واغوندم.

که تاسو د خپلو مقبولو دُعاګانو په لړه کې زه هم شامل کړم ، او د بعضې راغلي اِمتحاناتو نه اُووتم نو قوي اُمید دی چې د شپږم جِلد دا اُوږده مرحله به په آسانه پاس کړم ، او څه لږ وخت پس به هغه جِلد هم د مُدللو تحقیقي او اِصلاحي موضوعَګانو سره د خِطابت دې عِلمي میدان ته رااُووځي.

الله تعالی دې دا کتاب هم د مخکیني کتابونو په شان مقبول او د معاشرې د اِصلاح سبب اُوګرځوي . آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

ستاسو د دُعاګو اُمید وار :

**ابوالشمس نُورالهدیٰ عفی عنه**

# اعتذار

چې کله د يو جِلد په ليکلو شروع وکړم نو دا مې اِراده وي چې داخل به په دې کتاب کې ډيرو موضوع ګانو ته ځای ورکوم ، خو چونکه طبعيت مې داسې جوړ شوی چې کله يوه موضوع روانه کړم نو تر هاغه وخته پورې مې پوره تسلي نه کيږي چې تر څو پورې مې ددې موضوع هر اَړخ ( يعنی ددې اَهميت، فضائل ، فوائد او ضروري فِقهي مسائل ) نه وي واضح کړي ، نو ددې په وجه دا موضوع ډيره اُوږده شي .

خو بيا هم هرې موضوع ته داسې ترتيب ورکړې شوی چې مُقررين حضرات کولې شي دا يوه موضوع په مختلفو جُمعو کې بيان کړي .

اُميد دی چې په دې خبره کې به مې معذور اوګڼئ . اګر چې دا اَنداز د ډيرو علماؤ او مقرّرينو خوَښ دی او په ډيرو اَهمو فوائدو او نُکتو باندې مشتمل دی . « وَلِلنَّاسِ فِيمَا يَعْشِقُوْنَ مَذَاهِبُ »

ابوالشمس عفي عنه

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيد مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولې شئ.

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# اجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه ( د پنځم جلد ) | ت |
| ۲. | ۱. د قرآن کريم د تلاوت کولو فضائِل او فوائد | ۱ |
| ۳. | ۲. د حافِظانو اود قرآن کريم سره د تعلق لرونکوخلقو مقام | ۸۹ |
| ۴. | ۳. د قرآن کريم اِعجاز | ۱۲۷ |
| ۵. | ٤. قرآن کريم يو اِنقلابي او مُؤثِر کتاب دى | ۱۷۹ |
| ٦, | ۵. د قرآن کريم د تعظيم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي ورکوي | ۲۲۵ |
| ۷. | د قرآن کريم موضوع متعلق نور معتمَد واقعات: | ۲٦۰ |
| ۸. | د قرآن کريم د مختلفو موضوعاتو متعلق يو څو ضروري فِقهي مسائل<br>اووه اَويا ( ۷۷ ) ضروري مسائل | ۲۷۲ |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# تفصيلي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱. | سريزه ( د پنځم جلد ) | الف |
| | **۱. د قرآن کریم د تلاوت کولو فضائل او فوائد** | ۱ |
| ۲. | د قرآن کريم عظمت | ۳ |
| ۳. | قرآن کريم د الله تعالى حقيقي صفت دى | ۳ |
| ۴. | قرآن کريم د الله ﷻ خبرې دي | ۳ |
| ۵. | قرآن کريم ته په نورو ټولو کلامونو باندې فضيلت حاصل دی | ۵ |
| ۶. | تلاوت کول ګويا د الله ﷻ سره خبرې کول دي | ۶ |
| ۷. | د قرآن کريم سره تعلق سَراسر عبادت دی | ۶ |
| ۸. | د قرآن کريم د تلاوت کولو فضائل او فوائد | ۷ |
| ۹. | قرآن کريم به د قيامت په ورځ د اِنسان شفاعت کوي | ۷ |
| ۱۰. | د سورة المُلک شفاعت کول | ۹ |
| ۱۱. | د قرآن کريم د هر حرف په عِوض کې نيکۍ ملاويدل | ۱۱ |
| ۱۲. | په تلاوت کوونکو باندې سَکينه او رَحمتونه نازليږي ... | ۱۳ |
| ۱۳. | په تلاوت کولو سره د زړه نه د ګناهونو زَنګ صفا کيږي | ۱۵ |
| ۱۴. | قرآن کريم د هر قِسمه روحاني او جسماني مرضونو د پاره شِفاء ده | ۱۶ |
| ۱۵. | د دَم او تعويز حکم : | ۱۷ |
| ۱۶. | سورة فاتحه شِفاء ده | ۱۸ |
| ۱۷. | مار چيچلې په سورة فاتحه دَمولو سره ښه کيدل | ۱۹ |
| ۱۸. | په دَم باندې د اُجرت اخيستلو شرط لږول | ۲۰ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹. | د سورة فاتحې په دَمولو سره ليونې ښه کيدل | ۲۲ |
| ۲۱. | د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ په برکت سره د سَر درد ختميدل | ۲۳ |
| ۲۲. | د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ په ويلو سره د زَهرو اَثر ختميدل | ۲۴ |
| ۲۳. | د آية الكرسي ويلو په وجه د شيطان او نورو آفتونو نه حفاظت | ۲۴ |
| ۲۴. | د تلاوت کولو په وجه د انسان حفاظت | ۲۸ |
| ۲۵. | د قرآن کريم په ذريعه د هر قِسمه فِتنو نه بچ کيدل | ۲۹ |
| ۲۶. | د قرآن کريم د اَوريدو د پاره د فرښتو شوق، او راښکته کيدل | ۳۲ |
| ۲۷. | د قرآن کريم د تلاوت په وجه د الله ﷻ محبوب جوړيدل | ۳۵ |
| ۲۸. | د امام احمد بن حنبل رحمه الله په خُوب کې د الله ﷻ سره ملاقات | ۳۷ |
| ۲۹. | قرآن کريم د الله تعالى مضبوطه رسۍ ده | ۳۸ |
| ۳۰. | د تلاوت کولو په وجه د انسان اِيمان قوي کيږي او زياتيږي | ۳۹ |
| ۳۱. | د تلاوت کولو په وجه زړه نرميږي | ۴۰ |
| ۳۲. | د قرآن کريم تلاوت کوونکو او خُودونکو د پاره د فرښتو اِستغفار | ۴۱ |
| ۳۳. | د تلاوت کولو په وجه غونډ کور مُنوّر کيدل | ۴۱ |
| ۳۴. | قرآن کريم د انسان د پاره نُور دی | ۴۲ |
| ۳۵. | د قرآن کريم په لوستلو سره يو نُور پيدا کيدل | ۴۳ |
| ۳۶. | د قرآن مجيد تلاوت کول د صدقې ورکولو برابر دي | ۴۳ |
| ۳۷. | د تلاوت کولو په وجه مغفرت | ۴۴ |
| ۳۸. | د قرآن کريم په ذريعه د عذابِ قبر نه حفاظت | ۴۵ |
| ۳۹. | د خُوي په بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ويلو سره د پلار نه عذابِ قبر ختميدل | ۴۶ |
| ۴۰. | د کور په دروازه باندې د بسم الله ... ليکلو په وجه فرعون ته مهلت ورکول | ۴۸ |
| ۴۱. | د قرآن کريم لوستونکې به د قيامت د ورځې د سختۍ نه محفوظ وي | ۴۹ |
| ۴۲. | حافظِ قرآن به د قيامت د ورځې د سختۍ نه په اَمن وي | ۵۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۳. | د قرآن کریم په ذریعه د جهنم د اور نه نجات | ۵۲ |
| ۴۴. | په قرآن کریم سره په جنت کې درجې اوچتیدل | ۵۳ |
| ۴۵. | د تلاوت کوونکي مثال په شان د خُوشبوداره میوې دی | ۵۴ |
| ۴۶. | د تلاوت کوونکي مثال په شان د مُشکو د تېلی دی | ۵۵ |
| ۴۷. | د تلاوت آوریدلو ثواب | ۵۷ |
| ۴۸. | تلاوت آوریدونکي ډَلې سره د نبي علیه السلام کیناستل | ۵۹ |
| ۴۹. | د یو آیت زده کول د سلو (۱۰۰) رکعتو نفلو نه زیات ثواب لري | ٦۱ |
| ۵۰. | د قرآن کریم آیتونه زده کول د بهترینو اوښو حاصلولو نه ډیر بهتر دي | ٦۳ |
| ۵۱. | د قرآن کریم اَدب کول | ٦۴ |
| ۵۲. | قرآن کریم په خُوش آوازۍ او تجوید سره لوستل په کار دي | ٦۵ |
| ۵۳. | ضروري تَنبیه : | ٦۷ |
| ۵۴. | د خوش آوازۍ مِعیار | ٦۷ |
| ۵۵. | د قرآن کریم د تلاوت کولو په وجه ژړل ثابِت او مستحب دي | ٦۸ |
| ۵٦. | په خُشوع او تدبّر سره تلاوت کول | ۷۱ |
| ۵۷. | په مانځه کې د تلاوت کولو ثواب زیات دی | ۷۲ |
| ۵۷. | په قرآن مجید کې تلاوت کول د یادو تلاوت کولو نه افضل دي | ۷۳ |
| ۵۸. | د بعضې علماؤ قول | ۷۵ |
| ۵۹. | تطبیق : | ۷٦ |
| ٦۰. | د قرآن کریم تلاوت په کار دی ګني دا د سړي نه هیریږي | ۷٦ |
| ٦۱. | د قرآن کریم هیروُونکي سَزا | ۷۷ |
| ٦۲. | د قرآن کریم د هیرولو مطلب او معنی | ۷۸ |
| ٦۳. | د ګناهونو په وجه د قرآن کریم هیریدل | ۷۸ |
| ٦۴. | په قرآن کریم باندې عَمل کول | ۸۰ |
| ٦۵. | د ختمِ قرآن په مجلس کې شِرکت کول مستحب دي | ۸۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ٦٦. | د ختمِ قرآن په وخت دُعاګانې قبليږي | ٨٢ |
| ٦٧. | د ختمِ قرآن په وخت رحمتونه نازليږي | ٨٣ |
| ٦٨. | د قرآنْ کريم ختموونکي د پاره د فرښتو دُعا | ٨۴ |
| ٦٩. | د قرآن ختموونکي په دُعا باندې فرښتې " آمين " وايي | ٨٥ |
| ٧٠. | د تلاوت کولو اِجمالاً درويشت (٢٣) آداب | ٨٥ |
| ٧١. | اِختِتامي خبره | ٨٨ |
| ٧٢. | دُعا | ٨٨ |
| | **٢. د حافِظانو اود قرآن کريم سره د تعلق لرونکوخلقو مقام** | ٨٩ |
| ٧٣. | د حافظانو او د قرآن سره د تعلق لرونکو خلقو مقام | ٩٠ |
| ٧۴. | د قرآن سره تعلق لرونکي د نه هلاکيدونکي تِجارت اُميد لري | ٩١ |
| ٧٥. | د قرآن کريم سره تعلق لرونکي خلق اَهلُ الله او د الله ﷻ خاص بندګان دي | ٩٢ |
| ٧٥. | په خلقو کې بهترين کس د قرآن کريم زده کوونکې او بل ته خودونکېَ دی | ٩٣ |
| ٧٦. | د بِهتروالي وجه | ٩۴ |
| ٧٧. | په دې اُمت کې ډير شريف خلق د قرآن کريم حافظان دي | ٩٦ |
| ٧٨. | د حافظِ قرآن تعظيم کول | ٩٦ |
| ٧٩. | د حافظِ قرآن د تعظيم په وجه په قبر کې جِسم محفوظ کيدل | ٩٨ |
| ٨٠. | د حافظانو سپکاوې کوونکې کس منافق دی | ٩٨ |
| ٨١. | په اِمامت او نورو ځايونو کې حافظِ قرآن ته ترجيح ورکول | ١٠٠ |
| ٨٢. | د حافظِ قرآن او تلاوت کوونکي سره غِبطه (رَشک) کول | ١٠١ |
| ٨٣. | د حديث تشريح | ١٠٢ |
| ٨۴. | د قرآن کريم ماهِر به د مُعززو فرښتو سره وي | ١٠۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۵. | د حديث تشريح : | ۱۰۴ |
| ۸۶. | حافظ قرآن به د نزدې رِشته دارو لسو کسانو شفاعت کوي | ۱۰۶ |
| ۸۷. | د حافظِ قرآن والدينو ته د قيامت په ورځ تاج پُوشي | ۱۰۷ |
| ۸۸. | د حافظِ قرآن والدينو ته د قيامت په ورځ قيمتي جوړې اغوستل | ۱۰۸ |
| ۸۹. | د حافظِ قرآن د پاره د آيتونو لوستلو په مِقدار په جنت کې درجې اُوچتيدل | ۱۰۹ |
| ۹۰. | د قرآن زده کوونکي او خودونکي ته د جنت ضمانت | ۱۱۰ |
| ۹۱. | د قرآن کريم حافظان به د جنت عُرفاء (رئيسان) وي | ۱۱۱ |
| ۹۲. | په قرآن کريم باندې مَشغوله کس ته د نورو په نسبت ډير نعمتونه ورکول | ۱۱۱ |
| ۹۳. | د قرآن کريم لوستونکې د نُبوت علومو لره جَمع کوونکې دی | ۱۱۲ |
| ۹۴. | نبي عليه السلام د تلاوت کوونکي خُله بُکل (چَپ) کړه | ۱۱۳ |
| ۹۵. | د قرآن کريم لوستونکې به اَرزَلُ العُمر ته نه رسي | ۱۱۳ |
| ۹۶. | د قرآن کريم حافِظ مُستجاب الدّعوات وي | ۱۱۵ |
| ۹۷. | د قرآن کريم د زده کړې په وخت وفات کيدل د شهادت مرګ دی | ۱۱۵ |
| ۹۸. | چاته چې قرآن ورکړې شو نو ده بهترين نِعمت ورکړې شو | ۱۱۶ |
| ۹۹. | قرآن کريم د دواړو جهانو عظيم دَولت دی | ۱۱۷ |
| ۱۰۰ | واقعه : | ۱۱۸ |
| ۱۰۱ | ماشوم ته د ټولو نه مخکې قرآني تعليم خُودل په کار دي | ۱۱۹ |
| ۱۰۲ | د قرآن کريم د زده کړې د پاره د صحابه کرامو تکليفونه بَرداشت کول | ۱۲۰ |
| ۱۰۳ | د قرآن کريم زده کړه او دَرس خالِصه د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی | ۱۲۲ |
| ۱۰۴ | دُعا | ۱۲۶ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| | **۳: د قرآن كريم اِعجاز** | ۱۲۷ |
| ۱۰۵ | د قرآن كريم اِعجاز | ۱۲۸ |
| ۱۰۶ | دمُعجزې تعريف | ۱۲۸ |
| ۱۰۷ | د خَارِقُ العَادَة كارونو اَقسام | ۱۲۹ |
| ۱۰۸ | الله ﷻ هر پيغمبر ته د هغه وخت مناسب مُعجزه ورکړې | ۱۳۱ |
| ۱۰۹ | د نبي ﷺ په ټولو مُعجزو کې قرآن كريم غټه، واضِحه، او دائمي معجزه ده | ۱۳۳ |
| ۱۱۰ | قرآن كريم د حضرت عيسٰی د مُعجزې نه واضحه مُعجزه ده. | ۱۳۳ |
| ۱۱۱ | قرآن كريم د الله تعالٰی كلام دی | ۱۳۴ |
| ۱۱۲ | قرآن كريم د ژوند تيرولو قانون هم دی، او مُعجزه هم ده | ۱۳۵ |
| ۱۱۳ | قرآن كريم په هر اِعتبار سره مُعجز كتاب دی | ۱۳۶ |
| ۱۱۴ | د قرآن كريم د عُلومو، مسائلو او تفاسيرو څه اِنتهاء نشته | ۱۳۷ |
| ۱۱۵ | **د قرآن كريم د حفاظت ذِمه واري الله ﷻ په خپله اخيستې** | ۱۳۹ |
| ۱۱۶ | د قرآن كريم په محفوظ كيدو باندې د اَهلُ السّنة والجَماعة اِجماع | ۱۴۰ |
| ۱۱۷ | د قرآن كريم د حفاظت اَسباب | ۱۴۳ |
| ۱۱۸ | د قرآن كريم د حفاظت متعلق د مامون الرشيد د دَربار واقعه | ۱۴۴ |
| ۱۱۹ | د قرآن كريم په محفوظ كيدو باندې د جَرمني د يوې يونيورسټۍ اِقرار | ۱۴۷ |
| ۱۲۰ | قرآن كريم اوس هم په هماغه اَصلي حالت باندې محفوظ دی | ۱۴۸ |
| ۱۲۱ | **د قرآن كريم مقابله هيڅوک نشي كولی** | ۱۴۹ |
| ۱۲۲ | د شپږو مياشتو مسلسل كوشش باوجود ابن مقنع يو آيت هم جوړ نه كړې شو | ۱۵۲ |
| ۱۲۳ | د يو آيت په اَوريدو ابن مقنع خپل قلم مات كړو | ۱۵۴ |
| ۱۲۴ | مُسيلمه كذّاب هم د قرآن كريم په شان سورة جوړولو كې ناكامه شو | ۱۵۴ |
| ۱۲۵ | د قرآن كريم مقابله كوونكي كس خراب اَنجام | ۱۵۵ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۲۶ | د قرآن کريم په مُعجز والي باندې د " فيضي " اِقرار | ۱۵٦ |
| ۱۲۷ | د قرآن کريم په مُعجِز والي باندې د شاعرانو د اُستاذ اِقرار | ۱۵٦ |
| ۱۲۸ | د يو عيسائي پادري دُهوکه او رَسوا کيدل | ۱۵۸ |
| ۱۲۹ | د قرآن په اِعجاز باندې د يو اَمريکائي مُستشرِق "پروفيسر فنکل" اِقرار | ۱۵۹ |
| ۱۳۰ | د قرآن کريم په حقانيت باندې د يو عيسائي پَادري اِقرار | ۱٦۱ |
| ۱۳۱ | **د قرآن کريم په اَوريدلو کې عجيبه خوَند او لِذت دی** | ۱٦۳ |
| ۱۳۲ | د حضرت فاطمې رضي الله عنها د تلاوت او مانځه سره مينه | ۱٦۳ |
| ۱۳۳ | په غشي باندې د لږيدو باوجود تلاوت جاري ساتل | ۱٦۴ |
| ۱۳۴ | تَنبيه | ۱٦٦ |
| ۱۳۵ | په هر ځل تلاوت کولو سره انسان نوې لِذت محسوسوي | ۱٦٦ |
| ۱۳٦ | په هر دوَر کې د قرآن کريم عاشقان موجود دي | ۱٦۷ |
| ۱۳۷ | د اَسلافو د قرآن مجيد سره د عِشق واقعات : | ۱٦۷ |
| ۱۳۸ | **د قرآن مجيد حِفظ کول هم يوه مُعجزه ده** | ۱٦۹ |
| ۱۳۹ | **په لږ وخت کې د قرآن مجيد يادول** | ۱۷۱ |
| ۱۴۰ | مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله په يوه مياشت کې قرآن کريم ياد کړی | ۱۷۱ |
| ۱۴۱ | امام محمد رحمه الله په اُووه (۷) ورځو کې قرآن مجيد ياد کړی | ۱۷۲ |
| ۱۴۲ | هشام بن محمد بن کلبي په درې ورځو کې مکمل قرآن مجيد حفظ کړی | ۱۷۳ |
| ۱۴۳ | **په کم عُمرۍ کې قرآن مجيد يادول** | ۱۷۴ |
| ۱۴۴ | علامه ابن حجر د نهه کالو په عمر قرآن مجيد حفظ کړی | ۱۷۴ |
| ۱۴۵ | علامه ابن لبان د پنځو کالو په عمر قرآن مجيد حفظ کړی | ۱۷۴ |
| ۱۴٦ | د پنځو کالو په عمر قرآن مجيد حفظ کول | ۱۷۵ |
| ۱۴۷ | په پوخ عُمر کې قرآن مجيد يادول | ۱۷۵ |
| ۱۴۸ | د پنځه اَويا (۷۵) کالو په عُمر قرآن مجيد يادول | ۱۷۵ |

| صفحه | موضوع | نمبر شمار |
|---|---|---|
| ۱۷٦ | د نوي (۹۰) کالو په عُمر حفظ کول | ۱۴۹ |
| ۱۷٦ | زَنانه هم قرآن مجید حفظ کولې شي | ۱۵۰ |
| ۱۷٦ | د غیاث الدین خلجي په زمانه کې په شاهي محل کې زر خادماني حافظانې | ۱۵۱ |
| ۱۷۷ | د زُبیده خاتون سل (۱۰۰) وینځې حافظانې وې | ۱۵۲ |
| ۱۷۷ | د عَقلي قواعدو د نِکاه نه هم حفظ کول ضروري دي | ۱۵۳ |
| ۱۷۸ | قرآن کریم په هر اِعتبار سره بې مثاله کتاب دی | ۱۵۴ |
| ۱۷۸ | دُعا | ۱۵۵ |
| ۱۷۹ | ٤. قرآن کریم یو اِنقلابي او مُؤثِر کتاب دی | |
| ۱۸۰ | قرآن کریم یو اِنقلابي او مؤثر کتاب دی | ۱۵٦ |
| ۱۸۰ | د اِسلام نه مخکې او د اِسلام راوړو نه روستو د عربو حالت | ۱۵۷ |
| ۱۸۱ | صحابه کرامو د قرآن کریم په وجه په دُنیا کې اِنقلاب راوَست | ۱۵۸ |
| ۱۸۳ | د قرآن کریم د نزول نه مخکې د عربو جَهالت | ۱۵۹ |
| ۱۸۳ | کانړو ته خدای ویل | ۱٦۰ |
| ۱۸۵ | ژوندۍ لوراني خخول | ۱٦۱ |
| ۱۸۸ | د قرآن کریم په وجه تبدیلي | ۱٦۲ |
| ۱۸۸ | د یو مسلمان اَمانت داري | ۱٦۳ |
| ۱۹۰ | د قرآن کریم په برکت یو رُوحاني طاقت پیدا کیدل | ۱٦۴ |
| ۱۹۱ | د قرآن کریم په وجه زړونه نرمیږي | ۱٦۵ |
| ۱۹۲ | د قرآن کریم په اَوریدو سره د حضرت عمر رضي الله عنه حالت بدلیدل او بیا اسلام.. | ۱٦٦ |
| ۱۹۷ | د تلاوت په اَوریدو د حضرت جُبَیر بن مُطعِم رضي الله عنه اسلام راوړل | ۱٦۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۶۸ | د قرآن کریم په اَوریدو سره د سَعدبن مُعاذ ﷺ او اُسَید بن حُضیر ﷺ اِسلام راوړل | ۱۹۸ |
| ۱۶۹ | د قرآن کریم په اَوریدو سره د طفیل دوسي اِسلام راوړل | ۲۰۳ |
| ۱۷۰ | د یو سورة په لوستلو سره د لبید بن ربیعه ﷺ اِسلام راوړل | ۲۰۴ |
| ۱۷۱ | **د قرآن کریم تأثیر** | ۲۰۵ |
| ۱۷۲ | په اَمریکه کې د فِلم جوړوونکې کمپنۍ په مالِک باندې د قرآن کریم اَثر | ۲۰۵ |
| ۱۷۳ | د تلاوت په اَوریدو سره د فرانس د دمانو یو گروپ مسلمانیدل | ۲۰۶ |
| ۱۷۴ | د یو آیت په معنی باندې غوَر کولو سره د فرانس داکټر مسلمانیدل | ۲۰۷ |
| ۱۷۵ | په کمیونستانو باندې د تلاوت اَثر | ۲۱۰ |
| ۱۷۶ | د نبي علیه السلام عادتِ مبارکه | ۲۱۱ |
| ۱۷۷ | **د تلاوت په کولو یا اَوریدلو سره د اَسلافو حالت** | ۲۱۲ |
| ۱۷۸ | د تلاوت په اَوریدو د حضرت عُمر ﷺ حالت | ۲۱۲ |
| ۱۷۹ | د تلاوت په اَوریدو د اِمام شافعي رحمه الله بې هوشه کیدل | ۲۱۴ |
| ۱۸۰ | د تلاوت په اَوریدو د علي بن فضیل رحمه الله بې هوشه کیدل | ۲۱۴ |
| ۱۸۱ | د تلاوت په اَوریدو د حضرت شبلي رحمه الله حالت | ۲۱۵ |
| ۱۸۲ | د تلاوت په اَوریدو یو کس بې هوشه کیدل، او په دَریاب کې ډُوبیدل | ۲۱۵ |
| ۱۸۳ | د تلاوت په اَوریدو د ابوجریر رحمه الله بې هوشه کیدل او وفات کیدل | ۲۱۶ |
| ۱۸۴ | د تلاوت په کولو سره د حضرت زُرَارة بن اوفی بې هوشه کیدل او وفات کیدل | ۲۱۶ |
| ۱۸۵ | د تلاوت په اَوریدو سره د جِنّاتو وفات کیدل | ۲۱۷ |
| ۱۸۶ | د تلاوت په اَوریدو د فضیل بن عیاض رحمه الله د گناه نه توبه ویستل | ۲۱۷ |
| ۱۸۷ | د تلاوت په اَوریدو د ذوالنون مِصري رحمه الله د گناه نه توبه ویستل | ۲۱۸ |
| ۱۸۸ | د تلاوت په اَوریدو سره د حضرت حسن ﷺ حالت | ۲۱۸ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۹ | كافرانو به هم په پټه د قرآن كريم اَوريدلو ته غوږ نيولو | ۲۲۰ |
| ۱۹۰ | يو سوال او د هغې جواب | ۲۲۳ |
| ۱۹۲ | اعتراض : د قرآن كريم احكامات په دې زمانه كې نشي فِټ كيدى | ۲۲۳ |
| ۱۹۳ | جواب : | ۲۲۳ |
| ۱۹۴ | خلاصه : | ۲۲۴ |
| | **۵. د قرآن كريم د تعظيم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي وركوي** | ۲۲۵ |
| ۱۹۵ | د قرآن كريم د تعظيم او عمَل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي وركوي | ۲۲۶ |
| ۱۹۶ | قرآن كريم د هدايت كتاب دى | ۲۲۶ |
| ۱۹۷ | د قرآن كريم سره چې د څه شي واسطه راغلى الله ﷻ هغه ته لوي مقام وركړى | ۲۲۸ |
| ۱۹۸ | د قرآن كريم د تعظيم په وجه د قومونو ترقي | ۲۳۳ |
| ۱۹۹ | د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه | ۲۳۵ |
| ۲۰۰ | د قرآن كريم په وجه غلامانو ته هم لوي مقام حاصل شو | ۲۳۶ |
| ۲۰۱ | د قرآن كريم د تعظيم په وجه د سلطان محمودِ غزنوي مغفرت | ۲۳۹ |
| ۲۰۲ | د بسم الله د تعظيم په وجه د دواړو جهانو سعادت حاصليدل | ۲۴۰ |
| ۲۰۳ | د قرآن كريم د تعظيم په وجه عثمان او دده اَولاد ته په تركو كې سُلطنت عُثمانيه حاصليدل | ۲۴۱ |
| ۲۰۴ | د قرآن كريم د تعظيم په وجه د لوي حادثې نه بَچ كيدل | ۲۴۲ |
| ۲۰۵ | په قرآن كريم باندې عمل كول | ۲۴۴ |
| ۲۰۶ | نن صبا د مسلمانانو د ذِلت وجه د قرآن كريم نه لرې والې دى | ۲۴۵ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۷ | د قرآن کریم شکایت د هغه چا خلاف چې د دې حقوق يې نه وي اداء کړي | ۲۴٦ |
| ۲۰۸ | د نبي علیه السلام شکایت د هغه چا خلاف چې د قرآن کریم حقوق يې نه وي اَداء کړي | ۲۴۷ |
| ۲۰۹ | د قرآن کریم نه خالي زړه په شان د وران کور دی | ۲۴۸ |
| ۲۱۰ | **د قرآني آیتونو او اَحادیثو سپکاوې سخت خطرناک دی** | ۲۵۰ |
| ۲۱۱ | ۱. د آیت د اِستهزاء په وجه د سترګو اوبه او نظر ختمیدل | ۲۵۰ |
| ۲۱۲ | ۲. د اَحادیثو د اِستهزاء په وجه دواړه خپې اُوچیدل او شلیدل | ۲۵۱ |
| ۲۱۳ | ۳. همدغه شان بله واقعه | ۲۵۲ |
| ۲۱۴ | ۴. د حدیث د اِستهزاء په وجه د ذلت سزا | ۲۵۲ |
| ۲۱۵ | ۵. د مسواک د اِستهزاء په وجه د ذلت سزا | ۲۵۴ |
| ۲۱٦ | ٦. په حدیث کې د شک کوونکي کس اَنجام | ۲۵۵ |
| ۲۱۷ | د قرآن کریم مقام | ۲۵۷ |
| ۲۱۸ | دُعا | ۲۵۸ |
| ۲۱۹ | **د قرآن کریم موضوع متعلق نور معتمَد واقعات:** | ۲٦۰ |
| ۲۲۰ | د يوې ښځې د قرآن کریم سره شوق (چې هره خبره يې د آیت په ویلو سره کوله) | ۲٦۰ |
| ۲۲۱ | د حضرت خنساء رضي الله عنها په عربي ژبه کې مهارت | ۲٦۸ |
| | **د قرآن کریم د مختلفو موضوعاتو متعلق يو څو ضروري فِقهي مسائل** | ۲۷۲ |
| ۲۲۲ | د قرآن کریم زړې یا شلیدلې پاڼې خَخول یا په دَریاب کې اچول په کار دي | ۲۷۳ |
| ۲۲۳ | د قرآن کریم ضَعیفې پاڼې سوَزول ناجائز او بې اَدبي ده | ۲۷۳ |
| ۲۲۳ | د عربي مَتَن نه بغیر د ټول قرآن کریم ترجَمه شائع کول ناجائز ده | ۲۷۴ |
| ۲۲۴ | د تلاوت په شروع کې د اَعُوذ بِالله ویلو حکم | ۲۷۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۲۵ | په بربنډ سَر د تلاوت کولو حکم | ۲۷۷ |
| ۲۲۶ | د ډیر مَجبوریَت او بیماری په وجه په ملاسته هم تلاوت کول جائز دی | ۲۷۸ |
| ۲۲۷ | د تلاوت په وخت خُله پاکه ساتل په کار دي | ۲۷۸ |
| ۲۲۸ | د تلاوت په دَوران کې دُنیاوي خبرې ندي په کار | ۲۷۸ |
| ۲۲۹ | قرآن مجید په تجوید سره لوستل په کار دي | ۲۷۸ |
| ۲۳۰ | په تدبّر سره د تلاوت کولو ثواب زیات دی | ۲۷۹ |
| ۲۳۱ | په معنٰی باندې د نه پوهیدو باوجود هم تلاوت کول عبادت دی | ۲۸۰ |
| ۲۳۲ | د تلاوت په دَوران کې چې د نبي علیه السلام نوم مُبارک راشي د درود شریف ویلو حکم | ۲۸۱ |
| ۲۳۳ | بې اَودسه د قرآن مجید تلاوت کول جائز دي، خو لاس به نه وَروړي | ۲۸۲ |
| ۲۳۴ | د قرآن مجید ترجمې ته بې اَودسه د لاس وَروړلو حکم | ۲۸۲ |
| ۲۳۵ | نا بالِغه ماشومان بې اَودسه هم قرآن مجید د زده کولو د پاره راخیستی شي | ۲۸۳ |
| ۲۳۶ | د تلاوت کیسټ ته بې اَودسه د لاس وَروړلو حکم | ۲۸۴ |
| ۲۳۷ | د حیض په حالت کې د قرآن کریم دَرس کول | ۲۸۴ |
| ۲۳۸ | د جنابت په حالت کې د قرآن مجید لیکل ناجائز دي | ۲۸۵ |
| ۲۳۹ | د جنابت په حالت کې په کمپیوټر باندې د قرآن مجید لیکلو حکم | ۲۸۶ |
| ۲۴۰ | قرآن مجید خُکولول (یعنی چَپ کول) جائز دي | ۲۸۷ |
| ۲۴۱ | مکمل قرآن مجید حِفظ کول فرضِ کفایه دی | ۲۸۸ |
| ۲۴۲ | د قرآن مجید په هره کرخه باندې ګوته اِیخودل او بِسۡمِ اللّٰه ویل | ۲۸۹ |
| ۲۴۳ | قرآن مجید هر وخت په جیب کې ساتل بهتر نه دي | ۲۸۹ |
| ۲۴۴ | که په غلطۍ سره د انسان نه قرآن مجید اُوغورځي، د دې حکم | ۲۹۰ |
| ۲۴۵ | د قرآن کریم رَسمُ الخَط توقیفي دی | ۲۹۰ |
| ۲۴۶ | د قرآن کریم رَسمُ الخَط د عام رسمُ الخط نه جدا دی | ۲۹۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۴۷ | قرآن کریم د خپل رَسمُ الخط نه علاوه په بل رَسمُ الخط کې چاپ کول ناجائز دي | ۲۹۱ |
| ۲۴۸ | د خطونو په سَر کې د بِسْمِ الله... ليکلو حکم | ۲۹۲ |
| ۲۴۹ | د تلاوت په وخت سَر خوَزول | ۲۹۳ |
| ۲۵۰ | په دَفتري وخت کې تلاوت يا نوافلو کولو حکم | ۲۹۳ |
| ۲۵۱ | صرف په کتلو د تلاوت ثواب نه ملاويږي ، البته د کتلو او تصوّر کولو ثواب ملاويږي | ۲۹۳ |
| ۲۵۲ | د ۷۸٦ په ليکلو سره د بسم الله ثواب نه حاصليږي | ۲۹۴ |
| ۲۵۳ | آيتونه د جانداره شيانو په شکل ليکل حرام دي | ۲۹۴ |
| ۲۵۴ | د ترجَمې په ويلو سره د تلاوت ثواب نه ملاويږي ، البته په معنى باندې د پوهيدو ثواب ملاويږي | ۲۹۵ |
| ۲۵۵ | د مانځه نه بَهر چې تلاوت کولې شي د هغې د اَوريدو حکم | ۲۹۵ |
| ۲۵٦ | د تلاوت په وخت قصداً شور کول د کافرانو عادت دی | ۲۹۷ |
| ۲۵۷ | د کېسټ نه تلاوت اَوريدو سره د تلاوت ثواب نه ملاويږي ، البته د اَوريدو ثواب ملاويږي | ۲۹۷ |
| ۲۵۸ | د کېسټ په آواز باندې سجده سَهوه نه لازميږي | ۲۹۸ |
| ۲۵۹ | چې يو په کټ کې ناست وي او بل لاندې تلاوت کوي نو دا بې اَدبي ده | ۲۹۸ |
| ۲٦۰ | قبرستان (مقبرې) ته د تلاوت د پاره قرآن مجيد وړل ندي په کار | ۲۹۹ |
| ۲٦۱ | په قبر کې د مړي سره قرآن مجيد اِيخودل ناجائز دي | ۲۹۹ |
| ۲٦۲ | د جُمات قرآن مجيد کور ته وړل صحيح نه دي | ۲۹۹ |
| ۲٦۳ | د دَم اَچولو حکم : | ۳۰۰ |
| ۲٦۴ | د تعويذ حکم | ۳۰۰ |
| ۲٦۵ | دَم او تعويذ د احاديثو نه ثابت دي | ۳۰۲ |
| ۲٦٦ | په تعويذ او تميمه کې فرق دی | ۳۰۴ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ٢٦٧ | تعويذ په غاړه کې اچول يا په مټ باندې تړل جائز دي | ٣٠٦ |
| ٢٦٨ | د عمَلياتو حکم | ٣٠٦ |
| ٢٦٩ | د قرآن کريم په تعليم او دَم اچولو په عِوض کې اُجرت اخيستل | ٣٠٧ |
| ٢٧٠ | د قرآن مجيد نه فال راويستل يا د غَل نوم معلومول ناجائز دي | ٣١٠ |
| ٢٧١ | د فال متعلق يو اعتراض او د هغې جواب | ٣١١ |
| ٢٧٢ | د ګناه کار په تلاوت سره شروع کول د قرآن کريم بې اَدبي ده | ٣١١ |
| ٢٧٣ | د قرآن مجيد سپکاوې کوونکې کس مُرتد او کافر دی | ٣١٢ |
| ٢٧٤ | د قرآن مجيد پاڼې شلول، او د بې عزتۍ په نيت يې په زمکه راويشتل کفر دی | ٣١٤ |
| ٢٧٥ | د قرآن مجيد په باره کې د تغيير او تبديل عقيده ساتل کفر دی | ٣١٥ |
| ٢٧٦ | د قرآن کريم نه اِنکار کول کفر دی | ٣١٦ |
| ٢٧٧ | د حافظانو د توهين کوونکي کس حکم | ٣١٧ |
| ٢٧٨ | حافظِ قرآن ته په غيرِ حافظ باند فوقيت حاصل دی | ٣١٧ |
| ٢٧٩ | په اَخبارونو کې د قرآن کريم آيتونه يا ترجمه شائع کول | ٣١٨ |
| ٢٨٠ | قرآن مجيد په زَنګونانو باندې اِيخودل بې اَدبي ده | ٣١٨ |
| ٢٨١ | قرآن مجيد په لاندې چَت کې اِيخودل جائز دي | ٣١٩ |
| ٢٨٢ | په کومه کمره کې چې قرآن کريم وي د هغې په چَت ګرځيدل جائز دي | ٣١٩ |
| ٢٨٣ | د قرآن مجيد تلاوت نه کوونکې د لوي نِعمت نه محرومه دی | ٣١٩ |
| ٢٨٤ | ديرشمه سيپاره ماشومانو ته مَعکوسه ( يعنی د آخِر طرف نه ) يادول صحيح دي، خو مَعکوسه چاپ کول يې نقصاني دي | ٣٢٠ |
| ٢٨٥ | په لاؤډ سپيکر کې د تلاوت کولو يا دَرس کولو حکم | ٣٢١ |
| ٢٨٦ | د قرآن کريم تلاوت کول افضل دی او که درود شريف ويل؟ | ٣٢١ |
| ٢٨٧ | د ظالِم د هلاکت د پاره ختمِ قرآن کول | ٣٢٢ |
| ٢٨٨ | د قرآن مجيد هېرولو په وعيد کې انسان هلته راځي چې بيا يې په ناظره هم نشي ويلی | ٣٢٣ |
| ٢٨٩ | د قرآن کريم د هيرولو مطلب او معنی | ٣٢٤ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۹۰ | چې څوک هره شپه سورة مُلک وايي هغه به د عذابِ قبر نه محفوظ وي | ۳۲۵ |
| ۲۹۱ | چې کوم کس قرآن و حديث قابلِ د عمل نه ګڼي د هغه حکم | ۳۲۵ |
| ۲۹۲ | په کور کې د برکت د پاره ختمِ قرآن کول | ۳۲۶ |
| ۲۹۳ | د قرآن کريم د واقعاتو فِلم جوړول ناجائز دي | ۳۲٦ |
| ۲۹۴ | فربنتې هر وخت په خپله خوښه د قرآن کريم تلاوت نشي کولی | ۳۲۸ |
| ۲۹۵ | شيطانان د قرآن مجيد په تلاوت کولو قدرت نه لري | ۳۲۹ |
| ۲۹٦ | د ختمِ قرآن په وخت دَعوت او اِجتماع جائز ده | ۳۳۰ |
| ۲۹۷ | د قرآن کريم ختمولو نه پس سورة فاتحه او د سورة بقرې پنځه آيتونه ويل مستحب دي | ۳۳۳ |
| ۲۹۸ | په کومه ګتمه چې د قرآن مجيد آيت يا قرآني کلمات ليکل شوي وي دا بيتُ الخلاء ته وړَل مکروه دي | ۳۳۴ |
| ۲۹۹ | **د جُمعو او اخترونو خطبې** | ۳۳۵ |
| ۳۰۰ | **د اهل علمو او خطيبانو د پاره دخوشحالۍ خبر** | ۳۴۸ |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (الاسراء، آیت ۸۲)

# د قرآن کریم د تلاوت کولو فضائل او فوائد

تالیف


اَبُو الشَّمْس مولانا نُورُ الْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د قرآن کريم د تلاوت کولو فضائل او فوائد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نَحۡمَدُهٗ وَنَسۡتَعِيۡنُهٗ وَنَسۡتَغۡفِرُهٗ وَنُؤۡمِنُ بِهٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَيۡه، وَنَعُوۡذُبِاللّٰهِ مِنۡ شُرُوۡرِ اَنۡفُسِنَا وَمِنۡ سَيِّئَاتِ اَعۡمَالِنَا مَنۡ يَّهۡدِهِ اللهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنۡ يُّضۡلِلۡهُ فَلَاهَادِيَ لَه، وَنَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحۡدَهٗ لَاشَرِيۡکَ لَهٗ وَنَشۡهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُه.

اَمَّابَعۡدُ فَأَعُوۡذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی فِي الۡقُرۡاٰنِ الۡمَجِيۡدِ وَالۡفُرۡقَانِ الۡحَمِيۡدِ:

﴿ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَتۡلُوۡنَ کِتَابَ اللهِ وَاَقَامُوا الصَّلَاةَ وَاَنۡفَقُوۡا مِمَّا رَزَقۡنَاهُمۡ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرۡجُوۡنَ تِجَارَةً لَّنۡ تَبُوۡرَ . لِيُوَفِّيَهُمۡ اُجُوۡرَهُمۡ وَيَزِيۡدَهُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ اِنَّهٗ غَفُوۡرٌ شَکُوۡرٌ ﴾. (١)

وَقَالَ تَعَالٰی: ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الۡقُرۡاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ رَحۡمَةٌ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَلَا يَزِيۡدُ الظّٰلِمِيۡنَ اِلَّا خَسَارًا ﴾. (٢)

وَقَالَ رَسُوۡلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ : اِقۡرَءُوا الۡقُرۡآنَ فَاِنَّهٗ يَأۡتِيۡ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ شَفِيۡعًا لِّأَصۡحَابِهٖ. (٣)

وَقَالَ عَلَيۡهِ السَّلَامُ : اِنَّ اللهَ يَرۡفَعُ بِهٰذَا الۡکِتَابِ اَقۡوَامًا، وَيَضَعُ بِهٖ آخَرِيۡنَ. (٤)

صَدَقَ اللهُ الۡعَظِيۡمُ.

---

(١) الفاطر آيت ٢٩، ٣٠.

(٢) الاسراء (بني إسرائيل) آيت ٨٢.

(٣) صحيح مسلم بَابُ فَضۡلِ قِرَاءَةِ الۡقُرۡآنِ، وَسُوۡرَةِ الۡبَقَرَةِ ٢٥٢ ( ٨٠٤ ) کتاب صلاة المسافرين وقصرها، مشکوة کتاب فضائل القرآن الفصل الاول حديث ١٢.

(٤) رواه مسلم کتاب صلاة المسافرين وقصرها بَابُ فَضۡلِ مَنۡ يَقُوۡمُ بِالۡقُرۡآنِ، وَيُعَلِّمُهٗ... ٢٦٩ ( ٨١٧ )، ابن ماجه بابُ فضلِ مَن تعلّم القرآن وعلّمه حديث ٢١٨، السنن الکبرى للبيهقي بابُ إمامة الموالي ٥١٢٥.

# د قرآن کريم عظمت :

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! قرآن کريم هغه عظيم او مُقدّس کتاب دی کوم چې الله تبارک و تعالی په خپل آخري پيغمبر " امامُ المُرسلين ، سيّدُ الأوّلين والآخِرين محمّدُرّسولُ الله صلی الله عليه وسلم " باندې نازل کړی.

ددې کتاب دعَظمت او اَهميت د پاره صرف دا خبره هم کافي ده چې دا د خالقِ کائنات هغه فصيح و بليغ کلام دی کوم چې د هر قِسمه عيب او نقصان نه پاک دی ، او د قيامته پورې راتلونکو انسانانو د پاره هدايت او جامِع قانون دی ، چې نه تر اوسه پورې چا ددې مقابَله کړی ، او نه به يې تر قيامته پورې وکړي.

## قرآن کريم د الله تعالی صفت دی

قدرمنو ! قرآن کريم د الله تعالی حقيقي صفت دی ، د الله ﷻ د ذات سره قائم دی ، د نورو اَشياؤ غوندې مخلوق نه دی.

ځکه په دې زمکه او آسمان کې چې څومره شيان دي ( که هغه انبياء کرام دي ، که مُقرّبې فرښتې دي ، که بَيتُ الله دی ، که عرش کرسي لوح و قلم دی ) دا ټول د الله ﷻ مخلوق او هغه پيدا کړي دي، يعنی د هغه د ذات نه جدا شيان دي ، خو قرآن کريم د الله تعالی حقيقي صفت دی ، دده د ذات سره قائم دی ،او دده د ذات نه جدا څيز يعنی مخلوق نه دی.

## قرآن کريم د الله ﷻ خبرې دي

عزت مندو ! د قرآن کريم نه مخکې چې څومره آسماني کتابونه نازل شوي ( که هغه تورات ، اِنجيل ، زبور يا نورې صحيفې دي ) نو هغه ټول بې د شک و شبهې نه د الله ﷻ کتابونه دي خو د الله ﷻ خبرې نه دي ، صرف قرآن کريم داسې مُقدّس کتاب دی چې دا د پروردګارِ عالَم خبرې هم دي او د هغه کتاب هم دی.

ځکه هغه نور کتابونه به د وخت پيغمبر ته په يو ځل باندې تيار ليکلي شوي ورکړې شو ، چې په تَختو يا د هغې زمانې په مناسب څيزونو به ليکلي شوي وو ، خو قرآن کريم د آسمانِ دُنيا نه په محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم باندې په يو ځل نه دې نازل شوی ، بلکه دا د

الله ربّ العزت او زمونږ د خوږ پيغمبر '' نبي کريم صلی الله عليه وسلم '' په مينځ کې خبرې دي ، کومې چې څه د پاسه دوه ويشت ( ۲۲ ) کاله کې نازلې شوي . (۱)

کله به دا خبرې براهِ راست وی ، او کله به د ملائکې په واسطې سره وی . پس کله به چې دا خبرې راغلی نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به صحابه کرامو ته حکم وکړو چې دا وليکئ .

لهذا معلومه شوه چې قرآن کريم اول د الله ﷻ کلام دی ، او بيا د هغه کتاب دی ( کتاب په معنی د مکتوب سره ، ليکلي شوي ځيز ته وايي ) .

اوس که څوک دا غواړي چې د پروردګارِ عالم خبرې واوري ، يا هغه په خپلې خُلې سره وو ايي نو هغه صرف د الحمدلله نه تر والنّاس پورې دا قرآن کريم دی . نبي عليه السلام فرمايي :

تَبَرَّكْ بِالْقُرْآنِ . فَإِنَّهُ كَلَامُ اللهِ وَخَرَجَ مِنْهُ . (۲)

ته په قرآن کريم سره برکت حاصل کړه ځکه دا د الله ﷻ کلام دی او د هغه نه راوتې دی .

او دا ښکاره خبره ده چې په هر کلام کې اَثرات وي ، اوس چې څنګه مُتکلِم وي نو هماغه شان اَثرات هم دده په کلام کې ښکاره وي ، او کلام په حقيقت کې د مُتکلِم جذبات وي خو ديته د الفاظو جامه وراغوستل شوي وي ، ځکه د متکلِم هره جَذبه او هر کمال د الفاظو په ذريعه ښکاره کولې شي .

قرآن کريم هم د الله ﷻ کلام دی ، په دې کې هم هغه کمالات پټ دي کوم چې په خالقِ کائنات کې موجود دي . (۳)

---

(۱) قرآن کريم په دوه ويشت (۲۲) کاله دوه (۲) مياشتو او دوه ويشت (۲۲) ورځو کې نازل شوی ، ځکه دولس (۱۲) کاله پنځه (۵) مياشتې او ديارلس (۱۳) ورځې په مکه مکرمه کې . او نهه (۹) کاله نهه (۹) مياشتې او نهه (۹) ورځې په مدينه منوره کې . اصول القرآن لشيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان مدني شهيد رحمه الله .

(۲) رواه الطبراني في الکبير ، کنزالعمال رقم الحديث ۲۳۶۴ کتاب الاذکار

(۳) خطبات حکيم الاسلام لمولانا قاري محمد طيب صاحب ج ۱۰ ص ۳۲ .

# قرآن کريم ته په نورو ټولو کلامونو باندې فضيلت حاصل دی

حديثِ قدسي دی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي چې الله رب العزت فرمايي

فَضْلُ كَلَامِ اللهِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللهِ عَلَى خَلْقِهِ . (١)

د الله د کلام فضيلت په نورو کلامونو باندې داسې دی لکه د الله ﷻ فضيلت چې په خپلو مخلوقاتو باندې دی.

يعنی لکه څرنګې چې الله ﷻ ته په خپلو مخلوقاتو باندې عظمت او فضيلت حاصل دی نو همدغه شان کلامُ الله ( يعنی قرآن کريم ) ته هم په نورو کلامونو باندې فضيلت حاصل دی.

دا ښکاره خبره ده چې د کلام عظمت د مُتکلِم نه معلومېږي ، متکلم چې د کومې درجې وي د ده کلام به هم د هماغه درجې وي ، د عربی مشهور متَل دی :

قَدْرُ الشَّهَادَةِ بِقَدْرِ الشُّهُوْدِ . (٢)

د شهادت قدر په شاهدانو موقوف دي .

که شاهدان عادِل او رېښتوني وي نو د دوی شهادت به هم رېښتينې وي ، او که شاهدان کمزوري وي نو شهادت به يې هم همداسې وي .

اوس قرآن کريم خو د خالقِ کائنات کلام دی لهذا د دې مرتبه به هم په نورو کلامونو باندې اُوچته وي .

د عربی مشهوره مقوله ده :

كَلَامُ الْمُلُوْكِ مُلُوْكُ الْكَلَامِ .

د بادشاهانو کلام د نورو کلامونو بادشاه وي .

(١) رواه الترمذي رقم الحديث ٢٩٢٦ باب ٢٥ قبيل كتاب القراءت ، والدارمي ، والبيهقي في شعب الايمان ، الابانة الكبرى لابن بطة ج٥ ص ٢٢٢ رقم الحديث ٢٠١ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٣٢ ، ٢٣٥٣ .

(٢) خطبات حكيم الاسلام ج١ ص ٢٣٢ .

## تلاوت كول ګويا د الله ﷻ سره خبرې كول دي

تلاوت كول داسې دي ګويا چې دې انسان ته د الله ﷻ سره د خبرو كولو شرَف حاصليږي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا أَحَبَّ أَحَدُكُمْ أَنْ يُحَدِّثَ رَبَّهُ فَلْيَقْرَءِ الْقُرْآنَ. (١)

په تاسو كې چې څوك دا خوښوي چې هغه د خپل رب سره خبرې وكړي نو هغه دې د قرآن كريم تلاوت كوي ( ګويا دا داسې دی لكه دې چې د پروردګارِ عالَم سره خبرې كوي ).

## د قرآن كريم سره تعلق سَراسر عبادت دی

قرآن كريم داسې عظيم كتاب دی چې ديته كتل هم عبادت دی (٢)، ددې اَوريدل هم عبادت دی، بل ته يې اَورول هم عبادت دی، ددې په خپله زده كول هم عبادت دی، بل ته يې خودل هم عبادت دی، ددې تلاوت كول هم عبادت دی (٣)، ددې حِفظ كول هم عبادت دی، په دې ځان پوهه كول هم عبادت دی، او په دې باندې عمل كول هم عبادت دی.

ځكه چې كله د يو څيز نِسبت د بل مُعزز " شي " سره راشي نو په دې سره ددې څيز عزت او شرافت هم زياتيږي، همدغه شان د قرآن كريم نسبت چونكه د پروردګارِ عالَم " الله رب العزت " سره دی چې دا د هغه كلام او حقيقي صفت دی نو ځكه ددې مقام هم ډير اُوچت دی، او څوك چې په دې باندې عمل كوي نو هغه كس به هم په دُنيا او آخرت دواړو كې كامياب وي.

---

(١) كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٢٥٧ الباب التاسع في تلاوة القرآن و فضائله.

(٢) نبي عليه السلام فرمايي : أفضل عبادة أمتي قراءة القرآن نظرًا. رواه الحكيم عن عبادة بن الصامت، كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٢٦٥ الباب التاسع في تلاوة القرآن و فضائله. / عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: « اَلنَّظَرُ فِي الْمُصْحَفِ عِبَادَةٌ، وَالنَّظَرُ إِلَى الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ الَّذِي يَدْعُو إِلَى السُّنَّةِ، وَيَنْهَى عَنِ الْبِدْعَةِ عِبَادَةٌ ». الابانة الكبرى لابن بطة رقم الحديث ٢١٤.

(٣) نبي عليه السلام فرمايي : أَفْضَلُ عبادة أُمتي تلاوة القرآن. رواه البيهقي في شعب الايمان، كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٢٦٤ الباب التاسع في تلاوة القرآن و فضائله. / و في رواية : أفضل العبادة قراءة القرآن. كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٢٥٤.

# د قرآن كريم د تلاوت كولو فضائل او فوائد

عزت منډو مسلمانانو وروڼو ! زموږ په شريعت كې د قرآن كريم د تلاوت كولو دومره اَجرونه او ثوابونه ذكر شوي چې هغه ټول راجمع كول د انسان د قدرت نه بهر دي ، ځكه د ټول اُمت علماء په دې مُتفق دي چې هيڅ ذِكر هم د قرآن كريم د تلاوت نه زيات ثواب نه لري ، بلكه د ثواب په اِعتبار سره د قرآن مجيد تلاوت كول د ټولو ذِكرونو نه بهتر دى .

خو زه به درته د تلاوت كولو يو څو مشهور فضائل او اَجرونه ذكر كړم :

## قرآن كريم به د قيامت په ورځ د اِنسان شفاعت كوي

د قيامت په هغه سخته ورځ كې به هر انسان دا كوشش كوي چې ما ته داسې څوك پيدا شي چې هغه زما شفاعت وكړي ، ددې د پاره چې زه د الله ﷻ د عذاب نه په اَمن شم ، او جنت ته داخل شم .

اوس په دنيا كې چې كوم كس د قرآن كريم تلاوت كړې وي ، ددې په احكاماتو يې عمل كړې وي ، ددې د نشر و اِشاعت خدمت يې كړې وي نو همدا قرآن مجيد به د قيامت په ورځ د الله ﷻ په دربار كې ددې انسان د پاره شفاعت او سفارش كوي، او دا به جنت ته داخل كړي .

د مسلم شريف حديث دى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اِقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيْعًا لِأَصْحَابِهٖ . (۱)

---

(۱) مسلم بَابُ فَضْلِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ، وَسُوْرَةِ الْبَقَرَةِ ۲۵۲ (۸۰۴) كتاب صلاة المسافرين وقصرها ، مشكوة كتاب فضائل القرآن الفصل الاول حديث ۱۲ . / په يو بل حديث كې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : اَلْقُرْآنُ شَافِعٌ مُشَفَّعٌ . وَمَاحِلٌ مُصَدَّقٌ. مَنْ جَعَلَهُ أَمَامَهُ قَادَهُ إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَنْ جَعَلَهُ خَلْفَهُ سَاقَهُ إِلَى النَّارِ . رواه ابن حبان في صحيحه ۱۲۴ ، والبيهقي في شعب الايمان عن جابر ۲/ ۳۵۱ ، و رواه الطبراني في الكبير رقم الحديث ۱۰۴۵۰ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۰۶ ، و رواه المنذري في الترغيب ۲ / ۳۴۹ ، والهيثمي في المجمع ۷ / ۱۶۴ . قرآن كريم داسې شفاعت كوونكې دى چې: ده شفاعت قبول كړې شوې دى ، داسې جګړه كوونكې دى چې دده جګړه منلې شوې ده ، چا چې دا خپلې مخې ته كېښود (يعنى ددې تلاوت يې وكړو ، په دې يې عمل وكړو ، او دا يې د خپل ځان د پاره مُقتدا او پيشوا اُوګرځول) نو قرآن به دا كس جنت ته بوځي ، او چا چې دا شاته او غورځول (نه يې ددې تلاوت وكړو ، او نه يې په دې عمل وكړو ) نو قرآن به دا كس جهنم ته راكاږي .

تاسو قرآن کريم لولئ (ددې تلاوت کوئ) ځکه دا به د قيامت په ورځ د خپلو لوستونکو شفاعت کوي.

په يو بل حديث کې د روژې او قرآن کريم دواړو د شفاعت ذکر راغلی، نبي ﷺ فرمايي:

اَلصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. يَقُوْلُ الصِّيَامُ: أَيْ رَبِّ. مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ. فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ. وَيَقُوْلُ الْقُرْآنُ: مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ. فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ ". قَالَ: « فَيُشَفَّعَانِ » . (١)

روژه او قرآن کريم دواړه به د قيامت په ورځ د بنده د پاره شفاعت کوي، روژه به وايي: اې ربه! ما دا بنده د ورځې د خوراک (څکاک) او نفساني خواهشاتو نه منع کړې ؤ، نو دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه. او قرآن به وايي: اې ربه! ما دا بنده د شپې د خوب نه منع کړې ؤ نو دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه، (نبي عليه السلام فرمايي) نو ددې دواړو شفاعت به قبول کړې شي (يعنی دوی دواړو چې ددې انسان په باره کې د ګناهونو د بخشش کوم سفارش کړی دا به قبول کړې شي).

د ترمذي شريف په حديث کې ذکر دي چې قرآن کريم به الله رب العزت ته دا سفارس وکړي چې يا الله! دې کس ته د عزت تاج ور په سَر کړه، د عزت جوړه ور واغونده، او ته دده نه راضي شه. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

يَجِيْءُ الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُوْلُ: يَا رَبِّ حَلِّهِ. فَيُلْبَسُ تَاجَ الْكَرَامَةِ . ثُمَّ يَقُوْلُ: يَا رَبِّ زِدْهُ . فَيُلْبَسُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ. ثُمَّ يَقُوْلُ: يَا رَبِّ ارْضَ عَنْهُ. فَيَرْضَى عَنْهُ. فَيُقَالُ لَهُ: اقْرَأْ وَارْقَ. وَيُزَادُ بِكُلِّ آيَةٍ حَسَنَةً . (٢)

---

(١) صحيح . رواه احمد في مسنده رقم الحديث ٦٦٢٦ (٦٥٨٩٩) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم حديث ٢٠٣٦ أخبار في فضائل القرآن جملةً، وقال هذا حديث صحيح على شرط مُسلم و لم يُخرِّجاه.

(٢) رواه الترمذي رقم الحديث ٢٩١٥ باب ١٨ وقال الترمذي هذا حديثٌ حسنٌ . / وفي روايةٍ: يَجِيْءُ صَاحِبُ الْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُوْلُ الْقُرْآنُ يَا رَبِّ حَلِّهِ فَيُلْبَسُ تَاجَ الْكَرَامَةِ. ثُمَّ يَقُوْلُ: يَا رَبِّ زِدْهُ يَا رَبِّ ارْضَ عَنْهُ فَيَرْضَى عَنْهُ. وَيُقَالُ لَهُ اقْرءِ وَارْقَهْ، وَيَزْدَادُ بِكُلِّ آيَةٍ حَسَنَةً. المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٠٢٩ أخبارٌ في فضائل القرآن جُملةً وقال: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ.

قرآن کريم به د قيامت په ورځ راشي او دا به ووايي : اې ربه ! دې صاحب قرآن ته جوړه ورواغونده ، نو ده ته به د عزت تاج ور په سر کړې شي . قرآن مجيد به بيا عرض وکړي : اې الله ! ده ته نور هم زيادت وکړه نو ده ته به د عزت جوړه ور واغوستلې شي . قرآن کريم به عرض وکړي : اې ربه ! دده نه راضي شه نو الله ﷻ به دده نه راضي شي . بيا به صاحبِ قرآن ته وويلې شي چې ته قرآن کريم لوله او د جنت په درجو خيجه ، او د هريو آيت په عوض کې به ده ته يوه نيکي زياتولې شي .

يعنی د هريو آيت په عوض کې به په جنت کې دده درجه زياتولې شي ، لکه څرنګې چې ددې درجو تفصيل په يو بل حديث کې راغلې دی چې حافظِ قرآن ته به وويلې شي :

اِقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا ، فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَأُهَا . (١)

قرآن کريم لوله او د جنت په درجو پورته خيجه ، او په دُنيا کې چې څنګه تا په مزه مزه (صحيح تجويد سره) لوستلو نو هماغه شان تلاوت کوه ، بيشکه ستا د اُوسيدو ځای به هغه آخِري آيت وي چې ته يې لولې ( يعنی چير ته چې آخري آيت ختم شو نو هلته به ستا د اُوسيدو ځای وي ) .

## د سورة المُلک شفاعت کول

د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتَّى غُفِرَ لَهُ ، وَهِيَ سُورَةُ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ . (٢)

بيشکه په قرآن کريم کې يو سورة دی چې په هغې کې ديرش (٣٠) آيتونه دي ، دې سورة د يو کس د پاره د الله ﷻ په حضور کې شفاعت وکړو تر دې پورې چې دې کس ته بَخنه وکړې شوه ، او هغه سورة " تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ " (يعنی سورة المُلک) دی .

(١) رواه الترمذي رقم الحديث ٢٩١٤ ، وابوداؤد حديث ١٤٦٤ ، واحمد ٢/١٩٢ ، والبيهقي ٢/٥٣ .

(٢) رواه الترمذي كتاب فضائل القرآن رقم الحديث ٢٨٩١ ، وابن ماجه كتاب الادب حديث ٣٧٨٦ ، واحمد حديث ٩٧١٥ وحسنه العلامة الألباني رحمه الله في صحيح الجامع ٢٠٩١ .

**تشريح** : په دې حديث کې د " شَفَعَتْ " لفظ راغلې، په دې کې دوه (٢) اِحتماله دي:

يو دا چې په دې لفظ سره د تيرې زمانې خبر ورکړې شوی، يعنی يو کس به سورة " تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْک " لوستو، او ددې به يې ډير قدَر کولو، پس کله چې هغه وفات شو نو دې سورة د الله ﷻ په دربار کې دده د پاره سفارس وکړو، چې ددې په وجه ده ته بخَنه وکړې شوه.

او دويم اِحتمال دادی چې دلته " شَفَعَتْ " د مُستقبل په معنی کې دی، يعنی څوک چې دا سورة لولي نو دا به دقيامت په ورځ دده د پاره سفارش کوي، او الله ﷻ به دده سفارش قبلوي. (١)

په ابوداؤد شريف کې دا حديث په دې الفاظو نقل دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

سُوْرَةٌ مِّنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُوْنَ آيَةً، تَشْفَعُ لِصَاحِبِهَا حَتّٰى يُغْفَرَ لَهُ: تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ. (٢)

د قرآن کريم يو سورة دی چې په ديرشو (٣٠) آيتونو مشتمل دی، دا به د ويونکي د پاره شفاعت کوي تر دې پورې چې ويونکي ته بخَنه وکړې شي، هغه سورة " تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ " دی.

پس معلومه شوه چې په دُنيا کې څوک هم په قرآن کريم اِيمان لري، ددې تلاوت کوي، ددې په اَحکاماتو باندې ځان پوهَوي، په دې باندې عمل کوي، ددې سره مينه ساتي، او ددې د خوَرولو کوشش کوي نو همدا قرآن کريم به د قيامت په ورځ ددې انسان د پاره د الله ﷻ په دربار کې شفاعت او سفارش کوي.

(١) مظاهر حق شرح مشكوة ج٢ لفضائل سورة الملک.

(٢) سنن ابی داؤد أَبْوَابُ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَتَحْزِيبِهِ وَتَرْتِيلِهِ بَابٌ فِي عَدَدِ الْآيِ رقم الحديث ١٤٠٠. / و في رواية: قَالَ عَلَيْهِ السَّلَام: سُوْرَةٌ فِي الْقُرْآنِ مَا هِيَ إِلَّا ثَلَاثُوْنَ آيَةً خَاصَمَتْ عَنْ صَاحِبِهَا حَتّٰى أَدْخَلَتْهُ الْجَنَّةَ وَهِيَ سُوْرَةُ تَبَارَكَ. حسنٌ، اخرجه الطبراني في الاوسط ٢/ ٧٦، وفي الصغير ١/ ٢٩٦، والضياء ١٧٣٨ وقال اسناده حسن، كنزالعمال ج١ ص ٢٩٦ رقم الحديث ٢٧٠٥.

# د قرآن کریم د هر حرف په عوض کې نیکی ملاویدل

چې څوک د قرآن کریم تلاوت کوي نو ده ته د هر حرف په عوض کې یوه نیکي ملاویږي، او دا یوه نیکي د الله ﷻ په نزد د لسو (۱۰) نیکیو برابر ده.

د ترمذي شریف حدیث دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا. لَا أَقُوْلُ الٓمٓ حَرْفٌ. وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ، وَلَامٌ حَرْفٌ، وَمِيْمٌ حَرْفٌ. (۱)

چا چې د قرآن کریم یو حرف اُولوسته نو دده د پاره ددې په عِوض کې یوه نیکي ده، او هره نیکي د الله ﷻ د قانون موافق د لسو (۱۰) نیکیو برابر ده، (بیا نبي علیه السلام د زیات وضاحت د پاره اوفرمایل:) زه دا نه وایم چې " الٓمٓ " یو حرف دی، بلکه الف یو حرف دی، لام یو حرف دی، او میم یو حرف دی (چې مجموعه " الٓمٓ " درې حرفونه شو، او ددې په لوستو سره انسان ته دیرش (۳۰) نیکی ملاویږي).

**فائده**: که انسان سوچ وکړي نو دا د پروردګارِ عالَم یو عظیم احسان دی چې انسان ته د قرآن کریم د هر حرف په عوض کې یوه نیکي ورکوي، او بیا دا یوه نیکي د الله ﷻ په نزد د لسو (۱۰) نیکیو برابر وي، یعنی انسان ته د هرې نیکی په عوض کې د لسو نیکیو په مقدار آجر ورکوي، په قرآن کریم کې واضحه اِرشاد دی:

﴿ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾. (۲)

ترجمه: څوک چې یوه نیکي راوړي نو هغه له ددې لس چنده آجر دی، (یعنی د یوې نیکی په عوض کې به د لسو نیکیو ثواب ورکولې شي).

ددې حدیث شریف نه دا خبره هم معلومه شوه چې که انسان د تلاوت کولو په وخت ددې په معنی پوهیږي او که نه پوهیږي خو الله ﷻ ددې په عوض کې ده ته نیکی ورکوي، ځکه

---

(۱) رواه الترمذي كتاب فضائل القرآن رقم الحديث ۲۹۱۰، والمنذري ۲/۳۴۲. مشكوة ص ۱۸۶.

(۲) الانعام آيت ۱۶۰.

په دې حديث کې د '' آلٓمٓ '' په تلاوت کولو د ديرشو ( ۳۰ ) نيکيو ورکولو ذکر راغلی ، حالانکه د '' آلٓمٓ '' او نورو حروف مقطعاتو په حقيقي مراد باندې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نه علاوه بل هيڅوک نه پوهيږي .

لهذا د هغه خلقو خبره غلطه ده کوم چې دا وايي : '' کله چې يو انسان د قرآن کريم په معنی نه پوهيږي نو بيا ددې په تلاوت کولو کې هيڅ فائده نشته '' . ددوی په دې خبره باندې صراحةً په دې حديث کې رَد اُوشو .

په يو حديث کې صراحةً د يو حرف په عوض کې د لسو ( ۱۰ ) نيکيو ورکولو ذکر راغلی ، نبي عليه السلام فرمايي :

... اُتْلُوْهُ فَإِنَّ اللهَ يَأْجُرُكُمْ عَلٰى تِلَاوَتِهٖ كُلَّ حَرْفٍ عَشْرَ حَسَنَاتٍ، أَمَا إِنِّيْ لَا أَقُوْلُ '' الٓمٓ '' حَرْفٌ، وَلٰكِنْ أَلِفٌ وَلَامٌ وَمِيْمٌ . (۱)

... تاسو د قرآن تلاوت کوئ ، ځکه الله تعالی تاسو ته د هر حرف د تلاوت په عوض کې لس نيکۍ اجر درکوي ، بيشکه زه دا نه وايم چې '' آلٓمٓ '' يو حرف دی ، بلکه الف ځانله حرف دی ، لام ځانله حرف دی ، او ميم ځانله حرف دی .

بلکه په يو روايت کې د هر حرف په عوض کې د اويا ( ۷۰ ) نيکيو اجر راغلی ، نبي عليه السلام فرمايي :

... فَإِنْ أَعْرَبَهٗ وُكِّلَ بِهٖ أَرْبَعَةُ أَمْلَاكٍ يَكْتُبُوْنَ لَهٗ بِكُلِّ حَرْفٍ سَبْعِيْنَ حَسَنَةً . (۲)

... څوک چې د قرآن کريم تلاوت وکړي او د حروفو صحيح تلفظ وکړي نو په دې باندې څلور ( ۴ ) فرښتې مقرر کړې شي چې ددې تلاوت کوونکي د پاره د هر حرف په عوض کې اويا ( ۷۰ ) نيکۍ ليکي .

---

(۱) المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۲۰۴۰ وقال : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ ، المعجم الکبير للطبراني رقم الحديث ۸۶۴۹ . / وفي رواية : اُتْلُوْهُ فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَأْجُرُكُمْ بِكُلِّ حَرْفٍ مِنْهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ، لَمْ أَقُلْ لَكُمْ : الٓمٓ حَرْفٌ . وَلٰكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ . وَلَامٌ حَرْفٌ . وَمِيْمٌ حَرْفٌ . المعجم الکبير للطبراني رقم الحديث ۸۶۴۶ .

(۲) کنزالعمال ج۱ ص ۵۳۴ رقم الحديث ۲۳۹۲ .

بيا خاصکر په مانځه کې تلاوت کولو سره خو د هر حرف په عوض کې د سلو ( ١٠٠ ) نيکيو ذکر راغلی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي صَلَاةٍ قَائِمًا كَانَ لَهُ بِكُلِّ حَرْفٍ مِائَةُ حَسَنَةٍ ... (١)

څوک چې په مانځه کې په ولاړه قرآن کريم اُولولي نو دده د پاره به د هر حرف په عوض کې سل ( ١٠٠ ) نيکۍ وي .

په يو روايت کې ورسره د مزيد اَجر ذکر هم راغلی :

... وَمَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ قَائِمًا كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ وَرُفِعَتْ لَهُ مِائَةُ دَرَجَةٍ ... (٢)

چا چې د کتابُ الله يو حرف په مانځه کې په ولاړه اُولوست نو دده د پاره ( ددې په عوض کې ) سل ( ١٠٠ ) نيکۍ اوليکلې شي ، سل ( ١٠٠ ) يې ګناهونه معاف کړې شي ، او سل ( ١٠٠ ) يې درجې اُوچتې کړې شي .

## په تلاوت کوونکو باندې سکينه او رحمتونه نازليږي ، او الله ﷻ د مقربو فرښتو د وړاندې د دوی تذکره کوي

کوم خلق چې په جُماتونو کې د قرآن کريم تلاوت کوي ، او په خپل مينځ کې ددې زده کړه او ښودنه کوي نو دا داسې خوش نصيبه خلق دي چې په دوی باندې د الله ﷻ د طرفه رحمتونه نازليږي ، او الله ﷻ د مُقرّبو فرښتو د وړاندې ددې خلقو تذکره کوي .

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ . (٣)

---

(١) رواه الديلمي في مسند الفردوس ، كنزالعمال ج١ ص ٥٤١ رقم الحديث ٢٣٢٧ .

(٢) رواه ابن عدي في الكامل ، والبيهقي في الشعب ، كنزالعمال ج١ ص ٥٤٢ رقم الحديث ٢٤٢٩ .

(٣) اخرجه مسلم في الذكر حديث ٣٨ ، وابوداود في الادب باب ٦٠ ، والترمذي في البر باب ٩١ ، وابن ماجه في المقدمة باب ١٧ ، وابن حبان في صحيحه والبيهقي ، الترغيب والترهيب ج١ ص ٥١ كتاب العلم الترغيب في العلم وطلبه .

مرګ ډير يادول، او د قرآن مجيد تلاوت کول. (١)

پس معلومه شوه چې څوک مرګ ډير يادوي او د قرآن مجيد تلاوت په شَوق او تدبّر سره کوي نو په دې سره دده زړه د ګناهونو د زَنګ نه صفا کيږي، او د نُور نه ډکيږي.

## قرآن کريم د هر قِسمه روحاني او جِسماني مرضونو د پاره شِفاء ده

قرآن کريم داسې بهترين کتاب دی چې په دې کې د انسان د روحاني او جِسماني ټولو مرضونو شِفاء ده، الله رب العزت فرمايي:

﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظَّالِمِيْنَ إِلَّا خَسَارًا ﴾. (٢)

ترجمه: او مونږ د قرآن کريم نه هغه څه نازلوو چې په هغې کې د مؤمنانو د پاره شِفاء او رحمت دی، او د ظالمانو په حق کې خو نور هم نقصان زياتوي.

(څکه مومنان قرآن کريم مني، تلاوت يې کوي، او عمل پرې کوي چې ددې په وجه په دوی د الله ﷻ رحمت نازليږي، او د باطلو عقيدو نه ورته شِفاء او نِجات حاصليږي. او ظالمان، مشرکين خو قرآن کريم نه مني چې ددې په وجه په دوی د الله ﷻ قهر او غضب نازليږي). (٣)

د مذکوره آيت په تفسير کې مفتي شفيع رحمه الله په تفسير معارف القرآن کې ليکلي: په دې خو د ټول اُمت اتفاق دی چې قرآن کريم د زړونو د پاره شِفاء ده، د شِرک، کفر، خرابو اخلاقو او نورو باطني روحاني مرضونو نه د نِجات ذريعه ده.

هم دارنګې د بعضې علماؤ په نزد په دې ځای کې د شِفاء نه مراد د ظاهري مرضونو نه شِفاء هم مراد ده، يعنې قرآن کريم د ظاهري مرضونو د پاره هم شِفاء ده.

---

(١) رواه البيهقي في شعب الايمان، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثالث رقم الحديث ٥٨، كنزالعمال رقم الحديث ٤٢١٣٠. / وفي رواية: إِنَّ هٰذِهِ الْقُلُوْبَ تَصْدَأُ كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيْدُ. قِيْلَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! وَمَا جِلَاؤُهَا؟ قَالَ: تِلَاوَةُ الْقُرْآنِ. رواه محمد بن نصر والخرائطي في اعتلال القلوب، و ابو نعيم في الحلية، والبيهقي في شعب الايمان، والخطيب عن ابن عمر، كنز العمال رقم الحديث ٢٤٤١.

(٢) الاسراء (بني اسرائيل) آيت ٨٢.

(٣) معارف القرآن في تشريح سورة بني اسرائيل آيت ٨٢.

لهذا د قرآن كريم آيتونه لوستل او په مريض يې دَمول ، يا د قرآن كريم ليكل شوي آيتونه (يعنى تعويذ ) مريض ته په غاړه كې اچول په دې كې هم شفاء ده ، چې د حديث روايتونه په دې باندې گواه دي .

همدغه شان د نورو گڼرو روايتونو نه دا ثابت دي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په خپله خپل ځان ، او نور مريضان په مُعوّذاتو (يعنى سورة فلق او سورة النّاس باندې ) دَم كړي . (١)

همدغه رنگې د صحابه كرامو او تابعينو نه په معوّذاتو او نورو آيتونو سره د مريض علاج كول ، او مريض ته د علاج د پاره د قرآن كريم ليكل شوي آيتونه په غاړه كې اچول هم د گڼرو روايتونو نه ثابت دي كوم چې علامه قرطبي رحمه الله د همدې آيت د لاندې په تفصيل سره ذكر كړي . (٢)

---

(١) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : « أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اشْتَكَى يَقْرَأُ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَيَنْفُثُ، فَلَمَّا اشْتَدَّ وَجَعُهُ كُنْتُ أَقْرَأُ عَلَيْهِ وَأَمْسَحُ بِيَدِهِ رَجَاءَ بَرَكَتِهَا » . صحيح البخاري كتاب فضائل القرآن رقم الحديث ٥٠١٦، مسلم كتاب السلام رقم الحديث ٢١٩٢ . / عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « كَانَ يَنْفِثُ عَلَى نَفْسِهِ فِي مَرَضِهِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ. فَلَمَّا ثَقُلَ كُنْتُ أَنَا أَنْفِثُ عَلَيْهِ بِهِنَّ. فَأَمْسَحُ بِيَدِ نَفْسِهِ لِبَرَكَتِهَا » . صحيح البخاري بَابٌ فِي المَرْأَةِ تَرْقِي الرَّجُلَ رقم الحديث ٥٧٥١ .

(٢) معارف القرآن سورة بني اسرائيل ( الاسراء ) آيت ٨٢ .

**د دَم او تعويز حكم** : په كوم تعويز كې چې شِركي كلمات نه وي بلكه د قرآن كريم آيتونه ، يا د احاديثو صحيح دُعاگانې په كې ليكلې شوې وي نو دا تعويز جائز دى . د ابوداوُد شريف حديث دى حضرت عبدالله بن عمرو روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : په تاسو كې چې څوک په خُوب كې ويرېږي نو هغه دې دا كلمات ووايي :

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَسُوءِ عِقَابِهِ ، وَمِنْ شَرِّ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ .

په روايت كې ذكر دي :

وَكَانَ عَبْدُ اللهِ يُعَلِّمُهَا وَلَدَهُ مَنْ أَدْرَكَ مِنْهُمْ ، وَمَنْ لَمْ يُدْرِكْ كَتَبَهَا وَعَلَّقَهَا عَلَيْهِ. تفسير قرطبي ج١٠ ص٢٧٨ سورة بني اسرائيل آيت ٨٢ .

حضرت عبدالله بن عمر به خپلو بچو ته دا كلمات خوده ، ليكن چې كوم بچې به د زده كولو قابِل نه ؤ نو هغه له به يې دا كلمات اوليكل او په غاړه كې به يې ورته ( د تعويز په شكل ) واچول . ( باقي حصه په راتلونكې صفحه كې لاندې په حاشيه كې ذكر ده ) .

كرامو اوفرمايل : مونږ دا تر هغه وخته پورې نه اخلو تر دې پورې چې مونږ د نبي عليه السلام نه ددې په باره کې پوښتنه نه وکړو .

( کله چې صحابه کرام مديني منورې ته راغله ) نو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه ددې متعلق پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ ورته مُسکې شو او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه ته يې وفرمايل :

وَمَا أَدْرَاكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ ، خُذُوْهَا وَاضْرِبُوْا لِيْ بِسَهْمٍ . (١)

تاته څنګه معلومه شوه چې سورة فاتحه دَم دی ؟ ( بيا نبي عليه السلام وفرمايل : ) تاسو دا چيلۍ واخلئ ، او زما حصه هم په کې وکړئ .

فائده : ددې حديث نه هم معلومه شوه چې په قرآن کريم ( او خاصکر سورة فاتحه ) کې د ظاهري مرضونو نه هم شفاء شته .

## په دَم باندې د اُجرت اخيستلو شرط لږول

بلکه امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړی چې که يو کس په دې شرط باندې دَم اچوي چې ماته به دومره معلوم مقدار چيلۍ وغيره راکوی نو دا هم جائز ده " بَابُ الشَّرْطِ فِي الرُّقْيَةِ بِقَطِيْعٍ مِنَ الْغَنَمِ " بيا يې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په روايت باندې هماغه واقعه رانقل کړی کومه چې پاس ذکر شوه :

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي :

أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرُّوْا بِمَاءٍ ، فِيْهِمْ لَدِيْغٌ أَوْ سَلِيْمٌ ، فَعَرَضَ لَهُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَاءِ ، فَقَالَ : هَلْ فِيْكُمْ مِنْ رَاقٍ ؟ إِنَّ فِي الْمَاءِ رَجُلًا لَدِيْغًا أَوْ سَلِيْمًا ، فَانْطَلَقَ

(١) په يو روايت کې داسې ذکر دي ، أَصَبْتُمْ ، اَقْسِمُوْا وَاضْرِبُوْا لِيْ مَعَكُمْ بِسَهْمٍ . بخاري بَابُ النَّفْثِ فِي الرُّقْيَةِ رقم الحديث ٥٧٤٩ . تاسو صحيح کار کړی ، تقسيم يې کړئ ، او ماله هم د خپل ځان سره حصه مقرر کړئ . / وفي رواية: قَدْ أَصَبْتُمْ ، اَقْسِمُوْا ، وَاضْرِبُوْا لِيْ مَعَكُمْ سَهْمًا . صحيح البخاري بَابُ مَا يُعْطَى فِي الرُّقْيَةِ عَلَى أَحْيَاءِ الْعَرَبِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ رقم الحديث ٢٢٧٦ .

رَجُلٌ مِنْهُمْ. فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ عَلَى شَاءٍ. فَبَرَأَ. فَجَاءَ بِالشَّاءِ إِلَى أَصْحَابِهِ. فَكَرِهُوا ذٰلِكَ وَقَالُوا: أَخَذْتَ عَلَى كِتَابِ اللهِ أَجْرًا. حَتَّى قَدِمُوا الْمَدِينَةَ. فَقَالُوا:

يَا رَسُولَ اللهِ! أَخَذَ عَلَى كِتَابِ اللهِ أَجْرًا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللهِ. (١)

د نبي عليه السلام د صحابه ؤ يوه ډله د اُوبو په يو ګودَر تير شو، هلته د ګودَر په هغه خلقو کې يو کس مارچيچلې ؤ، د هغوی نه يو کس راغی او صحابه کرامو ته يې اوفرمايل: آيا په تاسو کې څوک دَم اچوونکې شته ؟ ځکه په دې قبيله کې يو کس مار (يا لړم) چيچلې دی. نو په صحابه کرامو کې يو کس (ابوسعيد خدري ﷺ) ورسره لاړ، او د څو چيلو په عوض کې يې په سورة فاتحه باندې دَم کړو، هغه کس جوړ شو، دې صحابي چيلۍ د ځان سره راوستې او خپلو ملګرو ته راغی، ملګرو يې دا (په کتابُ الله باندې أجرت اخيستل) بَد اوګڼل، او ورته وې ويل:

آيا تا په کتابُ الله باندې أجرت واخيست ؟ تر دې پورې چې دا صحابه کِرام مدينې منوّرې ته راغله (او چيلۍ هم ورسره وې)، دوی نبي عليه السلام ته وفرمايل:

أَخَذَ عَلَى كِتَابِ اللهِ أَجْرًا.

اې د الله رسوله! دې کس (يعنی ابوسعيد خدري ﷺ) په کتابُ الله باندې مزدوري واخيسته.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللهِ.

په کومو شيانو چې تاسو مزدوري اخلئ په هغې ټولو کې ډير مستحق د الله کتاب دی چې په دې مزدوري واخيستې شي. يعنی د ټولو نه ښه مزدوري هغه ده چې تاسو د قرآن کريم په بدله کې واخيسته.

(١) صحيح البخاري بَابُ الشَّرْطِ فِي الرُّقْيَةِ بِقَطِيعٍ مِنَ الْغَنَمِ رقم الحديث ٥٧٣٧.

## د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ په ويلو سره دزهرو اَثر ختميدل

امام رازي رحمه الله په همدې مقام کې يوه بله واقعه هم رانقل کړې چې د حضرت خالد بن وليد ﷺ نه د فارس مجوسيانو ( د اسلام په حقانيت باندې ) يوه نخه طلب کړه ، او ورته وې ويل :

إِنَّكَ تَدَّعِي الْإِسْلَامَ فَأَرِنَا آيَةً لِنُسْلِمَ .

ته د اسلام د حقانيت دعوىٰ کوې لهذا ته مونږ ته يوه نخه اُوښايه ، ددې د پاره چې ( د هغې په ليدلو ) مونږ هم اسلام قبول کړو .

حضرت خالد بن وليد ﷺ ورته وفرمايل :

اِئۡتُوۡنِيۡ بِالسُّمِّ الۡقَاتِلِ . تاسو ماته زهرِ قاتل راوړئ .

هغوی ورته يوه پياله ( سخت قوي ) زَهر راوړه ، ده هغه پياله په لاس کې راواخيسته ، بسم الله الرحمن الرحيم يې وويله ، او ټول زهر يې اُوڅکل ، د الله ﷻ په فضل سره دې بيا هم په خپل ځای باندې روغ جوړ ولاړ وُ ( د بسم الله الرحمن الرحيم ويلو په برکت زَهرو پرې هيڅ اَثر اونه کړو ) ، مجوسو وويل :

هَذَا دِيۡنُ حَقٍّ . دا ( اسلام ) حق دين دی . (١)

## د آية الکرسي ويلو په وجه د شيطان او نورو آفتونو نه حفاظت

په احاديثو کې د آية الکرسي ويلو ډير فضيلت بيان شوی چې ددې په ذريعه انسان د شيطان د شَر نه محفوظه کيږي ، ځکه ددې په ويلو سره الله رب العزت د انسان د حفاظت د پاره يوه فرښته مقرروي چې هغه ددې انسان د کور ، اولاد ، او په خپله دده حفاظت کوي .

---

(١) طَلَبَ بَعۡضُهُمۡ آيَةً مِنۡ خَالِدِ بۡنِ الۡوَلِيۡدِ ، فَقَالَ : إِنَّكَ تَدَّعِي الۡإِسۡلَامَ فَأَرِنَا آيَةً لِنُسۡلِمَ ، فَقَالَ : ائۡتُوۡنِيۡ بِالسُّمِّ الۡقَاتِلِ ، فَأُتِيَ بِطَاسٍ مِنَ السُّمِّ ، فَأَخَذَهَا بِيَدِهِ ، وَقَالَ : بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ، وَأَكَلَ الۡكُلَّ وَقَامَ سَالِمًا بِإِذۡنِ اللّٰهِ تَعَالَى ، فَقَالَ الۡمَجُوۡسُ : هَذَا دِيۡنُ حَقٍّ . تفسير كبير ج١ ص ١٥٥ الباب الحادي عشر في بعض النكت المستخرجه من قولنا بسم الله الرحمن الرحيم .

ددې په باره کې درته د بخاري شريف يوه واقعه ذکر کوم ، حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي : (١)

زه رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان د مياشتې په زکوة ( يعنى په صدقه عيد الفطر ) باندې محافظ او ساتونکې مقرر کړم ( ځکه د راجمع کولو نه روستو به رسول الله ﷺ دا په فقراؤ باندې تقسيمول ) ، دې دَوران کې ( يوه شپه ) ماته يو سړى راغى ، او په خپلو لاسونو سره يې خوراک راجمع کول شروع کړه ( يعنى په خپله لمن او لوخي کې يې د خوراک دا شيان راجمع کول ) ، ما هغه اُونيوه ، او ورته مې ووېل :

لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

زه به تا خامخا رسول الله ﷺ له بوځم ( چې تا ته ددې غلط حرکت سزا درکړې شي ) .

هغه راته ووېل :

---

(١) وَكَّلَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ، فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ، وَقُلْتُ: وَاللهِ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنِّي مُحْتَاجٌ، وَعَلَيَّ عِيَالٌ وَلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ ، قَالَ: فَخَلَّيْتُ عَنْهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ ؟ » ، قَالَ: قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً، وَعِيَالًا، فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: « أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ، وَسَيَعُودُ »، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ، لِقَوْلِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ سَيَعُودُ، فَرَصَدْتُهُ، فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ، فَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: دَعْنِي فَإِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ، لَا أَعُودُ، فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ لِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ ؟ »، قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً، وَعِيَالًا، فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: « أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ » ، فَرَصَدْتُهُ الثَّالِثَةَ، فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ، فَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ، وَهَذَا آخِرُ ثَلَاثِ مَرَّاتٍ، أَنَّكَ تَزْعُمُ لَا تَعُودُ، ثُمَّ تَعُودُ ، قَالَ: دَعْنِي أُعَلِّمْكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللهُ بِهَا، قُلْتُ: مَا هُوَ؟ قَالَ: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ، فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ: {اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} ... حَتَّى تَخْتِمَ الْآيَةَ، فَإِنَّكَ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللهِ حَافِظٌ، وَلَا يَقْرَبَنَّكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ ؟ » قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِي كَلِمَاتٍ يَنْفَعُنِي اللهُ بِهَا، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: « مَا هِيَ ؟ » قُلْتُ: قَالَ لِي : إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ الْآيَةَ: {اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} [البقرة: ٢٥٥]، وَقَالَ لِي: لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللهِ حَافِظٌ، وَلَا يَقْرَبَكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ ، وَكَانُوا أَحْرَصَ شَيْءٍ عَلَى الْخَيْرِ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ، تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ؟ » قَالَ: لَا، قَالَ: « ذَاكَ شَيْطَانٌ » . صحيح البخاري رقم الحديث ٢٣١١ بَابُ إِذَا وَكَّلَ رَجُلًا، فَتَرَكَ الوَكِيلُ شَيْئًا فَأَجَازَهُ المُوَكِّلُ فَهُوَ جَائِزٌ...

نبي عليه السلام راته وفرمايل: أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ .

خبردار، هغه تاته ددې کلماتو متعلق ريښتيا ويلي دي اګر چې هغه په خپله دروغجن دی (يعنی هغه چې درته د آية الكرسي متعلق کومه خبره کړی هغه ريښتيا ده اګر چې هغه نور ډير دروغجن دی).

(حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې) بيا ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ؟

اې ابوهريره! آيا تاته معلومه ده چې ته په دې درې (۳) شپو کې د چا سره مخاطب وی؟ (او د چا سره دې خبرې کولی؟)

ما ورته ووېل: نه (ماته خو معلومه نه ده چې دا کس څوک وُ)، نبي کريم صلی الله عليه وسلم راته وفرمايل:

ذَاكَ شَيْطَانٌ . هغه خو شيطان (ابليس) وُ (ددې د پاره راغلې وُ چې په خپل مکر و فريب سره د صدقاتو په مال کې کمې راولي).

فايده: پس معلومه شوه چې د " آية الكرسي " ويلو په برکت سره انسان د شيطان د شر نه محفوظه کيږي.

## د تلاوت کولو په وجه د انسان حفاظت

د ترمذي شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ قَرَأَ حم الْمُؤْمِنَ إِلَى {إِلَيْهِ الْمَصِيرُ} ، وَآيَةَ الْكُرْسِيِّ حِينَ يُصْبِحُ حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُمْسِيَ، وَمَنْ قَرَأَهُمَا حِينَ يُمْسِي حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُصْبِحَ . (۱)

(۱) رواه الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ وَآيَةِ الْكُرْسِيِّ رقم الحديث ۲۸۷۹ والدارمي، وقال الترمذي هذا حديث غريب، مشكوة كتاب فضائل القرآن حديث ۳۵. / وفي رواية: مَنْ قَرَأَ ثَلَاثِينَ آيَةً فِي لَيْلَةٍ لَمْ يَضُرَّهُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ سَبُعٌ ضَارٍ وَلَا لِصٌّ طَارِقٌ وَعُوفِيَ فِي نَفْسِهِ وَأَهْلِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يُصْبِحَ . رواه الديلمي عن ابن عمر، كنز العمال رقم الحديث ۲۴۱۲ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله.

څوک چې سهر دا " حم " يعنى د سورة مومن دا ابتدائي آيتونه تر د إِلَيْهِ الْمَصِيْرُ پورې ( درې آيتونه (١) ) او آية الكرسي اولولي نو ددې په برکت به دا انسان تر مابنامه پورې ( د ظاهري او باطني آفتونو او بلاګانو نه ) محفوظ وي ، او څوک چې دا دواړه مابنام اُولولي نو ددې په برکت به تر د سهره پورې محفوظ وي .

د ترمذي شريف حديث دى رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ، يَقْرَأُ سُورَةً مِّنْ كِتَابِ اللهِ، إِلَّا وَكَّلَ اللهُ بِهِ مَلَكًا. فَلَا يَقْرَبُهُ شَيْءٌ يُؤْذِيهِ حَتَّى يَهُبَّ مَتَى هَبَّ . (٢)

كوم مسلمان چې د اُوده كيدو په وخت د كتابُ الله ( يعنى قرآن مجيد ) يو سورة ووايي نو الله ﷻ ددې په عوض كې په ده باندې يوه فرښته مقرر كړي نو بيا ده ته هيڅ ضررناک شى نه رانزدې كيږي، چې كله هم دې راپاڅي تر هغې وخته پورې دده حفاظت كوي .

## د قرآن كريم په ذريعه د هر قسمه فتنو نه بچ كيدل

په يوه موقع باندې حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل : (٣)

بيشكه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ، هغوى يوه ورځ وفرمايل :

---

(١) د حم نه تر د إِلَيْهِ الْمَصِيْرُ پورې دا ابتدائي درې آيتونه دادي : حم . تَنْزِيْلُ الْكِتَابِ مِنَ اللهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ . غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِى الطَّوْلِ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ إِلَيْهِ الْمَصِيْرُ . سورة غافر (مومن) آيت ١ ـ ٣ .

(٢) سنن الترمذي بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ عِنْدَ الْمَنَامِ رقم الحديث ٣٤٠٧ باب ٢٣ .

(٣) إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : « أَلَا إِنَّهَا سَتَكُوْنُ فِتْنَةٌ » . فَقُلْتُ : مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ : " كِتَابُ اللهِ . فِيْهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ ، وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ ، وَهُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ ، مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللهُ ، وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدَى فِيْ غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللهُ ، وَهُوَ حَبْلُ اللهِ الْمَتِيْنُ ، وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيْمُ ، وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيْمُ ، هُوَ الَّذِيْ لَا تَزِيْغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ ، وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الْأَلْسِنَةُ ، وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ ، وَلَا يَخْلَقُ عَلَى كَثْرَةِ الرَّدِّ ، وَلَا تَنْقَضِيْ عَجَائِبُهُ ، هُوَ الَّذِيْ لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتَّى قَالُوا : { إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِيْ إِلَى الرُّشْدِ } [الجن: ٢] مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ ، وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ ، وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ ، وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيْمٍ . رواه الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ٢٩٠٦ وقال الترمذي هذا حديث غريب .. ورواه الدارمي .

أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ .

خبردار ، بيشکه يوه غټه فِتنه راتلونکې ده (يعنی ګمراهی به پيدا شي ، په ديني عقائدو کې به اختلاف وي ، اعمال به کمزوري وي ، او ګمراه خلق به د اسلام په نوم نوي نوي مذاهب او نظريات راپيدا کوي ) .

حضرت علي ﷺ فرمايي چې ما ورته وويل :

مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟

اې د الله رسوله ! بيا به د دې فِتنې د شَر نه د بچ کيدو او نجات موندو لاره څه وي ؟
رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

كِتَابُ اللّٰهِ ... ( د دې فِتنې نه د وتلو لاره ) د الله کتاب دی ( يعنی په قرآن کريم باندې عمل کول ، ځکه ) په دې کې د تاسو نه د مخکيني امتونو حالات ( او د عبرت نه ډک واقعات ) ذکر دي ، او ستاسو نه پس په مستقبل کې د واقع کيدونکو کارونو خبرونه دي ، او ستاسو په مينځ کې چې کوم مسائل پيدا کيږي په قرآن کريم کې د هغې حکم او فيصله موجود ده ، دا قرآن کريم ( د حق و باطل ، صحيح او غلط په مينځ کې ) قولِ فيصل ( يعنی فرق کوونکې ) دی ، څه فضول او بې کاره څيز نه دی .

چا چې دا قرآن کريم د سرکشئ او تکبر د وجې پريخوده ( يعنی نه يې پرې ايمان راوړو ، او نه يې د تکبّر د وجې نه په دې عمل وکړو (١) ) نو الله ﷻ به هغه هلاک کړي .

او چا چې د قرآن کريم نه علاوه په بل ( داسې ) کتاب کې هدايت تلاش کړو ( کوم چې نه د قرآن نه مُستبط وي ، او نه د اسلامي شريعت او نظرياتو موافق وي ) نو الله ﷻ به دې ګمراه کړي ( يعنی هغه به د هدايتِ حقه نه محرومه کړي ) ، او دا قرآن کريم د الله تعالی

---

(١) علامه طيبي رحمه الله ليکلي چې چا د اِنکار يا تکبّر د وجې نه د قرآن کريم په داسې يو آيت يا يوه کلمه باندې عمل کول پريخوده چې په هغې باندې عمل واجب ؤ ، يا يې د تکبر د وجې نه د دې آيت يا د دې کلمې قرأت او نه کړو نو په دې صورتونو کې دا سړې کافر کيږي . البته که يو کس خالصه د سستئ د وجې يا د ضُعف او کمزورئ د وجې د قرآن کريم تلاوت پريخوده خو زړه يې د قرآن کريم د عظمت او عزت نه ډک ؤ نو په داسې کس باندې څه ګناه نشته ، خو صرف دا کس د تلاوت نه کولو د ثواب نه محرومه کيږي . مظاهر حق شرح مشکوة ج٢ کتاب فضائل القرآن في تشريح حديث ٢٩ .

مضبوطه رسی ده ( يعنی د الله ﷻ سره د قُرب ، معرفت او تعلق مضبوطه وسيله ده ) ، قرآن کريم باحکمت ذکر ( او نصيحت ) دی ، او همدا نيغه لاره ده ( چې په دي باندې تللو سره انسان خپل مقصدِ حيات پيژني ) ، قرآن کريم لا هدايت هغه سرچينه ده چې ددې د اتباع په وجه د انسان خواهشات د حق نه باطل طرف ته نه مائله کيږي ( يعنی انسان د خواهشاتو نفسي د تابعداری ، او هرې گمراهی نه محفوظه کيږي ) .

ددې د ژبې سره نورې ژبې نه يو ځای کيږي (١) ، علماء ددې نه هيڅ کله نه مړيږي (٢) ، او قرآن کريم د ډير تلاوت کولو سره نه زړيږي (٣) ، ددې عجائب ( يعنی باريکی ، حقائق او معارف ) کله هم نه ختميږي .

قرآن کريم داسې کلام دی چې کله دا جِنّاتو ( پيريانو ) واوريده نو بغير د توقّف کولو کولو نه يې بې اِختياره وويل :

﴿ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا ﴾ . (٤)

---

(١) يعنی په قرآن کريم کې څوک د ژبو په واسطه تحريف نشي کولی ، بلکه دا تر قيامته پورې محفوظ دی . يا دا مطلب چې قرآن کريم داسې فصيح و بليغ کلام دی چې ددې مقابله څوک نشي کولی ، يا دا مطلب چې د قرآن کريم تلاوت د مومنانو په ژبو سخت نه دی ، که د چا ژبه عربي نه وي خو بيا هم د قرآن مجيد الفاظ په ژبه په آسانه اداء کولې شي لکه الله تعالی فرمايي : ﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ . القمر آيت ١٧ ﴾ ترجمه : او مونږ قرآن کريم د پوهيدو د پاره آسان کړې دی . مظاهر حق شرح مشکوة ج٢ کتاب فضائل القرآن .

(٢) علماء ددې د علم نه هيڅ کله نه مړيږي ، يعنی د قرآن کريم علوم او معارف دومره ډير دي چې علماء ددې ټولو احاطه نشي کولی ، بلکه دغه د تدبّر ، حقائقو ، او معارفو دا سلسله هميشه جاري وي ، کله هم علماؤ دا نده محسوسه کړی چې گني مونږ د قرآن کريم په علومو باندې پوره عبور حاصل کړی او نور مونږ ته د تلاش او تحقيق ضرورت نشته ، بلکه که علماء د قرآن کريم په څه علومو باندې خبردار شي نو په دې سره د هغوی شوق او طلب نور هم زيات شي او هيڅ کله ددې د علومو او تحقيقاتو نه نه مړيږي . مظاهر حق ج٢ ، معارف الحديث حصه پنځم ص ٦٩ .

(٣) د دُنيا نور کتابونه داسې دي چې د هغې په بار بار لوستلو سره انسان ته هغه خوَند او لذت نه حاصليږي ، البته قرآن کريم داسې کتاب دی چې دا هر څومره ډير لوستلې شي او هر څومره ډير په دې کې په دې کې تفکّر او تدبّر کولې شي نو همدومره ددې په خوَند او لذت کې نوره هم اِضافه راځي ، او ددې نه زړه نه مړيږي . معارف الحديث حصه پنجم ص ٦٩ . نوټ ؛ ددې خبرې تفصيلي بحث روستو " د قرآن کريم اِعجاز " په موضوع کې راروان دی . ابوالشمس عفي عنه

(٤) الجن ايت ١ .

ترجمه : بيشکه مونږ قرآن کريم واوريده چې (د فصاحت او بلاغت په اعتبار سره (۱)) ډير عجيب دی .

(رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :) چا چې د قرآن کريم موافق خبره وکړه هغه رښتيني خبره وکړه ، او چا چې په دې عمل وکړو ده ته به د دې اجر ورکولی شي ، او چا چې (د خلقو په مينځ کې) د قرآن کريم موافق فيصله وکړه ده عدل او انصاف وکړو ، او چا چې قرآن کريم طرف ته خلق را اُوبلل ده ته د صراطِ مستقيم هدايت وکړې شو (يعنی ده ته نيغه لاره او خودې شوه ، او دې هدايت يافته دی) .

## د قرآن کريم د اوريدو د پاره د فرښتو شوق ، او رابنکته کيدل

چيرته چې قرآن کريم لوستلې شي نو فرښتې د دې د اوريدو د پاره رابنکته کيږي ، او په دې ويونکي باندې سکينه او رحمتونه نازليږي ، امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقل باب لړولی :

بَابُ نُزُوْلِ السَّكِيْنَةِ وَالْمَلَائِكَةِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ .

او د دې د لاندې يې دا حديث رانقل کړی : (۲).

د حضرت اُسَيد بن حُضَير ﷺ متعلق نقل دي چې يوه شپه دې اُسيد بن حُضَير ﷺ د سورة بقرې تلاوت کولو ، او دده آس هم دده سره نزدې تړلې وُ ، ناڅاپه دده آس په ټوپونو

(۱) عَجَبًا : قال ابن عباس رضی الله عنهما بليغًا ای ذا عجب يعجب منه لبلاغته وفصاحته . تفسير خازن الجن آيت ۱ .
عَجَبًا : يتعجب منه في فصاحته وغزازة معانيه وغير ذلک . تفسير جلالين الجن آيت ۱ .

(۲) عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ ، قَالَ : بَيْنَمَا هُوَ يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ سُورَةَ الْبَقَرَةِ ، وَفَرَسُهُ مَرْبُوطَةٌ عِنْدَهُ ، إِذْ جَالَتِ الْفَرَسُ فَسَكَتَ فَسَكَنَتْ ، فَقَرَأَ فَجَالَتِ الْفَرَسُ ، فَسَكَتَ وَسَكَنَتِ الْفَرَسُ ، ثُمَّ قَرَأَ فَجَالَتِ الْفَرَسُ فَانْصَرَفَ ، وَكَانَ ابْنُهُ يَحْيَى قَرِيبًا مِنْهَا ، فَأَشْفَقَ أَنْ تُصِيبَهُ فَلَمَّا اجْتَرَّهُ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ ، حَتَّى مَا يَرَاهَا . فَلَمَّا أَصْبَحَ حَدَّثَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ ، اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ ، قَالَ : فَأَشْفَقْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْ تَطَأَ يَحْيَى ، وَكَانَ مِنْهَا قَرِيبًا ، فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَانْصَرَفْتُ إِلَيْهِ ، فَرَفَعْتُ رَأْسِي إِلَى السَّمَاءِ ، فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ ، فَخَرَجَتْ حَتَّى لَا أَرَاهَا ، قَالَ : « وَتَدْرِي مَا ذَاكَ ؟ » قَالَ : لَا ، قَالَ : « تِلْكَ الْمَلَائِكَةُ دَنَتْ لِصَوْتِكَ ، وَلَوْ قَرَأْتَ لَأَصْبَحَتْ يَنْظُرُ النَّاسُ إِلَيْهَا ، لَا تَتَوَارَى مِنْهُمْ » .
بخاري بَابُ نُزُوْلِ السَّكِيْنَةِ وَالْمَلَائِكَةِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ۵۰۱۸ ، اخرجه مسلم في صلاة المسافرين وقصرها باب نزول السکينة لقراءة القرآن رقم ۷۹۶ .

شو، نو ده تلاوت بند کړو (ددې د پاره چې او ګوري چې دا اَس ولې ټوپونه وهي ؟ کله چې ده تلاوت کول بند کړو ) نو اَس هم ټوپونه وهل بند کړه ( ده داګمان وکړو چې اَس هسې بِلا سَببه ټوپونه وهي نو ) ده بيا تلاوت کول شروع کړو نو اَس هم بيا ټوپونه شروع کړه .

کله چې ده تلاوت بند کړو نو اَس هم ټوپونه وهل بند کړه ، ده په دريم ځل تلاوت کول شروع کړه نو اَس هم بيا ټوپونه وهل شروع کړه ( ده ته اِحساس اوشو چې اَس هسې ټوپونه نه وهي بلکه ددې خامخا څه وجه شته ) .

چونکه دده ځوي " يحىٰ " هم د اَس سره نزدې وُ ، دده سره دا يَره شوه چې په دې ټوپونو وهلو سره اَس ده ته نقصان او نه رسوي ، نو ځکه ده تلاوت بند کړو ، او ورغى ، خپل ځوي يې د هغه ځاى نه رالرې کړو .

کله چې ده خپل ځوي راديخوا کړو او بَره آسمان طرف ته يې اوکتل نو نا څاپه يې بَره د وريځې په شان يو څيز اوليده چې په هغې کې د ډيوُو په شان شيان بَل ( روښانه ) دي .

کله چې سهر شو نو حضرت اُسيد بن حُضَير ﷛ دا واقعه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د وړاندې بيان کړه ، نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل :

اِقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ ، اِقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ .

اې ابن حُضير ! تا به همداسې قرآن کريم لوستلو ( دا جُمله نبي عليه السلام دوه ځل اوفرمايله . يعنى تا به لوستل جاري ساتلي وى (١)) ، ده ورته ووېل :

---

(١) علامه ابن حجر رحمه الله د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قول " اِقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ " مطلب دا بيان کړى چې اې ابن حضير ! ته سورة بقره هميشه لوله ځکه چې دا د داسې عجيب و غريب حالت راتللو سبب دى ، که آينده هم ددې سورة لوستلو په دوران کې داسې صورت راپيښ شي نو تلاوت جاري ساته ، ګويا تا ته هاغه وخت هم لوستل جاري په کار وو . مظاهر حق شرح مشکوة کتاب فضائل القرآن ج ۴ حديث ٨ . / علامه طيبي رحمه الله فرمايي : چې د صيغې د امر " اِقْرَأْ " مطلب " په تيره زمانه کې زيادت طلب کول دي " ، ګويانبي عليه السلام ددې عجيب و غريب حالت اِستحضار وکړو او حضرت اُسيد ﷛ ته د لوستلو ترغيب ورکوي ، چې ددې حاصل " هَلَّا زِدْتَ " دى . شرح الطيبي ۴ /٢٢١ کتاب فضائل القرآن . / حاصل دا چې د " اِقْرَأْ " نه مراد فى الحال د تلاوت کولو حکم نه دى بلکه نبي عليه السلام د حضرت اُسيد بن حُضَير ﷛ د هغه اصلي حالت اِستحضار وکړو او ورته يې د لوستلو حکم وکړو . فتح الباري ٩ / ٧٨ ، کشف الباري کتاب فضائل القرآن ص ٨٢ .

اې د الله رسوله ! زه د آس نه وېرېدم چې چيرته آس زما ځوي يحيیٰ په خپو کې چخښې (ميده) نه کړي ، ځکه هغه د آس سره نزدې ؤ .

لهذا زه يحيیٰ ته راغلم ، او کله چې ما خپل نظر آسمان طرف ته اُوچت کړو نو ناګهانه مې د وريځې په شان يو څيز اوليده چې د ډيوو په شان شيان په کې موجود وو . بيا زه (د زيات تحقيق او معلومات د پاره) د کور نه بهر راووتم خو ما هغه (ډيوې) او نه ليدې (يعنې هغه غائبې شوې وې) . رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

وَتَدْرِيْ مَا ذَاكَ ؟ آيا ته پوهيږې چې هغه څه شی ؤ ؟

ده ورته جواب ورکړو : نه (ما ته پته نشته چې هغه څه شی ؤ) . نبي ﷺ ورته وفرمايل:

تِلْكَ الْمَلَائِكَةُ دَنَتْ لِصَوْتِكَ، وَلَوْ قَرَأْتَ لَأَصْبَحَتْ يَنْظُرُ النَّاسُ إِلَيْهَا، لَا تَتَوَارَى مِنْهُمْ .

هغه فرښتې وې چې ستا د تلاوت اَوريدو د پاره درته نزدې راغلی وې ، که تا همداسې تلاوت جاري ساتلې وې نو تر صبا پورې به خلقو دا فرښتې کتلې ، او د خلقو د نظرونو نه به پټې نه وې .

**تشريح** : د آس د ټوپونو وهلو وجه داوه چې کله حضرت اُسيد بن حُضَير ﷺ د شپې په څه حصه کې د قرآن کريم تلاوت کولو نو فرښتې د دې تلاوت اَوريدو د پاره رابنکته شوې وې ، آس چې دا اُوليدې نو د يَرې د وجې يې ټوپونه وهل ، دغه وجه ده چې د تلاوت بندولو په وجه به چې کله فرښتې واپس پورته لاړې نو آس به ټوپوه وهل هم بند کړه . (١)

ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي : حضرت اُسيد بن حُضَير ﷺ ته چې د وريځ په شان څه څيز ښکاره کيده نو دا دراَصل د فرښتو اِزدِحام او ګڼه ګوڼه وه ، يعنې د تلاوت اَوريدو د پاره دومره ډيرې فرښتې راغلې وې چې ده ته دوريځې په شکل معلوميدې ،

او په دې وريځ کې د ډيوو په شان شيان بليدل دراصل د فرښتو مخونه وو چې د ډيوو په شان روښانه او منوّر معلوميده . (٢)

---

(١) کشف الباري کتاب فضائل القرآن ص ٨١ .

(٢) مرقات شرح مشکوة ٤ / ٣٣٩ ، کشف الباري شرح صحيح البخاري کتاب فضائل القرآن ص ٨٢ ، مظاهر حق شرح مشکوة کتاب فضائل القرآن في تشريح حديث ٨ .

معلومه شوه چې د قرآن کريم د تلاوت آوريدو د پاره فرښتې رابنکته کيږي .

علامه سيوطي رحمه الله په " الاتقان " کې ، او علامه انورشاه کشميري رحمه الله په خپلو ملفوظاتو کې دا خبره ليکلې چې فرښتې هر وخت په خپله خوښه د قرآن مجيد د تلاوت کولو قدرت نه لري ، د تلاوت کولو دا اِعزاز صرف انسان ته حاصل دی ، دغه وجه ده چې چيرته تلاوت کولې شي نو هلته فرښتې ددې د آوريدلو د پاره راجمع کيږي .

( نوټ : حضرت جبرائيل عليه السلام هم د وحې د راوړو د وخت نه علاوه هر وخت په خپله خوښه د قرآن مجيد د تلاوت کولو طاقت نه لري ) .

## د قرآن کريم د تلاوت په وجه د الله ﷻ محبوب جوړيدل

څوک چې دا غواړي چې د الله ﷻ سره محبت وکړم ، يا الله ﷻ د ماسره محبت وکړي نو ده ته په کار دي چې د قرآن کريم تلاوت وکړي ، يا خاصکر په قرآن کريم کې په کتلو سره د تلاوت کولو ثواب خو ډير زيات دی . رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُحِبَّ اللهُ وَ رَسُوْلَهُ فَلْيَنْظُرْ فِي الْمُصْحَفِ ، وَمَنْ سَرَّهُ أَنْ يُحِبَّهُ اللهُ وَ رَسُوْلَهُ فَلْيَنْظُرْ فِي الْمُصْحَفِ . (١)

څوک چې دا خوښوي چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره محبت وکړي نو هغه دې په قرآن مجيد کې په کتلو سره تلاوت کوي ، او څوک چې دا خوښوي چې دده سره الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ محبت وکړي نو هغه دې په قرآن مجيد کې په کتلو سره تلاوت وکړي .

محترمو ! قرآن کريم د الله ﷻ کلام دی ، او څوک چې د الله ﷻ د کلام سره محبت کوي نو الله رب العزت به دده سره محبت وکړي .

(١) السلسلة الصحيحة ٢٣٤٢ ، الطريق الى الجنة ص ٢٥٧ ، /

و في رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُحِبَّهُ اللهُ وَرَسُوْلُهُ فَلْيَقْرَأْ فِي الْمُصْحَفِ » . الترغيب في فضائل الاعمال و ثواب ذلک لابن شاهين حديث ١٩١ ، معجم ابن المقرى حديث ٤٩٨ .

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يو کس د يو لښکر امير جوړ کړو ، او د لښکر سره يې اوليږلو ، دې کس به خپلو ملګرو ته امامت هم کولو ، دده معمول دا ؤ چې ده به ( په مانځه کې ) خپل قرأت په " قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ " باندې ختمولو (١) ، هر کله چې ددې لښکر خلق واپس راغله نو دوی ددې تذکره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وکړه ، نبي عليه السلام دې خلقو ته وفرمايل :

سَلُوْهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذٰلِكَ ؟

تاسو د هغه نه پوښتنه وکړئ چې د څه د وجې نه هغه دا کار کوي ؟ ( چې د سورة فاتحې نه پس د بل سورة په ځای " قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ " وايي )

خلقو د هغه نه پوښتنه وکړه ، هغه ورته وويل :

لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمٰنِ ، وَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَ بِهَا.

ځکه په دې سورة کې د الله ﷻ صفت او وَحدانيت بيان شوی او زه دا خوښوم چې دا سورة هميشه لولم .

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

أَخْبِرُوْهُ أَنَّ اللّٰهَ يُحِبُّهُ . (٢)

تاسو هغه ته خبر ورکړئ چې بيشکه الله ﷻ هم دده سره محبت کوي .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

(١) يعنی د " سورة فاتحې " سره د بل سورة په ځای به يې " قل هو الله احد " لوسته . علامه ابن حجر رحمه الله دا مطلب بيان کړی چې دې کس به د " سورة فاتحې " نه پس يو بل سورة ، او بيا " قل هو الله احد " لوسته . مظاهر حق شرح مشکوة ج٢ کتاب فضائل القرآن .

(٢) عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا عَلَى سَرِيَّةٍ، وَكَانَ يَقْرَأُ لِأَصْحَابِهِ فِي صَلَاتِهِمْ فَيَخْتِمُ بِقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ. فَلَمَّا رَجَعُوا ذَكَرُوا ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: « سَلُوهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذٰلِكَ؟ » . فَسَأَلُوهُ. فَقَالَ: لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمٰنِ، وَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَ بِهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَخْبِرُوهُ أَنَّ اللهَ يُحِبُّهُ » . رواه البخاري كتاب التوحيد رقم الحديث ٧٣٧٥ ، و مسلم في صلاة المسافرين وقصرها باب فضل قراءة قل هو الله أحد رقم ٨١٣ .

يحبه : يقبل منه ويقربه إليه ويزيده ثواباً. تعليق مصطفى البغا على البخاري .

مَا يَقْرُبُ عَبْدٌ إِلَى اللهِ بِأَفْضَلِ مِمَّا خَرَجَ مِنْهُ يَعْنِي الْقُرْآن . (١)

بنده الله ﷻ ته د ومره په بل هيڅ شي سره نه ورنزدې کيږي څومره چې په قرآن کريم سره ورنزدې کيږي .

يعنى الله ﷻ ته د نزديکت د ډولو نه بهترينه ذريعه قرآن مجيد دى ، ځکه قرآن کريم د الله تعالى کلام دى ، او الله ﷻ ته ډير محبوب دى (٢) ، اوس چې څوک د دې تلاوت کوي نو يقيني خبره ده چې دې به هم الله ﷻ ته ډير محبوب وي .

## د امام احمد بن حنبل رحمه الله په خوب کې د الله ﷻ سره ملاقات

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي چې په خوب کې مې د الله رب العزت سره ملاقات اوشو ، پوښتنه مې ورنه وکړه :

يَا رَبِّ ! مَا أَفْضَلُ مَا تَقَرَّبَ بِهِ الْمُتَقَرِّبُوْنَ إِلَيْكَ ؟

اې ربه ! هغه کوم بهترين عمل دى چې په هغې سره يو بنده تاته درنزدې کيږي ؟

الله رب العزت راته وفرمايل :

بِكَلَامِيْ يَا أَحْمَدُ ! اې احمد ! زما په کلام (يعنى قرآن کريم) باندې ما ته انسان رانزدې کيږي .

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي : ما ورنه پوښتنه وکړه : اې ربه! د تلاوت کولو په وخت د دې په معنى پوهيدل ضروري دي او که نه ؟

الله رب العزت راته وفرمايل :

بِفَهْمٍ أَوْ بِغَيْرِ فَهْمٍ .

(١) كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٣٦٥ . / وفي رواية : ما تقرب العباد إلى الله بشيء أحب إليه مما خرج منه . ابن السني عن زيد بن ارطاة عن ابي امامة ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٥ رقم الحديث ٢٣٦٦ .

(٢) نبي عليه السلام فرمايي ، القرآن أحبّ إلى الله من السموات والأرض ، ومن فيهن . ابو نعيم عن ابن عمرو ، كنزالعمال ج ١ رقم الحديث ٢٣٦٣ .

د تلاوت کولو په وخت که دا کس ددې په معنی پوهېږي او که نه پوهېږي خو ددې په وجه انسان ماته مقرّب کيږي . (١)

## قرآن کريم د الله تعالی مضبوطه رسۍ ده

قرآن کريم د الله تعالی مضبوطه رسۍ ده ، الله تعالی په خپله دې ته " حَبْلُ الله " ويلې دي ، رب کريم فرمايي :

﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ . (٢)

ترجمه : او تاسو ټول د الله تعالی رسۍ ( اسلام او قرآن (٣) ) مضبوطه اونيسئ ، او مه جدا کيږئ .

او الله تعالی د خپل قُرب د پاره دا رسۍ يعنی دا قرآن کريم نازل کړی ، دا داسې رسۍ ده چې ددې يو سَر د الله ﷻ په لاس کې دی ( کَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ ) ، او بل سَر يې د بندګانو په لاس کې دی ، پس څوک چې دا څومره مضبوطه اونيسي نو دومره زر به الله ﷻ ته ورأورسي ، او د هغه محبوب به جوړ شي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

... فَإِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ سَبَبٌ طَرَفُهُ بِيَدِ اللهِ ، وَطَرَفُهُ بِأَيْدِيكُمْ ، فَتَمَسَّكُوا بِهِ ، فَإِنَّكُمْ لَنْ تَضِلُّوا ، وَلَنْ تَهْلِكُوا بَعْدَهُ أَبَدًا . (٤)

... بيشکه دا قرآن کريم داسې رسۍ ده چې ددې يو طرف د الله ﷻ په لاس کې دی ( کَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ ) ، او بل طرف يې ستاسو په لاس کې دی ، تاسو په دې باندې کلکې مُونګولې

(١) وَنُقِلَ عَنِ الإِمَامِ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ قَالَ : رَأَيْتُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ فِي الْمَنَامِ . فَقُلْتُ : يَا رَبِّ ! مَا أَفْضَلُ مَا تَقَرَّبَ بِهِ الْمُتَقَرِّبُونَ إِلَيْكَ ؟ قَالَ : بِكَلَامِي يَا أَحْمَدُ ! قَالَ : قُلْتُ : يَا رَبِّ ! بِفَهْمٍ أَوْ بِغَيْرِ فَهْمٍ ؟ قَالَ : بِفَهْمٍ أَوْ بِغَيْرِ فَهْمٍ . المعجر الرابح في ثواب العمل الصالح ابواب قراءة القرآن ص ٢٥٣ .

(٢) آل عمران آيت ١٠٣ .

(٣) وروي عن ابن مسعود رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ هُوَ حَبْلُ اللهِ الْمَتِينُ ... تفسير بغوي ج١ ص ٤٨١ رقم الحديث ٤١٥ .

(٤) صحيح ابن حبان ذِكْرُ نَفْيِ الضَّلَالِ عَنِ الآخِذِ بِالْقُرْآنِ رقم الحديث ١٢٢ إسناده حسن على شرط مسلم ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٥٣٩ ، كنز العمال رقم الحديث ٤٩٠٠ .

اُولړوئ ( يعنی مضبوط يې اونيسئ ) ، ځکه تاسو به ددې نه پس کله هم ګمراه نه شئ ، او کله به هم هلاک نه شئ .

دا ښکاره خبره ده چې الله رب العزت ته د نزدې کيدلو ذريعه عبادت دی ، او په احاديثو کې ډير تلاوت کوونکي ته ډير عبادت ګزار ويل شوی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

أَعْبَدُ النَّاسِ أَكْثَرُهُمْ تِلَاوَةً لِلْقُرْآنِ . (١)

په خلقو کې ډير عبادت کوونکې هغه دی چې د قرآن کريم ډير تلاوت کوي . يعنی په نفلي عباداتو کې تلاوت کول افضل ترين عبادت دی .

## د تلاوت کولو په وجه د انسان ايمان قوي کيږي او زياتيږي

د قرآن کريم د تلاوت په وجه د انسان ايمان نور هم قوي کيږي او زياتيږي ، په "سورة انفال" کې الله ﷻ د مؤمنانو په صفاتو کې دا خبره هم ذکر کړې :

﴿ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا ﴾ . (٢)

ترجمه : او کله چې په دې مؤمنانو باندې د الله آيتونه اولوستلې شي نو دا آيتونه د دوی ايمان نور هم زيات ( مضبوط ) کړي .

په سورة التوبة کې الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴾ . (٣)

ترجمه : او کله چې يو سورة نازل کړې شي نو ځنې منافقان ( مسلمانانو ته د استهزاء په طور ) وايي : دې سورة په تاسو کې د چا ايمان زيات ( قوي ) کړو ؟ ( الله رب العزت دې

---

(١) رواه الديلمي في مسند الفردوس عن ابي هريرة رضي الله عنه ، كنز العمال ج١ ص ٢٥٧ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله رقم الحديث ٢٢٥٧ ط دارالكتب العلمية بيروت ، الفوائد الشهير بالغيلانيات لابن بكر الشافعي رقم الحديث

منافقانو ته په جواب کې فرمايي : ) پس کومو خلقو چې ايمان راوړې دی نو دې سورة د هغوی ايمان نور هم زيات ( مضبوط او قوي ) کړو ، او دوی ( ددې په محسوسولو سره ) خوشحاليږي .

وجه داده چې کله د تلاوت کولو په وخت انسان ته هغه آيتونه رامخې ته شي چې په هغې کې د انبياء کرامو د نصرت او د کافرانو د ذلت تذکره وي ، يا داسې آيتونه مخې ته راشي چې په هغې کې د مومنانو سره د جنت او نورو نعمتونو وعده شوې وي او د کافرانو د پاره د جهنم وعيدونه او سزاګانې ذکر وي ، او انسان په دې کې سوچ وکړي نو په دې سره دده ايمان نور هم قوي کيږي او مضبوطيږي .

## د تلاوت کولو په وجه زړه نرميږي

قرآن کريم داسې عظيم کتاب دی چې ددې په وجه د انسان په زړه کې د الله ﷻ نه خَوف پيدا کيږي ، او زړه يې نرميږي . الله رب العزت فرمايي :

﴿ اَللّٰهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ إِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَاءُ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴾ . (١)

ترجمه : الله تعالى بهترين کلام ( يعنى قرآن کريم ) نازل کړی ، ( دا قرآن کريم ) داسې کتاب دی چې ( مضامين يې په حُسن او حکمت کې ) د يو بل په شان دی ، ددې آيتونه بيا بيا ويلې شي (٢) ، په دې سره د هغې خلقو څرمنې زيګ زيګ کيږي (٣) کوم چې د خپل رب نه

---

(١) الزمر آيت ٢٣ .

(٢) يعنى د پوهې د پاره څنې قِصص او احکام بار بار مکرر ذکر دي . بل ځای الله ﷻ فرمايي : وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ فَأَبٰى أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُوْرًا . سورة الإسراء (بنى إسرائيل) آيت ٨٩ . وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا . سورة الكهف آيت ٥٤ .

(٣) دا کِنايه ده د خَوف نه ، يعنى کله چې مؤمنان د عذاب آيتونه واوري نو د الله د يَرې د وجې نه يې څونې زيګ شي ، زړه يې نرم شي ، او يره په کې پيدا شي .

يريږي ، بيا د هغوی څرمني او زړونه د الله ذکر طرف ته نرم شي (١) همدا ( قرآن کريم ) د الله تعالی هدايت دی چاته چې الله ﷻ اوغواړي ، نو هغه ته په دې سره هدايت کوي ، او څوک چې الله گمراه کړي نو هغه ته هيڅوک هدايت ورکوونکې نشته .

## د قرآن کريم تلاوت کوونکو او څودونکو د پاره د فرښتو اِستغفار

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنْ قَوْمٍ صَلُّوا صَلَاةَ الْغَدَاةِ ثُمَّ قَعَدُوا فِي مُصَلَّاهُمْ يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَيَتَدَارَسُوْنَهُ إِلَّا وَكَّلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مَلَائِكَتَهُ تَسْتَغْفِرُ لَهُمْ حَتَّى يَخُوْضُوْا فِي حَدِيْثٍ غَيْرِهِ . (٢)

کوم قوم چې سهر مونځ وکړي ، او بيا په خپلو ځايونو ( جائې نماز ) باندې ناست وي ، د کتابُ الله تلاوت کوي ، او په خپل مينځ کې يې يو بل ته ښايي نو الله ﷻ خپلې فرښتې مقرر کړي او د دوی د پاره هميشه اِستغفار غواړي ، تر دې پورې چې دا خلق په نورو خبرو کې مشغول شي ( نو بيا فرښتې د دوی د پاره اِستغفار نه وايي ) .

## د تلاوت کولو په وجه غونډ کور مُنوّر کيدل

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْبَيْتُ الَّذِيْ يُقْرَأُ فِيْهِ الْقُرْآنُ يَتَرَاءَىٰ لِأَهْلِ السَّمَاءِ، كَمَا تَتَرَائَى النُّجُوْمُ لِأَهْلِ الْأَرْضِ . (٣)

هغه کور چې په هغې کې قرآن کريم لوستلې شي دا آسمان واله ؤ ته داسې ښکاري لکه څرنګې چې د زمکې واله ؤ ته ستوري ښکاري .

په يو بل حديث کې راځي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) يعنې کله چې د رحمت آيتونه واوري نو په دې سره د دوی زړونه نرم شي ، او د الله تعالی ياد ، او په قرآن مجيد باندې عمل کولو طرف ته متوجه شي .

(٢) مسند فردوس رقم الحديث ٦١١٧ .

(٣) رواه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ١٨٢٩ ، كنز العمال ج١ رقم الحديث ٢٢٩١ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله .

إِنَّ بُيُوْتَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ لَمَصَابِيْحُ إِلَى الْعَرْشِ يَعْرِفُهَا مُقَرَّبُوا السَّمٰوَاتِ السَّبْعِ ، يَقُوْلُوْنَ: هٰذَا النُّوْرُ مِنْ بُيُوْتَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّتِيْ يُتْلٰى فِيْهَا الْقُرْآنُ . (۱)

بيشکه د مومنانو کورونه تر د عرشه پورې روښانه وي ، د اُووه (۷) وارو آسمانونو مُقرّبې فرښتې دا کورونه پيژني او دا وايي : دا نُور د مؤمنانو د هغو کورونو دی په کومو کې چې د قرآن کريم تلاوت کولې شي .

## قرآن کريم د انسان د پاره نُور دی

حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه فرمايي چې ما نبي کريم صلى الله عليه و سلم ته عرض وکړو :

يَا رَسُوْلَ اللهِ، أَوْصِنِيْ. اې د الله رسوله ! ماته څه وصيت اوکړئ .

نبي عليه السلام راته وفرمايل :

أُوْصِيْكَ بِتَقْوَى اللهِ، فَإِنَّهُ رَأْسُ الْأَمْرِ كُلِّهِ

زه تاته د الله ﷻ نه د يَرې (يعنی تقویٰ) وصيت کوم ځکه دا د ټولو کارونو جرړه ده .

ما بيا ووېل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ، زِدْنِيْ .

اې د الله رسوله ! ماته څه نور وصيت هم اوفرمايئ .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل :

عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ، وَذِكْرِ اللهِ . فَإِنَّهُ نُوْرٌ لَكَ فِي الْأَرْضِ، وَذُخْرٌ لَكَ فِي السَّمَاءِ »... (۲)

---

(۱) رواه الحكيم عن ابي هريرة وابي الدرداء معا كنز العمال ج۱ ص ۲۷۷ رقم الحديث ۲۲۷۸ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله .

(۲) ... قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ، أَوْصِنِيْ، قَالَ: « أُوْصِيْكَ بِتَقْوَى اللهِ، فَإِنَّهُ رَأْسُ الْأَمْرِ كُلِّهِ » . قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ، زِدْنِيْ ، قَالَ: « عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ، وَذِكْرِ اللهِ . فَإِنَّهُ نُوْرٌ لَكَ فِي الْأَرْضِ، وَذُخْرٌ لَكَ فِي السَّمَاءِ » رواه ابن حبان في صحيحه رقم الحديث ۳۶۱ ذِكْرُ الْاِسْتِحْبَابِ لِلْمَرْءِ أَنْ يَكُوْنَ لَهُ مِنْ كُلِّ خَيْرٍ حَظٌّ رَجَاءَ التَّخَلُّصِ فِي الْعُقْبٰى بِشَيْءٍ مِنْهَا ، ورواه المنذري ۲ / ۳۲۹ ، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۱۵۸ .

په تا باندې د قرآن كريم تلاوت كول لازم دي ( يعنى هميشه د قرآن كريم تلاوت كوه ) ځكه دا ستا د پاره په زمكه كې نُور دى ، او په آسمانونو كې ستا د پاره ذخيره ده .

## د قرآن كريم په لوستلو سره يو نُور پيدا كيدل

شيخ الحديث حضرت مولانا عبدالحق رحمه الله به فرمايل چې زمونږ شيخ حضرت مولانا مدني رحمه الله به يوه واقعه بيانوله ، چې په دې نزدې زمانه كې يو كس تېر شوى ، د هغه نوم " حسن الافغاني " ؤ ، هغه نه عالِم ؤ ، او نه يې قرآن مجيد ويلې ؤ ، خو ليكن عارِف او مؤمن بنده ؤ .

طالبانو به اِمتحاناً دده د وړاندې د قرآن مجيد او تفسيرِجلالين عبارت يو شان په يوه لِهجه باندې ويل ، ددې د پاره چې دې د قرآن مجيد او جلالين په مينځ كې تَمييز كولې شي او كه نه ؟ يا به طالبانو دده د وړاندې د قرآن مجيد او بيضاوي شريف عبارت په يوه لهجه باندې ويل . ده به د هر هر حرف په آوريدلو سره طالبانو ته ويل چې دا جُملهٔ د قرآن مجيد ده او دا جُملهٔ د جلالين يا بيضاوي شريف ده . اگر چې په ظاهره به طالبانو په يوه لِهجه كې د دواړو روان تلاوت كول خو ده به بيا هم په كې فرق كولې شو .

بيا دې كس وجه دا بيان كړه چې كله د قرآن مجيد الفاظ ويلې شي نو د عرش نه تر د اَسفلُ السّافِلين پورې يو نُور او چمكداره رڼا پيدا كيږي چې زه هغه محسوسوم ، او كله چې دا نور الفاظ ويلې شي نو هغه رڼا ختمه شي ، نو ځكه زه د قرآن كريم او نورو عبارتونو تر مينځه فرق كولې شم . (١)

## د قرآن مجيد تلاوت كول د صدقې وركولو برابر دى

د ابوداؤد شريف حديث دى ، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلجَاهِرُ بِالْقُرْآنِ كَالجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ ، وَالمُسِرُّ بِالْقُرْآنِ كَالمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ . (٢)

---

(١) قرآن كريم ايک عظيم معجزه ص ٤١٥ .

(٢) سنن ابي داؤد بَابٌ فِي رَفْعِ الصَّوْتِ بِالْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ رقم الحديث ١٣٣٣ وقال الالباني : هذا حديث صحيح ، و رواه الترمذي رقم الحديث ٢٩١٩ ، والنسائي حديث ٢٥٦١ باب المسرّ بالصدقة ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٣٤ ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن حديث ١٦ .

په اُوچت آواز سره قرآن لوستونكي د ښكاره صدقې وركوونكي په شان دی، او په قلاره (پټ) آواز سره قرآن لوستونكي په پټه د صدقې وركوونكي په شان دی.

**تشريح**: دا خو ښكاره خبره ده چې په پټه صدقه وركول د ښكاره صدقې وركولو نه افضل ده، نو ددې حديث نه دا معلومه شوه چې په قلاره د قرآن كريم تلاوت كول د اُوچت آواز تلاوت كولو نه افضل دي.

خو علامه طيبي رحمه الله فرمايي: لكه څرنګې چې په قلاره د تلاوت كولو افضل كيدو متعلق احاديث راغلي دي نو همدغه شان په اُوچت آواز سره د تلاوت افضل كيدو متعلق هم احاديث راغلي دي.

لهذا په دې دواړه قسمه احاديثو كې تطبيق داسې دی چې په قلاره تلاوت كول د هغه چا د پاره افضل دی چې په زوره تلاوت كولو سره هغه په رِياء كې مبتلاء كيږي، يا بل مونځ ګزار، يا بل مسلمان ته تكليف رسي نو په داسې صورت كې بيا په قلاره او پټه تلاوت كول بهتر دي.

او په اُوچت آواز سره تلاوت كول د هغه چا د پاره افضل دي چې هلته نورو مسلمانانو ته فائده رسول مقصود وي، مثلا نور خلق قرآن كريم زده كوي، يا نور مسلمانان هم د ثواب حاصلولو د پاره دا اُوري.

بل دا چې په اُوچت آواز سره تلاوت كولو سره د لوستونكي زړه ته بيداري حاصليږي، توجّه يې برابريږي، د خوب غلبه يې كميږي، او د عبادت شوق يې نور هم زياتيږي.

لهذا په داسې صورت كې په اُوچت آواز سره تلاوت كول افضل دي. (۱)

## د تلاوت كولو په وجه مغفرت

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ قَرَأَ ثَلَاثَ مِائَةِ آيَةٍ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِمَلَائِكَتِهِ: يَا مَلَائِكَتِيْ! نَصَبَ عَبْدِيْ، أُشْهِدُكُمْ يَا مَلَائِكَتِيْ أَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُ. (۲)

(۱) مظاهر حق ج۲ كتاب فضائل القرآن.

(۲) عمل اليوم والليل لابن السني رقم الحديث ۷۰۱ لفظ آخر: قراءة ثلاثمائة آية. كنز العمال رقم الحديث ۲۱۳۶۸.

# د قرآن كريم په ذريعه د عذاب قبر نه حفاظت

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

سُوْرَةُ تَبَارَكَ هِيَ الْمَانِعَةُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. (١)

سورة تبارک ( يعنی سورة الملک ) دا منع کوونکې دې عذابِ قبر لره . يعنی ددې لوستونکې به د عذابِ قبر نه محفوظ وي ، او دا سورة به دده نه عذابِ قبر منع کوي .

په يو روايت کې ذکر دي :

سُوْرَةُ الْمُلْكِ تَمْنَعُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ، وَتُسَمّٰى فِي التَّوْرَاةِ الْمَانِعَةُ . (٢)

سورة مُلک منع کوونکې دی عذابِ قبر لره ، دا په تورات کې د " المانعة " په نوم مُسمّیٰ شوی۔

د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم د " سورة تبارک الذي بيده الملک " په باره کې وفرمايل :

هِيَ الْمَانِعَةُ ، هِيَ الْمُنْجِيَةُ ، تُنْجِيْهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. (٣)

دا سورة منع کوونکې دی ( يعنی خپل لوستونکې د عذابِ قبر ، گناهونو ، او دقيامت د ورځې د سختيو نه محفوظ کوي ) ، دا سورة نِجات ورکوونکې دی ، ددې لوستونکي ته الله ﷻ د عذابِ قبر نه نجات ورکوي .

نبي عليه السلام فرمايي :

فَإِنَّ الْمُعَلِّمَ إِذَا قَالَ لِلصَّبِيِّ قُلْ " بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ " فَقَالَ الصَّبِيُّ : بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ كَتَبَ اللهُ بَرَاءَةً لِلصَّبِيِّ ، وَبَرَاءَةً لِلْمُعَلِّمِ ، وَبَرَاءَةً لِأَبَوَيْهِ مِنَ النَّارِ . (٤)

---

(١) صحيح : رواه ابوالشيخ في طبقات الاصبهانين ٢٦٤ ، وصححه العلامه الالباني رحمه الله في السلسلة الصحيحة ١١٤٠ .

(٢) رواه الديلمي عن ابي هريرة ، كنزالعمال ج١ ص٢٩٦ حديث ٢٧٠١ ط . دارالكتب العلمية بيروت .

(٣) سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ سُوْرَةِ الْمُلْكِ رقم الحديث ٢٨٩٠ ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن حديث ٢٣٢ ، المعجم الكبير للطبراني ١٢ / ١٧٤ رقم الحديث ١٢٨٠١ .

(٤) ذكره الثعلبي ، والقرطبي ١ / ٣٣٦ في تشريح سورة البقرة آيت ٤١ ، نزهة الناظرين الباب الثالث في فضل تعليم القرآن وتعلمه ص ٢٣٦ .

كله چې استاذ ماشوم ته ووايي : اې بچيه ! ووايه : بسم الله الرحمن الرحيم . نو الله ﷻ دې ماشوم ته ، دې أستاذ ته ، او دده مور او پلار ته د جهنم د أور نه براءَت او خلاصې اوليكي .

## دځوي په " بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ " ويلو سره د پلار نه عذابِ قبر ختميدل

امام رازي رحمه الله په تفسيرِ كبير كې چې د بسم الله الرحمن الرحيم كومې نُكتې ذكر كړي په هغې كې يې دا واقعه هم ذكر كړې چې :

يو كرَت حضرت عيسىٰ عليه السلام په سفر باندې تللو ، ديو قبر سره تيريدو ، وې ليده چې دعذاب فرښتې مړي ته سخت عذاب وركوي ، دې مخكې لاړ ، كله چې څه زمانه پس دوباره په دې لاره راتلو نو ده اُوليده چې په همدې قبر كې د رحمت فرښتې د ديرو نعمتونو سره موجود دي ، او د قبر واله ددې نعمتونو نه فائده اخلي ، دې حيران شو ( چې مخكې خو همدا د قبر واله په سخت عذاب كې مبتلاءُ او اوس ورسره د رحمت فرښتې د ديرو نعمتونو سره موجود دي ) .

حضرت عيسى عليه السلام مونځ وكړو او د الله ﷻ نه يې د حقيقتِ حال واضح كولو د پاره دُعا وكړه ، الله ﷻ ورته وحي راوليږله :

اې عيسىٰ ! دا بنده دير گناهگارؤ ، كله چې دې وفات شو نو د خپلو گناهونو د وجې نه زما په عذاب كې راگير شو ، خو دده د وفات كيدو په وخت دده بي بي حامله وه ( يعنى ماشوم يې په خيټه ؤ ) ، كله چې د هغې بچې پيداشو او څه اندازه غټ شو نو دې زنانه دا ماشوم أستاذ ته حواله كړو ، استاذ ماشوم ته بسم الله زده كړه ، او ورته وې ويل :

اې بچيه ! ووايه " بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ " .

الله ﷻ وفرمايل :

فَاسْتَحْيَيْتُ مِنْ عَبْدِيْ أَنْ أُعَذِّبَهُ بِنَارِيْ فِيْ بَطْنِ الْأَرْضِ وَ وَلَدُهُ يَذْكُرُ اسْمِيْ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ.

پس اوس ماته ددې خپل بنده نه حَياء راځي چې زه ده ته د زمكې لاندې ( په قبر كې ) عذاب وركوم ، او دده بچي د زمكې د پاسه زما نوم اَخلي ، نو ځكه مې ددې ماشوم د بسم الله الرحمن الرحيم ويلو په بركت سره دده د پلار نه عذابِ قبر لرې كړو . (١)

**فائده** : چې كله د قرآن كريم د يو آيت دومره بركت دی چې د يو ماشوم د بسم الله الرحمن الرحيم ويلو په وجه د گناهگار پلار نه عذابِ قبر ختميږي نو چې اوس يو كس په خپله د قرآن كريم تلاوت كوي ، او ددې په احكاماتو باندې عمل كوي نو الله رب العزت به په طريقِ اولیٰ دا انسان د عذابِ قبر او نورو مصيبتونو نه بچ كوي او رحم به پرې كوي .

عذاب خو پريده ، بلكه د حافظِ قرآن جسم هم الله ﷻ په قبر كې محفوظ ساتي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا مَاتَ حَامِلُ الْقُرْآنِ أَوْحَى اللهُ إِلَى الْأَرْضِ أَنْ لَا تَأْكُلِيْ لَحْمَهُ . قَالَتْ: إِلٰهِيْ ! كَيْفَ آكُلُ لَحْمَهُ، وَكَلَامُكَ فِيْ جَوْفِهِ . (٢)

كله چې حافظِ قرآن وفات شي نو الله ﷻ ( د قبر ) زمكې ته وحي اوكړي : " ته ددې حافظِ قرآن غوښه مه خوره " ، ( د قبر دا ) زمكه ورته عرض وكړي : اې الله ! زه څنگه دده غوښه اوخورم ؟ حالانكه دده په سينه ( زړه ) كې ستا كلام ( يعنى قرآن كريم ) موجود دی .

---

(١) مَرَّ عِيسٰى ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَلٰى قَبْرٍ فَرَأٰى مَلَائِكَةَ الْعَذَابِ يُعَذِّبُوْنَ مَيِّتًا. فَلَمَّا انْصَرَفَ مِنْ حَاجَتِهِ مَرَّ عَلَى الْقَبْرِ فَرَأٰى مَلَائِكَةَ الرَّحْمَةِ . مَعَهُمْ أَطْبَاقٌ مِنْ نُوْرٍ. فَتَعَجَّبَ مِنْ ذٰلِكَ. فَصَلّٰى وَدَعَا اللهَ تَعَالٰى . فَأَوْحَى اللهُ تَعَالٰى إِلَيْهِ : يَا عِيسٰى، كَانَ هٰذَا الْعَبْدُ عَاصِيًا وَمُنْذُ مَاتَ كَانَ مَحْبُوْسًا فِيْ عَذَابِيْ، وَكَانَ قَدْ تَرَكَ امْرَأَةً حُبْلٰى فَوَلَدَتْ وَلَدًا وَرَبَّتْهُ حَتّٰى كَبِرَ. فَسَلَّمَتْهُ إِلَى الْكُتَّابِ فَلَقَّنَهُ الْمُعَلِّمُ "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" فَاسْتَحْيَيْتُ مِنْ عَبْدِيْ أَنْ أُعَذِّبَهُ بِنَارِيْ فِيْ بَطْنِ الْأَرْضِ وَوَلَدُهُ يَذْكُرُ اسْمِيْ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ. تفسير كبير ج١ ص ١٥٥ اَلْبَابُ الْحَادِيْ عَشَرَ فِيْ بَعْضِ النُّكَتِ الْمُسْتَخْرَجَةِ من قولنا " بسم الله الرحمن الرحيم " ط. المكتبة الحبيبيه كوئټه .

(٢) رواه الديلمي عن جابر ، كنزالعمال ج١ ص ٢٧٧ رقم الحديث ٢٣٨٥ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله ، تفسير مظهري ١/ ١٥٣ .

# د کور په دروازه باندې د "بسم الله الرحمن الرحيم" ليکلو په وجه فرعون ته مهلت ورکول

امام رازي رحمه الله په تفسيرِ کبير کې دا واقعه رانقل کړې چې فرعون د خدائي دعوىٰ کولو نه مخکې ځان له يو مَحل جوړ کړې وُ ، او دا حکم يې کړې وُ چې ددې کور په بهرنۍ دروازه باندې بسم الله الرحمن الرحيم وليکئ ( نو هغوی دده د کور په دروازه باندې بسم الله الرحمن الرحي وليکله ) .

کله چې ده د خدائي دعوىٰ اوکړه نو الله جل جلاله حضرت موسى عليه السلام ورولېږل ډير دعوت يې ورته وکړو خو هغه او نه منل ، حضرت موسى عليه السلام الله ﷻ ته عرض وکړو :

إِلٰهِيْ كَمْ أَدْعُوْهُ وَلَا أَرىٰ بِهٖ خَيْرًا .

اې الله ! ما خو ده ته ډير دعوت ورکړو ( دې يې نه مني ) ، او زه په ده کې هيڅ خير نه ګورم .

الله رب العزت ورته وفرمايل :

يَا مُوْسٰى ! لَعَلَّكَ تُرِيْدُ إِهْلَاكَهٗ. أَنْتَ تَنْظُرُ إِلٰى كُفْرِهٖ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلٰى مَا كَتَبَهٗ عَلٰى بَابِهٖ.

اې موسى ! شايد ته دده هلاکيدل غواړې ځکه ته دده کفر ته ګورې ، خو زه دده د کور په دروازه باندې ليکلې شوې " بسم الله الرحمن الرحيم " ته ګورم ( نو ځکه يې فِی الحال نه هلاکوم ، بلکه څه اندازه مهلت ورکوم ) . (١)

ددې واقعې ذکر کولو نه روستو امام رازي رحمه الله ليکلي : فرعون اګر چې کافر وُ خو چونکه ده د کور په بهرنۍ دروازه باندې بسم الله الرحمن الرحيم ليکلې وه نو د فِی الحال

(١) رُوِيَ أَنَّ فِرْعَوْنَ قَبْلَ أَنْ يَدَّعِيَ الْإِلٰهِيَّةَ بَنٰى قَصْرًا وَأَمَرَ أَنْ يُكْتَبَ "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" عَلٰى بَابِهِ الْخَارِجِ. فَلَمَّا ادَّعَى الْإِلٰهِيَّةَ وَأَرْسَلَ إِلَيْهِ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ وَدَعَاهُ فَلَمْ يَرَ بِهٖ أَثَرَ الرُّشْدِ . قَالَ: إِلٰهِيْ كَمْ أَدْعُوْهُ وَلَا أَرىٰ بِهٖ خَيْرًا. فَقَالَ تَعَالٰى: يَا مُوْسٰى ! لَعَلَّكَ تُرِيْدُ إِهْلَاكَهٗ. أَنْتَ تَنْظُرُ إِلٰى كُفْرِهٖ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلٰى مَا كَتَبَهٗ عَلٰى بَابِهٖ. تفسير کبير ج ١ ص ١٥٢ اَلْبَابُ الْحَادِيْ عَشَرَ فِيْ بَعْضِ النُّكَتِ الْمُسْتَخْرَجَةِ من قولنا "بسم الله الرحمن الرحيم" ط . المكتبة الحسنة کوئټه

هلاکت نه بچ شو ( او مُهلت ورکړې شو ) ، اوس چې ټول عُمر د يو انسان د زړه په تختې باندې دا بسم الله .. ليکلې شوي وي نو الله ﷻ به په ده باندې څومره مهربانه وي ؟ (۱)

## د قرآن کريم لوستونکې به د قيامت دورځې د سختۍ نه محفوظ وي

د قيامت په هغه سخته ورځ کې به بعضې خوش نصيبه خلق هاغه هم وي چې د هغې ورځې د سختۍ او تکليفونو نه به محفوظ وي ، په هغې کې يو کس د قرآن کريم لوستونکې هم دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

ثَلَاثَةٌ لَا يَهُوْلُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ . وَلَا يَنَالُهُمُ الْحِسَابُ . هُمْ عَلَى كَثِيْبٍ مِنْ مِسْكٍ حَتَّى يُفْرَغَ مِنْ حِسَابِ الْخَلْقِ : رَجُلٌ قَرَأَ الْقُرْآنَ اِبْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ ، وَ أَمَّ بِهِ قَوْمًا وَهُمْ بِهِ رَاضُوْنَ. وَ دَاعٍ يَدْعُوْ إِلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ . وَعَبْدٌ أَحْسَنَ فِيْمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ رَبِّهِ ، وَفِيْمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ مَوَالِيْهِ. (۲)

درې ( ۳ ) کسان داسې دي چې د هغوی سره به د قيامت د هغه سختې ورځې يَره نه وي ، او نه به د دوی سره حساب و کتاب کولې شي ، تر څو پورې چې مخلوق د حساب و کتاب نه فارغيږي هغوی به د مُشکو په غونډو سېل کوی:

---

(۱) وَالنُّكْتَةُ أَنَّ مَنْ كَتَبَ هٰذِهِ الْكَلِمَةَ عَلَى بَابِهِ الْخَارِجِ صَارَ آمِنًا مِنَ الْهَلَاكِ وَإِنْ كَانَ كَافِرًا فَالَّذِيْ كَتَبَهُ عَلَى سُوَيْدَاءِ قَلْبِهِ مِنْ أَوَّلِ عُمْرِهِ إِلَى آخِرِهِ كَيْفَ يَكُوْنُ حَالُهُ ؟ . تفسير كبير ج۱ ص اَلْبَابُ الْحَادِيْ عَشَرَ فِيْ بَعْضِ النُّكَتِ الْمُسْتَخْرَجَةِ من قولنا" بسم الله الرحمن الرحيم " ط . المكتبة الحبيبه كوئته

(۲) رواه الطبراني في الكبير باسناد لا بأس به ، ورواه الهيثمي في المجمع ۱ / ۳۲۷ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۲۵۰ رقم الحديث ۱۰۹۳ ابواب قراءة القرآن ، و ص ۴۱۲ ثواب العبد اذا أدى حق الله وحق سيده . /

عَنِ ابْنِ عُمَرَ . قَالَ: لَوْ لَمْ أَسْمَعْهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مَرَّةً. وَمَرَّةً وَمَرَّةً عَنْ سَبْعِ مَرَّاتٍ لَمَا حَدَّثْتُ بِهِ. سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: " ثَلَاثٌ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَهُوْلُهُمُ الْحُزْنُ . وَلَا يَفْزَعُوْنَ حِيْنَ يَفْزَعُ النَّاسُ : رَجُلٌ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ فَأَقَامَ بِهِ يَطْلُبُ بِهِ وَجْهَ اللهِ وَمَا عِنْدَهُ . وَرَجُلٌ نَادَىٰ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَمْسَ صَلَوَاتٍ يَطْلُبُ بِهِ وَجْهَ اللهِ وَمَا عِنْدَهُ . وَمَمْلُوْكٌ لَمْ يَمْنَعْهُ رِقُّ الدُّنْيَا مِنْ طَاعَةِ رَبِّهِ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۳۵۸۴ ، كنز العمال ۴۳۲۴۱ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۲۵۱

يو هغه کس دى چې د الله ﷻ د رضا د پاره يې قرآن کريم اولوست، او د قوم يې داسې إمامت وکړو چې هغوى دده نه راضي وو .

(دويم) هغه کس چې هغه خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره خلق مانځه ته رابلي .

او (دريم) هغه کس چې هغه د خپل رب (الله ﷻ) سره هم ښه معامله ساتي او د خپلو ماتَحتو (د لاس لاندې کسانو) سره هم ښه معامله ساتي .

په کنزُ العمّال کې يو اوږد حديث ذکر دى، د هغې څه لږه حصه تاسو ته رانقل کوم، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

... يُدْفَعُ عَنْ مُسْتَمِعِ الْقُرْآنِ سُوْءُ الدُّنْيَا . وَ يُدْفَعُ عَنْ تَالِي الْقُرْآنِ بَلْوَى الْآخِرَةِ . وَلَمُسْتَمِعُ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ صَبِيْرٍ ذَهَبًا وَتَالِيْ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَهُ مِمَّا تَحْتَ أَدِيْمِ السَّمَاءِ ... (١)

د قرآن کريم اورېدونکي نه به په دُنيا کې سختۍ (او تکليفونه) دَفع کولې شي، او د قرآن کريم د تلاوت کوونکي نه به په آخرت کې مصيبتونه (او عذابونه) دفع کولې شي، او کوم کس چې د کتابُ الله (يعنى د قرآن کريم) يو آيت واوري دا دده د پاره د صَبِير غر په اندازه د سروزرو نه ډير بهتر دى (٢). او د کتاب الله يو آيت تلاوت کول دده د پاره د آسمان د لاندې ټولو شيانو نه ډير بهتر دى .

## حافظِ قرآن به د قيامت د ورځې د سختۍ نه په اَمن وي

قاضي يوسف بن اسماعيل النبهاني رحمه الله په خپل کتاب "سَعَادَةُ الدَّارَيْن" کې يوه واقعه رانقل کړې چې: حضرت محي الدين العربي رحمه الله فرمايي :

(١) کنزالعمال ج١ ص ٢٦٥ رقم ٢٣٦٢ . وفي رواية عن انس بن مالك رضي الله عنه قال : قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ... يُدْفَعُ عَنْ قَارِئِ الْقُرْآنِ بَلَاءُ الدُّنْيَا، وَيُدْفَعُ عَنْ مُسْتَمِعِ الْقُرْآنِ بَلَاءُ الْآخِرَةِ . کنزالعمال رقم الحديث ج١ ٢٠٣١ .

(٢) قال صاحب المجمع : اَلصَّبِيْرُ : هو اسم جبل باليمن . وقيل إنما هو مثل جبل . وأما ثبير بالثاء : هو جبل عظيم بمزدلفة . وقال صاحب تاج العروس والصَّبِيرُ جَبَلٌ م

ما يوه شپه خوب اوليده چې قيامت قائم دى او ټول خلق جَمع دي ، نو ما په دې وخت كې په عِلّيين كې د قرآن مجيد لوستلو آواز واوريده ، ما پوښتنه وكړه :

مَنْ هٰؤُلَآءِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ فِيْ مِثْلِ هٰذَا الْوَقْتِ وَلَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ .

دا خلق څوک دي چې په دې مُشكل وخت كې هم د قرآن مجيد تلاوت كوي او په دوى باندې هيڅ يَره نشته ؟ ماته په جواب كې ووېلې شو :

هُمْ حَمَلَةُ الْقُرْآنِ . دوى د قرآن كريم حافظان دي .

ما ورته ووېل : زه خو هم د قرآن كريم حافظ يم . بيا ماته هم يوه آندرپايه راښكته كړې شوه ، زه هم په دې باندې د عِلّيين يوې بالاخانې ته وراوختم ، په دې كې مشران او كشران قاريان موجود وو چې د حضرت ابراهيم عليه السلام د وړاندې يې تلاوت كولو ، زه هم د دوى مخې ته كيناستم .

وَافْتَتَحْتُ أَقْرَأُ الْقُرْآنَ آمِنًا لَا أَعْرِفُ خَوْفًا . وَلَاهَوْلًا . وَلَاحِسَابًا . وَلَا أَدْرِيْ مَا هُمُ النَّاسُ فِيْهِ مِنَ الْكَرْبِ فِي الْحَشْرِ .

ما هم دير په اَمن ( او اِطمينان ) سره د قرآن كريم تلاوت شروع كړو ، نه ما وېره پېژندله ، نه څه خطره ، او نه څه حساب ، او ( زه داسې مطمئِن ووم چې ) ماته دا هم پته نه وه چې په دې ميدان محشر كې دا خلق په څه مصيبت او تكليف كې مُبتلاء دي . (١)

نبي عليه الصلوة والسلام هم د حافظانو په باره كې فرمايي :

أَهْلُ الْقُرْآنِ هُمْ أَهْلُ اللهِ وَخَاصَّتُهُ . (٢)

دا اَهلِ قرآن ( يعنى د قرآن كريم يادوونكي او په دې باندې عمل كوونكي (٣) ) هم دوى اهلُ الله ( اولياءُ الله ) او د هغه خاص بندګان دي .

---

(١) سعادة الدارين في الصلاة على سيّد الكونين ص ٤٣٤ مبشرة تحرّض على حفظ القرآن ط . دارالكتب العلمية بيروت .

(٢) المستدرک على الصحيحن للحاكم رقم الحديث ٢٠٤٦ . وهذا الحديث رواه النسائي بسند صحيح ، ورواه ابن ماجه في المقدمة الحديث ٢١٥ ، واحمد ١٢٧/٣ ، ١٢٨ ، والدارمي ٢ /٤٣٣ ، وصححه العلامه الالباني في صحيح ابن ماجه ١٧٨ .

(٣) أَهْلُ الْقُرْآنِ: اى حفظته العاملون به . / هُمْ أَهْلُ اللهِ : اى أولياؤه المختصّون به اختصاص اهل الانسان به . شرح محمد فؤاد عبدالباقي على ابن ماجه .

# د قرآن کريم په ذريعه د جهنم د اور نه نجات

محترمو مسلمانانو ! هر انسان دا غواړي چې زه دې د جهنم د اُور نه بچ شم او ماته دې ددينه اَمان راکړې شي ، اوس چې څوک د قرآن کريم تلاوت کوي ، او دده په زړه کې قرآن کريم محفوظ وي نو الله ﷻ داسې انسان ته د جهنم د اُور نه نجات ورکوي .

رسول الله ﷺ فرمايي : إِقْرَءُوا الْقُرْآنَ، فَإِنَّ اللهَ لَا يُعَذِّبُ قَلْبًا وَعَى الْقُرْآنَ . (١)

تاسو قرآن کريم لولئ ، ځکه الله ﷻ هغه زړه ته عذاب نه ورکوي چې هغې قرآن محفوظ کړې وي (يعنی ياد کړې يې وي ، بيا يې تلاوت کوي ، او عمل پرې کوي) .

امام رازي رحمه الله په تفسيرِ کبير کې ذکر کړي چې دعام کاغذ دومره ډير تعظيم نشته خو چې کله په دې کاغذ باندې دقرآن کريم څه حصه اوليکلې شي نو بيا ددې کاغذ سوَزول ناجائز دي ، اوس چې کله د يو مؤمن په زړه کې د الله ﷻ د ذات او صفاتو ټول احکام ليکلې شوي وي (يعنی قرآن کريم ورته ياد وي) نو اَرحمُ الرّاحمين ذات به څنګه داسې مؤمن په اُور کې اوسوَزوي ؟ (٢)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَوْ كَانَ الْقُرْآنُ فِيْ إِهَابٍ مَا مَسَّتْهُ النَّارُ . (٣)

---

(١) كنزالعمال ج١ ص٢٥٨ رقم الحديث ٢٢٧١ ط. دارالكتب العلمية بيروت ، وصححه الحافظ في الفتح ٩/ ٧٩ .

(٢) أَنَّ الْكَاغَدَةَ لَيْسَ لَهَا خَطَرٌ عَظِيْمٌ وَإِذَا كُتِبَ فِيْهَا الْقُرْآنُ لَمْ يَجُزْ إِحْرَاقُهَا . فَقَلْبُ الْمُؤْمِنِ كُتِبَ فِيْهِ جَمِيْعُ أَحْكَامِ ذَاتِ اللهِ تَعَالَى وَصِفَاتِهِ فَكَيْفَ يَلِيْقُ بِالْكَرِيْمِ إِحْرَاقُهُ ؟ تفسير الرازي ٢٢/ ٣٩ في تشريح : رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ..

(٣) شرح السنة للبغوي رقم الحديث ١١٨٠ بَابُ فَضْلِ تِلَاوَةِ الْقُرْآنِ، المعجم الكبير للطبراني ٦/ ١٧٢ رقم الحديث ٥٩٠١ ، كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٤٠٤ . /

وفي رواية : لَوْ أَنَّ الْقُرْآنَ فِيْ إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ . رواه احمد باسناد صحيح ٤/ ١٥٤ .

وفي رواية : لَوْ جُعِلَ الْقُرْآنُ فِيْ إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ . رواه الدارمي ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن حديث ٣١ . / وفي رواية : لَوْ جُمِعَ الْقُرْآنُ فِيْ إِهَابٍ مَا أَحرقته النار . المعجم الكبير للطبراني ١٧/ ١٨٦ رقم الحديث ٤٩٨ . / وفي رواية : لَا يُعَذِّبُ اللهُ عَبْدًا أَوْعَى الْقُرْآنَ . رواه الديلمي عن عقبة بن عامر ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٨ رقم الحديث ٢٤٠١

كه چيرته قرآن كريم په يوه څرمن كې وي (او دا په اور كې واچولې شي) نو اور به دا مَسه نه كړي (يعنى اور به يې او نه سوزوي).

**د حديث تشريح**: ددې حديث په تشريح كې امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي: چې د څرمن نه مراد د انسان زړه او بدن دی، د حديث مطلب دادی چې كه قرآن كريم د يو چا په څرمن يعنى زړه كې محفوظ وي، او دې ددې تلاوت كوي نو اُميد دی چې الله ﷻ به دې د جهنم نه محفوظ اُوساتي. (١)

او بعضي علماء وايي چې دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پاره د نبوت يوه نخه او معجزه وه چې قرآن كريم به يې په څرمن كې تاؤ كړو او اور كې به يې واچول نو اور به پرې اثر نه كولو، او دا د نبي عليه السلام د زماني سره خاص وه. (٢)

## په قرآن كريم سره په جنت كې درجې اوچتيدل

امام بيهقي رحمه الله يو حديث رانقل كړی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ قَرَأَ آيَةً مِنَ الْقُرْآنِ كَانَتْ لَهُ دَرَجَةً مِنَ الْجَنَّةِ وَمِصْبَاحًا مِنْ نُورٍ. (٣)

چا چې د قرآن كريم يو آيت اولوسته نو دد د پاره به (ددې په عِوض كې) په جنت كې يوه درجه اُوچتيږي، او (دده د پاره به) د نُور يوه ډيوه وي.

(١) حُكِيَ عَنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، قَالَ: مَعْنَاهُ: لَوْ كَانَ الْقُرْآنُ فِي إِهَابٍ، يَعْنِي: فِي جِلْدٍ، فِي قَلْبِ رَجُلٍ، يُرْجَى لِمَنِ الْقُرْآنُ مَحْفُوظٌ فِي قَلْبِهِ أَنْ لَا تَمَسَّهُ النَّارُ.
وَقَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ الْبُوشَنْجِيُّ: مَعْنَاهُ أَنَّ مَنْ حَمَلَ الْقُرْآنَ وَقَرَأَهُ، لَمْ تَمَسَّهُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.
قَالَ رَحِمَهُ اللهُ: هٰذَا كَمَا يُرْوَى عَنْ أَبِي أُمَامَةَ. قَالَ: «اِحْفَظُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّ اللهَ لَا يُعَذِّبُ بِالنَّارِ قَلْبًا وَعَى الْقُرْآنَ». شرح السنة للبغوي ٤/٤٣٧ في تشريح حديث ١١٨٠.

(٢) وَذَهَبَ بَعْضُهُمْ إِلَى أَنَّهُ كَانَ فِي عَصْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَمًا لِنُبُوَّتِهِ. كَالْآيَاتِ الَّتِي فِي عَصْرِ الْأَنْبِيَاءِ، مِنْ كَلَامِ الْمَوْتَى، أَوِ الدَّوَابِّ وَنَحْوِهِ، ثُمَّ يُعْدَمُ بَعْدَهُمْ. ذَكَرَهُ الْقُتَيْبِيُّ. وراندينى مرجع عين صفحه.

(٣) رواه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ١٨٤٥، كنزالعمال ج١ ص ٢٧٤ رقم الحديث ٢٤٤٨ ط. دارالكتب العلمية بيروت.

# د تلاوت کوونکي مثال په شان د خوشبوداره ميوې دی

د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِيْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْأُتْرُجَّةِ، رِيْحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِيْ لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ لَا رِيْحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ. وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِيْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّيْحَانَةِ رِيْحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِيْ لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ. لَيْسَ لَهَا رِيْحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ. (١)

هغه مؤمن چې هغه قرآن مجيد لولي د هغه مثال د سَنګترې (تُرنج، ګلګل (٢)) په شان دی چې د هغې خوشبو هم ډيره ښه ده، او د هغې خوَند هم ډير ښه دی.

او کوم مؤمن چې قرآن کريم نه لولي د هغه مثال په شان د قجورې دی چې د هغې خوشبوئي نشته خو خوَند يې خوږ (مزيدار) دی. (همدغه رنګې مؤمن هم د ايمان په وجه ښه او خوږ وي خو د قرآن کريم نه لوستلو په وجه دې د تلاوت د خوشبوی نه محرومه وي).

او کوم منافق چې قرآن کريم لولي د هغه مثال په شان د ګلِ رَيحان (خوشبوداره ګل، کشمالي) دی چې بُوئ يې ښه دی خو خوَند يې تريخ دی.

او کوم منافق چې قرآن کريم نه لولي د هغه مثال په شان د مرَغوني دی (٣) چې د هغې خوشبوی هم نشته او خوَند يې هم تريخ دی.

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الأَطْعِمَةِ بَابُ ذِكْرِ الطَّعَامِ رقم الحديث ٥۴٢٧، صحيح مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب فضيلة حافظ القرآن رقم الحديث ٧٩٧. / وفي رواية: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْمُؤْمِنُ الَّذِيْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَعْمَلُ بِهِ كَالْأُتْرُجَّةِ، طَعْمُهَا طَيِّبٌ وَرِيْحُهَا طَيِّبٌ، وَالْمُؤْمِنُ الَّذِيْ لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَعْمَلُ بِهِ كَالتَّمْرَةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ وَلَا رِيْحَ لَهَا. وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِيْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَالرَّيْحَانَةِ رِيْحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ. وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِيْ لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَالْحَنْظَلَةِ، طَعْمُهَا مُرٌّ أَوْ خَبِيْثٌ وَرِيْحُهَا مُرٌّ". صحيح البخاري بَابُ إِثْمِ مَنْ رَاءَى بِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ أَوْ تَأَكَّلَ بِهِ أَوْ فَخَرَ بِهِ رقم الحديث ٥٠٥٩.

(٢) الأُترجة: هي ثمر جامع لطيب الطعم والرائحة وحسن اللون يشبه البطيخ. شرح محمد فؤاد عبدالباقي على صحيح مسلم

(٣) مرَغوني يو قِسم ترخې دانې دي چې ددې تريخوالې ضَربُ المثَل دی. منجد

**د حديث تشريح** مولانا زكريا رحمه الله په " فضائلِ قرآن " كې ددې حديث په تشريح كې ليكلي دي چې په دې حديث كې د غير محسوس شي تشبيه د محسوس شي سره وركړې شوې ده ، او دا صرف ددې دپاره چې په آسانه طريقې سره په ذهن كې د قرآن كريم د لوستلو او نه لوستلو په مينځ كې فرق راشي .

ورنه د قرآن كريم د خوږوالي او خوشبوى سره د ترنج او قجورې څه نسبت دى ؟ ( ځكه د قرآن كريم خوږوالي او خوشبوئي د دُنيا د هر شي نه زياته ده ) .

اگر چې ددې شيانو سره په تَشبيه وركولو كې علماؤ څه نُكتې او باريكۍ هم بيان كړي : مثلاً ترنج په خُوله كې خوشبوئي پيداكوي ، معده صفا كوي ، او په هضم كې قوت پيدا كوي . اوس دا فوائد دقرآن كريم په تلاوت كولو كې هم دي چې په تلاوت كولو سره په خُوله كې خوشبويي پيدا كيږي ، باطن صفا كيږي ، او په رُوحانيت كې قوت پيدا كيږي .

بيا په ترنج كې يو خاص اَثر دا هم دى چې دا په كوم كور كې وي هلته پيريان نشي تللى . كه دا خبره صحيح شي نو بيا يې د قرآن كريم د تلاوت سره خاص نسبت دى ، ځكه په كوم كور كې چې تلاوت كيږي هلته هم پيريان نه داخليږي ، بلكه د هغې نه تختي .

بعضې طبيبان وايي چې په ترنج سره حافظه قوي كيږي همدغه رنگې د قرآن كريم په تلاوت كولو سره هم حافظه قوي كيږي ، لكه په " إحياء العلوم " كې د حضرت علي رضي الله عنه نه نقل شوي دي چې په درې ( ٣ ) شيانو سره حافظه قوي كيږي : په مسواک ، روژه ، او د قرآن كريم په تلاوت كولو سره . (١)

## د تلاوت كوونكي مثال په شان د مُشكو د تيلى دى

د ترمذي شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) فضائلِ قرآن لمولانا زكريا رحمه الله في تشريح حديث ٦ .

تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ فَاقْرَءُوْهُ وَأَقْرِئُوْهُ، فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ لِمَنْ تَعَلَّمَهُ فَقَرَأَهُ وَقَامَ بِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ مِسْكًا يَفُوْحُ بِرِيْحِهِ كُلُّ مَكَانٍ ، وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهُ فَيَرْقُدُ وَهُوَ فِيْ جَوْفِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ أُوْكِيَ عَلَى مِسْكٍ. (١)

تاسو قرآن کريم زده کړئ ، ددې تلاوت کوئ ، ( ياد يې کړئ ) ، او بل ته يې اُونبايئ ( بيا آرام کوئ ) ، ځکه دقرآن کريم مثال د هغه چا د پاره چې هغه دا زده کړي ، تلاوت يې کوي ، او ددې د تلاوت په وجه شَب بيداري کوي ( يعنی د شپې په مانځه کې ددې تلاوت کوي) دده مثال د هغه تهيلۍ په شان دی چې د مُشکو نه ډکه وي ، د هغې ( خُوله کُلاؤ وي او ددې) خوشبوئي هر ځای کې خوَريږي .

او چا چې قرآن کريم زده کړو بيا اُوده شو ( نه يې ددې تلاوت وکړو او نه يې پرې عمل وکړو ) حالانکه قرآن مجيد دده په سينه ( زړه ) کې موجود دی دده مثال د هغې تهيلۍ په شان دی چې د مُشکو نه ډکه شوې وي خو خُوله يې تړَل شوې وي ( ددې د خوشبوئي نه هيڅوک فائده نشي اخيستی ) .

**د حديث تشريح** : يعنی د قرآن کريم د زده کوونکي او لوستونکي سينه د يوې تهيلۍ په شان ده ، او په دې کې قرآن کريم د مُشکو په شان دی ، اوس چې څوک ددې تلاوت کوي نو دا داسې دی لکه د مُشکو د تهيلۍ خُوله چې کُلاؤ وي نو ددې په وجه هر ځای مُعطروي، دغه رنګې ددې تلاوت په وجه هم غونډ.کور او هر ځای برکتي وي ، او څوک چې دا تلاوت اَوري هغوی هم ددې د اَنواراتو او برکاتو نه فائده اَخلي .

او چې د چا په سينه کې قرآن مجيد موجود وي خو نه يې تلاوت کوي ، او نه پرې عمل کوي نو دا داسې دی لکه يوه تهيلۍ چې د مُشکو نه ډکه وي خو خُوله يې تړل شوي وي چې ددې په وجه هيچا ته ددې خوشبوئي نه ورځي .

(١) سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ وَآيَةِ الْكُرْسِيِّ رقم الحديث ٢٨٧٦ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٨٦٩٦ ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني حديث ٣٣ . / وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَاقْرَأُوْهُ وَارْقُدُوْا. فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ وَمَنْ تَعَلَّمَهُ فَقَامَ بِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ مِسْكًا يَفُوْحُ رِيْحُهُ كُلَّ مَكَانٍ. وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهُ فَرَقَدَ وَهُوَ فِيْ جَوْفِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ أُوْكِيَ عَلَى مِسْكٍ . سنن ابن ماجه باب فضل من تعلم القرآن وعلمه رقم الحديث ٢١٧ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٢٦٩ .

دغه رنګې د تلاوت نه کوونکي مثال هم دی چې نه خو ده ته د تلاوت کولو برکات حاصلیږي ، او نه نور ددې دبرکاتو نه مُستفید کیدې شي .

## د تلاوت اوريدلو ثواب

قرآن کریم داسې عظیم کتاب دی چې لکه څرنګې پخپله ددې تلاوت کول ثواب دی همدغه رنګې دا د بل نه اَوریدل هم ثواب دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنِ اسْتَمَعَ إِلى آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ مُضَاعَفَةٌ. وَمَنْ تَلَاهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (١)

څوک چې د قرآن کریم یو آیت اَوریدو ته غوږ اُونیسي نو دده د پاره ( ددې په عِوض کې ) داسې نیکي لیکلې شي چې هغه همداسې مسلسل دُوچند کیږي ( یعنی زیاتیږي ) ، او څوک چې د یو آیت تلاوت وکړي نو دا به ددې کس د پاره د قیامت په ورځ نُور وي .

**فائده** : په دې حدیث کې د یو آیت په اَوریدو چې کومه نیکي د انسان د پاره لیکلې شي د هغې د زیاتیدو حَد نه دې بیان شوی ، بلکه دا نیکي به مسلسل زیاتیږي ، او د الله رب العزت نه دا اُمید هم دی چې دا به همداسې مسلسل د انسان د پاره زیاتوي . (٢)

د کنزالعمّال حدیث دی ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَسَمَاعُ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنْ مِثْلِ صَبِيْرٍ يَتَصَدَّقُ بِهِ . وَلَقِرَاءَةُ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ دُوْنَ الْعَرْشِ . (٣)

---

(١) رواه الهيثمي في المجمع ٧ /١٦٢ ، والمنذري ٢ / ٣٤٥ ، والسيوطي في الدّر ٣ / ١٥٧ . / وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنِ اسْتَمَعَ إِلَى آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ مُضَاعَفَةٌ. وَمَنْ قَرَأَ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللهِ كَانَتْ لَهُ نُوْرًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه احمد ٢ / ٣٤١ عن ابي هريرة ، تفسير البغوي ١ /٦٤ رقم الحديث ١٧ .

(٢) حيوة المسلمين لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ص ٥٠ .

(٣) رواه ابوالشيخ والديلمي عن صهيب ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٨ كتاب الاذكار قسم الاقوال رقم الحديث ٢٣٩٧ . / وفي رواية : قال النبيّ صلى الله عليه وسلم ... وَلَمُسْتَمِعُ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ صَبِيْرٍ ذَهَبًا وَتَالِيْ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَهُ مِمَّا تَحْتَ أَدِيْمِ السَّمَاءِ . كنزالعمال ج١ ص ٢٦٥ رقم ٢٣٦٢ .

زما دې قسَم وي په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده يقينًا د کتابُ الله (يعنی قرآن کريم ) يو آيت اَوريدل د صبير غَر په مقدار د صدقې کولو نه ډير اَجر لري ، او يقينًا د کتاب الله يو آيت تلاوت کول د عرش نه علاوه د بل هر شي نه ډير افضل دی .

امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړی " بَابُ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَسْمَعَ الْقُرْآنَ مِنْ غَيْرِهِ " ، او ددې د لاندې يې يو حديث رانقل کړی :

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي چې ما ته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

اِقْرَأْ عَلَيَّ الْقُرْآنَ . ماته د قرآن کريم تلاوت وکړه .

ما ورته وفرمايل : آيا زه تاسو ته تلاوت وکړم ؟ حالانکه دا خو په تاسو نازل شوی (يعنی دا چې څنګه نازل شوی هغسې تلاوت خو تاسو کولې شئ لهذا د تلاوت کولو حق هم ستاسو دی ) .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

إِنِّيْ أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِيْ .

زه دا خوښوم چې دا قرآن کريم د ځان نه علاوه د بل کس نه واورم . (۱)

**فائده** : امام بخاري رحمه الله دا باب ددې د پاره راوړې دی چې بعضې وخت انسان دا خوښوي چې د بل چا نه تلاوت واوري نو دا هم جائز ده ، ځکه نبي عليه السلام به هم بعضې وخت دا خوښول چې تلاوت د بل چا نه واوري .

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اِقْرَأْ عَلَيَّ الْقُرْآنَ » . قُلْتُ : اَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ . قَالَ : إِنِّيْ أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِيْ . صحيح البخاري بَابُ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَسْمَعَ الْقُرْآنَ مِنْ غَيْرِهِ رقم الحديث ٥٠٤٩، ومسلم رقم الحديث ٨٠٠ . / وفي رواية : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اِقْرَأْ عَلَيَّ » قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ، آقْرَأُ عَلَيْكَ، وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ. قَالَ : « نَعَمْ » . فَقَرَأْتُ سُوْرَةَ النِّسَاءِ حَتَّى أَتَيْتُ إِلَى هٰذِهِ الآيَةِ : { فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ، وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هٰؤُلَاءِ شَهِيْدًا } [ النساء: ٤١ ]، قَالَ: « حَسْبُكَ الآنَ » فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ، فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ . صحيح البخاري بَابُ قَوْلِ الْمُقْرِئِ لِلْقَارِئِ حَسْبُكَ رقم الحديث ٥٠٥٠ .

خو دا به د رسول الله صلی الله علیه وسلم مختلف حالات وو ، بعضې وخت به يې په خپله تلاوت کول خوَښول ، او بعضې وخت به يې د بل نه اَوريدل خوَښول .

دبل نه تلاوت اَوريدلو کې يوه فائده دا هم ده چې په دې سره انسان ته د آيتونو په معنی کې د غوَر او فکر کولو موقع ملاويږي . (۱)

امام غزالي رحمه الله ذکر کړي چې بعضې وخت د اَوريدو اجر زيات وي ، او په دې اَجر کې ورسره تلاوت کوونکې هم شريک وي ، ځکه دا د همدې تلاوت د پاره سبب دی ، البته که دده مقصد خالصه رِياء او ځان ځودنه وي نو بيا ده ته اجر نه ملاويږي . (۲)

## تلاوت اَوريدونکې ډلې سره د نبي عليه السلام کيناستل

حضرت ابوسعيد خدري ﷺ فرمايي : زه يوه ورځ د غريبانانو مهاجرينو ( يعنی اَصحابِ صُفّهٔ ) په ډله کې ناست ووم ، (دوی دومره فقيران وو چې ) په دوی کې بعضې د بدن د بَربنډوالي په وجه د يو بل سره نزدې ناست وو چې د هغې په وجه يې د بدن دا ښکاره حصې هم پټې وی (۳) .

او يو قاري مونږ ته د قرآن کريم تلاوت کولو ، ناڅاپه رسول الله صلی الله عليه وسلم تشريف راوړو ، او د مونږ سره نزدې اُودريده ، د نبي ﷺ په تشريف راوړو سره قاري چپ شو ، (د قاري د چپ کيدو نه پس) نبي عليه السلام سلام واچول ، بيا يې وفرمايل :

مَاكُنْتُمْ تَصْنَعُوْنَ ؟ تاسو څه کول ؟

مونږ ورته وفرمايل : يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّهٗ كَانَ قَارِئٌ لَنَا يَقْرَأُ عَلَيْنَا. فَكُنَّا نَسْتَمِعُ إِلٰى كِتَابِ اللهِ .

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۴ .

(۲) وقال الغزالي رحمه الله : ومهما عظم أجر الاستماع وكان التالي هو السبب فيه كان شريكاً في الأجر إلا أن يكون قصده الرياء والتصنع . احياء العلوم ۱ / ۲۸۰ ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۲۴۸ كتاب تلاوة القرآن .

(۳) يعنی د دوی عَورت او د ستَر ځايونه خو په کپړو کې پټ وو خو د عَورت نه علاوه د بدن بعضې ځايونه يې د کپړو د نشت والي د وجې نه ښکاره وو ، اګر چې دا د ستَر ځايونه نه وو خو دا د صحابه کرامو کمالِ درجه حَياء وه چې دا ځايونه يې ښکاره کول هم د اِنساني آدابو خلاف ګڼړل ، نو ځکه د يو بل سره نزدې ناست وو چې د بدن دغه حصې يې هم ښکاره نشي . مظاهر حق شرح مشکوة ج۴ الفصل الثاني في تشريح حديث ۱۲ .

اې د الله رسوله ! مونږ ته يو قاري تلاوت کولو او مونږ د الله ﷻ کتاب ( يعنی قرآن مجيد اوريدو ) ته غوږ نيولې وُ.

رسول الله ﷺ وفرمايل : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ مِنْ أُمَّتِيْ مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِيْ مَعَهُمْ .

ټول تعريفونه هغه الله لره دي چا چې زما په اُمت کې داسې خلق پيدا کړه چې ماته دا حکم شوی چې زه دهغوی سره کينم .

راوي فرمايي : بيا نبي عليه السلام زمونږ په مينځ کې ( په داسې انداز ) کيناستو چې د دوی د ذات اقدس تعلق د مونږ ټولو سره يو شان وُ (١) .

بيا رسول الله ﷺ په لاس مبارک باندې اِشاره وکړه چې په حَلقه جوړولو سره کينئ ، نو ټول صحابه کرام په حلقه جوړولو سره کيناست ، او د ټولو مخ د نبي کريم ﷺ طرف ته شو . (٢)

بيا نبي عليه السلام وفرمايل :

أَبْشِرُوْا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيْكِ الْمُهَاجِرِيْنَ بِالنُّوْرِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، تَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَاءِ النَّاسِ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَذَاكَ خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ . (٣)

---

(١) يعنی نبي عليه السلام زمونږ په مينځ کې د ناستې په معامله کې د عَدل و انصاف نه کار واخيست ، صرف د يو کس سره کېنه ناست ، بلکه د ټولو په مينځ کې کيناست ، ددې دپاره چې د دوی د ناستې او قُرب دا سعادت ټولو ته يو شان حاصل شي .

(٢) يعنی ټول صحابه کرام د نبي عليه السلام مخامخ په حلقه کې په داسې انداز کيناسته چې د ټولو مخونه نبي عليه السلام طرف ته شو ، او دوی ته د هغوی ټولو مخونه ښکاره کيده .

(٣) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ : جَلَسْتُ فِيْ عِصَابَةٍ مِنْ ضُعَفَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ وَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَسْتَتِرُ بِبَعْضٍ مِنَ الْعُرْيِ. وَقَارِئٌ يَقْرَأُ عَلَيْنَا إِذْ جَاءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عَلَيْنَا. فَلَمَّا قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَكَتَ الْقَارِئُ. فَسَلَّمَ. ثُمَّ قَالَ: « مَا كُنْتُمْ تَصْنَعُوْنَ ؟ » قُلْنَا: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهُ كَانَ قَارِئٌ لَنَا يَقْرَأُ عَلَيْنَا. فَكُنَّا نَسْتَمِعُ إِلَى كِتَابِ اللهِ . قَالَ: فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ مِنْ أُمَّتِيْ مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِيْ مَعَهُمْ » قَالَ : فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسْطَنَا لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهِ فِيْنَا . ثُمَّ قَالَ: بِيَدِهِ هٰكَذَا . فَتَحَلَّقُوْا وَبَرَزَتْ وُجُوْهُهُمْ لَهُ قَالَ : فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَفَ مِنْهُمْ أَحَدًا غَيْرِيْ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَبْشِرُوْا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيْكِ الْمُهَاجِرِيْنَ بِالنُّوْرِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. تَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَاءِ النَّاسِ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَذَاكَ خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ » . سنن ابي داود باب في القصص رقم الحديث ٣٦٦٦ ، شرح السنة للبغوي باب فضل فقراء المهاجرين ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني حديث ١٢ .

اې د مهاجرينو غريبې ډلې ! تاسو ته دې د قيامت په ورځ د پوره نُور حاصليدلو خوشخبري وي ، تاسو به د مالداره خلقو نه نيمه ورځ مخکې جنت ته داخليږئ ، او دا نيمه ورځ به د پنځه سوه ( ٥٠٠ ) کالو برابره وي ( يعنې تاسو به د مالدارو نه پنځه سوه کاله مخکې جنت ته داخليږئ ، ځکه د مالدارو سره به د مال متعلق حساب و کتاب کولې شي چې دا مال مو د کومې لارې نه ګټلې ؤ ؟ او چيرته مو خرچ کړې ؤ ؟ او فقراء به مخکې جنت ته داخل شي ) .

## د يو آيت زده کول د سلو ( ١٠٠ ) رکعتو نفلو نه زيات ثواب لري

نبي کريم صلى الله عليه وسلم حضرت ابوذر غفاري ﷺ ته وفرمايل :

يَا اَبَا ذَرٍّ لَأَنْ تَغْدُوَ فَتَعَلَّمَ آيَةً مِّنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تُصَلِّيَ مِائَةَ رَكْعَةٍ . وَلَأَنْ تَغْدُوَ فَتَعَلَّمَ بَابًا مِّنَ الْعِلْمِ عُمِلَ بِهِ أَوْ لَمْ يُعْمَلْ خَيْرٌ مِّنْ أَنْ تُصَلِّيَ أَلْفَ رَكْعَةٍ . (١)

اې ابوذره ! ( ﷺ ) که ته چيرته د سهر په وخت لاړشې او د قرآن کريم يو آيت زده کړې ، نو دا ستا دپاره د سلو ( ١٠٠ ) رکعتونو نفلو نه ډير بهتر دى ، او که ته لاړشې او د علم يو باب زده کړې ، که په دې عمل شوې وي او که نه ، خو دا ستا د پاره د زرو ( ١٠٠٠ ) رکعتو نفلو نه ډير بهتر دى .

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې د قرآن کريم يو آيت زده کول د سلو ( ١٠٠ ) رکعتو نفلو نه ډير بهتر دى . اوس دا آيت زده کول که په ناظره وي او که په حفظ سره وي ، که د ترجَمې سره وي او که بغير د ترجَمې نه . په دې ټولو صورتونو کې د يو آيت زده کول د سلو رکعتو نفلو نه ډير بهتر دى . (٢)

---

(١) رواه ابن ماجه في سننه باسناد حسن الحديث ٢١٩ ، وابن عبدالبر في جامع البيان ٢٥/١ ، الترغيب والترهيب ج١ ص ٥٤ کتاب العلم .

(٢) نوټ : ددې حديث پوره تشريح د همدې " إصلاحي مُدلَّل تقريرونه " کتاب په اول جلد ص ١٩٠ کې تېره شوې . ابوالشمس عفي عنه

د بهتر والي وجه يې داده چې نوافل كول ذاتي او اِنفرادي عمل دى او د قرآن كريم زده كول بيا بل ته خودل اِجتماعي عمل دى ، او دا يقيني خبره ده چې د اِجتماعي عمل فائده د اِنفرادي عمل نه زياته وي ، ځكه په دې سره د دين اِشاعت او د معاشرې اِصلاح كيږي .

دغه وجه ده چې په اِسلامي شريعت كې د قرآن كريم او احاديثو د عالِم مرتبه په عابِد باندې زياته خودلې شوى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ سَبْعُوْنَ دَرَجَةً بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ حُضْرُ الْفَرَسِ سَبْعِيْنَ عَامًا . (١)

د عالِم فضيلت په عابِد باندې اويا (٧٠) درجې زيات دى ، او د هرې دوه درجو په مينځ كې د آس د اووه سوه (٧٠٠) كاله منډې په اندازه مسافت دى .

په بل حديث كې ذكر دي :

فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ . (٢)

د عالِم فضيلت په عابِد باندې داسې دى لكه د څوارلسمې شپې سپوږمۍ فضيلت په باقي ستورو باندې .

دغه رنګې يو فقيه په شيطان باندې د زرو (١٠٠٠) عابِدانو نه هم زيات درُوند وي ، نبي عليه السلام فرمايي :

فَقِيْهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ . (٣)

يو فقيه (عالِم دين) په شيطان باندې د زرو (١٠٠٠) عابِدانو نه زيات سخت او درُوند دى .

يعنى كه يو طرفته زر (١٠٠٠) عبادت ګزاروي او بل طرفته يو عالِم وي نو بيا هم ددې يو عالِم مرتبه په دوى اُوچته ده .

(١) رواه الهيثمي في المجمع ١ ا ١٢٢ ، والزبيدي في الاتحاف ١١ ٢٨٣ ، ٧ ا ٢٥٧ ، والتبريزي في مشكاة المصابح ٢١، ٢١٣ . الترغيب والترهيب ج ١ ص ٥٧ كتاب العلم ، تفسير كبير ج١ ص ٤٠١ ايت ٣١ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ١٨ ابواب العلم ثواب العلم والعلماء وفضلهم .

(٢) اخرجه البخاري في العلم ١٠ ، والترمذي في القرآن ١٠ وفي العلم ١٩ ، ٣٥ ، وابن ماجه في المقدمة ١٧ ، واحمد ٢، ٢٥٢ ، ٣٢٥ ، ٤٠٧ . ابوداود (٣٦٤١) ، (٣٦٤٢) ، وابن ماجه (٢٢٣) و ابن حبان (٨٠) ورواه الترمذي (٢٦٨٣) .

(٣) اخرجه الترمذي في العلم باب ١٩ ، وابن ماجه في المقدمة الحديث ٢٢٢ والطبراني في المعجم الكبير ١١ ا ٧٨ ، الترغيب والترهيب ج١ ص ٥٧ كتاب العلم ، مشكوة ص ٣٤ كتاب العلم .

# د قرآن كريم آيتونه زده كول د بهترينو اوښو حاصلولو نه ډير بهتر دي

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت عُقبه بن عامر ﷺ فرمايي چې : يوه ورځ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم بهر ته تشريف راوړو ، او مونږ په صُفّه باندې ناست وو (١) ، نبي عليه السلام مونږ ته وفرمايل :

أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ ، أَوْ إِلَى الْعَقِيقِ ، فَيَأْتِيَ مِنْهُ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِي غَيْرِ إِثْمٍ ، وَلَا قَطْعِ رَحِمٍ ؟

په تاسو كې څوک دا خوَښوي چې هغه په هره ورځ سهر د بُطحان او عقيق مقام ته لاړ شي (٢) او د هغه ځای نه دوه د لوي قُب واله اُوښې بغير د څه ګناه او بغير د صِله رَحمي كټ كولو نه راولي ؟

صحابه كرامو ورته عرض وكړو : اې د الله رسوله ! مونږ ټول دا خوَښوو .

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : (چې كله خبره داسې ده نو بيا واورئ : )

په تاسو كې چې كوم كس سهر جُمات ته لاړ شي ، او هلته د كتابُ الله (يعنی د قرآن كريم) دوه (٢) آيتونه بل چاته اُوښايي ، او يا يې په خپله اُولولي نو دا دده د پاره د دوه اُوښو نه ډير بهتر دي ، درې (٣) آيتونه دده د پاره د درې اُوښو حاصلولو نه ډير بهتر دي ،

---

(١) صُفّه : دا د مسجد نبوي مخې ته هغه د سُوري واله دُكانچه او جوړ شوې ځای ؤ چې په دې كې به هغه صحابه كرام اُوسيدل كوم چې د عبادت او زُهد اِنتهائي اُوچت مقام ته رسيدلي وو ، او د هغوی كور ، بيبيانې وغيره نه وی ، دوی به هر وخت د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه فيض حاصلولو ، ګويا دا د اسلام د ټولو نه اولنی اِقامتي او تربيّتي درسګاه وه چې ددې اولنې مُعلِم پخپله محمد رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم ؤ ، او ددې طلباء صحابه كرام وو . مظاهر حق ج۴ كتاب فضائل القرآن . / اَلصُّفَّة : أي في موضع مظلل من المسجد الشريف كان لفقراء المهاجرين يأوُون إليه وهم المُسَمّون بأصحاب الصفّة . وكانوا أضياف الإسلام . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم .

(٢) بُطحان او عَقيق دواړه د ځای نومونه دي ، دا د مدينې منوّرې نه په څه اَندازه فاصله باندې واقع دي ، په دې دواړو ځايونو كې به هاغه وخت بازار لږيدو چې په هغې كې به د اُوښانو خريد و فروخت كيده ، او قيمتي اُوښ يا اُوښه به هغه وه چې هغه به د لوي قُب واله وه . مظاهر حق شرح مشكوة ج۴ كتاب فضائل القرآن .

څلور (۴) آيتونه دده د پاره د څلورو اوښو حاصلولو نه ډير بهتر دي . حاصل دا چې د آيتونو تعداد د اُوښو د تعداد نه ډير بهتر دی . (۱)

(يعنی پنځه آيتونه بل ته خودل يا لوستل دده د پاره د پنځو اُوښو حاصلولو نه ډير بهتر دي ، او شپږ آيتونه د شپږو اُوښو حاصلولو نه ډير بهتر دي ، همدغه شان چې څومره آيتونه بل ته ښائي يا يې لولي نو دا د هماغومره مقدار اُوښو حاصلولو نه ډير بهتر دي) .

**فايده** : په دې حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو د پوهولو د پاره صرف د اُوښانو تذکره وکړه " چې دوه آيتونه بل ته خودل يا لوستل دده د پاره د دوه اُوښو حاصلولو نه ډير بهتر دي " . دا صرف به طورِ مثال او پوهولو د پاره ددې ذکر شوی، ورنه که حقيقت ته اُوکتلې شي نو د دُنيا ټول آيتونه صرف د يو آيت مقابله هم نشي کولی .

## د قرآن کريم اَدب کول

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ ، لَا تَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ وَاتْلُوْهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَفْشُوْهُ ، وَتَغَنَّوْهُ وَتَدَبَّرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ، وَلَا تَعْجَلُوْا تِلَاوَتَهُ فَإِنَّ لَهُ ثَوَابًا . (۱)

اې اهلِ قرآن واله وُ ! تاسو قرآن کريم خپله تکيه مه ګرځوئ ، بلکه د شپې او ورځې په وختونو کې ددې داسې تلاوت کوئ څنګه چې ددې د لوستلو حق دی ، قرآن کريم ظاهر او خور کړئ ، په خوش آوازۍ سره يې لولئ ، او په دې کې چې څه ذکر دي په هغې کې تدبّر او

(۱) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ، قَالَ : خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ ، فَقَالَ : « أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ ، أَوْ إِلَى الْعَقِيقِ ، فَيَأْتِيَ مِنْهُ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِي غَيْرِ إِثْمٍ ، وَلَا قَطْعِ رَحِمٍ ؟ » . فَقُلْنَا : يَا رَسُوْلَ اللهِ نُحِبُّ ذٰلِكَ . قَالَ : « أَفَلَا يَغْدُوْ أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيَعْلَمُ ، أَوْ يَقْرَأُ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ ، وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ ، وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ ، وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ » . صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ وَتَعَلُّمِهِ رقم الحديث ۸۰۳ ، سنن ابي داؤد باب في ثواب قراءة القرآن رقم الحديث ۱۴۵۶ .

(۱) رواه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۸۵۲ ، والطبراني، و ابونعيم وابن عساكر عن عبيدة المليكي ، كنزالعمال ج۱ ص ۳۰۴ رقم الحديث ۲۸۰۰ ، مشكوة كتاب فضائل القرآن حديث ۲۴ .

فکر کوئ ددې د پاره چې تاسو کامياب شئ . او تاسو ( په دُنيا کې ) ددې د ثواب په حاصلولو باندې تادي ( جَلتي ) مه کوئ ( يعنی ددې ثواب او معاوضه په دُنيا کې په جَلتی مه غواړئ ) ، بيشکه ددې د پاره ( د الله ﷻ د طرفه په خپل وخت باندې ډير لوي ) ثواب شته .

**د حديث تشريح** لَا تَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ : ددې مطلب دادی چې چاته الله ﷻ دا عظيم دولت يعنی قرآن کريم ورکړی دا دې په دې باندې داسې تَکيه نه لږوي چې دې صرف په دې باندې اکتفاء اوکړي چې گني ماته قرآن کريم ياد دی نور ماته د هيڅ شي ضرورت نشته . او دې د قرآن کريم د حقوقو نه مکمل غافل شي ، بلکه نبي عليه السلام فرمايي دا دې شپه او ورځ ددې داسې تلاوت کوي چې څنگه ددې د تلاوت حق دی ، او د قرآن کريم دا پيغام دې نورو خلقو ته اورسوي ... (١)

علامه ابن حجر رحمه الله ددې ( لَا تَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ ) مطلب دابيان کړی چې تاسو په قرآن کريم باندې تَکيه ( دَده ) مه لږوئ ، ديته خپې مخامخ مه غزوئ ، ديته شَا مه ورگرځوئ ، په دې باندې بل شی مه ږدئ ، دا مه أولئ ، بلکه ددې تلاوت کوئ او ددې حقوق اداء کوئ . (٢)

## قرآن کريم په خُوش آوازۍ او تجويد سره لوستل په کار دي

قرآن کريم په داسې خُوش آوازۍ او تجويد سره لوستل په کار دي چې ددې د حروفو ، حرکاتو ، مَدونو ، شَدونو لحاظ هم اُوساتلې شي ، او په دې کې تغيير هم پيدا نشي . الله رب العزت فرمايي :

---

(١) معارف الحديث ج٥ ص ٧١ ، مظاهر حق شرح مشکوة ج۴ کتاب فضائل القرآن .

(٢) مظاهر حق شرح مشکوة ج۴ کتاب فضائل القرآن .

**نوټ** : د قرآن کريم د آدابو او حقوقو متعلق تفصيلي آحاديث د کنزالعمال په اول جلد کې د صفحه ٣٠٠ نه تر صفحه ٣٠٩ پورې د الفصل الثالث في آداب التلاوة د عنوان لاندې تقريبًا يو سل او څلورديرش ( ١٣۴ ) احاديث ذکر دي ، همدارنگې علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په الاتقان في علوم القرآن کې او نورو علماؤ په خپلو کتابونو کې د قرآن کريم آداب او حقوق ذکر کړي دي . خو د موضوع د اُوږدوالي نه د بچ کيدو په خاطر ما دلته تفصيلاً نه دي ذکر کړي .
ابوالشمس عفي عنه

﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا ﴾ . (۱)

ترجمه : او تهٔ لوله قرآن کريم ښه صفا صفا (په تجويد سره) . (۲)

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ . (۳)

هغه کس په کاملې طريقې سره زمونږ په لاره تلونکې نه دی (يعنی کامِل اُمّتي نه دی) چا چې قرآن کريم په خُوش آوازۍ سره او نه لوست .

يعنی قرآن کريم په خُوش آوازۍ سره لوستل په کار دي .

د ابو داؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ . (۴)

تاسو ښائسته کړئ قرآن کريم په خپلو آوازونو سره . (۵)

يعنی تاسو قرآن مجيد په تجويد ، ترتيل ، نرمۍ او لطافت سره لولئ .

د مشکوة شريف حديث دی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

حَسِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ ، فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيْدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا . (۶)

---

(۱) سورة المزمل آيت ۴ .

(۲) ﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا ﴾ : قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : بَيِّنْهُ بَيَانًا . وَقَالَ الْحَسَنُ : اِقْرَأْهُ قِرَاءَةً بَيِّنَةً . تفسير بغوي المزمل آيت ۴ . / وَالتَّرْتِيْلُ : هُوَ اَنْ يَذْكُرَ الْحُرُوْفَ وَالْكَلِمَاتِ مُبَيِّنَةً ظَاهِرَةً . تفسير كبير المزمل آيت ۴ .

(۳) صحيح البخاري بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : (وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ) رقم الحديث ۷۵۲۷ (۹/۱۵۴) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۱۴۶۹ (۲/۷۴) .

(۴) سنن ابي داؤد بَابُ اسْتِحْبَابِ التَّرْتِيْلِ فِي الْقِرَاءَةِ رقم الحديث ۱۴۶۸ (۲/۷۴) ، ابن ماجه رقم الحديث ۱۳۴۲ (۱/۴۲۶) ، و رواه احمد والدارمي ، مشكوة كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني حديث ۱۳ .

(۵) زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ : أي بتحسين أصواتكم عند القراءة . فإن الكلام الحسن يزيد حسنا و زينة بالصوت الحسن . شرح محمد فؤاد عبدالباقي على ابن ماجه رقم الحديث ۱۳۴۲ .

(۶) رواه الدارمي بَابُ التَّغَنِّي بِالْقُرْآنِ رقم الحديث ۳۵۴۴ ، كنزالعمال ج۱ ص ۳۰۱ رقم الحديث ۲۷۶۲ ط . دارالكتب العلمية بيروت .

تاسو قرآن ښائسته کړئ په خپلو آوازونو سره ( يعنې په تجويد او خوش آوازۍ سره يې وايئ ) ځکه ښائسته آواز د قرآن حُسن نور هم زياتوي .

**ضروري تنبيه** : قرآن کريم په خوش آوازۍ سره ويل ضروري دي خو د سَندرو او عِشق په طَرز باندې ويل يې حرام دي چې په حروفو کې کمې او زياتې راشي .

علماء کرامو خو تر دې پورې ليکلي چې که يو کس قصدًا قرآن کريم د سَندرو په طرز باندې وايي نو دا سړې فاسق و فاجِر او د حرامو مُرتکِب دى ، اَوريدونکې يې ګناهګار دى لهذا په دې طرز باندې د ويلو نه منع کول واجب دي . (١)

**د خوش آوازۍ معيار** : د مشکوة شريف حديث دى ، په يوه موقع د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه اوشوه :

أَيُّ النَّاسِ أَحْسَنُ صَوْتًا لِلْقُرْآنِ ؟ وَأَحْسَنُ قِرَاءَةً ؟

( اې د الله رسوله ! ) په خلقو کې د قرآن کريم لوستلو په سلسله کې د آواز او قرأت په اعتبار سره کوم کس ډير اَحسن او بهتر دى ؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : مَنْ إِذَا سَمِعْتَهُ يَقْرَأُ أَرَأَيْتَ أَنَّهُ يَخْشَى اللهَ . (٢)

هغه کس چې کله ته د هغه قِراءت واورې نو ته ورباندې دا ګمان وکړې چې هغه د الله ﷻ نه ويريږي .

(١) مظاهر حق ج۴ کتاب فضائل القرآن . /

**نوټ** : په احاديثو کې هم د سَندرو او عِشق په انداز باندې د قرآن کريم ويلو نه منع راغلی ، د مشکوة شريف حديث دى رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي ، اِقْرَءُوا الْقُرْآنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ وَأَصْوَاتِهَا. وَإِيَّاكُمْ وَلُحُوْنَ أَهْلِ الْفِسْقِ وَأَهْلِ الْكِتَابَيْنِ . فَإِنَّهُ سَيَجِيْءُ مِنْ بَعْدِيْ قَوْمٌ يُرَجِّعُوْنَ بِالْقُرْآنِ تَرْجِيْعَ الْغِنَاءِ وَالرَّهْبَانِيَّةِ وَالنَّوْحِ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ. مَفْتُوْنَةٌ قُلُوْبُهُمْ وَقُلُوْبُ مَنْ يُعْجِبُهُمْ شَأْنُهُمْ . رواه البيهقي في شعب الايمان فَصْلٌ فِي تَرْكِ التَّعَمُّقِ فِي الْقُرْآنِ رقم الحديث ٢٣٠٦ . مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن حديث ٢١ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٧٧٩ .

(٢) عَنْ طَاوُسٍ مُرْسَلًا قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُّ النَّاسِ أَحْسَنُ صَوْتًا لِلْقُرْآنِ ؟ وَأَحْسَنُ قِرَاءَةً ؟ قَالَ: « مَنْ إِذَا سَمِعْتَهُ يَقْرَأُ أَرَأَيْتَ أَنَّهُ يَخْشَى اللهَ » . مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن اَلْفَصْلُ الثَّالِث رقم الحديث ٢٢٠٩ .

يعنى کله چې هغه تلاوت کوي او تاته دا ظاهره شي چې دې د الله ﷻ نه ويرېږي ، مثلاً د مخ رنګ يې د الله ﷻ د يَرې نه مُتغيّر شي ، يا د تلاوت په وخت ډېر ژاړي ، يا د هغه د تلاوت په وجه ستا په زړه باندې اَثر اوشي نو ته په دې پوهه شه چې دا کس د خپل آواز او قراءت مؤثِر کيدو په اِعتبار سره په خلقو کې د ټولو نه اَحسن او بهتر دى .

## د قرآن کريم د تلاوت کولو په وجه ژړل ثابِت او مستحب دي

د قرآن کريم د تلاوت په وخت ژړل ثابت دي ، امام نووي رحمه الله فرمايي :

د قرآن کريم د تلاوت په وخت ژړل د عارِفينو صفت او د صالحينو شِعار دى . (۱)

امام غزالي رحمه الله هم فرمايلي چې د قرآن کريم د تلاوت په وخت ژړل مستحب دي .

امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړى :

بَابُ الْبُكَاءِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ . او ددې د لاندې يې دا حديث رانقل کړى :

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي: ما ته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

اِقْرَأْ عَلَيَّ . ماته د قرآن کريم تلاوت وکړه .

ما ورته وفرمايل : آيا زه تاسو ته تلاوت وکړم ؟ حالانکه دا خو په تاسو نازل شوى .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل : إِنِّي أَشْتَهِي أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي .

زه دا خوښوم چې دا قرآن کريم د ځان نه علاوه د بل چا نه واورم .

ابن مسعود ﷺ فرمايي چې ما د سورة النساء تلاوت شروع کړو ، تر دې پورې چې زه دې آيت ته راأورسيدم :

﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴾ . (۲)

ترجمه : هاغه وخت به د دوى څه حال وي هر کله چې مونږ د هر يو اُمت نه يو ګواه راولو ، او (اې پيغمبره ! ) مونږ تا په دې (اُمت) باندې ګواه راولو .

---

(۱) فتح الباري ۹/۱۲۱ ، قال النووي رحمه الله : واَمّا البُكاء عند قراءة القرآن فهو صفة العارفين و شعار عباد الله الصالحين : قال الله تعالى : وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا .(الاسراء آيت ۱۰۹) . نزهة الناظرين ص ۲۴۱

(۲) النساء آيت ۴۱ .

نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم ماته وفرمايل :
كُفَّ أَوْ أَمْسِكْ . بس اوس او دريږه ( يعنى نور تلاوت مه كوه ) .

ابن مسعود ﷺ فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم دواړه سترګې مباركې اوليدى چې اوښكې ورنه جاري وى ( يعنى ژړل يې ) . (١)

**د نبي ﷺ د ژړا وجه** : ابن بطال رحمه الله د نبي عليه السلام د ژړا وجه دا بيان كړې چې كله دوى دا آيت ﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ .. ﴾ واوريده نو د قيامت مَنظر ، د هغې هيبَت او سختياني او د خپل اُمت ضُعف ورته رامخې ته شو نوځكه يې اوژړل . (٢)
حافظ ابن حجر رحمه الله ددې وجه دا بيان كړى چې پيغمبر عليه السلام په خپل اُمت باندې د شَفقت د وجې اوژړل . ځكه اُمتِ محمّديه به د خپل عمل په بِناء ګواهي وركوي او كله به د دوى عمل صحيح نه وي چې ددې په وجه به دوى ته عذاب وركولې شي . (٣)
علامه زمحشري رحمه الله ليكلي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ژړا د غم او خفګان د وجې نه وه بلكه د خوشحالى د وجې وه ، او بعضې وخت انسان د ډيرې خوشحالى د وجې هم ژاړي . هغه خوشحالي دا وه چې الله ﷻ اُمتِ محمّديه په ټولو اُمتونو باندې ګواه جوړ كړى ، نو نبي عليه السلام د ډيرې خوشحالى نه اوژړل . (۴)

د كنزالعمال حديث دى ، رسول الله ﷺ فرمايي :
مَا مِنْ عَيْنٍ فَاضَتْ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ إِلَّا قَرَّتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (٥)

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اِقْرَأْ عَلَيَّ » قَالَ: قُلْتُ: أَقْرَأُ عَلَيْكَ ؟ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ . قَالَ: « إِنِّي أَشْتَهِي أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي » قَالَ: فَقَرَأْتُ النِّسَاءَ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ: { فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ، وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا } [النساء: ۴١] قَالَ لِي: « كُفَّ أَوْ أَمْسِكْ » فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَذْرِفَانِ . صحيح البخاري بَابُ الْبُكَاءِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ٥٠٥٥ ، صحيح مسلم صلوة المسافرين وقصرها باب فضل القرآن رقم الحديث ٨٠٠ .

(٢) فتح الباري شرح صحيح البخاري ٩ / ١٢٢ .

(٣) ورالديني مرجع .

(۴) ارشاد الساري ١١ / ٣٦٦ ، ٣٦٧ ، كشف الباري كتاب فضائل القرآن ص ١١٩ ، ١٢٠

(٥) الديلمي عن انس ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٨٢۴ .

كومې ستركې چې د قرآن كريم د تلاوت د وجې نه اوښكې اوبهيوي نو دا به د قيامت په ورځ يَخې شي ( يعنى ديته به ډير نعمتونه وركړې شي ، جنت ته به داخلې شي ، او دجهنم نه به پناه وركړې شي چې ددې په وجه به دا خوشحاله او يَخې شي ) .

بهر حال ، د تلاوت په وخت ژړل جائز او مستحب دي ، او د ژړا راوستو طريقه داده چې په قرآن كريم كې كوم عذابونه يا نعمتونه ذكر شوي هغه دې ځان ته رامخې ته كړي او په خپلو كوتاهيانو دې نظر واچوي نو په دې سره به يې زړه نرم شي ، او ژړا به ورشي . او كه بيا هم ژړا نه ورتله نو په تَكَلُّف دې د ژړا واله كيفيت جوړ كړي : (١)

په ابن ماجه كې يو حديث دى رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ نَزَلَ بِحُزْنٍ، فَإِذَا قَرَأْتُمُوْهُ فَابْكُوْا، فَإِنْ لَمْ تَبْكُوْا فَتَبَاكَوْا . (٢)

بيشكه دا قرآن نازل شوې دى په حُزن سره ( يعنى په دې كې داسې آيتونه دي كه لوستونكې په كې سوچ او تدبّر وكړي نو زړه يې غَمجن كيږي ، اوپه ستركو كې يې اوښكې راځي(٣) ) ، او كه ژړا نه درتله نو په تَكَلُّف باندې د ژړا كيفيت جوړوئ .

---

(١) قال ابوحامد الغزالي رحمه الله : اَلبكاءُ مستحب مع القراءة قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتلوا القرآن وابكوا فإن لم تبكوا فتباكوا . اخرجه ابن ماجه من حديث سعد بن أبي وقاص بإسناد جيد .

وإنما طريق تكلّف البكاء أن يحضر قلبه الحزن فمن الحزن ينشأ البكاء ... ووجه إحضار الحزن أَنْ يَتَأَمَّلَ مَا فِيهِ مِنَ التَّهْدِيدِ وَالْوَعِيدِ وَالْمَوَاثِيقِ وَالْعُهُودِ ثُمَّ يَتَأَمَّلُ تَقْصِيرَهُ فِي أَوَامِرِهِ و زواجره فيحزن لا محالة ويبكي ، فإن لم يحضره حزن وبكاء كما يحضر أرباب القلوب الصافية فليبك على فقد الحزن والبكاء فإن ذلك أعظم المصائب . احياء علوم الدين الباب الثالث في ظاهر آداب التلاوة وهي عشرة ١ /٢٧٧ .

(٢) سنن ابن ماجه كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ، وَالسُّنَّةُ فِيهَا بَابٌ فِي حُسْنِ الصَّوْتِ بِالْقُرْآنِ رقم الحديث ١٣٣٧ ، السنن الكبرى للبيهقي ٢١٠٥٨ ( ١٠ /٣٩ ) . / وفي رواية : إنّ هذا القرآن نزل بحزن فاقرؤوه بحزن . ابن مردويه عن ابن عباس ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٧٩٦ .

(٣) نَزَلَ بِحُزْنٍ : أي نزل مصحوبًا بما يجعل القلب حزينًا والعين باكية إذا تأمل القارئ فيه وتدبر. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجه .

# په خُشوع او تدبر سره تلاوت کول

همدغه رنګې په خشوع او تدبّر سره د قرآن کریم تلاوت په کار دی ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ﴾ . (١)

ترجمه : آيا دوی په قرآن کريم کې تَدبّر نه کوي ؟

بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴾ . (٢)

دا ( قرآن کريم ) داسې برکتي کتاب دی چې مونږ په تا باندې نازل کړې دی ددې دپاره چې دوی ددې په آيتونو کې تدبّر وکړي ، او دعقل خاوندان ددينه نصيحت حاصل کړي .

لهذا انسان ته د تلاوت کولو په وخت دا تَصَوّر په کار دی چې زه ګويا د الله ﷻ سره مُناجات کوم ، او زه الله رب العزت ګورم . يا که دا تَصوّر نشي کولی نو کم از کم دا تصوّر خو به خامخا کوي چې پروردِګارِ عالَم خو ما ګوري . نو په دې سره به ده ته د تلاوت کولو په وخت خُشوع او تدبّر نصيبه کيږي .

بيا خاصکر که مونږ د خپلو اَسلافو په حالاتو باندې نظر واچوو نو مونږ ته به واضحه شي چې هغوی څومره په خشوع او تدبّر سره تلاوت کولو .

امام نووي رحمه الله د بعضو اَسلافو متعلق نقل کړي چې هغوی به ټوله شپه تر سهره پورې يو آيت بار بار تلاوت کولو ، او په دې کې به يې تدبّر او سوچ کولو .

د بعضې اَسلافو متعلق يې نقل کړي چې د تلاوت کولو په وجه به بې هوشه کيدل . بلکه د ډيرو متعلق يې نقل کړي چې د تلاوت په اَوريدو سره ( او ددې په معانيو کې دغوَر کولو په وجه ) وفات شوي هم دي . (٣)

---

(١) النساء آيت ٨٢ .

(٢) سورة ص آيت ٢٩ .

(٣) قال النووي رحمه الله : وقد بات جماعة من السلف يتلون آيةً واحدةً يتدبرونها و يرددونها الى الصباح . قال: وقد صعق جماعة من السلف عند القراءة . ومات جماعة منهم حالة القراءة . نزهة الناظرين ص ٢٤٠ .

لکه د مشهور تابعي ذراره بن اوفی رحمه الله متعلق يې نقل کړي چې ده خلقو ته د سهر جَمعه ورکوله، کله يې چې دا آيت اولوسته:

﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ. فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴾. (١)

نو ناڅاپه را اُوغورځيد، او ځای په ځای وفات شو. (٢)

په خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم متعلق هم دا نقل دي چې ټوله شپه يې په مانځه کې تر سهره پورې همدا يو آيت بار بار ويلو:

﴿ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾. (٣)

## په مانځه کې د تلاوت کولو ثواب زيات دی

قدرمنو! قرآن کريم داسې عظيم الشان کتاب دی چې په عامو حالاتو کې هم د دې تلاوت کول د ثواب ذريعه ده، بيا خاصکر په مانځه کې د دې تلاوت ډير زيات ثواب لري.

امام مسلم رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړی:

" بَابُ فَضْلِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ وَتَعَلُّمِهِ " او بيا يې د دې لاندې د نبي کريم صلی الله علیه وسلم دا حديث رانقل کړی، رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل:

أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ أَنْ يَجِدَ فِيهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ؟

آيا په تاسو کې يو کس دا خوښوي چې کله دې کور ته واپس راشي نو دې په کور کې درې (٣) بلاربې غټې څربې اُوښې بيامومي؟

صحابه کرام فرمايي: مونږ ورته ووېل: آو (مونږ کې هر کس دا خوښوي).

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

---

(١) المدثر آيت ٨، ٩.

(٢) قال النووي رحمه الله: وروينا عن بهز بن حكيم أنّ زرارة بن أوفى التابعي الجليل رحمه الله أمّهم في صلاة الفجر، فقرأ حتى إذا بلغ ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ... ﴾ خرّ ميتًا. قال بهز: فكنتُ فيمن يحمله. نزهة الناظرين ص ٢٤٠.

(٣) عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضي الله عنه، يَقُولُ: « قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِآيَةٍ حَتَّى أَصْبَحَ يُرَدِّدُهَا » وَالْآيَةُ: { إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ } . سنن ابن ماجه بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ رقم الحديث ١٣٥٠، المائدة آيت ١١٨. سنن النسائي تَرْدِيدُ الْآيَةِ رقم الحديث ١٠١٠.

فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ . (١)

په تاسو کې چې څوک په مانځه کې درې ( ٣ ) ایتونه اُولولي نو دا دده د پاره د درې بلاربو غټو څربو اوښو نه ډير بهتر دي .

د مشکوٰة شريف حديث دی ، رسول اللهﷺ فرمايي :

قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ . (٢)

په مانځه کې د قرآن کريم لوستل ډير افضل دي د هغه تلاوت کولو نه چې د مانځه نه بغير لوستلې شي .

## په قرآن مجيد کې تلاوت کول د يادو تلاوت کولو نه افضل دي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

قِرَاءَةُ الرَّجُلِ الْقُرْآنَ فِي غَيْرِ الْمُصْحَفِ أَلْفُ دَرَجَةٍ ، وَقِرَاءَتُهُ فِي الْمُصْحَفِ يُضَاعَفُ عَلَى ذَلِكَ إِلَى أَلْفَيْ دَرَجَةٍ . (٣)

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ أَنْ يَجِدَ فِيهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ ؟ قُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ: فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ .
صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ وَتَعَلُّمِهِ رقم الحديث ٨٠٢ ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الاول حديث ٣ .

(٢) مشكاة المصابيح كتاب فضائل القرآن حديث ٦٥ ، و هذا الحديث رواه دار قطني في الافراد ، والبيهقي في شعب الايمان عن عائشة رضي الله عنها ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٠ رقم الحديث ٢٣٠٠ ط . دار الكتب العلمية بيروت . /

و في رواية : مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي صَلَاةٍ قَائِمًا كَانَ لَهُ بِكُلِّ حَرْفٍ مِائَةُ حَسَنَةٍ ... رواه الديلمي في مسند الفردوس ، كنزالعمال ج١ ص ٥٤١ رقم الحديث ٢٣٢٧ . /

وفي رواية : ... وَمَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ قَائِمًا كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ وَرُفِعَتْ لَهُ مِائَةُ دَرَجَةٍ ... رواه ابن عدي في الكامل ، والبيهقي في الشعب ، كنزالعمال ج١ ص ٥٤٢ رقم الحديث ٢٤٢٩ .

(٣) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٠١ ، بيهقي شعب الايمان ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٠ رقم الحديث ٢٣٠٤ ، مشكاة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثالث حديث ٥٧ . /

و في رواية : قال النبي صلى الله عليه وسلم : أفضل عبادة أمتي قراءة القرآن نظرًا . رواه الحكيم عن عبادة بن الصامت ، كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٢٦٥ الباب التاسع في تلاوة القرآن و فضائله .

يو کس چې بغير د قرآن کريم کتلو نه ( په يادو باندې ) تلاوت کوي نو دا زر ( ۱۰۰۰ ) درجې ثواب لري ، او چې په قرآن مجيد کې کتلو سره تلاوت کوي نو ددې ثواب په دې باندې تر دوه زره ( ۲۰۰۰ ) پورې دوچند کولې شي .

يعنی په قرآن مجيد کې کتلو سره د تلاوت کولو ثواب په زُباني تلاوت کولو باندې يو په دُوچند زيات دی . وجه داده چې په دې کتلو سره انسان ته په آيتونو کې د غَور و فکر موقع ملاويږي ، خُشوع ورته نصيبه کيږي ، او د قرآن کريم د کتلو سعادت ورته حاصليږي .

حُکه د قرآن مجيد کتل ، لاس ورته وَرووړل ، او د تعظيم په وجه اُوچتول هم عبادت دی (۱) دغه وجه ده چې اکثرو صحابه کرامو او تابعينو به په قرآن کريم کې کتلو سره تلاوت کولو .

د حضرت عثمان رضي الله عنه په باره کې نقل دي چې دوی به په قرآن مجيد کې کتلو سره دومره ډير تلاوت کولو چې د ډير اِستعمال په وجه د دوی سره دوه قرآن مجيدونه ضعيف شوي وو . (۲)

د اکثرو علماؤ په نزد باندې په قرآن مجيد کې کتلو سره تلاوت کول د يادو تلاوت کولو نه افضل دي . (۳)

د کنزالعمال حديث دی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

قِرَاءَتُكَ نَظَرًا تضَاعَفُ عَلَى قِرَاءَتِكَ ظَاهِرًا كَفَضْلِ الْمَكْتُوبَةِ عَلَى النَّافِلَةِ . (۴)

چې کله ته په قرآن مجيد کې په کتلو سره تلاوت کوی نو داستا د يادو تلاوت کولو نه دومره افضل دی لکه د فرضو فضيلت چې په نفلو باندې دی .

---

(۱) نبي عليه السلام فرمايي : خمس من العبادة : النظر في المصحف ، والنظر إلى الكعبة ، والنظر إلى الوالدين ، والنظر في زمزم وهي تحط الخطايا ، والنظر في وجه العالم . دارقطني ، كنزالعمال رقم الحديث ۴۳۴۹۴ . /

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: « النَّظَرُ فِي الْمُصْحَفِ عِبَادَةٌ، وَالنَّظَرُ إِلَى الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ الَّذِي يَدْعُو إِلَى السُّنَّةِ، وَيَنْهَى عَنِ الْبِدْعَةِ عِبَادَةٌ » . الابانة الكبرى لابن بطة رقم الحديث ۲۱۴ .

(۲) مظاهر حق شرح مشكوة ج۲ كتاب فضائل القرآن .

(۳) فتح الباري ۹ / ۹۷ .

(۴) ابن مردويه عن عمرو بن اوس كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۰۵ .

په قرآن مجید کې کتلو سره د تلاوت کولو یوه فائده دا هم ده چې په دې سره د انسان د سترګو نظر هم محفوظ او تېز وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

مَنْ أَدَامَ النَّظَرَ فِي الْمُصْحَفِ مُتِّعَ بِبَصَرِهِ مَا بَقِيَ فِي الدُّنْيَا. (۱)

چا چې همشه په قرآن کریم کې په کتلو سره تلاوت وکړو نو تر څو پورې چې دې په دُنیا کې ژوندې وي دهٔ ته به دده د نظر نه فائده ورکولې شي ( یعنی دده د سترګو نظر به تر آخِرې عُمره پورې صحیح وي ).

په قرآن مجید کې تلاوت کولو سره یوه فائده دا هم ده چې انسان په قراءت کې د غلطۍ کولو نه محفوظه کیږي.

بل دا چې دې حروفو او نُقوشو ته مسلسل کتلو کې هم ثواب دی. (۲)

**د بعضې علماؤ قول:** لیکن بعضې علماء کرام فرمايي چې په یادو تلاوت کول په قرآن مجید کې د تلاوت کولو نه افضل دی، ځکه چې په دې کې د رِیاء خطره کمه وي، او په لوستلو کې اِستحضار زیات وي.

دوی د حضرت ابو امامة رضي الله عنه ددې صحیح روایت نه اِستدلال کوي، دې فرمايي:

اِقْرَءُوا الْقُرْآنَ، وَلَا تَغُرَّنَّكُمْ هٰذِهِ الْمَصَاحِفُ الْمُعَلَّقَةُ. فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يُعَذِّبُ قَلْبًا وَعَى الْقُرْآنَ. (۳)

---

(۱) فضائل الاعمال وثواب ذلک لابن شاهين بَابُ مُخْتَصَرٍ مِنْ كِتَابِ التَّرْغِيبِ بِفَضَائِلِ الْقُرْآنِ ... رقم الحديث ۱۹۴. / وفي رواية: من أدام النظر في المصحف متّع ببصره ما دام في الدّنيا. ابو الشيخ عن ابن عباس رضي الله عنه، كنز العمال ج۱ ص ۲۶۹ رقم الحديث ۲۴۰۳. /

وفي رواية: من قرأ القرآن نظرا متّع ببصره. (ابن النجار) عن أنس، كنز العمال ج۱ ص ۲۶۹ رقم الحديث ۲۴۰۴ ط. دار الكتب العلمية بيروت.

(۲) كشف الباري كتاب فضائل القرآن ص ۹۵.

(۳) الابانة الكبرى لابن بطة ۵ / ۳۶۳ رقم الحديث ۱۷۲، كنز العمال ج۱ ص ۲۶۸ رقم الحديث ۲۳۹۷.

**تطبيق** : علماء كرامو په دې دواړو خبرو كې تطبيق داسې كړى چې كه يو كس ته په قرآن مجيد كې تلاوت كولو سره اِستحضار او خُشوع زياته حاصليږي ، او په رِياء كې د مبتلاء كيدو يَره نه وي نو بيا دده د پاره په قرآن مجيد كې كتلو سره تلاوت كول افضل دي.
او كه په رِياء كې د مبتلاء كيدو خطره وه نو بيا دده د پاره په يادو تلاوت كول بهتر دي.
لهذا دا اَفضليت د اَشخاصو او اَحوالو په مختلف كيدلو سره مختلف كيږي . (١)

## د قرآن كريم تلاوت په كار دى ګڼي دا د سړي نه هيريږي

مسلمان ته په كار دي چې په قرآن كريم باندې عمل كولو سره سره ددې تلاوت هم كوي، ځكه كه ددېنه غفلت او بې پرواهي اوكړې شي ، او ددې تلاوت اونكړې شي نو دا د انسان نه هيريږي .

د بخاري شريف حديث دى ، رسول الله ﷺ فرمايي :

تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ ، فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الْإِبِلِ فِيْ عُقُلِهَا . (٢)

تاسو د قرآن كريم خبرګيري كوئ ( يعنى هميشه يې لولئ چې درنه هېر نه شي (٣) ) قسَم دې په هغه ذات چې د هغه په قبضه كې زما ساه ده قرآن كريم د سينو نه دومره زَر اُوځي چې اُوښ هم دومره زر د خپلې رَسۍ (پړي) نه نه اُوځي .

---

(١) فتح الباري ٩ / ٩٧ ، كشف الباري كتاب فضائل القرآن ص ٩٥ .

(٢) صحيح البخاري بَابُ اسْتِذْكَارِ الْقُرْآنِ وَتَعَاهُدِهِ رقم الحديث ٥٠٣٣ ، مشكوة شريف كتاب فضائل القرآن . /

وفي رواية : تَعَاهَدُوْا هٰذَا الْقُرْآنَ ، فَوَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَلُّتًا مِنَ الْإِبِلِ فِيْ عُقُلِهَا . صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِيْنَ وَقَصْرِهَا بَابُ الْأَمْرِ بِتَعَهُّدِ الْقُرْآنِ.. رقم الحديث ٧٩١ . /

وفي رواية : قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم : إِنَّمَا مَثَلُ صَاحِبِ الْقُرْآنِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْإِبِلِ الْمُعَقَّلَةِ إِنْ عَاهَدَ عَلَيْهَا أَمْسَكَهَا ، وَإِنْ أَطْلَقَهَا ذَهَبَتْ . صحيح البخاري بَابُ اسْتِذْكَارِ الْقُرْآنِ وَتَعَاهُدِهِ رقم الحديث ٥٠٣١ ، ومسلم باب فضائل القرآن وما يتعلق به رقم الحديث ٧٨٩ .

(٣) تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ : اى واظبوا عليه بالتلاوة والحفظ . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري . /

تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ : أي جددوا عهده بملازمة تلاوته لئلا تنسوه . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم .

يعنى كه د اوښ مالک د خپل اوښ نه غافله شي نو دا اوښ د خپلې رسۍ نه اوځي او تَختي ، دغه رنګې كه د قرآن كريم تلاوت هميشه د پاره اونكړې شي نو دا هم د مسلمان د سينې نه اوځي ، او ورنه هيريږي .

## د قرآن كريم هيروونكي سزا

په احاديثو كې د قرآن كريم په هيرولو باندې سختې سزاګانې او سخت وعيدونه ذكر شوي ، امام ابوداؤد رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم كړى :

" بَابُ التَّشْدِيْدِ فِيْمَنْ حَفِظَ الْقُرْآنَ ثُمَّ نَسِيَهُ " او ددې د لاندې يې دا حديث رانقل كړى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنِ امْرِئٍ يَقْرَءُ الْقُرْآنَ، ثُمَّ يَنْسَاهُ، إِلَّا لَقِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَجْذَمَ .(١)

كوم كس چې قرآن كريم اولولي بيا دا هير كړي نو دې به د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره په داسې حالت كې ملاقات كوي چې دده لاس به كټ وي .

د ابوداؤد او ترمذي شريف حديث دى ، نبي اكرم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُوْرُ أُمَّتِيْ حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ ، وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوْبُ أُمَّتِيْ فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمَ مِنْ سُوْرَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ أَوْ آيَةٍ أُوْتِيَهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا . (٢)

ما ته د خپل امت نيک اعمال پيش كړې شو تر دې پورې چې يو كس د جُمات نه ګند اوباسي دا عمل هم ما ته پيش كړې شو . او ما ته د خپل امت ګناهونه پيش كړې شو نو ما د دينه بله غټه ګناه او نه ليده چې يو كس ته د قرآن كريم يو سورة يا يو آيت وركړې شي (يعنى ياد يې كړي) او بيا دا كس دا هير كړي .

---

(١) سنن ابي داؤد بَابُ التَّشْدِيْدِ فِيْمَنْ حَفِظَ الْقُرْآنَ ثُمَّ نَسِيَهُ رقم الحديث ١٤٧٤ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٥٣٩١ ، كنز العمال رقم الحديث ٢٨٤٨ ، و ٢٨٢٩ ، مشكاة المصابيح كتاب فضائل القرآن حديث ١٤ .

(٢) سنن ابي داؤد بَابٌ فِي كَنْسِ الْمَسْجِدِ رقم الحديث ٣٦١ ، ترمذي باب ١٩ رقم الحديث ٢٩١٦ ، السنن الكبرى للبيهقي بَابٌ فِي كَنْسِ الْمَسْجِدِ رقم الحديث ٣٣١٢ ، كنز العمال رقم الحديث ٢٨٣٣ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٣٧٩ باب الحصى في المسجد و كنسه .

ددې حديث نه هم معلومه شوه چې قرآن كريم هيرول ګناه كبيره ده . وجه داده چې قرآن كريم هيرول قصدًا د تلاوت نه كولو يا د سستئ د وجې كيږي ، او دا د قرآن كريم نه يو قسم اعراض دى ، او د قرآن كريم نه اعراض كول ګناه كبيره ده .

البته كه يو كس هميشه تلاوت كوي ، او خپل كوشش جاري ساتي خو بيا هم ورنه هير شي نو بيا دا انسان ګناهګار نه دى .

**د قرآن كريم د هيرولو مطلب او معنى :** د احنافو په نزد د قرآن كريم د هيرلو مطلب دادى چې انسان د تلاوت نه كولو په وجه داسې حالت ته اُورسي چې بيا په قرآن كريم كې په كتلو سره هم ددې تلاوت نشي كولى .

د شوافعو په نزد ددې مطلب دادى چې انسان اول قرآن ياد كړي او بيا يې هير كړي .

يا ددې مطلب دادى چې انسان د قرآن كريم تلاوت كول مكمل پريږدي اوس برابره خبره ده چې ده هير كړې وي او كه نه ، خو دا كس په مذكوره وعيد كې داخل دى .

شاه محمد اسحاق رحمه الله به فرمايل : ددې مطلب دادى چې چا قرآن كريم حفظ ( ياد ) كړې وي نو دده هيرول دادي چې د تلاوت نه كولو په وجه دا داسې حالت ته اُورسي چې بيا په يادو باندې تلاوت نشي كولى . او چې چا صرف په ناظره ويلې وي د هغه هيرول دادي چې دې بيا په قرآن مجيد كې كتلو سره هم ددې تلاوت نشي كولى . (١)

لهذا انسان ته په كار دي چې د قرآن كريم سره د كوتاهئ معامله او نه كړي ، بلكه هميشه ددې تلاوت كوي ، ځكه د زده كولو او يادولو نه روستو د قرآن كريم هيرول ګناه كبيره ده .

## د ګناهونو په وجه د قرآن كريم هيريدل

د هرې ګناه غلط آثر په انسان باندې پريوځي ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْءًا يُّجْزَ بِهٖ ﴾ . (٢)

ترجمه : څوک چې بَد كار وكړي نو ده ته به د هغې سزا وركړې شي .

---

(١) مظاهر حق شرح مشكوة ج٢ .

(٢) النساء آيت ١٢٣ .

بعضې وخت انسان يوه ګناه معمولي اوګڼي حالانکه ددې په عِوض کې دده د سينې نه د قرآن کريم او احاديثو دا بهترين علوم اووځي .

ددې په باره کې درته يو څو واقعات ذکر کوم :

ابوعبدالله جيلي فرمايي : زه يوه ورځ د خپل اُستاذ سره په لاره تلم ، نو ما يو ډير ښائسته ځوان هلک اُوليده ، (ده ته مې په غلط نظر اُوکته) ، ما خپل اُستاذ ته وويل :

يَا أُسْتَاذِيْ ا تَرَىٰ يُعَذِّبُ اللهُ هٰذِهِ الصُّوْرَةَ ؟

اې زما اُستاذه ! آيا الله ﷻ به داسې ښائسته صورت واله کس ته هم عذاب ورکوي ؟

ماته خپل استاذ رااُوکته ، او راته وې ويل :

سَتَرَىٰ غِبَّهَا . زر دی چې ته به ددې غلط نظر استعمالولو ضرر او نقصان اوګورې .

داکس وايي ( زه چونکه د قرآن کريم حافِظ ووم خو ) ددې غلط نظر استعمال په وجه شل ( ٢٠ ) کاله پس د مانه قرآن کريم هير شو . (١)

همدغه شان واقعه د احمد بن يحى بن جلاد متعلق هم نقل ده ، دې وايي چې يوه ورځ زه د خپل شيخ مشهور عالِم ذوالنون سره ناست ووم ، ما يو نصراني ښائسته هلک ته ( د شهوت په نظر سره ) کتل ، ماته خپل شيخ وويل :

لَتَجِدَنَّ غِبَّهَا .

ته به خامخا ددې غلط نظر د اِستعمال ضرر اوګورې ، داکس وايي :

فَنَسِيْتُ الْقُرْآنَ بَعْدَ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً .

ددې ګناه نه څلوېښت ( ٤٠ ) کاله پس د مانه قرآن کريم هېر شو . (٢)

همدغه شان واقعه د حضرت جُنيد بغدادي رحمه الله د يو مريد سره هم واقع شوې وه .

---

(١) قال ابوعبدالله الجيلي : كُنْتُ أَمْشِيْ يَوْمًا مَعَ أُسْتَاذِيْ فَرَأَيْتُ شَابًا حَدَثًا جَمِيْلًا . فَقُلْتُ يَا أُسْتَاذِيْ تَرَى يُعَذِّبُ اللهُ هٰذِهِ الصُّوْرَةَ ؟ قَالَ : فَنَظَرَ إِلَيَّ . وَقَالَ : سَتَرَى غِبَّهَا . قَالَ : فَنَسِيْتُ الْقُرْآنَ بَعْدَ ذٰلِكَ بِعِشْرِيْنَ سَنَةً . نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين كتاب تلاوة القرآن ص ٢٤٠ .

(٢) خُطب و دروس الشيخ عبدالرحيم الطحان ٦٥/١٥٥ .

# په قرآن کريم باندې عَمل کول

لکه څرنګې چې د مسلمان د پاره د قرآن کريم تلاوت کول ضروري دی نو همدغه شان په دې باندې عمل کول هم لازمي دی ، ځکه قرآن مجيد د همدې د پاره نازل شوی چې ددې په اَحکاماتو باندې عمل وکړې شي ، او ددې تابعداري وکړې شي .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَهٰذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾ . (١)

ترجمه : او دا ( قرآن کريم ) يو برکتي کتاب دی چې مونږ نازل کړې دی پس تاسو ددې تابعداري وکړئ ( يعنی ددې په اَحکاماتو باندې عمل وکړئ (٢) ) او د الله د مخالفت نه اُوويرېږئ ( پرهيزګاري اِختيار کړئ ) ددې د پاره چې په تاسو باندې رحم وکړې شي .

# د ختمِ قرآن په مجلس کې شِرکت کول مستحب دي

کله چې د قرآن کريم ختم اوکړې شي که هغه په ناظره وي يا په حفظ باندې نو په داسې مجلس کې شِرکت کول مستحب دي ، ځکه په داسې مجلس باندې د الله ﷻ د طرفه اَنوارات او رحمتونه راورېږي ، او په دې کې دُعاګانې قبليږي . (٣)

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما متعلق نقل دي چې ده يو کس صرف ددې د پاره مقرر کړې وُ چې چا به د قرآن کريم تلاوت کولو نو دې کس به د هغه څارَنه ( معلومات ) کولو ، کله به چې دې تلاوت کوونکي د قرآن کريم د ختمولو اِراده وکړه نو دې مقرر شوي

---

(١) الانعام آيت ١٥٥ .

(٢) فَاتَّبِعُوْهُ : وَاعْمَلُوْا بِمَا فِيْهِ . تفسير البغوي الانعام آيت ١٥٥ ، / فَاتَّبِعُوْهُ : يَعْنِيْ فَاعْمَلُوْا بِمَا فِيْهِ مِنَ الْاَوَامِرِ وَالنَّوَاهِيْ وَالْاَحْكَامِ . تفسير خازن الانعام آيت ١٥٥ .

(٣) قال النووي رحمه الله : يستحبّ حضور مجلس ختم القرآن استحبابًا مؤكدًا . فقد ثبت فى الصحيحين انّ رسول الله صلى الله عليه وسلم اَمَرَ الحُيَّضَ بالخروج يوم العيد يشهدن الخير و دعوة المسلمين . نزهة الناظرين ص ٢٢٣ . / د مسلم شريف حديث دی : عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ ، قَالَتْ : أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنْ نُخْرِجَهُنَّ فِي الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى ، الْعَوَاتِقَ ، وَالْحُيَّضَ ، وَذَوَاتِ الْخُدُوْرِ ، فَأَمَّا الْحُيَّضُ فَيَعْتَزِلْنَ الصَّلَاةَ ، وَيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ ، وَدَعْوَةَ الْمُسْلِمِيْنَ ، قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ إِحْدَانَا لَا يَكُوْنُ لَهَا جِلْبَابٌ ، قَالَ : لِتُلْبِسْهَا أُخْتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا . صحيح مسلم رقم الحديث ١٢ ( ٨٩٠ ) .

كس به حضرت ابن عباس ﷺ ته ددې اِطلاع وركړه ( چې فلانكې د قرآن كريم د ختمولو اِراده لري ) ، نو حضرت ابن عباس ﷺ به راغى ، او ددې ختمِ قرآن په مجلس كې به يې شِركت وكړو . (١)

د حضرت انس بن مالك ﷺ متعلق نقل دي :

كَانَ إِذَا خَتَمَ الْقُرْآنَ جَمَعَ أَهْلَهُ وَوَلَدَهُ، فَدَعَا لَهُمْ . (٢)

كله به چې ده قرآن كريم ختم كړو نو د خپل كور واله او بچي به يې راجَمع كړه ، او دوی ته به يې دُعا وكړه .

رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه موقع وفرمايل :

... وَمَنْ شَهِدَ خَتْمَ الْقُرْآنِ فَكَأَنَّمَا شَهِدَ الْغَنَائِمَ حِيْنَ تُقْسَمُ . (٣)

او څوک چې د ختمِ قرآن مجلس ته حاضر شو گويا دا د مالِ غنيمت د تقسيم په وخت حاضر شو .

يعنى لكه څرنگې چې د مالِ غنيمت د تقسيم په وخت شريک مجاهِد ته فراخه حصه وركولې شي نو همدغه رنگې د ختمِ قرآن په مجلس كې شريک كس ته به هم د الله جل جلاله د خزانو او د الله جل جلاله د رحمتونو نه فراخه حصه ملاويږي .

حكم بن عتيبه رحمه الله فرمايي : ماته امام مجاهد رحمه الله او عبدة ابن ابي لبابه يو كس راوليږل ، دوی دې كس ته ويلي وو چې ده ته ووايه :

إِنَّا نُرِيْدُ أَنْ نَخْتِمَ الْقُرْآنَ، وَكَانَ يُقَالُ: إِنَّ الدُّعَاءَ يُسْتَجَابُ عِنْدَ خَتْمِ الْقُرْآنِ .

---

(١) و روي عن ابن عباس رضي الله عنهما أنه كان يجعل رجلاً يراقب رجلا يقرأ القرآن فإذا اراد أن يختم أعلم ابن عباس فيشهد ذلك . نزهة الناظرين كتاب تلاوة القرآن ص ٢٤٢ .

(٢) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٧٤ ، التفسير من سنن سعيد بن منصور محققا رقم الحديث ٢٧ (١ / ١٤٠) ./ وفي رواية : عن أنس بن مالك قال : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَتَمَ جَمَعَ أَهْلَهُ وَدَعَا . ابن النجار ، كنزالعمال ادب الختم رقم الحديث ٤٢١٩ .

(٣) الشيخ والديلمي من طريقين عن ابن مسعود ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٤٣١ .

مونږ د قرآن کريم د ختمولو اِراده لرو ( نو ته راشه ) ، ځکه دا مشهوره خبره ده چې د ختمِ قرآن په وخت دُعاګانې قبليږي .

پس هر کله چې دوی د ختمِ قرآن نه فارغ شو نو دوی ډيرې دُعاګانې اُوغوښتې . (١)

## د ختمِ قرآن په وخت دُعاګانې قبليږي

د قرآن کريم د ختم په وخت دُعاګانې قبليږي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى صَلَاةً فَرِيضَةً فَلَهُ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ ، وَمَنْ خَتَمَ الْقُرْآنَ فَلَهُ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ . (٢)

چا چې فرض مونځ وکړو نو د هغه د پاره مُستجابه دُعا وي ، او چا چې قرآن کريم ختم کړو نو د هغه د پاره هم مُستجابه دُعا وي ( يعنې د دوی دُعاګانې قبليږي ) .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ عِنْدَ كُلِّ خَتْمٍ دَعْوَةً مُسْتَجَابَةً وَشَجَرَةً فِي الْجَنَّةِ لَوْ أَنَّ غُرَابًا طَارَ مِنْ أَصْلِهَا لَمْ يَنْتَهِ إِلَى فَرْعِهَا حَتَّى يُدْرِكَهُ الْهَرَمُ . (٣)

بيشکه د صاحبِ قرآن د پاره د هر ختم په وخت مُستجابه دُعا وي ( چې په دې وخت کې دده دُعا قبليږي ) ، او دده د پاره به ددې په عِوض کې په جنت کې داسې اُونه وي که چيرته يو کارغه ددې د بيخ نه والوځي ( او مزل کوي ) نو ددې د څانګو آخِر ته به لا نوې رسيدلې چې دا کارغه به بوډا شي .

يعنې اګر چې د کارغه عُمر زيات وي خو بيا هم چې دا مسلسل مزل کوي نو ددې اُونې د بيخ نه تر د څانګو مزل نشي خلاصولی ، دا اُونې به ختم کوونکي ته په جنت کې ملاويږي .

---

(١) عَنِ الْحَكَمِ. قَالَ: أَرْسَلَ إِلَيَّ مُجَاهِدٌ، وَعَبْدَةُ بْنُ أَبِي لُبَابَةَ. قَالَا: إِنَّمَا أَرْسَلْنَا إِلَيْكَ أَنَّا نُرِيدُ أَنْ نَخْتِمَ الْقُرْآنَ. وَكَانَ يُقَالُ: "إِنَّ الدُّعَاءَ يُسْتَجَابُ عِنْدَ خَتْمِ الْقُرْآنِ. فَلَمَّا فَرَغُوا مِنْ خَتْمِ الْقُرْآنِ دَعَوْا بِدَعَوَاتٍ" رواه البيهقي في شعب الايمان ( ٥ / ٣٥ ) ١٩٠٩ . / په بعضې کتابونو کې دا خبره داسې ذکر ده : عَنِ الْحَكَمِ. قَالَ: بَعَثَ إِلَيَّ مُجَاهِدٌ . قَالَ : إِنَّمَا دَعَوْنَاكَ أَنَّا أَرَدْنَا أَنْ نَخْتِمَ الْقُرْآنَ وَإِنَّهُ بَلَغَنَا أَنَّ الدُّعَاءَ يُسْتَجَابُ عِنْدَ خَتْمِ الْقُرْآنِ . قَالَ: « فَدَعَوْا بِدَعَوَاتٍ » اخرجه الدارمي في سنن ٤ / ٢١٨٤ ( ٣٥٢٥ ) بَابٌ: فِي خَتْمِ الْقُرْآنِ .

(٢) المعجم الكبير للطبراني ١٨ / ٢٦٩ ( ٦٤٧ ) ، كنز العمال رقم الحديث ٣٣٢٧ .

(٣) كنز العمال الباب السابع في تلاوة القرآن ج١ ص٥٨ رقم الحديث ٢٢٧٧ ط . دار الكتب العلمية بيروت

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل دي ، دي فرمايي :

مَنْ خَتَمَ الْقُرْآنَ لَهُ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ ، وَكَانَ إِذَا خَتَمَ الْقُرْآنَ جَمَعَ أَهْلَهُ ثُمَّ دَعَا ، وَأَمَّنُوا عَلَى دُعَائِهِ . (١)

چا چې قرآن کريم ختم کړو نو دده دپاره مُستجابه دُعا وي ، او ابن مسعود رضي الله عنه به چې کله قرآن ختم کړو نو د خپل کور واله به يې راجمع کړه ، بيا به ده دُعا کوله او دوی به دده په دُعا باندې آمين ويل .

د امام مجاهد رحمه الله نه نقل دي :

مَنْ خَتَمَ الْقُرْآنَ أُعْطِيَ دَعْوَةٌ لَا تُرَدُّ . (٢)

چا چې قرآن کريم ختم کړو نو ده ته داسې يوه دُعا ورکولې شي چې هغه نه رَد کيږي (يعنی دده دُعا په دې وخت کې نه رَد کيږي ، بلکه قبليږي) .

## د ختمِ قرآن په وخت رحمتونه نازليږي

امام مجاهد رحمه الله فرمايي :

اَلرَّحْمَةُ تَنْزِلُ عِنْدَ خَتْمِ الْقُرْآنِ . (٣)

د ختمِ قرآن په موقع رحمت نازليږي .

په مصنّف ابن ابي شيبه او د تفسير قرطبي په مقدّمه کې ذکر دي ، حضرت حکم بن عتيبه رحمه الله فرمايي :

(١) نزهة الناظرين الباب السادس في ختم القرآن ص ٢٤٣ .

(٢) التفسير من سنن سعيد بن منصور محققاً فضائل القرآن رقم الحديث ٢٨ .

(٣) مصنف ابن ابي شيبه ٦/ ١٢٩ (٣٠٠٤٢) في الرَّجُلِ إِذَا خَتَمَ مَا يَصْنَعُ ، الفريابي ص ١٨٩ رقم ٨٧ ، التفسير من سنن سعيد بن منصور ١/ ١٣٦ . /

وَفِي رِوَايَةٍ : قَالَ مُجَاهِدٌ : كَانُوا يَجْتَمِعُونَ عِنْدَ خَتْمِ الْقُرْآنِ . يَقُولُونَ : تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ . نزهة الناظرين الباب السادس في ختم القرآن ص ٢٤٣ .

امام مجاهد رحمه الله فرمايي چې صحابه کرام به د ختمِ قرآن په موقع جَمع کيدل . او دوی به ويل : (د ختمِ قرآن په موقع) رحمت نازليږي .

چې امام مجاهد رحمه الله ، عبدة بن ابي لبابه او څه نورو خلقو به دقرآن کريم تلاوت کولو ، کله به چې دقرآن کريم د ختم ورځ راغله نو دوی به د ماپسې او سلمة بن کهيل پسې يو کس راوليږل ، او دا به يې ورته ويلې وو :

إِنَّا كُنَّا نَعْرِضُ الْمَصَاحِفَ فَأَرَدْنَا أَنْ نَخْتِمَ الْيَوْمَ فَأَحْبَبْنَا أَنْ تَشْهَدُونَا . إِنَّهُ كَانَ يُقَالُ : إِذَا خُتِمَ الْقُرْآنُ نَزَلَتِ الرَّحْمَةُ عِنْدَ خَاتِمَتِهِ . أَوْ حَضَرَتِ الرَّحْمَةُ عِنْدَ خَاتِمَتِهِ (١)

بيشکه مونږ د قرآن کريم تلاوت کولو ، نن مونږ ددې د ختم اراده کړې لهذا زمونږ دا خوښه ده چې تاسو هم دلته راشئ او د ختمِ قرآن په دې مجلس کې حاضري وکړئ ، ځکه چې کله د قرآن کريم ختم کولې شي نو د ختم په وخت د الله ﷻ رحمتونه نازليږي .

## د قرآن کريم ختموونکي د پاره د فرښتو دُعا

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا خَتَمَ الْعَبْدُ الْقُرْآنَ صَلَّى عَلَيْهِ عِنْدَ خَتْمِهِ سِتُّونَ أَلْفَ مَلَكٍ . (٢)

کله چې يو بنده قرآن کريم ختم کړي نو د ختم په وخت شپېته زره ( ٦٠٠٠٠ ) فرښتې دده د پاره د رحمت او مغفرت دُعاګانې غواړي .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ خَتَمَ الْقُرْآنَ أَوَّلَ النَّهَارِ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ حَتَّى يُمْسِيَ ، وَمَنْ خَتَمَهُ آخِرَ النَّهَارِ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ حَتَّى يُصْبِحَ . (٣)

---

(١) عَنِ الْحَكَمِ قَالَ: كَانَ مُجَاهِدٌ، وَعَبْدَةُ بْنُ أَبِي لُبَابَةَ، وَنَاسٌ يَعْرِضُونَ الْمَصَاحِفَ. فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي أَرَادُوا أَنْ يَخْتِمُوا أَرْسَلُوا إِلَيَّ وَإِلَى سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ . فَقَالُوا : " إِنَّا كُنَّا نَعْرِضُ الْمَصَاحِفَ فَأَرَدْنَا أَنْ نَخْتِمَ الْيَوْمَ فَأَحْبَبْنَا أَنْ تَشْهَدُونَا . إِنَّهُ كَانَ يُقَالُ : إِذَا خُتِمَ الْقُرْآنُ نَزَلَتِ الرَّحْمَةُ عِنْدَ خَاتِمَتِهِ . أَوْ حَضَرَتِ الرَّحْمَةُ عِنْدَ خَاتِمَتِهِ . مصنف ابن ابي شيبة ٦/١٢٨ ( ٣٠٠٢٠ ) ، تفسير قرطبي مقدمة ١ / ٣١ ) ، التفسير من سنن سعيد بن منصور ١ / ١٤٦ )

(٢) رواه الديلمي في مسند الفردوس عن عمرو بن شعيب ، كنزالعمال الباب السابع في تلاوة القرآن و فضائله رقم الحديث ٢٢٥٨ ط . دارالكتب العلمية بيروت .

(٣) حلية الاولياء و طبقات الاصفياء ٢٦/٥ ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦١ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله رقم الحديث ٢٣١٦ ط . دارالكتب العلمية بيروت ، الجامع الصغير لجلال الدين سيوطي رحمه الله ج٦ ص ١٢٣ .

څوک چې قرآن كريم د ورځې په اول وخت كې ختم كړي نو تر مابنامه پورې دده دپاره فرښتې د رحمت او مغفرت دُعاګانې كوي ، او چې څوک دا د ورځې په آخِر كې ختم كړي نو تر سهره پورې فرښتې دده دپاره د رحمت دُعاګانې غواړي. (١)

## د قرآن ختموونكي په دُعا باندې فرښتې " آمين " وايي

حضرت حُمَيْدُ الْأَعْرَج رحمه الله فرمايي :

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ ثُمَّ دَعَا، أَمَّنَ عَلَى دُعَائِهِ أَرْبَعَةُ آلَافِ مَلَكٍ . (٢)

چا چې قرآن كريم اولوست (او ختم يې كړو) بيا يې دُعا اُوغوښته نو دده په دُعا باندې څلور زره (۴۰۰۰) فرښتې " آمين " وايي.

## د تلاوت كولو اِجمالاً درويشت ( ٢٣ ) آداب

قرآن كريم بې د شک و شبهې نه د الله ﷻ كلام دى ، ددې نسبت د خالقِ كائنات " الله رب العزت " سره دى ، لهذا د تلاوت كولو په وخت ددې د آدابو لحاظ په كار دى .

( **نوټ** : د قرآن كريم د آدابو او حقوقو متعلق تفصيلي آحاديث د " كنزالعمال " په اول جلد كې د صفحه ٣٠٠ نه تر صفحه ٣٠٩ پورې د الفصل الثالث في آداب التلاوة د عنوان لاندې تقريبًا يو سل او څلورديرش ( ١٣٤ ) احاديث ذكر دي ، همدارنګې علامه

---

(١) وروى الدارمي عن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه قال: إِذَا وَافَقَ خَتْمُ الْقُرْآنِ أَوَّلَ اللَّيْلِ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ حَتَّى يُصْبِحَ. وَإِنْ وَافَقَ خَتْمُهُ آخِرَ اللَّيْلِ صَلَّتْ عَلَيْهِ حَتَّى يُمْسِيَ... شرح السنة للبغوي ٤٩٢/٤ ، نزهة الناظرين ص ٢٤٣ .
/ وفي رواية : عن طلحة بن مصرف ﷺ أنه قال : من ختم القرآن أية ساعة كانت من النهار صلّت عليه الملائكة حتى يمسي . وأية ساعة كانت من الليل صلّت عليه الملائكة حتى يصبح . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين الباب السادس في ختم القرآن ص ٢٤٣ . /
په تفسير " السراج المنير في الاعانة على معرفة بعض معاني كلام ربنا الحكيم الخبير " كې د ختم قرآن څه آداب ذكر دي ، وندب ختم القرآن أول نهار وأول ليل ، وختمه في الصّلاة أفضل من ختمه خارجها . وندب صيام يوم الختم إلا أن يصادف يوماً نهى الشرع عن صيامه . وندب الدّعاء بعده وحضوره ، والشروع بعده في ختمة أخرى . وندب كثرة تلاوته . ونسيانه كبيرة وكذا نسيان شيء منه ويحرم تفسيره بلا علم. السّراج المنير ... ٤١٥/٤ .

(٢) سنن دارمي رقم الحديث ٣٥٢٢ ، نزهة الناظرين ص ٢٤٣ .

جلال الدين سيوطي رحمه الله په " اَلاتقان في علوم القرآن " کې او نورو علماؤ په خپلو کتابونو کې د قرآن کريم آداب او حقوق ذکر کړي دي ، خو که هغه ټول په تفصيل سره بيان کړم نو بيا موضوع ډيره اُوديږي ، لهذا اِجمالاً درته يو څو آداب بيانوم : ابوالشمس عفي عنه )

١ . د ټولو نه مخکې اُودس کول ، او مسواک اِستعمالول .

٢ . په پاک ځای کې مخ په قِبله په عاجزۍ سره کيناستل .

٣ . د جامو د پاکوالي لحاظ ساتل .

۴ . قرآن مجيد په رَحيل ، تکيه يا اُوچت ځای باندې ايخودل .

۵ . د تلاوت کولو نه مخکې اَعُوذُ بِالله او بِسْمِ الله ويل : ( البته که د تلاوت په دوران کې بل نوې سورة شروع شي نو بيا اَعُوذُ بِالله ويلو ته ضرورت نشته ، صرف بِسْمِ الله ويل په کار دي . (١) )

٦ . په قلاره قلاره ، تدبر ، تفکّر او تجويد سره تلاوت کول . همدارنګې د رُموزو او اوقافو لحاظ ساتل .

٧ . قرآن مجيد په ذَوق ، عاجزۍ او حضورِ قلب سره لوستل .

٨ . په زړه کې د الله تعالی د عظمت ، او د قرآن کريم د تعظيم لحاظ ساتل .

٩ . کله چې د عذاب آيتونه راشي نو د مغفرت دُعا او د عذاب نه پناه غوښتل په کار دي ، او چې د رحمت آيتونه راشي نو د رحمت دُعا غوښتل په کار دي ، او چې د الله ﷻ د تَنزيه او تَقديس آيتونه راشي نو تسبيح ويل په کار دي .

١٠ . د تلاوت په دَوران کې که انسان ته ژړا نه ورځي نو د ژړا صورت اِختيارول په کار دي

١١ . په قرآن مجيد کې کتلو سره تلاوت په کار دی ځکه په دې کې سترګې او نور اَندامونه هم په عبادت کې شريک شي ، او په دې سره حضورِ قلب هم پيدا کيږي .

١٢ . د خپل وَس مطابق په خوش آوازۍ سره لوستل په کار دي ، خو د سَندرو په طرز قرآن مجيد ويل بې اَدبي ده ، د دينه ځان ساتل په کار دي .

---

(١) که د تلاوت په دَوران کې سورة توبه شروع شي نو اَعُوذُ بِالله او بِسْمِ الله ويلو ته ضرورت نشته ، او که اِبتداءً سورة توبه شروع کړي نو اَعُوذُ بِالله ويل په کار دي ، په بِسْمِ الله ويلو کې ده ته اِختيار دی ، که وايي يې او که نه .

۱۳ . د آيت د سجدې په لوستلو سره فورًا سجده کول په کار ده ، که فورًا نه وي نو روستو خامخا په کار ده .

۱۴ . چې د تلاوت کولو په وجه انسان ستړې شي نو بيا يې بَس کول په کار دي ، ځکه د تلاوت په دَوران کې د طبعيت اِنشراح بهتر دی .

۱۵ . کله چې قرآن مجيد ختميدو ته نزدې شي نو خپل رِشته دار او متعلّقين راغوښتل په کار دي ، ددې د پاره چې هغوی هم ددې ختمِ قرآن په دُعا کې شريک شي ، ځکه په دې وخت کې دُعاګانې قبليږي .

۱٦ . د قرآن مجيد ختميدو نه پس سورة فاتحه او سورة بقره تر هُمُ الْمُفْلِحُوْن پورې لوستل افضل دي .

۱۷ . بې اَودسه قرآن مجيد بِلا غِلافه راخيستل نه دي په کار .

۱۸ . په نجَس او مکروه ځايونو کې تلاوت کول مکروه دی .

۱۹ . د تلاوت په دَوران کې دُنياوي خبرې کول نه دي په کار ، که ضرورت وي نو آيت دې پوره کړي ، قرآن مجيد دې بَند کړي او بيا دې خبرې وکړي . خو چې کله بيا تلاوت شروع کوي نو اول ورته اَعُوْذُ بِاللهِ او بِسْمِ الله ويل په کار دي .

۲۰ . په کوم مجلس کې چې خلق په څه بل کار مشغول وي ، يا هلته شور او غَوغا وي نو هلته تلاوت کول نه دي په کار ، البته که بل ځای نهٔ نو بيا په دې مجلس کې په پټه تلاوت کول په کار دي .

خو که ټول خلق چَپ ناست وو ، د تلاوت آوريدو ته يې شوق وُ او چاته په اُوچت آواز تلاوت کولو سره تکليف نه رسيده نو بيا په اُوچت آواز سره تلاوت کول په کار دي .

۲۱ . د تلاوت په دَوران کې چاته اُودريدل ، يا د هغه د تعظيم ضرورت نشته . البته عالِم باعمَله ، اُستاذ او مور پلار ته اُودريدل او د دوی تعظيم کول جائز دي .

۲۲ . تکيه لږولو سره يا په ملاسته تلاوت کول اګر چې جائز دی ليکن افضل او اَدب دادی چې په ناسته تلاوت اوشي .

۲۳ . زر زر او ګډ وَډ تلاوت کول نه دي په کار ، ځکه په دې کې صرف د قرآن مجيد د ختميدو د نوم نه علاوه بله فائده انسان ته په ګوتو نه ورځي . دغه وجه ده چې هاغه لږ

تلاوت چې په غور، فکر او تجويد سره اُوشي دا د هغه ډير تلاوت نه بهتر دى چې زر زر او د آدابو خلاف اوشي. (۱)

خلاصه دا چې تلاوت کول گويا د الله ﷻ سره خبرې کول دي، لهذا په دې وخت کې د الله ﷻ د عظمت لحاظ کول، او په عاجزئ سره تلاوت کول په کار دي.

## اِختِتامي خبره

محترمو! قرآن کريم د الله ﷻ کلام، د هغه خبرې، او د هغه حقيقي صفت دى، اوس چاته چې الله ﷻ ددې د لوستلو، يادولو او په دې باندې د عمل کولو توفيق ورکړي نو يقيني چې دا ډير خوش قِسمته انسان دى.

حُکه دقرآن کريم په وجه الله رب العزت د انسان زړه د ايمان په رڼا باندې مُنوّره کوي، دده شرح صدر کوي، نيغې او حقې لارې طرف ته دده هدايت کوي، د قيامت د سختيو نه يې محفوظ کوي، او فرښتې دده د پاره د رحمت او مغفرت دُعاگانې غواړي.

د قرآن کريم په وجه زړونه او کورونه آباديږي، خير و برکت په کې پيدا کيږي، شيطان ورنه اُوځي او الله ﷻ په دُنيا او آخرت دواړو کې د صاحبِ قرآن مقام اُوچتوي.

## دُعا

الله رب العزت دې مونږ ټولو ته د قرآن کريم د زده کولو، ددې د تلاوت کولو، ددې په اَحکاماتو باندې د پوهيدلو، او بيا په دې باندې د عمل کولو او بل ته د رسولو توفيق رانصيبه کړي.

آمِيْن يَارَبَّ العَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

**نوټ**: ضروري فِقهي مسائل ددې کتاب په آخر کې د صفحه ۲۷۲ نه تر صفحه ۳۳۴ پورې تقريبًا اُووه اَويا (۷۷) مسائل ذکر دي، د هغې نه اِنتخاب وکړه. ابوالشمس عفي عنه

(۱) مظاهر حق ج۲ کتاب فضائل القرآن مع الاختصار، با ادب با نصيب ص ۷۸ مع الاختصار.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ .الاسراء ایت ۸۲ .

# د حافظانو ، او د قرآن کریم سره د تعلق لرونکو خلقو مقام

تالیف

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د حافظانو، او د قرآن کریم سره د تعلق لرونکو خلقو مقام

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللهِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ، لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴾ . (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : خَيْرُكُمْ مَّنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ. (٢)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

محترمو مسلمانانو ورونو ! قرآن کریم داسې مُقدّس کتاب دی چې ددې سره د چا هم واسطه راغلی هغه ته الله رب العزت ډیر لوي مقام ورکړی ، ځکه قرآن کریم بې د شک و شُبهې نه د الله ﷻ کلام دی ، او د الله ﷻ کلام ته په نورو کلامونو باندې داسې فضیلت حاصل دی لکه څرنګې چې الله ﷻ ته په خپلو مخلوقاتو باندې فضیلت حاصل دی. (٣)

---

(١) الفاطر آیت ٢٩ ، ٣٠ .

(٢) رواه البخاري كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابٌ : خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ رقم الحديث ٥٠٢٧ ، و ابوداؤد بَابٌ فِي ثَوَابِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ١٤٥٢ ، والترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ٢٩٠٧ ، و احمد ٥٨/١، ٦٩ وفي رواية : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَفْضَلَكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ. صحيح البخاري رقم الحديث ٥٠٢٨.

(٣) د ترمذي شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : فَضْلُ كَلَامِ اللهِ عَلٰى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللهِ عَلٰى خَلْقِهِ . رواه الترمذي رقم الحديث ٢٩٢٦ باب ٢٥ قبيل كتاب القراءت ، والدارمي ، والبيهقي في شعب الايمان ، الابانة الكبرى لابن بطة ج٥ ص٢٢٤ رقم الحديث ١ ، ٢ ، كنز العمال رقم الحديث ٢٣٣٢ ، ٢٣٥٣ .

اوس چې ددې سره د چا هم واسطه راشي هغه ته به هم الله ﷻ د دوارو جهانو عزت ورکوي. دغه وجه ده چې زمونږ په شريعت کې د قرآن کريم د حافظانو او ددې سره د تعلق لرونکو خلقو ډير لوي مقام بيان شوی ، او د دوی ډير فضائل بيان شوي .

اِنْ شَاءَ اللّٰه نن به تاسو ته د حافظانو ، او د قرآن کريم سره د تعلق لرونکو خلقو په مقام او فضائلو باندې رڼا اچوم :

## د قرآن سره تعلق لرونکي د نه هلاکيدونکي تجارت اُميد لري

الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ۝ لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ إِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴾ . (۱)

ترجمه : بيشکه څوک چې د الله د کتاب ( قرآن کريم ) تلاوت کوي ، مونځ قائموي ( يعنی په پابندۍ سره يې کوي ) ، او مونږ چې ورته څه ورکړي دي د هغې نه په پټه او ښکاره خرچ ( خيرات ) کوي نو دوی د داسې تجارت اُميد لري چې هغه هيڅ کله نه هلاکيږي ( نه بَربادېږي ، او نه تاواني کيږي ) ، دا ددې د پاره چې الله دوی ته ( د نيکو عملونو ) پوره اَجرونه ورکړي ، او په خپل فضل سره نور هم زيات ورکړي ، بيشکه الله ښښونکي او قدردان دی .

**د آيت تشريح** : په دې آيت کې الله ﷻ د تلاوت کوونکو ، مونځ قائمونکو ، او خرچ کوونکو متعلق دا اُوفرمايل چې دوی د داسې تجارت اُميد لري چې هغه هيڅ کله تاوان نه کوي ، او هيڅ کله نه ضائع کيږي او نه بَربادېږي . (۲)

(۱) الفاطر آيت ۲۹ ، ۳۰ .

(۲) تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ : اى لن تُهْلِكَ. جلالين .

لَنْ تَبُوْرَ : لَنْ تَفْسَدَ وَلَنْ تَهْلِكَ. وَالْمُرَادُ مِنَ التِّجَارَةِ مَا وَعَدَ اللّٰهُ مِنَ الثَّوَابِ . تفسير خازن ، وتفسير بغوي .

لَنْ تَبُوْرَ : لن تكسد ، يعني تجارة ينتفي عنها الكساد وتنفق عند الله . تفسير نسفي .

لَنْ تَبُوْرَ : اى لن تكسر ولن تهلك بالخسران . تفسير مظهري .

بيا الله ﷻ ددې نيکو عملونو تَشبيه او مِثال د يو تجارت سره ورکړه ، ځکه لکه څرنګې چې تجارت انسان ته نَفع رسوي نو همدغه شان دا تلاوت او دا نور نيک عملونه هم انسان ته نفع رسوي .

خو بيا چونکه د دُنيا په تجارت کې تاوان هم راځي نو ځکه الله رب العزت د آخرت د تجارت متعلق اوفرمايل : لَنۡ تَبُوۡر . چې دا تجارب به هيڅ کله نه هلاکيږي او نه نقصاني کيږي .

ځکه ددې سَودا خريدار په خپله الله ﷻ دی ، هغه د انسان د نيکو اعمالو قدرداني کوي نو الله ﷻ به دوی ته ددې تلاوت وغيره اَجرونه هم ورکړي چې هغه جنّت او دجنت نعمتونه دي ، او په خپل فضل سره به نور هم زيات ورکړي . (١)

## د قرآن کريم سره تعلق لرونکي خلق " اَهلُ الله " او د الله ﷻ خاص بندګان دي

په دُنيا کې د هر کس دا خواهش وي چې زما نِسبت دې يو مُعزز کس طرف ته اوشي ، او دې په دې باندې فخَر هم کوي . اوس الله ﷻ د قرآن حافظانو او ددې کتاب سره تعلق لرونکو ته دا عزت ورکړی چې دوی ته په احاديثو کې " اَهلُ الله " او " د الله ﷻ خاص خلق " ويل شوي . نو دا د دوی د پاره يو عظيم شَرافت دی چې د دوی نِسبت خالقِ کائنات " الله رب العزت " طرف ته شوی .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ لِلهِ أَهۡلِيۡنَ مِنَ النَّاسِ .

بيشکه په دې خلقو کې د الله ﷻ خاص د کور خلق ( يعنی خپل خاص مُقرّب بندګان ) دي صحابه کرامو ورنه پوښتنه وکړه :

مَنۡ هُمۡ يَارَسُوۡلَ اللهِ ؟ اې د الله رسوله ! دا څوک دي ؟

(١) تفسير معارف القرآن سورة فاطر آيت ٢٩ ، ٣٠ مع الاختصار والتغير .

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : أَهْلُ الْقُرْآنِ هُمْ أَهْلُ اللهِ وَخَاصَّتُهُ .(۱)

دا ( مُقرب خلق ) اَهلِ قرآن ( يعنی د قران کريم يادوُونکي او په دې باندې عمل کوونکي (۲) ) دي ، هم دوی اَهْلُ الله ( أَوْلِيَاءُ الله ) او د هغه خاص بندګان دي .

دا خلق د الله ﷻ په نزد څکه محبوب او مُعزز دي چې دوی د الله د کتاب لوستونکي ، ددې حفاظت کوونکي ، او د الله ﷻ سره هَمکلامي کوونکي دي .

او د الله ﷻ په نزد د يو کس معزز کيدل ډير لوي مقام دی ، څکه په دُنيا کې که يو کس د بادشاهِ وَقت په نزد معزز وي نو دې ډير خوشحاله وي او نور خلق هم دده عزت کوي ، حالانکه د الله ﷻ په مقابَله کې د دُنيا د بادشاه هيڅ حيثيت نشته .

اوس چې يو کس د الله رب العزت په نزد محبوب او معزز شي نو يقيني چې دا ډير لوي عزت او لوي شَرافت دی . (۳)

## په خلقو کې بهترين کس د قرآن کريم زده کوونکې او بل ته خُودونکې دی

د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ . (۴)

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ لِلَّهِ أَهْلِينَ مِنَ النَّاسِ » قَالُوا: مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « أَهْلُ الْقُرْآنِ هُمْ أَهْلُ اللهِ وَخَاصَّتُهُ » . رواه النسائي بسند صحيح ، و رواه ابن ماجه في المقدمة رقم الحديث ٢١٥ ، واحمد ٣/ ١٢٧، ١٢٨ ، والدارمي ٢/ ٤٣٣ ، والحاكم ١/ ٥٥٦ ، وصححه العلامة الالباني في صحيح ابن ماجه ١٧٨ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٠٤٦ .

(۲) أَهْلُ الْقُرْآنِ : أي حفظته العاملون به. / هُمْ أَهْلُ اللهِ أي أولياؤه المختصون به اختصاص أهل الإنسان به . شرح محمد فؤاد عبدالباقي على ابن ماجه رقم الحديث ٢١٥ .

(۳) التبليغ ج ١٠ ص ٣١٢ مع الاختصار .

(۴) رواه البخاري كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابٌ : خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ رقم الحديث ٥٠٢٧ ، و ابوداؤد بَابٌ فِي ثَوَابِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ١٤٥٢ ، والترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْلِيمِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ٢٩٠٧ ، واحمد ١/ ٥٨ ، ٦٩ .

په تاسو کې ډېر بهترين ( او اَفضل ) کس هغه دی چې هغه قرآن کريم زده کړو او بيا يې بل ته اُوخوده.

**د بهتر والي وجه** وجه داده چې قرآن کريم ته خو د کَلَامُ الله کيدو په وجه په ټولو کتابونو کې فضيلت حاصل دی ، اوس چې څوک ددې زده کړه کوي ، او بل ته يې ښايي نو لازمي خبره ده چې هغه ته به هم د دُنيا په انسانانو کې فضيلت حاصل وي .

بل دا چې دا خو يقيني خبره ده چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د پيغمبرۍ اَهمه وظيفه دا وه چې قرآن کريم د وَحي په ذريعه د الله ﷻ نه حاصل کړي ، ددې په حِکمتونو ځان پوهه کړي ، او بيا يې بل ته اُورسوي .

اوس چې د قيامته پورې هر څوک د قرآن کريم په زده کړه او بل ته رسولو کې مشغول وي نو ګويا دا کس هم د نبي عليه السلام هغه خاص مِشَن مخ په وړاندې بُوځي او د هغې خِدمت کوي ، نو ددې کس هم د پيغمبر عليه السلام سره خاص نِسبت پيدا شو . نو ځکه په دې حديث کې د قرآن کريم مُتعلِم او مُعلِم ته بهترين کس ويل شوی . (١)

په يو بل حديث کې ددې دوه (٢) کسانو سره د نورو اِضافه هم شوی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

خَيْرُ النَّاسِ أَقْرَؤُهُمْ ، وَأَفْقَهُهُمْ فِيْ دِيْنِ اللهِ ، وَأَتْقَاهُمْ لِلّٰهِ ، وَآمَرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ، وَأَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ ، وَأَوْصَلُهُمْ لِلرَّحِمِ . (٢)

په خلقو کې بهترين کس هغه دی کوم چې په دوی کې ډير ښه قاري وي ، په دوی کې د الله ﷻ په دين ډيره پُوهه لري ، په دوی کې د الله ﷻ نه ډير ويريدونکي وي ، په دوی

---

(١) معارف الحديث ج٥ ص ٧٠ كتاب الاذكار والدعوات مع الاختصار ، مظاهر حق ج۴ كتاب فضائل القرآن .

(٢) رواه احمد في مسنده رقم الحديث ٢٧۴٣۴ ، والطبراني في الكبير ، وابن حبان في صحيحه عن درة بنت ابي لهب ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٨٧٨٢ كتاب العلم من قسم الاقوال الباب الاول في الترغيب فيه ، ورقم ٢٨٩۴٨ .

وفي رواية : خَيْرُ النَّاسِ وَخَيْرُ مَنْ يَمْشِيْ عَلَى جديد الْأَرْضِ الْمُعَلِّمُوْنَ كُلَّمَا خَلَقَ الدِّيْنُ جَدَّدُوْهُ . تفسير القرطبي: ١/ ٣٣٦ ، تفسير الثعلبي الكشف والبيان عن تفسير القرآن ١/ ٩١ .

كې ډير اَمر بِالمَعروف اونَهي عن المُنكر كوونكې وي ، او په دوی كې ډير صِله رَحمي كوونكې وي .

په دې حديث كې هم په خلقو كې د بهترينو او اَفضل ترينو خلقو تذكره شوی ، چې اول په كې دقرآن كريم د قاري ذكر دی .

پس معلومه شوه چې دا صفات په چا كې هم موجود وي هغه كس په خلقو كې بهترين كس دی .

په يو روايت كې د حافظِ قرآن فضيلت په غير حافِظ باندې داسې ښودل شوی لكه د الله ﷻ فضيلت په مخلوق باندې . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

فَضْلُ حَمَلَةِ الْقُرْآنِ عَلَى الَّذِيْ لَمْ يَحْمِلْهُ كَفَضْلِ الْخَالِقِ عَلَى الْمَخْلُوْقِ . (١)

د حافظِ قرآن فضيلت په غير حافظ باندې داسې دی لكه د خالِق ( يعنی د الله ﷻ ) فضيلت په مخلوق باندې .

محترمو ! كه په دُنيا كې مونږ اوګورو نو مختلف قِسمه خلق په مختلفو كارونو كې مصروفه دي : مثلاً دُكاندار ټوله ورځ د سَودا په خرڅولو مصرُوفه وي ځكه دا دده د پاره د حلال رِزق ګټلو يوه ذريعه ده نو په دې كې دده غوندې عُمر تير شي .

تَركاڼ ټوله ورځ د لرګو په كټ كولو او جوړولو مصروفه وي ، او ددې نه مختلف قِسمه شيان جوړوي .

دَرزي ( ټېلر ) ټوله ورځ د كپړو په كټ كولو او جوړولو مصروفه وي .

زميندار ټوله ورځ په پټي كې مصروفه وي ، په دې سره دده غوندې عُمر ختم شي .

او په دې كې هيڅ شک و شُبهه نشته چې حلال رِزق ګټل د خپل اَولاد د پاره فرض دی .

خو په دې خلقو كې داسې خُوش نصيبه انسانان هم شته چې شپه او ورځ د قرآن په زده كولو او بل ته خودلو كې مصروفه دي ، او د دوی ټول عُمر د قرآن كريم په دې خِدمت كې

(١) رواه الديلمي في مسند الفردوس عن ابن عباس ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٠ رقم الحديث ٢٢٩٦ ط . دارالكتب العلمية بيروت .

تيرشي . يقيني چې دا خلق ډير خوش نصيبه دي چې الله ﷻ د خپل كتاب د خدمت د پاره منتخب كړي ، او دوی ته هم په دې نعمت باندې شكريه اداء كول په كار دي .

## په دې امت كې ډير شريف خلق د قرآن كريم حافظان دي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

أَشْرَافُ أُمَّتِيْ حَمَلَةُ الْقُرْآنِ وَأَصْحَابُ اللَّيْلِ . (١)

زما د امت ډير شريف خلق د قرآن كريم حاملين ( يعنی حافظان ، ددې تلاوت كوونكي او په دې باندې عمل كوونكي ) ، او د شپې عبادت كوونكي دي .

## د حافظِ قرآن تعظيم كول

دا خو ښكاره خبره ده چې په هر مسلمان باندې د الله رب العزت او د هغه د احكاماتو تعظيم لازم دی ، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې سره سره په هر هغه چا باندې د قرآن كريم د حافظانو تعظيم هم لازم كړی ځوك چې د الله ﷻ سره محبت كوي .

د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ، وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِيْ فِيهِ وَالْجَافِيْ عَنْهُ، وَإِكْرَامَ ذِي السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ . (٢)

بيشكه د الله ﷻ د تعظيم او بزرګۍ نه دا هم ده چې د سپين ږيري مسلمان اِكرام اوكړې شي ، او د قرآن كريم د حامِل ( يعنی حافظ او عامِل ) اِكرام اوكړې شي خو چې په دې كې غُلو او كمي ( يعنی اِفراط او تفريط ) كوونكې نه وي ، او د عادِل بادشاه اِكرام اوكړې شي .

---

(١) بيهقي شعب الايمان عن ابن عباس رقم الحديث ٢٤٤٧، ٢٩٧٧ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٢٦٦٢ ، كنز العمال ج١ ص٢٥٧ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله رقم الحديث ٢٢٥٦ ط . دار الكتب العلمية بيروت .

(٢) حَسَنٌ : رواه ابوداؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِيْ تَنْزِيْلِ النَّاسِ مَنَازِلَهُمْ رقم الحديث ٣٨٤٣ ، والسنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٦٦٥٨ ، وحسنه العلامة الالباني رحمه الله في صحيح الجامع ٢١٩٩ ./

وفي رواية : قال النبي صلى الله عليه وسلم : مِنْ تَعْظِيمِ جَلَالِ اللهِ إِكْرَامُ ثلاثة : الإمام المقسط ، وذي الشيبة ، وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِيْ فِيهِ وَلَا الْجَافِيْ عَنْهُ". تفسير قرطبي ١ / ٢٦ باب ما جاء في حامل القرآن ومن هو ، وفي من عاداه .

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

أَكْرِمُوا حَمَلَةَ الْقُرْآنِ، فَمَنْ أَكْرَمَهُمْ فَقَدْ أَكْرَمَنِيْ . (١)

تاسو د حاملينِ قرآن ( يعنى د قرآن كريم د حافظانو او علماؤ ) تعظيم كوئ ، پس چا چې د دوى تعظيم وكړو نو ده زما تعظيم وكړو .

په بل روايت كې داسې ذكر دي :

أَكْرِمُوا حَمَلَةَ الْقُرْآنِ . فَمَنْ أَكْرَمَهُمْ فَقَدْ أَكْرَمَ اللهَ . (٢)

تاسو د قرآن كريم د حافظانو اِكرام كوئ ، پس چا چې د دوى اِكرام وكړو نو ده د الله جل جلاله اِكرام وكړو.

اِمام رازي رحمه الله په تفسيرِ كبير كې ليكلي :

بِشْرُ الْحَافِيُّ أَكْرَمَ كَاغَدًا فِيْهِ اسْمُ اللهِ تَعَالَى فَنَالَ سَعَادَةَ الدَّارَيْنِ فَإِكْرَامُ قَلْبٍ فِيْهِ مَعْرِفَةُ اللهِ تَعَالَى أَوْلَى بِذٰلِكَ . (٣)

بِشر حافي چې كله د هغه كاغذ تعظيم وكړو چې په هغې كې د الله جل جلاله نوم (يعنى بسم الله الرحمن الرحيم ) ليكلې شوې وُ نو هغه د دواړو جهانو سعادت حاصل كړو ، اوس د هغه زړه تعظيم كول په طريقه اَولى ضروري دي په كوم كې چې د الله جل جلاله معرفت ( او ټول قرآن كريم ) موجود وي .

امام بخاري رحمه الله د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په حواله نقل كړي ، دې فرمايي : وَكَانَ الْقُرَّاءُ أَصْحَابَ مَجْلِسِ عُمَرَ وَمُشَاوَرَتِهِ، كُهُولًا كَانُوْا أَوْ شُبَّانًا . (٤)

---

(١) رواه الديلمي في مسند الفردوس ، كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٢٧٤ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله .

(٢) رواه الديلمي عن ابن عمر ؛ كنزالعمال ج١ رقم الحديث ٢٣٤٣ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله . /

وفي رواية : أَكْرِمُوا حَمَلَةَ الْقُرْآنِ . فَمَنْ أَكْرَمَهُمْ فَقَدْ أَكْرَمَنِيْ ، وَمَنْ أَكْرَمَنِيْ فَقَدْ أَكْرَمَ اللهَ . رواه الدارقطني والديلمي ، كنزالعمال ج١ ص٥٢٣ .

(٣) تفسير كبير ٢٢ / ٣٩ في تشريح رب اشرح لي صدري .. سورة طه .

(٤) صحيح البخاري بَابُ الاِقْتِدَاءِ بِسُنَنِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٧٢٨٦

د حضرت عمر ﷺ د مجلس او مَشورې ملګري (يعنى اَهم کسان) قاريان وو ، که دوى به عُمر رسيده وو ، او که ځوانان.

يعنى حضرت عمر ﷺ د قرآن کريم حافظانو او علماؤ ته دومره اَهميت ورکول چې دده د مشورې کومه کميټي وه په هغې کې يې هم دوى شامل کړي وو.

## د حافظ قرآن دتعظيم په وجه په قبر کې جِسم محفوظ کيدل

مولانا آفتاب عالم صاحب د خپل والدِ محترم "مولانا بدرِعالم صاحب" په حالاتو کې ليکلي چې سعودي حکومت د خپل قانون موافق هر شپږ (٦) مياشتې پس درې (٣) پېرې زما د والد صاحب قبر را اُوسپړل ، ددې دپاره چې په دې ځاى کې بل مړې خَخ کړي ، خو په هره پېره به چې دوى اُوکته نو زما د والد صاحب وجود به هماغه شان روغ ؤ ، هيڅ تغيير به په کې نهٔ ؤ راغلى ، داسې به معلوميده لکه چې چا اوس خَخ کړې وي ، نوهغوى به واپس پرېخوده .

مولانا افتاب عالم صاحب فرمايي : زما والد صاحب ته چې الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړې ؤ نو ددې وجه دا وه چې دده په زړه کې د قرآن کريم سره دومره مينه وه چې کومو ماشومانو به قرآن کريم حفظ کړې ؤ ده به د هغوى تعظيم هم کولو.

او د حافظِ قرآن به يې دومره عزت کولو چې ده طرف ته به يې خپې هم نه غَزولى . وجه به يې دا بيانوله چې لکه څرنګې چې قرآن کريم طرف ته خپې غَزول بې اَدبي ده نو همدغه شان د حافظِ قرآن طرف ته خپې غزول هم بې اَدبي ده ، ځکه دده په سينه کې هم قرآن کريم محفوظ وي. نو الله ﷻ ده ته د حافظانو د تعظيم په دومره لوي مقام ورکړو. (١)

## د حافظانو سپکاوې کوونکې کس منافق دى

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

(١) دين و دانش ج١ ، ايک هزار پُر تاثير واقعات ص ٤٣٢ .

ثَلَاثَةٌ لَا يَسْتَخِفُ بِحَقِّهِمْ إِلَّا مُنَافِقٌ : إِمَامٌ مُقْسِطٌ ، وَ ذُوْ شَيْبَةٍ فِي الْإِسْلَامِ ، وَحَامِلِ الْقُرْآنِ . (١)

درې ( ٣ ) کسان داسې دي چې د دوی سپکاوې صرف منافق سرې کوي ( يعنی د دې درې کسانو پورې چې څوک تېوقې او مَسخرې کوي هغه مُنافِق دی ، اول : ) عادل بادشاه ، ( دويم ) هغه کس چې په اِسلام کې سپين ګيرې شي ، او ( دريم ) حافظِ قرآن .

نبي عليه السلام فرمايي :

حَمَلَةُ الْقُرْآنِ أَوْلِيَاءُ اللهِ فَمَنْ عَادَاهُمْ فَقَدْ عَادَى اللهَ وَمَنْ وَالَاهُمْ فَقَدْ وَالَى اللهَ . (٢)

د قرآن کريم حامِلين ( يعنی حافظان ) د الله ﷻ دوستان دي ، پس چا چې د دوی سره دُشمني وکړه نو دوی د الله ﷻ سره دُشمني وکړه ، او چا چې د دوی سره دوستي وکړه نو دوی د الله ﷻ سره دوستي وکړه .

په دې حديث کې د قرآن کريم حامِلينو ته أولياءُ الله ويل شوي ، او أولياءُ الله ؤ ته نقصان رسول د اِنسان د آخِرې خاتمې د خرابيدو سبب ګرځي .

حديث قدسي دی ، الله تعالیٰ فرمايي :

مَنْ عَادَىٰ لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ . (٣)

څوک چې زما د يو دوست سره دشمني کوي زه داسې کس ته اعلانِ جنګ کوم .

ملا علي قاري رحمه الله په مرقات شرحه د مشکوة کې ليکلي : کومو خلقو ته چې الله ﷻ اعلانِ جنګ وکړي نو د دغسې خلقو د آخِرې خاتمې خرابيدو سخت خطر دی .

---

(١) اخرجه الطبراني في الكبير ، و ذكره ابوالليث السمرقندي ، لزهة الناظرين ص ٢٣٧ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " ثَلَاثَةٌ لَا يَسْتَخِفُّ بِحَقِّهِمْ إِلَّا مُنَافِقٌ : ذُو الشَّيْبَةِ فِي الْإِسْلَامِ ، وَذُو الْعِلْمِ ، وَ إِمَامٌ مُقْسِطٌ " . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٨١٩ .

(٢) رواه الديلمي في مسند الفردوس ، وابن النجار عن ابن عمر ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٢٩٥ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله .

(٣) بخاري شريف ./ په يو حديث کې داسې الفاظ دي : مَنْ آذَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ . اخرجه البخاري ١٣٧ .

په يو روايت کې ذکر دي ، نبي عليه السلام فرمايي :

... حَمَلَةُ الْقُرْآنِ هُمُ الْمَحْفُوْفُوْنَ بِرَحْمَةِ اللهِ الْمُلبسُوْنَ نُوْرَ اللهِ الْمُتَعَلِّمُوْنَ كَلَامَ اللهِ . مَنْ عَادَاهُمْ فَقَدْ عَادَى اللهَ . وَمَنْ وَالَاهُمْ فَقَدْ وَالَى اللهَ ... (١)

د قرآن کريم په حافظانو ( او ددې سره تعلق لرونکو ) باندې د الله ﷻ رحمت احاطه کړې ده ، دوی د الله ﷻ نُور لره حاصلوونکي دي (يعنی دوی د الله ﷻ په نُور کې ملبوس او پټ دي ) ، او دوی د الله ﷻ د کلام زده کوونکي دي ، پس چا چې د دوی سره دوستي وکړه نو دوی د الله ﷻ سره دوستي وکړه ، او چا چې د دوی سره دُشمني وکړه نو دوی د الله ﷻ د حق ناقدري وکړه .

بلکه په يو روايت کې د حافظِ قرآن په سپکاوي کوونکي باندې د الله ﷻ لعنت ذکر شوی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

حَامِلُ الْقُرْآنِ حَامِلُ رَايَةِ الْإِسْلَامِ ، مَنْ أَكْرَمَهُ فَقَدْ أَكْرَمَ اللهَ . وَمَنْ أَهَانَهُ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . (٢)

د قرآن کريم حافِظ د اسلام جَنډې لره اُچتوونکې دی ، پس چا چې دده عزت وکړو نو ده د الله ﷻ عزت وکړو ، او چا چې دده سپکاوې وکړو نو په ده باندې د الله ﷻ لعنت دی .

# په اِمامت او نورو ځايونو کې حافظِ قرآن ته ترجيح ورکول

حافظِ قرآن ته دا عزت حاصل دی چې په دُنيا کې د اِمامت کولو په موقع باندې هم ده ته ترجيح حاصل ده چې دې به مخکې کولې شي .

د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) رواه الحاكم في تاريخه عن محمد بن الحنفية عن علي بن ابي طالب موصولا ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٦٢ الباب السابع : في تلاوة القرآن وفضائله الفصل الأول: في فضائله في فضائل تلاوة القرآن. /

و في رواية : حَمَلَةُ الْقُرْآنِ هُمُ الْمَحْفُوْفُوْنَ بِرَحْمَةِ اللهِ الْمُعَظِّمُوْنَ كَلَامَ اللهِ الملبسون نور الله فمن والهم فَقَدْ وَالَى اللهَ وَمَنْ عَادَاهُمْ فَقَدِ اسْتَخَفَّ بحقِّ الله تعالى. تفسير قرطبي ١ / ٢٦ باب ما جاء في حامل القرآن ومن هو ، وفي من عاداه .

(٢) رواه الديلمي عن ابي امامة ، كنزالعمال ج١ ص٢٦٢ رقم الحديث ٢٣٤١ الباب السابع في تلاوت القرآن وفضائله .

يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ ... (۱)

د قوم امامت به هغه څوک کوي چې څوک د کتابُ الله يعنی د قرآن کريم ښه قاري وي.

هم دغه رنګې د مرګ نه پس هم رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په قبر کې د ايخودلو په موقع باندې حافظِ قرآن مُقدّم کړی.

د بخاري شريف حديث دی، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې:

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم به دغزوه اُحد شهيدان دوه (۲) کسان په يو قبر کې دَفن کول، بيا به يې اوفرمايل:

أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ ؟

په دوی کې قرآن کريم چا ډير ياد کړی؟

پس که چيرته يو کس طرف ته به اِشاره اوشوه (چې ده قرآن کريم ډير ياد کړی دی) نو په قبر کې به يې هغه مخکې ايخودو. (۲)

## د حافظِ قرآن او تلاوت کوونکي سره غِبطه (رَشک) کول

د قرآن کريم حافظ هغه بهترين انسان دی چې په شريعت کې دده سره غِبطه او رَشک جائز ګرځول شوی، امام بخاري رحمه الله په دې باندې مُستقل باب قايم کړی:

'' بَابُ اغْتِبَاطِ صَاحِبِ الْقُرْآنِ '' يعنی د غِبطې، رَشک او پسخيدلو لائق صاحبِ قرآن دی چې ده ته په کتلو سره انسان دا تَمنّا کولې شي چې کاش ما ته هم قرآن کريم ياد وی، او ما هم شپه او ورځ دده په شان تلاوت کولی.

نبي عليه السلام فرمايي:

---

(۱) صحيح مسلم بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ رقم الحديث ۶۷۳ ، ابوداؤد بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ رقم الحديث ۵۸۲ ، ترمذي بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ رقم الحديث ۲۳۵ .

(۲) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، ثُمَّ يَقُولُ: « أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ ؟ » . فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ . وَقَالَ: « أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ » . وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِي دِمَائِهِمْ ، وَلَمْ يُغَسَّلُوا ، وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ . صحيح البخاري بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى الشَّهِيدِ رقم الحديث ۱۳۴۳ ، و ۱۳۴۷ ، و ۴۰۷۹ ، ابوداؤد رقم الحديث ۳۱۳۸ بَابٌ فِي الشَّهِيدِ يُغَسَّلُ .

لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَتْلُوهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ. (١)

حسد ( غبطه ، رَشک ) جائز نه دی مگر صرف د دوه کسانو سره ( یعنی دوه کسان لائق د غِبطې او پسخیدلو دي ) : یو هغه کس چې هغه ته الله رب العزت د قرآن کریم نعمت ورکړې وي او بیا دې د شپې او ورځې په وختونو ( یعنی اکثره حصه ) کې په دې مشغول وي ( ددې تلاوت کوي او په دې عمل کوي )

او دویم هغه کس چې هغه ته الله ﷻ مال ورکړې وي او دې د شپې او ورځې دا مال د الله ﷻ په لاره کې خرچ کوي.

**د حدیث تشریح** : علماؤ لیکلي چې د حسد دوه ( ٢ ) قِسمونه دي : یو حقیقي ، او دویم مَجازي.

حقیقي حسد دیته وایي چې انسان د بل چا سره یو نِعمت اوګوري ، او دې د هغه نه ددې نِعمت د زائله کیدلو خواهش اوکړي چې " کاش د هغه نه هم دا نِعمت واخیستې شي " د حسد دا قِسم د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کې ناجائز دی.

مَجازي حسد دیته وایي چې انسان د بل چا سره یو نِعمت اوګوري نو دې د ځان د پاره هم د هغې د حاصلولو خواهش وکړي ، خو د هغه نه ددې نعمت د زائله کیدلو تَمنّا نه کوي.

د حسد دې قِسم ته غِبطه ، رَشک او پَسخیدل هم وایي . په ښه کارونو کې دا غِبطه جائز او مُستحب ده ، مثلاً یو کس جُمات جوړوي او بل کس دا اُوګوري هغه هم دا آرزو وکړي چې " کاش د ماسره هم مال و دولت وی نو ما به هم داسې جُمات جوړ کړې وی " دا پَسخیدل جائز او غوره دي. (٢)

---

(١) صحيح البخاري بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ القُرْآنَ فَهُوَ يَقُومُ بِهِ ... رقم الحديث ٧٥٢٩ ، صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ مَنْ يَقُومُ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ ... رقم الحديث ٨١٥ ./

وفي رواية : قال النبي صلى الله عليه وسلم : لَا حَسَدَ إِلَّا عَلَى اثْنَتَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ الكِتَابَ، وَقَامَ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ، وَرَجُلٌ أَعْطَاهُ اللهُ مَالًا، فَهُوَ يَتَصَدَّقُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ . صحيح البخاري رقم الحديث ٥٠٢٥ بَابُ اغْتِبَاطِ صَاحِبِ القُرْآنِ .

(٢) مظاهر حق ج۴ كتاب فضائل القرآن في تشريح حديث ٥ .

بهر حال دلته په حديث كې د حسد نه مراد همدا مَجازي معنى يعنى غِبطه او پَسخيدل مراد دي. (١)

ددې حديث يو بل مطلب هم علماؤ بيان كړى، هغه دا چې: كه (حقيقي) حسد د يو چا سره جائز وى نو بيا به ددې دوه كسانو سره جائز ؤ، ليكن حقيقي حسَد د هيچا سره جائز نه دى. (٢)

خو اَولنې مطلب اخيستل ډير بهتر دي ځكه د هغې تائيد د يو بل حديث نه هم كيږي كوم چې امام بخاري رحمه الله رانقل كړى، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ : رَجُلٌ عَلَّمَهُ اللهُ الْقُرْآنَ . فَهُوَ يَتْلُوْهُ آنَاءَ اللَّيْلِ، وَآنَاءَ النَّهَارِ، فَسَمِعَهُ جَارٌ لَهُ، فَقَالَ: لَيْتَنِيْ أُوْتِيْتُ مِثْلَ مَا أُوْتِيَ فُلَانٌ، فَعَمِلْتُ مِثْلَ مَا يَعْمَلُ . وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَهُوَ يُهْلِكُهُ فِي الْحَقِّ، فَقَالَ رَجُلٌ : لَيْتَنِيْ أُوْتِيْتُ مِثْلَ مَا أُوْتِيَ فُلَانٌ . فَعَمِلْتُ مِثْلَ مَا يَعْمَلُ . (٣)

صرف دوه كسان قابل د غِبطې (پَسخيدلو) دي، يو هغه كس چې ده ته الله ﷻ قرآن خودلې وي او دې شپه او ورځ ددې تلاوت كوي، نو دده ګاونډي دا تلاوت واوري، هغه دا وايي: كاش ماته هم د فلاني غوندې د قرآن كريم عِلم راكړې شوې وى نو ما به هم هاغه شان كار كول څنګه چې هغه كوي (يعنى ما به هم شپه او ورځ تلاوت كولى).

دويم هغه كس چې هغه ته الله ﷻ مال وركړې وي او هغه دا مال په حق (يعنى د الله ﷻ په طاعت او د خير په كارونو (٤)) كې خرچ كوي، بل كس چې دا اُوګوري نو هغه وايي: كاش ماته هم د فلاني په شان مال راكړې شوې وى نو ما به هم هاغه كار كول كوم چې دې كوي (يعنى ما به هم دا مال په ښو كارونو كې خرچ كولى).

(١) فتح الباري ٩/ ٩٩٠، كشف الباري كتاب فضائل القرآن ص ٩٠ باب اغتباط صاحب القرآن.

(٢) ورالدبنى مرجع عين صفحه.

(٣) صحيح البخاري بَابُ اغْتِبَاطِ صَاحِبِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ٥٠٢٦.

(٤) يُهْلِكُهُ فِي الْحَقِّ: اى ينفقه في طاعة الله تعالى وسبل الخير. تعليق مصطفى البغاء على صحيح البخاري.

# د قرآن کريم ماهر به د مُعززو فرښتو سره وي

که مونږ اوګورو نو په دُنيا کې دا دُنياداره خلق په دې باندې فخر کوي چې زمونږ ملګرتيا د غټو خلقو، وزيرانو او رئيسانو سره ده، خو که حقيقت ته اُوکتې شي نو دا دومره د فخَر خبره نه ده، بلکه ډيره د فَخر او شرافت خبره د حافظِ قرآن د پاره ده چې دې به په قيامت کې د هغه پاکو معززو فرښتو سره وي د کومو سره به چې پاکې صحيفې موجود وي. الله رب العزت د هغې فرښتو په باره کې فرمايي :

فِيْ صُحُفٍ مُكَرَّمَةٍ . مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ . بِأَيْدِيْ سَفَرَةٍ . كِرَامٍ بَرَرَةٍ . (١)

ترجمه : ( دا قرآن کريم په لوحِ محفوظ کې ) په داسې صحيفو کې دی چې ( دا صحيفې د الله ﷻ په نزد ) عزت مندې دي، اُوچتې او پاکې دي، د داسې ليکونکو فرښتو په لاسونو کې دی چې هغه عزت مندې او نيکانې دي.

او دا د قرآن کريم د حافظ او ماهِر د پاره ډير لوي شرافت دی چې ده ته به د قيامت په ورځ ددې معززو فرښتو سره د ملګرتيا سعادت نصيبه کيږي.

د مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ . وَالَّذِيْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيْهِ، وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ. لَهُ أَجْرَانِ . (٢)

د قرآن کريم ماهِر به ( په درجه کې ) د هغو فرښتو سره وي کومې چې د انسان نيک اَعمال ليکي ، مُعززې او پاکې دي ، او څوک چې قرآن کريم لولي او دې په کې نخَلي او دا ورته مُشکل وي نو ده د پاره دوه (٢) اَجرونه دي ( يو د تلاوت کولو ، او بل په تلاوت کې د نخَتلو مشقت برداشت کول ).

**د حديث تشريح** : د حديث مطلب دادی چې کوم کس د قرآن کريم ماهِر وي يعنی ښه حافِظ وي ، بغير د نخَتلو نه په بهترينې طريقې سره تلاوت کولې شي نو ده ته به د هغو

(١) سورة عبس ايت ١٣ تا ١٦ .

(٢) صحيح مسلم باب فضل الماهر في القرآن، وَالَّذِي يَتَتَعْتَعُ فِيهِ رقم الحديث ٧٩٨ ، بخاري كتاب التفسير رقم الحديث ۴٩٣٧ .

مُعززو پاكو فرښتو سره د ملګرتيا سعادت حاصليږي كوم چې د انسان نيک اعمال ليکي. (١)

بعضې شارحين په حديث كې د السَّفَرَة نه " حاملِ وحي فرښتې " اَخلي، او بعضې علماء ددينه " اَنبياء كرام " اخلي، تولې معناګانې دلته مراد كيدې شي. (٢)

بهر حال، هره معنى چې واخلى په دې حديث كې د ماهرِ قرآن د پاره ډير اِعزاز او شرافت ذكر دى.

د حديث په دويمه حصه كې ذكر دي چې په تلاوت كې د نختونكي كس د پاره دوه (٢) اَجرونه دي. نو ددې دا مطلب نه دى چې څوک په نخَتلو نخَتلو سره تلاوت كوي ګني هغه ته به د ماهرِ قرآن نه زيات ثواب ملاويږي، ځكه ماهرِ قرآن ته يقيني افضيلت حاصل دى چې دده ملګرتيا به د مُعززو فرښتو سره وي او داعظيم سعادت دى.

بلكه مطلب دادى چې كوم كس د ډير محنت باوجود صحيح تلاوت نشي كولى خو دې بيا هم په مشقت اونختلو سره تلاوت كوي نو داسې كس ته به ددې مُشقّت كولو هم اَجر ملاويږي، ګويا دده يو اَجر د تلاوت كولو او بل اجر د مُشقّت كولو دى. (٣)

مولانا اَشرف علي تهانوي رحمه الله ددې حديث په تشريح كې ليكلي چې په دې حديث كې د هغه كس د پاره غټه تسلي ده چې هغه د ډير محنت باوجود بيا هم قرآن كريم نشي يادولى، دې آخِر مايوسه شي چې كله راته نه ياديږي نو بيا ددې تلاوت او محنت كولو څه فايده ده؟ نو نبي عليه السلام داسې كس ته زيرې وركړو چې څوک په مشقّت او نختلو سره تلاوت كوي د هغه د پاره دوه اجرونه دي. (٤)

(١) حيوة المسلمين لمولانا اشرف عليه تهانوي رحمه الله ص ٤٤، مظاهر حق ج٤ كتاب فضائل القرآن حديث ٤.

(٢) معارف الحديث ج٥ ص ٧٤. / السَّفَرَةُ: جمع سافر ككتبة وكاتب. والسافر: الرسول. والسفرة: الرسل لأنهم يسفرون إلى الناس برسالات الله. وقيل السفرة: الكتب. والبررة: المطيعون من البر وهو الطاعة. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم رقم الحديث ٧٩٨.

(٣) مظاهر حق ج٤ كتاب فضائل القرآن حديث ٤.

(٤) حيوة المسلمين لمولانا اشرف عليه تهانوي رحمه الله ص ٤٤.

# حافظِ قرآن به د نزدې رشته دارو لسو كسانو شفاعت كوي

د مشكوة شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَاسْتَظْهَرَهُ فَأَحَلَّ حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ أَدْخَلَهُ اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ . وَشَفَّعَهُ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ . (١)

چا چې قرآن كريم اُولوست ، بيا يې ياد كړو ، د دې حلال يې حلال اُوګڼل او حرام يې حرام اُوګڼل (يعنى د دې د احكاماتو خلاف يې عقيده نه ساتله ) ، نو الله ﷻ به دا كس جنت ته داخل كړي ، او د ده د خپل كور واله ؤ د هغه لسو ( ١٠ ) كسانو په باره كې به د ده سفارش قبول كړي د كومو د پاره چې د جهنم اُور واجب شوې وي .

يعنى حافظِ قرآن به دخپل كور واله ؤ د هغه لسو ( ١٠ ) كسانو سفارش كوي چې په هغوى باندې د جهنم د تللو فيصله شوې وي ، نو د دې حافظ د شفاعت په وجه به د هغوى بَخشش اوكړې شي ، او جنت ته به داخل كړې شي . او په خاندان كې د ټولو نه نزدې انسان ته خپل مور او پلار وي ، نو د دې حديث نه د حافظِ قرآن د والدينو بخشش يقيني معلوميږي

محترمو ! په دُنيا كې كه په يو كس باندې د اِعدام (يعنى پهانسى ) كولو حكم اوشي او د يو چا په سفارش باندې دا كس د دې اِعدام كولو نه بچ شي نو د خلقو په زړونو كې د دې سفارش كوونكي ډير قدر او اُوچت مقام وي ، خلق ده ته ډير د قدر په ستر ګه ګوري .

نو د قيامت په ورځ به الله ﷻ دا اِعزاز حافظِ قرآن ته وركړي چې د ده په سفارش به د ده د خاندان هغه لسو كسانو ته د جهنم د اُور نه نجات وركړې شي په كومو چې جهنم ته د تللو فيصله شوې وي .

---

(١) رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرمِذِيُّ رقم الحديث ٢٩٠٥ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ قَارِئِ الْقُرْآنِ . وَابْنُ مَاجَهْ رقم الحديث ٢١٦ باب فضل من تعلم القرآن وعلمه . وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مشكاة المصابيح ١ / ٦٦٠ رقم الحديث ٢١٤١ كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني حديث ٣٢ . كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٣٤ . /

وفي رواية : قال النبي صلى الله عليه وسلم : لِحامل القرآن إذا عمل به فأحلّ حلاله وحرّم حرامه شفع في عشرة من أهل بيته يوم القيامة كلّهم قد وجبت له النار . رواه الطبراني في الكبير عن جابر ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦١ رقم الحديث ٢٣٢٢ .

# د حافظِ قرآن والدينو ته د قيامت په ورځ تاج پوشي

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . ضَوْءُهُ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِي بُيُوتِ الدُّنْيَا لَوْ كَانَتْ فِيكُمْ . فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِي عَمِلَ بِهٰذَا ؟ . (١)

چا چې قرآن كريم اُولوست (٢) ، او په دې كې چې كوم اَحكامات دي په هغې يې عمل وكړو نو د قيامت په ورځ به دده والدينو ته داسې تاج وَر په سَر كړې شي چې د هغې رَڼا به د نمر د رڼا نه هم زياته وي، كله چې ( بِالفَرْضِ وَالمَحَال ) دا نمر ستاسو په كورونو كې وي ( يعنى كه چيرته دا نمر ستاسو كورونو ته رابنكته شي نو ددې چې څومره رڼا وي ددينه به هم د هغه تاج رَڼا زياته وي ) ، نو ستاسو څه گمان دی په هغه كس باندې چې هغه په خپله په دې باندې عمل كړې وي ؟

يعنى چې كله د قرآن كريم لوستونكي ( او ددې يادوونكي ) د والدينو دومره اُوچته مرتبه ده نو بيا خو به د هغې كس مقام ډير اُوچت وي چا چې په خپله دا لوستلې وي، ياد كړې يې وي، او په دې باندې يې عمل كړې وي.

**فائده**: په دُنيا كې چې كله يو بادشاه يا بل چاته تاج پُوشي كولې شي نو د ملك مُعزز خلق راجمع شي، او د دوی د وړاندې ده ته تاج پُوشي كولې شي، دا ددې كس د پاره ډيره د فخر او اعزاز خبره وي.

خو دا تاج پُوشي بيا هم ناقِصه وي، ځكه په دې كې د ټولې دُنيا معزز خلق موجود نه وي، او كه بِالفرض دا په كې موجود هم شي نو د تېرې زمانې خلق، يا د راتلونكي زمانې خلق خو په كې نه دي موجود.

---

(١) رواه ابوداؤد بَابٌ فِي ثَوَابِ قِرَاءَةِ القُرْآنِ رقم الحديث ١٤٥٣ ، واحمد في مسنده ، والحاكم ١/٥٦٧ ، والمنذري ٢/٣٥٥ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٣٥ .

(٢) يعنى په ښه شان يې اُولوست. علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې ددې مطلب دادی چا چې د قرآن كريم حفظ كړو، يعنى په يادو باندې يې ياد كړو. مظاهر حق شرح مشكوة ج٤ كتاب فضائل القرآن في تشريح حديث ٣٠ .

اوس چې كله د قيامت په ورځ د حافظِ قران والدينو ته تاج پُوشي كولې شي نو په دې كې به د حضرت آدم عليه السلام اَولاد د اول نه تر آخِره پورې ټول موجود وي ، فرښتې به هم موجودې وي ، اِعلان به اُوشي چې دا هغه شخصيت دى چې ده په خپل بچي باندې قرآن مجيد ياد كړې ؤ ، اوس دده د عزت د پاره ده ته تاج ورپه سَر كولې شي .

نو ده ته به داسې تاج وَر په سَر كړې شي چې د هغې رَڼا به د نمر د رڼا نه زياته وي چې ددې په وجه به غونډِ مَحشر مُنوّر شي .

يقيني چې دا د حافظِ قرآن د والدينو د پاره لوي اِعزاز دى .

## د حافظِ قرآن والدينو ته د قيامت په ورځ قيمتي جوړې اغوستل

په يو حديث كې د قرآن لوستونكي والدينو ته د دوه جَنتي جوړو اغوستلو ذكر هم راغلى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَتَعَلَّمَهُ وَعَمِلَ بِهِ أُلْبِسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَاجًا مِّنْ نُّورٍ ضَوْءُهُ مِثْلُ ضَوْءِ الشَّمْسِ، وَيُكْسٰى وَالِدَيْهِ حُلَّتَانِ لَا يَقُوْمُ بِهِمَا الدُّنْيَا . فَيَقُوْلَانِ : بِمَا كُسِيْنَا ؟ فَيُقَالُ : بِأَخْذِ وَلَدِكُمَا الْقُرْآنَ . (١)

چا چې قرآن كريم اُولوست ، بل ته يې اُوخود ، او په دې يې عمل وكړو نو د قيامت په ورځ به ده ته داسې د نُور تاج وَر په سَر كړې شي چې د هغې رڼا به د نمَر د رڼا په شان وي ، او دده والدينو ته به دوه داسې قيمتي جوړې وَرواغوستلې شي چې ټوله دُنيا به ددې دواړو قيمت ته نشي رسيدى ، دده والدين به ووايي :

بِمَا كُسِيْنَا ؟ مونږ ته دا جوړې د څه شي په عِوض كې راواغوستلې شوى ؟

دوى ته به ووېلې شي :

بِأَخْذِ وَلَدِكُمَا الْقُرْآنَ .

(١) المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٠٨٦ ذِكْرُ فَضَائِلِ سُوَرٍ، وآيٍ مُتَفَرِّقَةٍ . . وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . وصححه العلامة الالباني رحمه الله في صحيح الترغيب ١٤٣٤ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٨٧ ، المتجرالرابح في ثواب العمل الصالح ص ٢٤٩ ابواب قراءة القرآن .

ځکه چې ستاسو بچي قرآن کریم لوستلې وُ ( نو د هغې په عوض کې مو تاسو ته دا قیمتي جوړې دَر واغوستې ) .

په یو روایت کې د ده پلار ته د جنّتي اَمېل اچولو تذکره هم راغلې :

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنْ عَلَّمَ وَلَدًا لَهُ الْقُرْآنَ قَلَّدَهُ اللهُ قِلَادَةً يَعْجَبُ مِنْهَا الْأَوَّلُوْنَ وَالْآخِرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (١)

چا چې خپل بچي ته د قرآن کریم تعلیم ورکړو نو الله ﷻ به دې پلار ته د قیامت په ورځ داسې ( ښائسته قیمتي ) هار واچوي چې د هغې ( د ښائست ) نه به اَوّلني او روستوني ټول خلق تَعجب کوي .

## د حافظِ قرآن د پاره د آیتونو لوستلو په مقدار په جنت کې درجې اُوچتیدل

د ابوداؤد شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: اِقْرَأْ، وَارْتَقِ، وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا، فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا . (٢)

د قیامت په ورځ به صاحبِ قرآن ته ووېلې شي : ته قرآن کریم لوله او د جنت په درجو خیجه ، او په دُنیا کې چې څنګه تا په مزه مزه ( صحیح تجوید سره ) لوستلو نو هماغه شان

(١) رواه ابو نعيم عن ابي هريرة ، كنز العمال ج١ ص ٢٦٧ رقم الحديث ٢٣٨٢ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله ط. دار الكتب العلمية بيروت .

(٢) سنن ابي داؤد بَابُ اسْتِحْبَابِ التَّرْتِيلِ فِي الْقِرَاءَةِ رقم الحديث ١٤٦٤ ، ترمذي حديث ٢٩١٤ ، احمد ٢ / ١٩٢ ، البيهقي ٢ / ٥٣ ، مشكوة كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني حديث ٢٥./

وفي رواية : عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ إِذَا دَخَلَ الْجَنَّةَ اِقْرَأْ وَاصْعَدْ، فَيَقْرَأُ وَيَصْعَدُ بِكُلِّ آيَةٍ دَرَجَةً حَتَّى يَقْرَأَ آخِرَ شَيْءٍ مَعَهُ » . رواه ابن ماجه بَابُ ثَوَابِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ٣٧٨٠ ، واحمد في مسنده ، وصححه الشيخ الالباني في السلسلة الصحيحة رقم الحديث ٢٢٤٠ ، كنز العمال رقم الحديث ٢٣٣١ .

تلاوت كوه ، بيشكه ستا منزل ( د اُوسيدو ځاى ) به هغه آخري آيت وي چې ته يې لولې .
( يعنى چيرته چې آخري آيت ختم شو هلته به ستا د اُوسيدو ځاى وي ) .

فائده: صاحبِ قرآن چې د قرآن كريم څومره آيتونه لولي په هماغه مِقدار به په جنت كې دده درجې اُوچتولې شي .

په يو روايت كې راغلي چې د قرآن كريم څومره آيتونه دي په هماغه مقدار د جنت درجې دي ، كه يو كس ټول قرآن اُولولي نو هغه به دجنت په اُوچته درجه باندې وي .

رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّ عَدَدَ دَرَجِ الْجَنَّةِ عَدَدَ آيِ الْقُرْآنِ فَمَنْ دَخَلَ الْجَنَّةَ مِمَّنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ لَمْ يَكُنْ فَوْقَهُ أَحَدٌ (١)

بيشكه د جنت د درجو تعداد د قرآن كريم د آيتونو د تعداد برابر دى ( يعنى چې څومره د قرآن كريم آيتونه دي په هماغه مِقدار د جنت درجې دي ) . پس د قرآن كريم په حافظانو كې چې څوك جنت ته داخل شو او ده پوره قرآن اُولوست نو ( د اَنبياء كرامو نه علاوه ، په نورو اُمتيانو كې به ) دده نه پورته ( په درجه كې ) بل هيڅوك نه وي .

## د قرآن زده كوونكي او خودونكي ته دجنت ضمانت

رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فرمايي :

أَلَا مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ فَأَنَا لَهُ سَائِقٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَدَلِيلٌ إِلَى الْجَنَّةِ . (٢)

---

(١) ابن مردويه عن عائشة ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٢٧٢ ، ٢٤٢٤ ، ومثل هذا الحديث رواه البيهقي في شعب الايمان . /
امام رازي رحمه الله په تفسيرِ كبير كې ذكر كړي ، قَالَ أَبُو سُلَيْمَانَ الْخَطَّابِيُّ : جَاءَ فِي الْأَثَرِ : أَنَّ عَدَدَ آيِ الْقُرْآنِ عَلَى عَدَدِ دَرَجِ الْجَنَّةِ . يُقَالُ لِلْقَارِئِ اِقْرَأْ وَارْقَ فِي الدَّرَجِ عَلَى عَدَدِ مَا كُنْتَ تَقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ . فَمَنِ اسْتَوْفَى قِرَاءَةَ جَمِيعِ آيِ الْقُرْآنِ اِسْتَوْلَى عَلَى أَقْصَى الْجَنَّةِ . تفسير الرازي ١ / ٢٩ وَبَقِيَ مِنْ مَسَائِلِ الْفَاتِحَةِ أَشْيَاءُ نذكرها هاهنا : السنة في القراءة المسألة الثامنة : هكذا ذكر في المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٢٥٩ .

(٢) كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٧٠ الباب السابع : في ...رة القرآن وفضائله الفصل الأول: في فضائله ، في فضائل تلاوة القرآن .

خبردار ، چاچې قرآن کریم اُولوست ، بل ته يې اُوخوده ، او په دې کې چې کوم اَحکامات دي په هغې باندې يې عمل وکړو نو زه به د ده د پاره د جنت بوتلونکې شم ، او د ده د پاره به دليل ( يعنی رَهبري کوونکې ) جوړ شم .

## د قرآن کريم حافظان به د جنت عُرفاء ( رئيسان ) وي

نبي کريم ﷺ فرمايي : حَمَلَةُ الْقُرْآنِ عُرَفَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (١)

د قرآن کريم حافظان به د جنت عُرفاء ( رئيسان (٢) ) وي .

## په قرآن کريم باندې مَشغوله کس ته د نورو په نسبت ډير نعمتونه ورکول کيږي

څوک چې د قرآن کريم په زده کولو ، تلاوت کولو ، يادولو ، د دې په معانيو باندې د پوهيدلو ، او د دې په اَحکاماتو باندې د عمل کولو په وجه داسې مشغوله وي چې ده ته د نورو نفلي اَذکارو او دُعاګانو غوښتلو موقع نه ملاويږي نو الله جَلَّ جَلَالُهُ داسې انسان ته د دُعا غوښتونکو په نسبت ډير اَجرونه او نعمتونه ورکوي .

د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

يَقُوْلُ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ : مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْآنُ عَنْ ذِكْرِيْ وَمَسْأَلَتِيْ أَعْطَيْتُهُ أَفْضَلَ مَا أُعْطِيَ السَّائِلِيْنَ . وَفَضْلُ كَلَامِ اللهِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللهِ عَلَى خَلْقِهِ . (٣)

---

(١) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٢٨٩٩ ، تفسير كبير ٢ / ٣٠٩ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٢٨٩ .

وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : « حَمَلَةُ الْقُرْآنِ عُرَفَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، وَالشُّهَدَاءُ قُوَّادُ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، وَالْأَنْبِيَاءُ سَادَةُ أَهْلِ الْجَنَّةِ . تفسير كبير ١ / ٣٠٩ في تشريح سورة بقرة آيت ٣١ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٢٦٣ .

وَفِيْ رِوَايَةٍ : اَلْقُرَّاءُ عُرَفَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ . رواه ابن جميع في معجمه والضياء عن انس كنزالعمال رقم الحديث ٢٢٩٠ .

وَفِيْ رِوَايَةٍ : أَهْلُ الْقُرْآنِ عُرَفَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ . الحكيم عن ابي امامة كنزالعمال رقم الحديث ٢٢٨٨ .

(٢) اَلْعَرِيْفُ: رَئِيسُ القومِ ، سُمِّيَ لِأَنه عُرِفَ بذلك ، أو النَّقيبُ ، وهو دونَ الرئيسِ . القاموس المحيط ١ / ٧٣٦ .

اَلْعَرِيْفُ : اَلنَّقِيْبُ وَهُوَ دُونَ الرَّئِيسِ وَالْجَمْعُ عُرَفَاءُ . مختارالصحاح ١ / ٢٠٦ .

(٣) رواه الترمذي باب ٢٥ رقم الحديث ٢٩٢٦ ، والدارمي والبيهقي في شعب الايمان ، وقال الترمذي : هذا حديث حسنٌ غريب ، مشكاة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني حديث ٢٧ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٣٢ .

( حديث قدسي دى ) الله تبارک و تعالى فرمايي : څوک چې قرآن کريم مشغوله کړي زما د ذِکر او د مانه د دُعا غوښتلو نه ، نو زه به هغه ته د هغه څيز نه هم ډير بهتر څه ورکوم ، کوم چې غوښتونکو ته ( د دُعا غوښتلو په وجه ) ورکولې شي .

يعنى څوک چې د قرآن کريم سره د مشغولتيا په وجه نه ذکر کولې شي او نه د ځان د پاره دُعاګانې غوښتې شي نو الله ﷻ فرمايي چې زه به ده ته د ( ذکر کوونکو او د ) دُعاګانو غوښتونکو نه ډير بهتر اَجرونه او نعمتونه ورکوم .

## د قرآنِ کريم لوستونکې د نبُوت علومو لره جمع کوونکې دى

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَقَدِ اسْتَدْرَجَ النُّبُوَّةَ بَيْنَ جَنْبَيْهِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يُوحٰى إِلَيْهِ . لَا يَنْبَغِي لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ أَنْ يَجِدَّ مَعَ مَنْ جَدَّ ، وَلَا يَجْهَلَ مَعَ مَنْ جَهِلَ وَ فِي جَوْفِهِ كَلَامُ اللهِ تَعَالَى . (١)

چا چې قرآن کريم اُولوست نو ده د نبوّت علوم د دواړو اَړخونو په مينځ (يعنى زړه کې ) حاصل ( او راجَمع ) کړه اګر چې ده ته وَحي نشي کولى ، ( لهذا اوس ) د صاحبِ قرآن د پاره مناسب نه دي چې دې غُصه کوونکو سره غُصه وکړي ، او دې به د جاهِلانو سره جهالت نه کوي حال دا چې دده په سينه (زړه) کې د الله ﷻ کلام موجوذ دى .

يعنى کله چې د قرآن کريم لوستونکي او حافظ دومره لوي شان دى چې ده په خپله سينه کې د نبوت علوم جَمع کړي نو دده دپاره اوس دا ضروري ده چې بهترين اَخلاق په ځان کې پيدا کړي ، د بَدو اخلاقو نه ځان اُوساتي ، د غصه کوونکو سره غصه اونکړي ، او د جاهلانو سره جهالت او نه کړي ، ځکه دده په سينه کې د الله ﷻ کلام موجود دى .

(١) المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ٢٠٢٨ أَخْبَارٌ فِي فَضَائِلِ الْقُرْآنِ جُمْلَةً . وقال الحاکم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . کنزالعمال ج١ ص ٢٦٣ رقم الحديث ٢٣٢٦ ط . دارالکتب العلمية بيروت ، المنذري الترغيب والترهيب ٢ / ٣٥٢ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٢٥٣ .

## نبي عليه السلام د تلاوت کوونکي خله ښکل ( چَپ ) کړه

په دې مشهورو قاريانو کې يو قاري تېر شوی "امام عاصم رحمه الله " . ده به په مسجدِ نبوي کې د قرآن کريم تعليم ورکولو ، دده د خُولې نه به هر وخت د مُشکو او عَنبرو نه هم زياته بهترينه خُوشبوئي تلله ، خلق به ورته ډير حېران وو ، يو ځل ورنه يو کس پوښتنه وکړه : تاسو په خُله کې کوم قِسمه خوشبوئي يا بل څيز ږدی چې د هغې په وجه ستاسو د خُولې نه ډيره بهترينه خُوشبوئي راځي ؟

ده ورته وويل : يوه پېره مې په خُوب کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره ملاقات اوشو ، هغوی راته وفرمايل :

اې عاصم ! ته دومره په شَوق او محبت سره د قرآن کريم تلاوت کوی چې زما ډير خوښيږي ، لهذا ته دا خپله خُله راديخوا کړه چې زه يې ښُکل کړم . نو نبي عليه السلام په خوب کې زما خُله ښُکل ( چَپ ) کړه . د هماغه وخت نه راپه ديخوا زما د خُلې نه دا بهترينه خوشبوئي ځي . (١)

نوټ : همدغه شان واقعه د امام نافع مدني رحمه الله په باره کې هم راغلې ده .

## د قرآن کريم لوستونکې به اَرزلُ العُمر ته نه رسي

الله تبارک وتعالی انسان په ډير ښائسته شکل و صورت سره پيدا کړی ، ر ب کريم فرمايي :

﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيْ أَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ﴾ . (٢)

ترجمه : بيشکه مونږ انسان په ډير ښه ( مُعتدِل شکل و ) صورت پيدا کړو .

خو د ځوانئ تېريدلو نه روستو جِسماني لحاظ سره انسان کمزوری شي او د بوډا والي په وجه يې ظاهري ښائست ختم شي ، چې بيا د کمزورتيا په وجه هيڅ نيک کار نشي کولی ، بلکه اَرْذَلُ العُمر ته اُورسي .

---

(١) اهلِ دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج٢ ص ٥٦ ، خطبات فقیر ج٢٧ ص ٧٥ .

(٢) سورة التين آيت ٤ .

ددې بيان الله ﷻ داسې کړی :

﴿ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ﴾ . (١)

ترجمه : بيا مونږ راګرځوو دا انسان د ښکته مرتبې واله نه هم ډير ښکته حالت ته .

يعنی د بوډاوالي په وجه يې د ټولو نه ښکته مرتبې ته راګرځوو ، او أَرْذَلُ العُمر ته اورسي چې بيا په هيڅ شي نه پوهيږي ، هيڅ نيک عمل نشي کولی ، او د هيڅ فائدې نه وي.

البته چې کوم مؤمن د ايمان نه روستو نيک أعمال کوي ، دقرآن مجيد تلاوت کوي نو الله ﷻ دې أَرْزَلُ العُمر ته نه رسوي ، بلکه ده چې به په ځوانۍ کې کوم عبادت کول د هغې أجر و ثواب به دده د پاره اوس هم ليکلې شي .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴾ . (٢)

ترجمه : مګر چا چې ايمان راوړو او نيک عملونه يې اوکړه نو د دوی د پاره نه ختميدونکې أجر دی ( او دوی به أرزلُ العُمر ته نه رسي ) .

همدا خبره د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه هم نقل ده ، دې فرمايي :

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ لَمْ يُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا. وَذٰلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ { ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا } قَالَ : إِلَّا الَّذِينَ قَرَءُوا الْقُرْآنَ . (٣)

چا چې قرآن کريم اُولوست نو دې به ذليل عُمر ته نشي واپس کولی چې د پُوهې نه روستو بيا په هيڅ شي نه پوهيږي ، ددې په باره کې الله ﷻ فرمايي : ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا . ترجمه : بيا به مونږ انسان د ټولو نه ښکته مرتبې ته راګرځوو ، مګر څوک چې ايمان راوړي .

---

(١) سورة التين آيت ٥ .

(٢) سورة التين آيت ٦ .

(٣) المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ٣٩٥٢ تَفْسِيرُ سُورَةِ وَالتِّينِ ، وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٤٣٣ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٢٥٠ .

ابن عباس رضي الله عنهما د إِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په تشريح کې وفرمايل : إِلَّا الَّذِيْنَ قَرَءُوْا الْقُرْآنَ يعنى چا چې قرآن کريم اولوست نو دې به ذليل عُمر ته نه رسي . (١)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ جَمَعَ الْقُرْآنَ مَتَّعَهُ اللهُ بِعَقْلِهِ حَتّٰى يَمُوْتَ . (٢)

چا چې قرآن کريم جَمع کړو ( يعنى ياد يې کړو ، او ددې تلاوت يې کولو ) نو الله تعالى به ده ته تر مرګه پورې د خپل عقل نه د فائدې اخيستلو توفيق ورکړي .

يعنى اګر چې دې ډير بوډا شي خو بيا به هم دده عقل کار کوي .

## د قرآن کريم حافظ مُستجاب الدّعوات وي

الله رب العزت حافظِ قرآن ته دومره لوي مقام ورکړی چې دې يې مُستجابُ الدّعوَات ګرځولى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ لِحَامِلِ الْقُرْآنِ دَعْوَةً مُسْتَجَابَةً يَدْعُوْ بِهَا فَيُسْتَجَابُ لَهُ . (٣)

بيشکه د حافظِ قرآن دُعا مُستجابه وي ، دې چې کله دُعا غواړي نو دده دُعا قبلولې شي .

## د قرآن کريم او ديني علومو د زده کړې په وخت وفات کيدل د شهادت مرګ دی

کله چې يو طالبُ العلم د قرآن کريم يا نورو ديني علومو زده کړه کوي ، او دې په دې حالت کې وفات شي نو دې شهيد دی ، او دده مرګ د شهادت دی .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

(١) إِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : وللمفسرين في معنى الاستثناء قولان: أحدهما : إِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ، فإنهم لا يُرَدُّون إلى الخَرَف، وأَرْذَلِ العُمُر وَ إِنْ عُمِّرُوْا طَوِيْلًا . قال ابن عباس : مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ لَمْ يُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ. تفسير زاد المسير ج٢ سورة التين آيت ٥ .

(٢) رواه ابن عدي في الكامل ، كنزالعمال رقم الحديث ج ١ ٢٣١٨ الباب السابع : في تلاوة القرآن وفضائله الفصل الأول: في فضائله في فضائل تلاوة القرآن ط. دارالكتب العلمية بيروت .

(٣) رواه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ٢٠٢١ ، والديلمي في مسند الفردوس ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٤ رقم الحديث ٢٣٥٢ ، وص ٢٦١ رقم الحديث ٢٣١٢ الباب السابع : في تلاوة القرآن وفضائله .

إِذَا جَاءَ الْمَوْتُ لِطَالِبِ الْعِلْمِ وَهُوَ عَلَى هٰذِهِ الْحَالَةِ مَاتَ وَهُوَ شَهِيْدٌ . (١)

كله چې طالب العلم ته مرګ راشي او دې د عِلم په طلب کې وي نو دې شهيد دی (او دده مرګ د شهادت دی).

په يوه موقع باندې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايل:

يَا عَلِيُّ ! تَعَلَّمِ الْقُرْآنَ وَعَلِّمْهُ النَّاسَ فَلَكَ بِكُلِّ حَرْفٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ . فَإِنْ مِتَّ مِتَّ شَهِيْدًا ... (٢)

اې علي ! ته قرآن کريم زده کړه، او بل ته يې ورښايه ځکه ستا د پاره د هر حرف په عِوض کې لس (١٠) نيکۍ دي، پس که چيرته ته په دې حالت کې وفات شوې نو ته به شهيد وفات شې. (يعنی ستا مرګ به د شهادت وي).

## چاته چې قرآن ورکړې شو نو ده بهترين نعمت ورکړې شو

چاته چې الله جل جلاله د تلاوت کولو توفيق ورکړو، يا يې په ناظره يا حفظ باندې د قرآن کريم د ختمولو توفيق ورکړو نو ده ته الله جل جلاله يو عظيم نِعمت ورکړو، اوس ده ته په کار دي چې دې ددې نعمت شکريه اداء کړي.

ځکه د دُنيا مال و دولت، عُهدې او وَزارتونه ددې نِعمت مقابَله هيڅ کله نشي کولی.

الله تعالی دا نِعمت په طور د اِحسان ذکر کړی، نبي عليه السلام ته فرمايي:

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ﴾. (٣)

ترجمه: او بيشکه مونږ درکړي دي تاته اُووه (آيتونه، يعنی سورة فاتحه) چې (په مانځه کې) باربار لوستلې شي، او د عَظمت واله قرآن کريم (مو درکړی دی).

(١) رواه البزار والطبراني في الاوسط، الترغيب والترهيب ١ / ٥٤ رقم الحديث ١١٥ كتاب العلم الترغيب في العلم وطلبه ... كنزالعمال كتاب العلم من قسم الاقوال الباب الاول في الترغيب فيه رقم الحديث ٢٨٦٩٣.

(٢) رواه ابونعيم، كنزالعمال ج١ ص٢٦٦ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله رقم الحديث ٢٣٧٣.

(٣) الحجر آيت ٨٧.

بعضې وخت د قرآن کريم حافِظ د غُربت په وجه په احساسِ کمترئ کې مُبتلاء شي ، دې دا گمان وکړي چې گني دې دُنيا دارو ته د مانه ښه نعمت ورکړې شوې دی ، نو دده په نظر کې دا مال و دولت لوي نِعمت ښکاره شي ، نو په حقيقت کې ده ددې نعمت ناشکري وکړه ، ځکه ده ته چې الله ﷻ دا عظيم نِعمت يعنی قرآن کريم ورکړی نو ده دا وړوکې اُوگنړل ، او د دُنيا دا فاني شيان يې غټ اُوگڼل .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

... مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَرَأَى أَنَّ أَحَدًا أُعْطِيَ أَفْضَلَ مِمَّا أُعْطِيَ، فَقَدْ عَظَّمَ مَا صَغَّرَ اللهُ، وصَغَّرَ مَا عَظَّمَ اللهُ... (١)

چا چې قرآن کريم اُولوست ، بيا ده دا گمان وکړو چې دا ده ته کوم قرآن ورکړې شوی بل چاته گني دده نه بهترين نِعمت ورکړې شوی نو ده ( ددې قرآني نِعمت ناشکري وکړه ، ځکه ده ) هغه څيز ( يعنی مال و دولت ) لوي اوگڼل کوم چې الله ﷻ وړوکې گرځولی ، او هغه قرآن ده وړوکې نِعمت اوگڼل کوم چې الله ﷻ لوي نعمت گرځولی .

## قرآن کريم د دوارو جهانو عظيم دَولت دی

د امامِ شافعي رحمه الله په زمانه کې يو کس واده کړې وُ خو بچي يې نه کيده ، په آخِري عُمر کې ورته الله ﷻ لور ورکړه ، ده د ديرې خوشحالئ نه قسَم وکړو چې " قسَم په الله زه به دې ته د جَهيز په وخت د دوارو جهانو دولت ورکوم " .

کله يې چې دا لور غټه شوه نو دده سره فِکر پيدا شو چې د ماسره خو د دوارو جهانو دولت نشته نو زه به اوس څه کار اوکړم چې ددې قسَم نه خلاص شم ؟

ده به د هر عالِم نه ددې مسئلې پوښتنه کوله خو هيچا صحيح جواب ورنکړو ، ځکه ددې کس سره خو د دوارو جهانو دولت نه وُ .

(١) المعجم الكبير للطبراني ١٣ / ٦٤٩ رقم الحديث ١٤٥٧٥ ، ابن ابي شيبة عن ابن عمر موقوفا ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٤ رقم الحديث ٢٣٦٤ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله . /

وفي رواية : من قرأ القرآن فرأى أن من خلق الله أعطي أفضل مما أعطي فقد صغر ما عظم الله وعظم ما صغر الله ...

رواه الخطيب عن ابن عمر ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٣ رقم الحديث ٢٣٤٧ الباب السابع في تلاوة القرآن .

کله چې دا کس امام شافعي رحمه الله ته راغی ، او ده ته يې خپله واقعه ذکر کړه نو هغوی ورته وويل :

ستا د قسَم نه د بَري کيدو ډير آسان علاج دی ، هغه دا چې " ته دې خپلې لور ته قرآن مجيد وَرزده کړه ، بيا چې کله واده کيږي نو قرآن مجيد ورته ورکړه چې د ځان سره يې ويسي ،که داسې دې وکړه نو قسَم په الله چې تا خپلې لور ته په جهيز کې د دواړو جهانو دولت ورکړو . او ته به د قسَم نه هم بَري شی .

محترمو وروڼو ! که انسان سوچ وکړي نو په حقيقت کې لويه غِنٰي او لوي دولت همدا قرآن کريم دی ، ځکه دا په دُنيا او آخرت دواړو کې د انسان په کار راځي .

او مال که په بُنو ځايونو کې خرچ نه کړې شي نو دا په آخرت کې د انسان هيڅ په کار نه راځي . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْقُرْآنُ غِنًى لَا فَقْرَ بَعْدَهُ، وَلَا غِنًى دُوْنَهُ . (١)

قرآن کريم داسې غِنٰي او دولت دی چې د دې نه روستو فَقر نشته ، او د قرآن کريم نه بغير غِنٰي نشي راتلی .

يعنی که يو چا قرآن مجيد ويلې وي ، يا يې ياد کړې وي نو دا په حقيقت کې لوي غني دی ، او چې دچا سره ډير مال و دولت وي خو چې دا عظيم نِعمت " قرآن کريم " ورسره نه وي نو دا حقيقي غَنِي نه دی .

## واقعه :

علماؤ يوه واقعه رانقل کړی چې د قرآن کريم په يو قاري باندې يو ډيره سخته فقيري راغله ، دې اَندازې ته اُورسيده چې زړه کې يې شِکايت پيدا شو چې د ماسره خو هيڅ شی نشته ، ده د شپې خوب اُوليده ، په خوب کې ورته يو ويونکې وايي :

(١) رواه الطبراني في المعجم الكبير رقم الحديث ٧٣٨ ( ١ / ٢٥٥ ) ، وابو يعلى في مسنده ومحمد بن نصر عن انس ، كنزالعمال ج١ ص ٢٦٠ رقم الحديث ٢٣٠٣ ، تفسير ابن رجب الحنبلي ١ / ٤٥ ، التفسير من سنن سعيد بن منصور محققا ١ / ٣٣ .

وفي رواية : أغنى الناس حملة القرآن من جعله الله تعالى في جوفه . رواه ابن عساكر عن ابي ذر ، كنزالعمال ج١ ص ٢٥٧ رقم الحديث ٢٢٥٨ ، و ٣٠٣٩ .

أَتَوَدّ أَنَّا أَنْسَيْنَاكَ سُوْرَةَ الْأَنْعَامِ وَلَكَ أَلْفُ دِيْنَارٍ ؟

آيا ستا دا خوښه ده چې مونږ د تانه سورة انعام هېر کړو او تاته د دې په عِوض کې زر (۱۰۰۰) دِيناره درکړو ؟

ده ورته وويل: لَا . دا زما نده خوښه .

هغه بيا ورته وويل : مونږ به د تانه سورة هود هېر کړو او دهغې په عِوض کې به زر (۱۰۰۰) ديناره درکړو ؟

ده اِنکار وکړو . هغه ورته سورة يوسف ياد کړو خو ده اِنکار وکړو .

هغه ورته وويل :

فَمَعَكَ قِيْمَةُ مِائَةِ أَلْفٍ وَأَنْتَ تَشْكُوْ .

د تاسره خو د يو لک (۱۰۰۰۰۰) ديناره قيمت په اَندازه دولت (سورتونه) موجود دي ، حالانکه ته بيا هم ( د فقيرۍ ) شکايت کوې .

کله چې سهر راپاڅيده نو ټول غمونه يې ختم شوي وو . (۱)

نوټ : دا يې صرف ددې قاري د پُوهولو د پاره ده ته يو لک ديناره ياد کړه ، وَرنه د قرآن کريم د يو معمولي آيت قيمت د ټولې دُنيا سره زَر ، سپين زَر او دا مال و دولت نشي پوره کولی .

## ماشوم ته د ټولو نه مخکې قرآني تعليم ځودل په کار دي

محترمو سامعينو ! مسلمان ته په کار دي چې د ټولو نه مخکې خپل بچي ته قرآني تعليم اُوښايي ، بيا ددې نه پس که ده ته دُنيوي تعليم يا دُنيوي کار وَرزده کوي نو خير دی .

نن صبا دا مرض عام شوی چې ماشوم د قرآني تعليم نه محرومولې شي ، او د ټولو نه اول په دُنيوي تعليمونو او کارونو باندې مشغوله کولې شي ، چې دا دَرحقيقت د خپلو بچو سره ظُلم او زياتې کول دي .

(۱) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص۲۳۳ كتاب تلاوة القرآن .

او دا خبره په تَجربې سره ثابته شوې ده چې کله ماشوم ته اول قرآن کريم اُوښودې شي نو د غوږونو د لارې نه د ايمان تُخم دده زړه ته داخل شي ، او زړه يې د قرآن کريم په رڼا باندې مُنوّر شي .

اوس چې دې هر ماحول او هر ميدان ته ځي نو دې به کامياب وي ، ځکه دقرآن کريم نور او برکت به دده سره موجود وي چې ددې په وجه به دا د معاشرې يو بهترين انسان وي .

او که چيرته ده ته د ټولو نه اول د قرآني آيتونو ، بسم الله ، الحمدُلله وغيره په ځای باندې فضول او بې فائدې خبرې يعنی د سپو او پيشوګانو نومونه ( Cat ، dog وغيره ) اُوخودې شي نو دده په زړه کې به کې به د ايمان رڼا څنګه داخل شي ؟ دده په زړه کې به دقرآن کريم برکات څنګه داخل شي ؟ دده په زړه کې به د اِسلام سره مينه څنګه پيدا شي؟

دده په زړه کې به د آخرت فکر او د الله ﷻ د وړاندې د اُودريدو اِحساس څنګه پيدا شي؟

خامخا به دده نه د مُعاشرې بَدترين انسان " غَل او ډاکو " جوړيږي ، چې په خلقو باندې به ظلمونه کوي ، او د دوی حَياء او عزت ته به نقصان رسوي .

لهذا مسلمان ته په کار دي چې د ټولو نه اول خپل بچي ته د قرآن کريم تعليم اُوښايي ، بيا يې که په نورو تعليمونو او کارونو باندې مشغوله کوي نو بيا خېر دی .

## د قرآن کريم د زده کړې د پاره د صحابه کرامو تکليفونه بَرداشت کول

په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې نن صبا د اکثرو مسلمانانو په زړونو کې د قرآن کريم صحيح قدر و عظمت ، او ددې عظيم نِعمت كَمَا حَقَّهُ قدَرداني نشته .

ځکه مونږ ددې نعمت په حاصلولو کې هيڅ تکليفونه نه دي برداشت کړي ، هيڅ قربانۍ مو ندي ورکړي . وجه داده چې الحمدُلله هر طرف ته اِسلامي مدارس موجود دي ، په دې کې شَب و روز د قرآن کريم زده کړه کيږي چې ددې په برکت باندې الله رب العزت دا لوئ نِعمت مونږ ته په کور کې بغير د څه تکليف نه رانصيبه کړی .

که چيرته مونږ د صحابه کرامو په ژوند باندې نظر واچوو نو دا به راته معلومه شي چې هغوی د يو يو آيت په زده کولو کې څومره تکليفونه برداشت کړي ، د خپل مال و جان قُرباني

يې وركړى ، د كافرانو وَهل او ظلمونه يې برداشت كړي ، داسې قرباني يې وركړي چې د هغې مثال په دُنيا كې نه پيدا كيږي .

دا خو د هغوى ددې تكليفونو او قربانيو نتيجه ده چې اوس الحمدُلله قرآن كريم د مونږ سره تيار ليكلې شوى په كتابي شكل كې موجود دى .

صحابه كرامو به يو يو آيت ډير په تكليف او مُشقت زده كولو .

په بخاري شريف كې د يو صحابي واقعه ذكر ده كوم چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په زمانه كې ماشوم وُ ، او د مدينې منوّرې نه په ډيره لرې فاصله كې اُوسيده ، دې چونكه مسلمان شوې وُ خو د لرې والي او څه ذاتي مَجبوريو په وجه مدينې منوّرې راتلل ورته مشكل وو .

دې خپله واقعه بيانوي چې كله به يوه قافله د مدينې منوّرې نه راغله نو زه به ورغلم ، ورته به مې وويل :

وروره ! تاسو د مدينې منوّرې نه راغلي يئ ؟ آيا په تاسو كې چاته دقرآن كريم يو آيت ياد دى ؟

نو چاته به يو آيت ياد وُ ، چاته به دوه ، او چاته به درې آيتونه ياد وو ، ما به د هغوى نه دا آيتونه زده كړه . په همدې طريقې سره به ما د قافلې والهٔ نه يويو دوه دوه آيتونه زده كول چې اوس الحمدُلله د ماسره د قرآن كريم يوه ډيره ذخيره موجود ده . (١)

فائده : ديته د قرآن كريم د زده كړې سره مينه وايي چې د قافلې والهٔ ته به يې مِنت او زارى كولى او د هغوى نه يې يويو آيت زده كولو .

چونكه صحابه كرامو په ډيرو تكليفونو او مشقتونو سره دا قرآن كريم حاصل كړې وُ نو ځكه يې ورته قدر و قيمت معلوم وُ . مونږ ته چونكه بغير د څه تكليف نه په آسانه طريقې سره دا دولت ملاوْ شوې دى نو ځكه يې راته پوره قدر وقيمت نه دې معلوم ، خو چې كله د انسان ستركې پټې شي ، وفات شي او دې د قبر او قيامت دا سختې مَرحلې اُوويني نو ده

(١) اصلاحي خطبات لمولانا تقي عثماني ج٣ ص٥٣ .

ته به بيا د قرآن کريم قدر و عَظمت معلوم شي چې د هر يو آيت په عِوض کې انسان ته څومره نِعمتونه او انعامونه ملاويږي ؟

# د قرآن کريم زده کړه ، دَرس و تدريس خالِصه د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی

محترمو ! په آخر کې دا خبره په ذهن کې کینوئ : په شريعت کې چې د قرآن کريم د زده کوونکي ، ښودونکي او تلاوت کوونکي څومره فضائل راغلي دا هغه وخت انسان ته حاصليږي چې کله دا کارونه خالِصه د الله ﷻ د رَضا د پاره وکړي .

او که چيرته په دې سره د الله ﷻ د رَضا نه علاوه څه بله دُنيوي فائده ، يا شُهرت ، يا رِکاري مقصود وي نو دا بيا ډير ضررناک دی ، ځکه په دې سره بيا دا انسان په هغه بَدنصيبه خلقو کې شمارل کيږي په کومو باندې به چې د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکې جهنم ته د تللو فيصله کولې شي ، او پرمَخ به جهنم ته غورځولې شي .

ددې په باره کې درته د مسلم شريف حديث بيانوم : رسول الله ﷺ فرمايي : (١)

د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکې چې د کومو خلقو خلاف جهنم ته د تللو فيصله کولې شي په هغې کې به اولنې هغه کس وي چې ( په ميدانِ جنګ کې ) شهيد شوې وي .

---

(١) إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اُسْتُشْهِدَ . فَأُتِيَ بِهِ . فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا . قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ . قَالَ : كَذَبْتَ . وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ : جَرِيْءٌ . فَقَدْ قِيْلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ . فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ .
وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ . وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ . فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ . فَعَرَفَهَا . قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ . قَالَ : كَذَبْتَ . وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ . وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ . فَقَدْ قِيْلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ .
وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ . وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ . فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ . فَعَرَفَهَا . قَالَ : فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ . قَالَ : كَذَبْتَ . وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ . فَقَدْ قِيْلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ . ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ . صحيح مسلم بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اسْتَحَقَّ النَّارَ رقم الحديث ١٩٠٥ ، ورواه احمد في مسنده ، والنسائي رقم الحديث ٣١٣٧ مَنْ قَاتَلَ لِيُقَالَ فُلَانٌ جَرِيْءٌ ، كنز العمال رقم الحديث ٧٤٧١ .

دا شهيد به د الله ﷻ د وړاندې راوستې شي ، الله تعالى به ده ته د هر هر نعمت اظهار اوفرمايي ( چې ما تاته دا دا نعمتونه درکړي وو ) ، هغه به هر نعمت اوپيژني ( او ددې اقرار به اوکړي ) . بيا به الله تعالى ورته وفرمايي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نعمتونو کې څه څه کړي وو ؟ (او د کومو مقاصدو د پاره دې استعمال کړي وو ؟ )

دې به ورته ووايي : ( ما آخري عمل دا کړې ؤ چې ) ما ستاد رَضا د پاره جهاد وکړو تر دې پورې چې، زه شهيد شوم ( او خپل قيمتي روح مې ستا په لاره کې قُرباني کړو ) .

الله تعالى به ورته وفرمايي : .

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ : جَرِيْءٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، تا خو ددې د پاره جهاد کړې ؤ چې تاته بَهادر وويلې شي ، او دا تاته په دُنيا کې ويل شوي وو ( لهذا ستا مقصد حاصل شوی ) .

بيا به د الله ﷻ د طرفه ده په باره کې حکم وکړې شي ، دې به پَرمخې راښکلې شي او جهنم ته به اُوغورځولې شي .

دويم به هغه کس وي چې هغه عِلم حاصل کړې وي ، بيا يې بَل ته خودلې وي ، او قرآن کريم يې هم لوستلې وي . دې به هم د الله ﷻ د وړاندې پيش کړې شي ، الله تعالى به ده ته هم خپل ورکړي نعمتونه وریاد کړي ، دې به هم د هغې اِقرار وکړي ، بيا به ورنه پوښتنه وکړي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نِعمتونو کې څه څه کارونه کړي وو ؟ ( او څنګه دې استعمال کړي وو ؟ )

دې به ورته ووايي :

تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيْكَ الْقُرْآنَ .

ما عِلم حاصل کړې ؤ ، بيا مې نورو ته اُوخوده ، او خالِصه ستا د رَضا د پاره مې قرآن مجيد لوستلې ( او حاصل کړې ) ؤ .

الله تعالى به ورته وفرمايي :

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ العِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ ، وَقَرَأْتَ القُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، تا خو عِلم ددې د پاره زده کړې وُ چې خلق درته عالِم ووايي ، او قرآن کريم دې ددې د پاره لوستلې (او حاصل کړې) وُ چې خلق درته قاري ووايي ، او دا تاته (په دُنيا کې) ويل شوي (لهذا ستا مقصد حاصل شوی) .

بيا به د الله ﷻ د طرفه دده په باره کې هم حکم اوشي ، دې به هم پَرمخې رابنکلې جهنم ته اوغورځولې شي .

دريم به هغه کس وي چې په هغه باندې الله ﷻ په دُنيا کې فراخي راوستې وه ، او هرقسم مال يې ورکړې وُ ، دې به هم د الله ﷻ د وړاندې راوستې شي ، الله ﷻ به ده ته هم خپل نِعمتونه وَرياد کړي (چې ما تاته دا دا نِعمتونه درکړي وو) ، دې به د ټولو اِقرار وکړي ، بيا به الله ﷻ ورته وفرمايي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نِعمتونو کې څه کړي وو ؟ (او څنګه دې استعمال کړي وو ؟)

دې به ورته ووايي :

مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيْهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيْهَا لَكَ .

اې الله ! په کومو ځايونو کې چې مال خرچ کول تاته خوښ وو په هغه ټولو ځايونو کې ما خپل مال صِرف ستا د رَضا د پاره خرچ کړې وُ .

الله تعالى به ورته وفرمايي :

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، دا کارونه خو تا ددې د پاره کړي وو چې خلق درته سخي ووايي ، او دا (په دُنيا کې) تاته ويل شوي (لهذا ستا مقصد هم حاصل شوی) .

بيا به دده په باره کې حکم اوشي ، او دې به هم پَرمخې رابنکلې شي ، او جهنم ته به اُوغورځولې شي .

**فائده** : په دې حديث کې د درې (۳) أعمالو ذکر اُوشو ؛

۱ . په جهاد کې شهيد کيدل .

۲. د عِلم زده کړه، بيا بل ته خودل، او د قرآن کريم په لوستلو او حاصلولو کې مشغوله کيدل.

۳. د خير په کارونو کې خپل مال خرچ کول.

اوس که چيرته دا کارونه خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره وي نو بې د شک و شبهې نه دا د جنت حاصلولو بهترين ذرائع دي، ليکن که چيرته په دې کې د الله ﷻ رَضا نه وي، بلکه رِياء کاري، شُهرت، يا څه دُنيوي فائده مقصود وي نو بيا ددې داسې سخته سزا ده چې د قيامت په ورځ به د نورو ګناهګارانو نه مخکې د دوی د پاره د جهنم د تللو فيصله کولې شي، او پَرمخې به جهنم ته غورځولې شي. اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا.

ددې حديث د وجې علماء کرامو ليکلي چې په نيکو کارونو کې د اِخلاص او د الله ﷻ د رَضا نيت کول واجب دي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا أُمِرُوْا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ﴾. (۱)

ترجمه: او دوی ته خو صرف حکم ددې شوې ؤ چې دوی دې د الله عبادت کوي، خالِص کوونکي د هغه د پاره بندګي (يعنی دين دې هم خالِص د هغه مَني، او په اِخلاص دې عبادت کوي).

همدغه رنګې ددې پاس حديث په رڼا کې د رِياء حُرمت او ددې سخته سزا هم معلومه شوه. (۲)

(۱) البينة آيت ٥.

(۲) قوله صلى الله عليه وسلم في الغازي والعالم والجواد وعقابهم على فعلهم ذلك لغير الله وإدخالهم النار دليلٌ على تغليظ تحريم الرياء وشدة عقوبته وعلى الحث على وجوب الإخلاص في الأعمال كما قال الله تعالى {وما أُمروا إلا ليعبدوا الله مخلصين له الدين}. وفيه أن العمومات الواردة في فضل الجهاد إنما هي لمن أراد الله تعالى بذلك مخلصاً. وكذلك الثناء على العلماء وعلى المنفقين في وجوه الخيرات كله محمول على من فعل ذلك لله تعالى مخلصاً. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم.

# دُعا

الله تعالی مونږ ته توفيق راکړي چې په خپلو بچو باندې د قرآن کريم حفظ وکړو ، پَروردِګار دې مونږ ته په اِخلاص او صحيح طريقې سره د قرآن کريم د زده کولو ، ددې د تلاوت کولو ، په دې باندې د پوهيدلو او په دې باندې د عمل کولو توفيق راکړي.

او ربِ کريم دې مونږ ټول د قرآن کريم په زده کړه کې د رِياء کارۍ او شُهرت نه اُوساتي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

**نوټ** : د قرآن کريم د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائل ددې کتاب په آخر کې د صفحه ۲۷۲ نه تر صفحه ۳۳۴ پورې تقريبًا اُووه اَويا (۷۷) مسائل ذکر دي، د هغې نه د ځان د پاره اِنتخاب وکړئ ، او د وخت او موقع مناسب يې بيان کړئ.

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا شُهَدَاءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴾ .البقرة آيت ٢٣.

# د قرآن كريم اِعجاز

تاليف


اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القُرآن اكاخيل كالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د قرآن كريم اعجاز

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَارَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ،

اَمَّابَعْدُ فَأَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهِ وَادْعُوْا شُهَدَاءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴾ . (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ : ... فَضْلُ كَلَامِ اللّٰهِ عَلٰى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللّٰهِ عَلٰى خَلْقِهِ . (٢)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم .

محترمو مسلمانانو ورونو ! غوارم چې نن ستاسو د وړاندې د قرآن كريم اِعجاز بيان كړم ، خو د ټولو نه مخكې د مُعجزې تعريف اُوپيژنئ ، چې مُعجزه چاته وايي ؟

## د مُعجزې تعريف

شيخ عبدالحق مُحدث دهلوي رحمه الله د مُعجزې لغوي معنى په باره كې فرمايي :

چې معجزه د اِعجاز نه اخيستل شوى ، دا صيغه د اسمِ فاعل ده ، لغوي معنى يې ده: عاجز كوونكې انسان لره ( په اُردو كې يې معنى ده : عاجز كرنے والي بات ، عاجز كرنے واله عمل ) . (٣)

(١) البقرة آيت ٢٣ .

(٢) رواه الترمذي رقم الحديث ٢٩٢٦ باب ٢٥ قبل كتاب القراءت ، والدارمي ، والبيهقي في شعب الايمان ، الابانة الكبرى لابن بطة ج٥ ص٢٢٣ رقم الحديث ١ ، ٢ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٣٢ ، ٢٣٥٣ .

(٣) مظاهر حق شرح مشكوة ج٩ باب في المعجزات.

او معجزې ته هم مُعجزه ځکه وايي چې ددې د کولو نه هم انسان عاجزه وي. (۱)

او په اِصطلاح کې د مُعجزې تعریف دادی:

أَمْرٌ خَارِقٌ لِلْعَادَةِ يُظْهِرُهُ اللهُ عَلَى يَدِ نَبِيٍّ تَأْيِيدًا لِنُبُوَّتِهِ وَمَا يَعْجِزُ الْبَشَرُ أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِهِ. (۲)

معجزه هغه څیز دی چې خَارِقُ العادة وي (يعنی د عادت خلاف وي)، دا الله ﷻ د نبي په لاس باندې ظاهروي، او نور انسانان ددې په شان کار کولو نه عاجزه وي.

يعنی الله ﷻ چې د خپل پيغمبر په لاس باندې کوم خَارِقُ العادة کارونه او نخې ظاهر کړي چې په دې سره دده د پيغمبرۍ حقانيت او ريښتيا والې ظاهر شي، او د مقابلې اِعلان باوجود نور انسانان ددې د کولو نه عاجزه وي نو ديته مُعجزه وايي. (۳)

## د خَارِقُ العَادَة کارونو اَقسام

په دې خبره ځان پوهه کول ضروري دي چې هر خَارِقُ العادة کار ته مُعجزه نشي ويلی،

---

(۱) وَسُمِّيَتِ الْمُعْجِزَةُ كَذٰلِكَ لِعَجْزِ الْخَلْقِ عَنْ مُعَارَضَتِهَا وَالْإِتْيَانِ بِمِثْلِهَا. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج۱ ص ۵۲۰ معجزات ودلائل نبوّة خاتم الأنبياء والمرسلين صلّى الله عليه وسلّم.

(۲) المعجم الوسيط ج۲ ص ۵۸۵ باب العين، معجم اللغة العربية المعاصرة ج۲ ص ۱۴۶۰ ع ج ز.

**د معجزې نور تعريفونه**: د معجزې دویم تعریف: المعجزة: أمر خارق للعادة، داعٍ إلى الخير والسعادة، مقرون بدعوى النبوة، قصد به إظهار صدق مَن ادّعى أنّه رسول من الله. التعريفات ج۱ ص ۲۱۹ باب الميم.

د معجزې دریم تعریف: المعجزة: أمرٌ نادر الحدوث يعجز الإنسانُ العاديّ عن الإتيان بمثله. معجم اللغة العربية المعاصرة ج۲ ص ۱۴۶۰ ع ج ز.

د معجزې څلورم تعریف: المعجزة: أمر خارق للعادة، يَعْجِزُ الْبَشَرُ أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِهِ.

ومعجزة النبي صلى الله عليه وسلم ما أعجز به الخصمُ عند التَّحدّي. القاموس الوحيد ۱/ ۵۱۶.

إعجاز القرآن: عدم القدرة على محاكاته وامتناع الإتيان بمثله. معجم اللغة العربية المعاصرة ج۲ ص ۱۴۵۹ ع ج ز.

(۳) وَالْفَرْقُ بَيْنَ الْمُعْجِزَةِ وَغَيْرِهَا مِنَ الدَّلَالَةِ وَالْعَلَامَةِ أَنَّ الْمُعْجِزَةَ يُشْتَرَطُ فِيهَا التَّحَدِّي وَأَنْ يَكُونَ الْمُتَحَدَّى بِهِ مِمَّا يَعْجِزُ عَنْهُ الْبَشَرُ فِي الْعَادَةِ الْمُسْتَمِرَّةِ. أَمَّا الدَّلَائِلُ وَالْعَلَامَاتُ فَتَقَعُ دَالَّةً عَلَى صِدْقِ الْأَنْبِيَاءِ وَالرُّسُلِ مِنْ غَيْرِ سَبْقِ تَحَدٍّ. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج۱ ص ۵۲۰ معجزات ودلائل نبوّة خاتم الأنبياء والمرسلين صلّى الله عليه وسلّم.

بلکه د خَارِقُ الْعَادَة کارونو (يعنى کوم چې د عام نظام او عام عادَت خِلاف وي) مختلف قِسمونه دي، د هر يو ځانله ځانله نوم او ځانله ځانله حيثيت دی:

١. که دا خَارِقُ الْعَادَة کار د نبي او رسول د لاس نه د نبوت دعوىٰ کولو نه روستو ظاهر شي نو ديته مُعجزه وايي.

٢. که دا د نبوّت د ظهور نه مخکې د پيغمبر په لاس ظاهر شي نو ديته "إرْهَاص" وايي، جَمع يې "إرهاصات" راځي.(١)

٣. کوم خَارِقُ الْعَادَة کار چې د اَولياء الله په لاس باندې ظاهر شي نو ديته "كرامت" وايي. (٢)

٤. او کوم چې د عامو مسلمانانو په لاس ظاهر شي نو ديته "معونت" وايي. (٣)

٥. او کوم چې د کافرانو او فاسقانو په لاس ظاهر شي نو ديته "إستِدراج" وايي.(٤)

په دې مذکوره اَقسامو کې صِرف اول قِسم ته مُعجزه ويلې شي، دې نورو ته مُعجزه نشي ويلی، ځکه د مُعجزې د پاره دا ضروري ده چې دا به خَارِقُ الْعَادَة وي، او د نبوّت د دعوې سره به وي. (٥)

---

(١) الإرهاص: إحداث أمر خارق للعادة دال على بعثة نبي قبل بعثته.

د اِرهاص دويم تعريف: الإرهاص: هو ما يصدر من النبي صلى الله عليه وسلم قبل النبوة من أمر خارق للعادة.

وقيل: إنها من قبيل الكرامات؛ فإن الأنبياء قبل النبوة لا يقصرون عن درجة الأولياء. التعريفات ج١ ص ١٦ باب الألف.

(٢) الكرامة: هي ظهور أمر خارق للعادة من قِبَل شخص غير مقارن لدعوى النبوة. فما لا يكون مقرونًا بالإيمان والعمل الصالح يكون إستدراجًا. وما يكون مقرونًا بدعوى النبوة يكون معجزة. التعريفات ج١ ص ١٨٤ باب الكاف.

(٣) المعونة: ما يظهر من قِبَل العوام تخليصًا لهم عن المحن والبلايا. التعريفات ج١ ص ٢١٩ باب الميم.

(٤) الاستدراج: هو أن يرفعه الشيطان درجة إلى مكان عالٍ، ثم يسقط من ذلك المكان حتى يهلك هلاكًا. التعريفات ج١ ص ١٩ باب الألف.

(٥) مظاهر حق ج٩ بابٌ في المعجزات.

**نوټ** : سِحَر او جادو ته خَارِقُ العَادَة نشي ويلی ، ځکه دا د ظاهري أسبابو تابع دي ، او کوم شی چې د ظاهري اَسبابو په ذريعه موجود شي نو هغې ته خَارِقُ العَادَة نشي ويلی .

بل دا چې کوم کس په دې اَسبابو ( سِحر ) کې مهارت پيدا کړي نو هغه د بل ساحِر سِحر ظاهرولې شي ، او ددې مقابَله کولې شي . (۱)

زمونږ اُستاذِ محترم شيخ الحديث حضرت مولانا حسن جاني مدني شهيد رحمه الله به د عوامو خلقو د پوهې د پاره فرمايل چې :

مُعجزه هغې ته وايي چې هغه د خدای کار وي او د انسان د وَس نه بهَر وي .

تشريح : که مونږ اوګورو نو په دُنيا کې دوه قِسمه شيان دي : يو قِسم هغه چې انسانانو جوړ کړي دي . يعنی د انسان کسَب ته په کې دَخل وي ( اګر چې د اَهلُ السنّة والجماعة دا عقيده ده چې " خالِق د ټولو اَفعالو او شيانو الله ﷻ دی " خو په انساني مصنوعاتو کې کاسِب بنده دی ) .

دويم قِسم هغه شيان دي چې الله ﷻ جوړ کړي دي ، او د اِنسان کسَب ته په کې هيڅ دَخل نه وي ، لکه دا نمر ، سپوږمۍ ، ستوري ، غرونه ، دريابونه ، انسانان ، حيوانات وغيره پيدا کول . چې انسان ددې په شان شيان نشي پيداکولی ، او ددې مقابَله هيڅوک نشي کولی .

نو دې دويم قِسم ته مُعجزه وايي . دغه شان د قرآن کريم مقابَله هم هيڅوک نشي کولی. (۲)

## الله ﷻ هر پيغمبر ته د هغه وخت مناسب مُعجزه ورکړی

هر پيغمبر ته الله ﷻ د هغه وخت مناسب معجزې ورکړې وی چې د هغه قوم او زمانې د حالت سره مناسبې وی ، مثلا : د حضرت موسٰی عليه السلام په زمانه کې د سِحر ډيره چَرچَه وه ، د ساحِرانو به ډير قدر و عِزت کيده ، نو الله ﷻ حضرت موسٰی عليه السلام ته داسې معجزې ورکړی چې ساحِران يې حيران کړه ، او هيچا ددې مقابله نشوه کولی .

---

(۱) مظاهر حق ج۹ بابٌ فِي المعجزات .

(۲) خطبات حضرت شيخ ص ۹۵ ، اصول القرآن لمولانا حسن جان مدني شهيد رحمه الله .

چې کله به يې اَمسا په زمکه واچوله نو د هغې نه به غټه اژدها جوړه شوه، او چې راوابه يې خيسته نو واپس به اَمسا وه. او کله به يې چې لاس په ترَخ (بَغَل) کې دننه کړو او بيا به يې رااوويسته نو سپينه رڼا به يې کوله او پړقيدو به.

د حضرت عيسىٰ عليه السلام په زمانه کې د طبيبانو ډيره چرچه وه، هر طرف ته د طبيبانو قدر او زور ؤ، نو الله ﷻ حضرت عيسىٰ عليه السلام ته داسې مُعجزه ورکړه چې ټول طبيبان ورته حيران وو، او هيچا يې مقابَله او نکړې شوه.

حضرت عيسىٰ عليه السلام به د الله ﷻ په حکم مړي ژوندي کول (په ټول عُمر کې يې څلور مړي ژوندي کړي وو)، او کله به يې چې په ړوند يا برګي مرَض واله باندې لاس رانښکوده نو د الله ﷻ په حکم به روغ شو.

طبيبانو ددې مقابَله نشوه کولی، ځکه طبيب خو مړي نشي را ژوندي کولی.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په زمانه کې د شِعرو شاعرئ او فصاحت و بلاغت ډيره چَرچه وه، هر طرف ته فصيح و بليغ، او د عربئ ژبې ماهِره شاعِران موجود وو. الله ﷻ نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته داسې مُعجزه " قرآن مجيد " ورکړه چې ټول شاعران، فصيحان او بليغان ددې د مقابلې کولو نه عاجزه شو. (١)

---

(١) أعطى الله عز وجل كل نبيّ من الأنبياء عليهم السّلام معجزة خاصّة به لم يعطها بعينها غيره تحدّى بها قومه، وكانت معجزة كل نبيّ تقع مناسبة لحال قومه وأهل زمانه.

فلمّا كان الغالب على زمان موسى عليه السّلام السّحر وتعظيم السّحرة، بعثه الله بمعجزة بهرت الأبصار، وحيّرت كل سحّار. فلمّا استيقنوا أنّها من عند العزيز الجبّار انقادوا للإسلام وصاروا من عباد الله الأبرار.

وأمّا عيسى عليه السّلام فبعث في زمن الأطبّاء وأصحاب علم الطّبيعة، فجاءهم من الآيات بما لا سبيل لأحد إليه إلّا أن يكون مؤيّدا من الّذي شرع الشّريعة، فمن أين للطّبيب قدرة على إحياء الجماد، وبعث من هو في قبره رهين إلى يوم التّناد، أو على مداواة الأكمه والأبرص.

وكذلك نبيّنا صلّى الله عليه وسلّم، بعث في زمان الفصحاء والبلغاء وتجاريد الشّعراء، فأتاهم بكتاب من عند الله عزّ وجلّ، فاتّهمه أكثرهم أنّه اختلقه وافتراه من عنده فتحدّاهم ودعاهم أن يعارضوه ويأتوا بمثله وليستعينوا بمن شاءوا فعجزوا عن ذلك. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج١ ص ٥٢١ المعجزة الكبرى.

## د نبي ﷺ په ټولو مُعجزو کې قرآن کریم غټه، واضحه، او تر قیامته پورې دائمي معجزه ده

زمونږ خوږ پیغمبر، سردارِ دوجهان محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته الله ﷻ ډیرې مُعجزې ورکړې وې.

علامه جلال الدین سیوطي رحمه الله په خَصَائِصُ الْکُبْریٰ کې د نبي ﷺ زر (١٠٠٠) معجزې را جَمع کړي.

اِمام بیهقي رحمه الله په دَلَائِلُ النُّبُوَّة کې د نبي علیه السلام دولس سوه (١٢٠٠) مُعجزې ذکر کړي.

علامه قسطلاني رحمه الله په المواهب اللدنیه کې درې زره (٣٠٠٠) معجزې ذکر کړي بلکه علماء لیکي چې د نبي علیه السلام مُعجزې د درې زرو (٣٠٠٠) نه هم زیاتې دي. خو په دې ټولو مُعجزو کې لویه، ښکاره او تر قیامته پورې باقي پاتې کیدونکې مُعجزه قرآن کریم دی، ځکه د قرآن کریم اِعجاز په مختلفو طریقو او وجوهاتو سره ثابِت دی.

د قرآن کریم نه علاوه د نبي علیه السلام نورې معجزې داسې وې چې د هاغه وخت سره خاص وې، او خلقو لیدلې هم وې، خو قرآن کریم هاغه وخت هم معجزه وه، او تر قیامته پورې دائمي معجزه ده.

## قرآن کریم د حضرت عیسیٰ د مُعجزې نه واضحه مُعجزه ده

مُتکلِمینو علماؤ لیکلي دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته څومره معجزې ورکړې شوې وې په دې ټولو کې قرآن کریم غټه مُعجزه ده، دا حضرت عیسیٰ علیه السلام ته د ورکړې شوې معجزې (یعنی د مړي ژوندي کولو معجزې) نه هم واضحه او ښکاره ده ځکه حضرت عیسیٰ علیه السلام ته چې د مړي ژوندي کولو مُعجزه ورکړې شوې وه نو دده په قوم کې په هیچا کې نه خو ددې د مقابَلې طاقتؤ، او نه یې ددې د مقابَلې خواهش ؤ.

او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چې د قرآن کریم دامعجزه ورکړې شوې وه نو په هاغه وخت کې په عربو کې ډیر فصیح و بلیغ شاعران موجود وو، د عربۍ ژبې داسې اَدیبان

او ماهرين موجود وو چې فِي الْبَدِيْه به يې د فصاحت او بلاغت نه ډک تقريرونه کول، او دوی د دې فصاحت او بلاغت دعوې هم کولی. خو بيا هم هيڅوا د دې مقابله ونکړې شوه، او ټول په دې اقرار کولو مجبور شو چې دا د انسانانو کلام نه دی، بلکه دا د الله ﷻ کلام دی. (۱)

# قرآن کريم د الله تعالی کلام دی

قرآن کريم د الله تعالی کلام دی. ځکه کلام ديته ويلې شي چې " مَا يُتَكَلَّمُ بِهٖ " په کوم باندې چې تَكَلُّمُ کولې شي.

په قرآن کريم باندې هم د اول نه تر آخره پورې الله رب العزت تَكَلُّمُ کړی ( كَمَا يَلِيْقُ بِشَانِهٖ )، حضرت جبريل عليه السلام دا آوريدلی، او بيا حضرت جبرائيل عليه السلام نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته آورولی.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ﴾. (۲)

ترجمه: دا د الله ﷻ آيتونه دي چې مونږ يې تا ته په حقه تلاوت کوو.

پس معلومه شوه چې صرف قرآن مجيد حقيقتًا د الله تعالی کلام دی، او د دې سره سره دا د الله ﷻ کتاب هم دی، ځکه دا په لوحِ محفوظ کې ليکلې شوې هم دی.

نو قرآن مجيد كِتَابُ الله هم دی، او حقيقتًا كَلَامُ الله هم دی.

د قرآن کريم نه علاوه نور آسماني کتابونه ( لکه تورات، انجيل، زبور وغيره ) د الله ﷻ کتابونه دي خو حقيقتًا د الله ﷻ کلام نه دی، ځکه په دې نورو باندې تَكَلُّمُ نه دې شوی.

---

(۱) منازل العرفان في علوم القرآن از مولانا محمد مالک کاندهلوي رحمه الله.

(۲) البقرة آيت ۲۵۲. / بل ځای الله ﷻ فرمايي: نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ. القصص آيت ۳.

تَورات خو په اَلواحو (تختيو) باندې تيار ليکلې شوې حضرت موسى عليه السلام ته ورکړې شوی، نو دا کِتابُ الله دی خو حقيقتًا کلامُ الله نه دی.

او اِنجيل خو الله ﷻ حضرت عيسٰی عليه السلام ته تيار ليکلې شوې هم نه دی ورکړی، بلکه الله ﷻ د حضرت عيسٰی عليه السلام په زړه باندې ددې اِلقاء کړې وه. لهذا اِنجيل ته مونږ مضمونِ خُداوَندي ويلې شو خو حقيقتًا کلامِ خُداوَندي ورته نشو ويلی.

اګر چې مَجازًا توراة او اِنجيل ته هم کلامُ الله ويلې شي خو حقيقتًا ورته نشي ويلی، بلکه حقيقتًا صِرف قرآن مجيد ته کلامُ الله او کتابُ الله دواړه ويلې شي. (١)

## قرآن کريم د ژوند تيرولو قانون هم دی، او مُعجزه هم ده

محترمو مسلمانانو! د قرآن کريم نه علاوه چې مخکيني څومره آسماني کتابونه نازل شوي که هغه توراة اِنجيل زبور وو او يا نورې صحيفې وی دا ټول به صرف د ژوند تيرولو د پاره دَستورُ العمل، نَقشه او قانون ؤ، مګر د هاغه وخت پيغمبر د پاره به مُعجزه نه وه، بلکه مُعجزه به يې جدا وه.

مثلا الله ﷻ حضرت موسٰی عليه السلام ته توراة ورکړې ؤ، توراة د ژوند تيرولو قانون ؤ خو دا يې مُعجزه نه وه، بلکه معجزه يې دا وه چې اَمسا به يې په زمکه واچوله نو د هغې نه به لويه اَژدها جوړه شوه، چې لاس به يې په ترَخ کې ننَويست او بيا به يې را اُوويست نو هغې به سپينه رَڼا کوله او پړقيدو به.

حضرت عيسى عليه السلام ته الله ﷻ اِنجيل ورکړې ؤ، اِنجيل د ژوند تيرولو قانون ؤ خو مُعجزه يې نه وه، ځکه معجزه يې دا وه چې د الله ﷻ په حکم به يې مړي ژوندي کول، او چې په ړوند يا برګي مرض واله کس باندې به يې لاس راښکود نو هغه به د الله ﷻ په حکم روغ شو.

(١) خطباتِ حکيم الاسلام ج١ ص ٢١١، وص ٢٤١ مع الاختصار ط. مکتبه عمر فاروق.

حضرت داؤد عليه السلام ته الله ﷻ زبور وركړې ؤ ، زبور د ژوند تيرولو د پاره دستورُ العمل ؤ خو دا يې مُعجزه نه وه ، بلكه معجزه يې داوه چې كله به يې ذكر كولو نو مرغانو ، اُونو او غرونو به هم ورسره ذِكر كولو ، اُوسپنه به يې په لاس كې نَرمه شوه چې د هغې نه به يې زغرې جوړولې .

همدغه رنګې حال د نورو صحيفو هم دى ، چې دا ټولې صحيفې به د ژوند تيرولو نقشه وه خو د هاغه پيغمبر معجزه به نه وه .

ليكن قرآن كريم داسې بهترين كتاب دى چې دا د ژوند تيرولو د پاره دستورُ العمل هم دى ، د عقيدو اَعمالو او اَخلاقو بيان هم دى ، قانون هم دى ، او ورسره ورسره د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د پاره غټه مُعجزه هم ده . (١)

## قرآن كريم په هر اِعتبار سره مُعجز كتاب دى

په دې كې هيڅ شک و شُبه نشته چې قرآن كريم مُعجز كتاب دى ، او په دې كې د اِعجاز مختلف وجوه دي ، دا په هر اِعتبار سره مُعجز كلام دى .

په كتاب " نضرة النّعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ﷺ " اول جلد كې پنځه څلويښت (٤٥) وُجوه د اِعجاز ذكر شوي . (٢)

ددې نه علاوه علماء كرامو نور هم ذكر كړي .

( زمونږ اُستاذِ محترم شيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان مدني شهيد رحمه الله چې په كال كې مونږ ته د قرآن كريم كوم اصول ذكر كړي وو په هغې كې هم هغوى مونږ ته د اِعجازُ القرآن په بحث كې مختلف وجوه ذكر كړي وو ) .

يو څو مشهور وجوه د اِعجاز دادي ( اګر چې دا هر يو ځان له مُستقله موضوع ده خو زه به يې درته صرف نومونه واخلم ) :

١ . اِعجاز د قرآن په اِعتبار د فصاحت او بلاغت سره .

٢ . اِعجاز د قرآن په اِعتبار د حفظ سره . يعنى اِعجازِ حِفظي .

---

(١) از افادات شيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان مدني شهيد رحمه الله .

(٢) نضرة النّعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ﷺ ج١ ص ٥٢٢ .

۴. اِعجاز په اِعتبار د عِلم سره . يعنی اِعجازِ عِلمي .

۵. اِعجاز په اِعتبار د اِخْبَار عَنِ الغَيْب سره .

٦. اِعجاز په اِعتبار د اِنکشافاتو حديدهٔ سره . يعنی اِعجازِ اِنکشافي ، يا کشفي .

۷. اِعجازِ تأثيري .

۸. اِعجازِ قانوني .

## د قرآن کريم د عُلومو ، مسائلو او تفاسيرو څه اِنتهاء نشته

محترمو ! قرآن کريم داسې عظيم کتاب دی چې ددې د علومو ، مسائلو ، عجائبو او تفاسيرو څه اِنتهاء نشته . ځکه تر اوسه پورې بې شماره تَرجَمې او تفاسير په مختلفو ژبو کې ليکل شوي ، او نور هم ليکلې کيږي .

خو تر اوسه پورې هيڅ عالِم هم دا دعوی نه ده کړې چې ګنې ما د قرآن کريم ټول مسائِل ، رُموز ، او عُلوم راجَمع کړي . اګر چې دوی په سوُونو او زرونو جِلدونو کې تفسيرونه ليکلي .

صِرف په اُردو ژبه کې د قرآن کريم پنځه زره (۵۰۰۰) تفاسير او ترجَمې ليکل شوي ، په عربی کې يې څه اِنتهاء نشته . ددې يو څو نمونې ستاسو د وړاندې ذکر کوم :

۱. امامِ طحاوي رحمه الله د قرآن کريم تفسير په سل (۱۰۰) جِلده کې ليکلی کوم چې د تاتار او هلاکو خان په فِتنه کې ضائع شوی .

۲. امامِ غزالي رحمه الله د قرآن کريم تفسير په پنځه سوه (۵۰۰) جِلدونو کې ليکلی ، د هغې نوم دی " ياقوتُ التّأويل فِي أسرار التنزيل " .

۳. شيخ محمد بن عربي رحمه الله د قرآن کريم تفسير په زرو (۱۰۰۰) جلدونو کې ليکلي دی ، د تفسير نوم يې دی " حدائق ذات بهجة " .

صرفِ د بسم الله الرحمن الرحيم په تشريح کې يې پنځه (۵) غټ جِلدونه ليکلي .

او د الحمدُ لله نه تر ولاالضّالين پورې دده په تشریح کې يې شل (٢٠) جلدونه ليکلي. د کَشفُ الظُّنُوْن واله ذکر کړي چې په دې تفسير کې پنځه ويشت زره (٢٥٠٠٠) صفحې صرف د سورة فاتحې په تشريح کې ليکل شوي.

٤. همدغه رنګې يو بل عالِم دی "شيخ محمد بن ابراهيم"، ده هم د قرآن کريم تفسير په زرو (١٠٠٠) جِلدونو کې ليکلی، د تفسير نوم يې دی "اَلِاستِغناء".

٥. يو بل عالِم تېر شوی "شيخ محمد بن عبدالوهاب" (دا دا مشهور محمد بن عبدالوهاب نه دی، بلکه بل عالِم دی)، ده د قرآن کريم ترجمه او تشريح په دوه لکه (٢٠٠٠٠٠) شِعرونو کې ذکر کړې.

همدغه رنګې د قرآن کريم د علومو هم څه اِنتهاء نشته، شيخ محمد بن عربي رحمه الله وايي چې په قرآن کريم کې اَويا زره (٧٠٠٠٠) علوم دي، بلکه علماء ليکي چې ددې نه هم په کې زيات دي.

همدا رنګې د قرآن کريم نه د رااوښکل شوو فِقهي مسائلو هم څه اِنتهاء نشته. صرف امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د قرآن کريم نه دولس لکه او اَويا زره (١٢٧٠٠٠٠) مسائل معلوم کړي. (١) دا مسائل د احاديثو په رَڼا کې، او دصحابه کرامو او تابعينو د کلام په رَڼا کې معلوم شوي. څکه امامِ شافعي رحمه الله فرمايي:

جَمِيْعُ مَاتَقُوْلُهُ الأَئِمَّةُ شَرْحٌ لِلسُّنَّةِ . وَجَمِيْعُ مَافِي السُّنَّةِ شَرْحٌ لِلْقُرْآنِ.

اَئمه کرامو (صحابهؤ، تابعينو او سلفو) چې څه ويلي دي دا د احاديثو شرحه ده، او په احاديثو مبارکهؤ کې چې څه دي دا د قرآن کريم شرحه ده.

انسان حېران پاتې شي چې قرآن کريم داسې جامِع کتاب دی چې تر اوسه پورې چا ددې علومو، مسائلو، عجائبو، مطالبو او لطائفو اِحاطه نه ده کړی. چې دا هم د قرآن کريم لويه مُعجزه ده. (٢)

---

(١) کوم چې د امام محمد رحمه الله په شپږو کتابونو کې ذکر دي، مبسوط، زيادات، جامع صغير، جامع کبير، سيرصغير، سير کبير.

(٢) اصول القرآن لشيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان مدني شهيد رحمه الله.

# د قرآن کريم د حفاظت ذِمه واري الله ﷻ په خپله اخيستی

محترمو مسلمانانو ! په دُنيا کې چې د انسانانو د هدايت او راهنمايي د پاره څومره آسماني کتابونه يا صحيفې نازلې شوي د هغې ټولو د حفاظت ذِمه واري الله ﷻ په خپله ذِمه نه ده اخيستی ، بلکه د هماغه وخت په اَهلِ کتابو باندې يې اَچولې وه .

الله رب العزت فرمايي : ﴿ ... بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ ... ﴾ . (۱)

ترجمه : ... په دې وجه چې دوی ( يعنی يهود ، د دوی بزرګان او علماء ) د الله ﷻ د کتاب ( توراة او اِنجيل ) محافظ مقرر کړې شوي وو ، او دوی په خپله په دې ( خبره ) باندې ګواهان شوي هم وو .

مګر صرف قرآن کريم د الله تعالی داسې عظيم کتاب دی چې ددې د حفاظت ذِمه واري الله رب العزت په خپله اخيستی ده . پروَردِګارِ عالَم فرمايي :

﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : بيشکه همدا مونږ قرآن کريم نازل کړی ، او بيشکه همدا مونږ ددې حفاظت کوونکي يو . (۳)

وجه داده چې مخکيني کتابونه چونکه دائمي نه وو بلکه د يو خاص وخت د پاره وو نو ځکه د حفاظت ذِمه واري يې هم الله ﷻ نه وه اخيستی ، او قرآن کريم خو د الله ﷻ داسې آخري کتاب دی چې د قيامته پورې انسانانو د پاره هدايت او د ژوند تېرولو قانون دی نو ځکه الله ﷻ ددې د حفاظت ذمه واري هم پخپله واخيسته .

---

(۱) سورة المائدة آيت ۴۴ .

(۲) الحجر آيت ۹ .

(۳) علامه قرطبي رحمه الله د آيت ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ په تشريح کې د امام قتادة رحمه الله قول رانقل کړی : قَالَ قَتَادَةُ وَثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ: حَفِظَهُ اللَّهُ مِنْ أَنْ تَزِيدَ فِيهِ الشَّيَاطِينُ بَاطِلًا أَوْ تَنْقُصَ مِنْهُ حَقًّا. فَتَوَلَّى سُبْحَانَهُ حِفْظَهُ فَلَمْ يَزَلْ مَحْفُوظًا. وَقَالَ فِي غَيْرِهِ: "بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ". فَوَكَلَ حِفْظَهُ إِلَيْهِمْ فَبَدَّلُوا وَغَيَّرُوا. تفسير القرطبي الحجر آيت ۹ .

دغه وجه ده څه دپاسه څوارلس سوه کاله تيريدو باوجود اوس هم ددې هر هر حرف، هر لفظ، او حتّی چې ددې رَسمُ الخط هم هماغه شان محفوظ دی، او تر قيامته پورې به محفوظ وي، نه په کې تر اوسه چا څه تبديلي کړی، او نه به يې تر قيامته پورې په کې اوکړې شي.

چې څنګه دا کلام د الله رب العزت نه صادر شوی هماغه شان حضرت جبرائيل عليه السلام نبي عليه السلام ته رارسولی، بيا نبي عليه السلام په هماغه الفاظو او هماغه حروفو باندې صحابه کرامو ته خودلی، صحابه کرامو په هماغه الفاظو سره تابعينو ته رارسولی، بيا همدغه شان دا سلسله راروانه وه.

الحمدُلله تر دې وخته پورې قرآن کريم په هماغه الفاظو، په هماغه حروفو او په هماغه لِهجه باندې موجود دی، او تر قيامته پورې به همداسې محفوظ وي، نه په کې څوک تَغير او تَبديل کولې شي، او نه په کې څوک لفظي او معنوي تحريف کولې شي.

## د قرآن کريم په محفوظ کيدو باندې د اَهلُ السّنة والجَماعة اِجماع

په دې باندې د اَهل السّنّة والجماعة اِجماع ده چې دا موجوده قرآن کريم بِعَينِه هماغه قرآن دی کوم چې په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې نازل شوې وُ، دا د هر قِسمه تحريف، تَغير او تَبديل نه مکمل محفوظ دی، او تر قيامته پورې به محفوظ وي، ځکه ددې د حفاظت وعده الله ﷻ په خپله کړی.

اګر چې د اِسلام دُشمنان دا کوشش کوي چې په دې کې تحريف وکړي، په غلطو تأويلاتو سره ددې معنی بدله کړي ليکن د مشرق نه تر مغرِبه پورې په لکونو حافظان موجود دي، په لکونو علماء کرام موجود دي، دوی مسلمانانو ته د کافرانو دغه لفظي او معنوي تحريف واضحه کوي، په دې باندې رَدونه کوي، او مسلمانان د کافرانو د دَسيسو نه خبروي.

دغه وجه ده چې ددې دومره ديرې زمانې تېريدو باوجود بيا هم چا په دې کې د زَبر زير او نُقطې تبديلي اونکړې شوه، بلکه ددې هر هر حرف محفوظ دی.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴾ . (١)

ترجمه : قرآن كريم ته باطل نه د وړاندې طرفه راځي ، او نه د روستو طرفه ، دا نازل شوې دی د حکیم او ستائلي شوي ذات ( الله ﷻ ) د طرفه .

د مسلم شریف حدیث دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي :

وَأَنْزَلْتُ عَلَيْكَ كِتَابًا لَا يَغْسِلُهُ الْمَاءُ . (٢)

اې پیغمبره ! ما په تا باندې داسې کتاب نازل کړې دی چې دا اُوبه هم نشي وينځلی .

یعنی که ټول انسانان راجَمع شي او د قرآن کريم ختمول اوغواړي نو نه يې شي ختمولی .

پس کله چې د قرآن کريم د حفاظت ذِمه واري الله ﷻ په خپله اخيستی ، او ددې د حفاظت وعده يې کړی نو اوس دا ممکنه نده چې الله ﷻ د خپلې وعدې خلاف وَرزي وکړي . الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴾ . (٣)

بیشکه الله ﷻ د ( خپلې ) وعدې خلاف وَرزي نه کوي ( یعنی خپله وعده نه ماتوي )

ځکه الله ﷻ په خپل قَول کې رېښتينې دی . پروردِګارِ عالم فرمايي :

﴿ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ قِيلًا ﴾ . (٤)

ترجمه : او د الله ﷻ نه زيات رېښتيا ويونکې په خبره کې بل څوک دی ؟

( یعنی د الله ﷻ نه زياته رېښتينې خبره د بل هيچا نشي کيدی ، بلکه الله رب العزت په خپل قَول کې صادِق دی ) .

بل ځای اِرشاد دی :

---

(١) حم السجده آيت ٤٢ .

(٢) صحيح مسلم رقم الحديث ٢٨٦٥ بَابُ الصِّفَاتِ الَّتِي يُعْرَفُ بِهَا فِي الدُّنْيَا أَهْلُ الْجَنَّةِ وَأَهْلُ النَّارِ .

(٣) آل عمران آيت ٩ .

(٤) النساء آيت ١٢٢ .

﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾. (١)

ترجمه: او ستا د رَب خبره د رښتونوالي او اِنصاف په اِعتبار سره پوره شوه، د هغه د خبرې (او حكمونو) لره څوک بدلوونكې نشته، او هغه اَوريدونكې پوهه دى.

او دا هم ممكنه نده چې ګني د الله ﷻ نه د قرآن كريم د حفاظت وعده هيره شوې وي. په سورة مريم كې ذكر دي:

﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴾. (٢)

ترجمه: او ستا رَب (هيڅ خبره) هيرونكې نه دى.

حُكه الله ﷻ ذات دى چې نه څه غلطي كوي او نه ورنه څه هيرېږي. په سورة طٰه كې ذكر دي:

﴿ لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴾. (٣)

ترجمه: زما رَب نه څه غلطي كوي، او نه (څه څيز) هيروي.

همدغه رنګې په الله رب العزت باندې نه څه پَركالي راځي او نه خوب، چې ګني د قرآن كريم د حفاظت نه غافله شي. ربِ كريم فرمايي:

﴿ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ﴾. (٤)

ترجمه: نه نيسي الله پَركالي او نه خوب. (يعنى په الله ﷻ باندې پَركالي او خوب نه راځي).

ددې دومره اَوږدې خبرې مقصد مې دا دۀ چې: كله الله ﷻ د قرآن كريم د حفاظت وعده كړى، او ددې د حفاظت ذِمه واري يې په خپله اخيستى. او دا خبره هم معلومه ده چې الله ﷻ د خپلې وعدې خِلاف وَرزي هم نه كوي، او نه د هغه نه دا وعده هيرېږي، نه پرې

(١) الانعام آيت ١١٥.

(٢) سورة مريم آيت ٦۴.

(٣) سورة طه آيت ٥٢.

(۴) البقرة آيت ٢٥٥.

غفلت او خوب راځي نو بيا څنګه يو کافر يا بل بې دينه کس به قرآن مجيد کې تغير و تبديل وکړي ؟ بلکه لکه څرنګې چې تر اوسه په هر لحاظ محفوظ دي نو همدغه شان به تر قيامته پورې هم محفوظ وي.

## د قرآن کريم د حفاظت اسباب

الله رب العزت د قرآن کريم د حفاظت د پاره مختلف اَسباب پيدا کړي :

۱. د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د زمانې نه رانيولې تر دې وخته پورې په هر دَور کې د بې شماره حافظانو او اهلِ عِلمو په سينو کې قرآن کريم محفوظ پاتې شوی.

الله رب العزت فرمايي :

﴿ بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ ﴾ . (۱)

ترجمه : بلکه دا قرآن کريم خو واضحه آيتونه دي ، د هغه خلقو په سينو کې محفوظ دی کومو ته چې عِلم ورکړې شوی.

۲. د خلفاء ثلاثهؤ په محنت او په هغه وخت کې موجود د ټولو صحابه کرامو په اِتفاق سره ( چې تقريبًا د هغوی تعداد شپيتو زرو ۶۰۰۰۰ ته رسيده ) قرآن کريم په يو مصحف کې جَمع او ترتيب شو ، او بيا د ټولې دُنيا اِسلامي ملکونو ته دا نُسخې اوليږلې شوی ، او ټولو په اِتفاق قبول کړو ، او په نقلِ متواتِر سره بغير د څه تغير و تبديل نه مونږ ته رارسيدلې دی.

۳. نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته د قرآن کريم د تبليغ حکم شوې ؤ ، ربِ کريم فرمايي:

﴿ يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ﴾ . (۲)

ترجمه : اې پيغمبره ! خلقو ته هغه حکمونه اُورسوه کوم چې ستا د رَب د طرفه تاته نازل کړې شوي.

نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم د دې اِرشاد موافق د قرآن کريم تبليغ وکړو ، او چا چې به ايمان راوړو نو هغه ته به يې قرآن کريم وَرزده کولو ، همدغه شان خلفاءِ راشدينو هم نورو

---

(۱) العنکبوت آيت ۴۹ .

(۲) المائدة آيت ۶۷ .

نه دا قرآن کريم په هماغه الفاظو باندې اوخودو ، بيا يې د مصحف په شکل کې مرَتب کړو، او مسلمانانو ته يې ورکړو چې تر ننه پورې په هماغه الفاظو او هماغه حروفو سره مونږ ته رارسيدلی دی.

۴ . الله ﷻ د مسلمانانو په زړونو کې د تلاوت کولو شوق پيدا کړو چې شپه او ورځ ددې تلاوت کوي، الله رب العزت فرمايي :

﴿ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ﴾ . (١)

ترجمه : چا ته چې مونږ کتاب ورکړی هغوی ددې تلاوت کوي په حق تلاوت کولو سره (يعنی څنګه چې ددې د لوستلو حق دی هماغه شان ددې تلاوت کوي).

۵ . الله ﷻ د اهلِ علمو او مفسرينو جماعت پيدا کړو ددوی په زړونو کې يې دا شوق پيدا کړو چې شپه او ورځ د قرآن کريم په نَشر و اِشاعت کې مصروفه دي، او د قرآن کريم معاني او اَحکامات بيانوي، په دې سره هم دا د هر قِسمه تحريف نه محفوظه کيږي. (٢)

خلاصه دا چې قرآن کريم د الله ﷻ کلام دی، الله ﷻ په خپله ددې د حفاظت وعده کړی، او تر قيامته پورې به همداسې محفوظ وي.

## د قرآن کريم د حفاظت متعلق د مامون الرشيد د دَربار واقعه

امامِ قرطبي رحمه الله د آيت " ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴾ " د لاندې د قرآن کريم د حفاظت متعلق د اميرالمؤمنين مامون الرشيد د دَربار يوه واقعه په مُتصل سَند سره نقل کړې چې :

مامون الرشيد په خپل دَربار کې د عِلمي مسائلو د بَحث او بيان د پاره يو مجلس مقرر کړې ؤ چې په هغې کې هر قِسمه عالِم ته د راتللو او تقرير کولو اِجازت ؤ.

يوه ورځ عِلمي مجلس شروع ؤ چې په دې کې يو يهودي رانَنوت کوم چې د ظاهري شکل و شباهت او لباس په اِعتبارَ سره ډير ښائسته ؤ، په ډير فصيح و بليغ ، او بهترين

(١) البقرة آيت ١٢١ .

(٢) معارف القرآن لمولانا ادريس کاندهلوي رحمه الله ج۴ ص ۲۸۲ الحجر آيت ۹ .

آنداز کې يې د عقل نه ډکې خبرې وکړې. د مجلس په ختميدو مامون الرشيد رااوغوښت، او ورته وې ويل :

إِسْرَائِيلِيٌّ ؟ آيا ته اسرائيلي يې ؟

هغه اقرار وکړو چې آو زه اسرائيلي يم.

مامون ورته وويل : که ته مسلمان شوې نو مونږ به درسره ډير احسان او ښه رَويه اوکړو. هغه جواب ورکړو: زه خپل او د خپل پلار نيکه دين نه پريږدم. دا يې وويل، او لاړ.

همدا کس يو کال پس د مامون الرشيد دَربار ته بيا راغى، خو په دې وخت کې دې مسلمان شوې وُ، په مجلس کې يې د اسلامي فقهې په موضوع باندې ډير بهترين تحقيقي تقرير وکړو.

کله چې مجلس ختم شو نو مامون الرشيد را اُوغوښت، پوښتنه يې ورنه اوکړه :

أَلَسْتَ صَاحِبَنَا بِالْأَمْسِ ؟

آيا ته زمونږ پروس کالني ملګرې نه يې ؟ چې تير کال هم راغلې وې.

هغه ورته جواب ورکړو : آوُ هماغه کس يم.

مامون ورته وويل :

فَمَا كَانَ سَبَبُ إِسْلَامِكَ ؟ ستا د مسلمانيدو سبب څه شى وُ ؟

ځکه تاسو خو پروس کال د اسلام قبلولو نه انکار کولو.

هغه ورته وويل : کله چې زه ستا د مجلس نه لاړم نو ما غوښته چې ددې موجوده دِينونو او کتابونو تحقيق وکړم چې په دې کې کوم دين حق او کوم کتاب محفوظ دى؟

او زه چونکه يو بهترين خَطّاط هم يم، زما د لاس ليکلې کتاب په ډير اعلى قيمت خرڅيږي، نو ما د امتحان په طَور د توراة درې نُسخې ښائسته اوليکلې، او په دې کې مې ډير کمې او زياتې وکړو.

کله چې ما دا د يهوديانو عبادت خانې (کنيسې) ته وَر وړې نو هغوى دا د مانه په ډير بهترين قيمت واخيستې.

بيا ما همدغه شان د اِنجيل درې نُسخې خوشخطه وليکلی ، او په هغې کې مې هم ډير کمې زياتې وکړو ، کله چې ما دا د عيسايانو عبادت خانې ته ورو وړې نو هغوی هم رانه په ډير بنه قيمت واخيستی .

همدغه شان ما د قرآن کريم درې نُسخې هم خوشخطه وليکلی ، او په دې کې مې هم څه کمې او زياتې وکړو ، خو چې کله به ما دا نسخې کوم مسلمان ته د خرڅولو په غرض پيش کړې او هغه به په کې کمې او زياتې اُوکتې نو واپس به يې راته راکړې چې دا مونږ نه اَخلو ځکه په دې کې تبديلي شوي . دا کس وايي :

فَعَلِمْتُ أَنَّ هٰذَا كِتَابٌ مَحْفُوظٌ . فَكَانَ هٰذَا سَبَبُ إِسْلَامِي .

پس زه پوهه شوم چې په آسماني کتابونو کې صرف همدا قرآن کريم محفوظ دی ، نو ځکه ما اِسلام قبول کړو ، پس دا زما د اِسلام راوړلو سبب ؤ .

ددې واقعې راوي "يحی بن اَکثم" وايي چې زه په همدې کال باندې حج ته لاړم ، هلته مې د سفيان بن عُيينه سره ملاقا اوشو ، هغه ته مې واقعه بيان کړه ، هغه راته وويل :

په قرآن کريم کې هم ددې تصديق شته ( چې الله رب العزت د قرآن کريم حفاظت په خپله کوي ) .

ما ورته وويل : د قرآن کريم په کوم ځای کې ددې تصديق موجود دی ؟ هغه راته وويل : الله رب العزت د توراة او اِنجيل په باره کې فرمايي :

﴿ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللهِ ﴾ . (۱)

يعنی الله ﷻ يهودو او نصاریٰ ؤ ته د توراة او اِنجيل د حفاظت ذِمه داري ورسپارلې وه ، دوی چونکه ددې حفاظت اونکړو نو ځکه د تغير او تبديل په وجه ضائع شو .

او الله تعالی د قرآن کريم په باره کې په باره کې فرمايي :

﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : بيشکه مونږ دا قرآن کريم نازل کړی ، او همدا مونږ ددې حفاظت کوونکي يو .

---

(۱) سورة المائدة آيت ۴۴ .

(۲) الحجر آيت ۹ .

پس كله چې الله ﷻ د دې حفاظت كوي نو ځكه د تغير و تبديل او ضائع كيدو نه محفوظ دی. (١)

فائده: پس معلومه شوه چې قرآن كريم په هر اِعتبار سره محفوظ دی، په دې كې څوك هيڅ قِسمه تغير او تبديل نشي كولی، او كه څوك يې په كې اوكړي نو په دُنيا كې په لكونو حافِظان موجود دي، دوی سَمدستي دا غلطي معلوموي او د دې اِصلاح كوي.

## د قرآن كريم په محفوظ كيدو باندې د جَرمني د يوې يونيورسټۍ اِقرار

په جَرمني كې يوه مشهوره يونيورسټي ده، د ''ميوخ يونيورسټي'' په نوم باندې. په دې كې يوه مذهبي شُعبه ده چې نوم يې ''ډيپارټمنټ آف تهيالوجي'' دی. يوه ځل دوی په دې خبره باندې تحقيق كول شروع كړو چې:

''' مسلمانان دا دعوىٰ كوي چې قرآن كريم محفوظ دی، په دې كې څوك هيڅ قِسمه تبديلي نشي كولی '''

---

(١) كَانَ لِلْمَأْمُوْنِ ــ وَهُوَ أَمِيْرٌ إِذ ذَاكَ ــ مَجْلِسُ نَظَرٍ. فَدَخَلَ فِي جُمْلَةِ النَّاسِ رَجُلٌ يَهُوْدِيٌّ حَسَنُ الثَّوْبِ. حَسَنُ الْوَجْهِ طَيِّبُ الرَّائِحَةِ. قَالَ: فَتَكَلَّمَ فَأَحْسَنَ الْكَلَامَ وَالْعِبَارَةَ. قَالَ: فَلَمَّا أَنْ تَقَوَّضَ الْمَجْلِسُ دَعَاهُ الْمَأْمُوْنُ فَقَالَ لَهُ: إِسْرَائِيْلِيٌّ؟ قَالَ نَعَمْ. قَالَ لَهُ: أَسْلِمْ حَتَّى أَفْعَلَ بِكَ وَأَصْنَعَ. وَوَعَدَهُ. فَقَالَ: دِيْنِيْ وَدِيْنُ آبَائِيْ. وَانْصَرَفَ.
قَالَ: فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ سَنَةٍ جَاءَنَا مُسْلِمًا. قَالَ: فَتَكَلَّمَ عَلَى الْفِقْهِ فَأَحْسَنَ الْكَلَامَ. فَلَمَّا تَقَوَّضَ الْمَجْلِسُ دَعَاهُ الْمَأْمُوْنُ وَقَالَ: أَلَسْتَ صَاحِبَنَا بِالْأَمْسِ؟ قَالَ لَهُ: بَلَى. قَالَ: فَمَا كَانَ سَبَبُ إِسْلَامِكَ؟ قَالَ: انْصَرَفْتُ مِنْ حَضْرَتِكَ فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَمْتَحِنَ هٰذِهِ الْأَدْيَانَ. وَأَنْتَ (مَعَ مَا) تَرَانِيْ حسن الْخَطِّ. فَعَمَدْتُ إِلَى التَّوْرَاةِ فَكَتَبْتُ ثَلَاثَ نُسَخٍ فَزِدْتُ فِيْهَا وَنَقَصْتُ. وَأَدْخَلْتُهَا الْكَنِيْسَةَ فَاشْتُرِيَتْ مِنِّيْ. وعمدتُ إلى الإنجيل فكتبتُ ثَلَاثَ نُسَخٍ فَزِدْتُ فِيْهَا وَنَقَصْتُ. وَأَدْخَلْتُهَا الْبِيْعَةَ فَاشْتُرِيَتْ مِنِّيْ. وَعَمَدْتُ إِلَى الْقُرْآنِ فَعَمِلْتُ ثَلَاثَ نُسَخٍ وَزِدْتُ فِيْهَا وَنَقَصْتُ. وَأَدْخَلْتُهَا الْوَرَّاقِيْنَ فَتَصَفَّحُوْهَا. فَلَمَّا أَنْ وَجَدُوْا فِيْهَا الزِّيَادَةَ وَالنُّقْصَانَ رَمَوْا بِهَا فَلَمْ يَشْتَرُوْهَا. فَعَلِمْتُ أَنَّ هٰذَا كِتَابٌ مَحْفُوْظٌ. فَكَانَ هٰذَا سَبَبُ إِسْلَامِيْ.
قَالَ يَحْيَى بْنُ أَكْثَمَ: فَحَجَجْتُ تِلْكَ السَّنَةَ فَلَقِيْتُ سُفْيَانَ بْنَ عُيَيْنَةَ فَذَكَرْتُ لَهُ الْخَبَرَ فَقَالَ لِيْ: مِصْدَاقُ هٰذَا فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. قَالَ قُلْتُ: فِيْ أَيِّ مَوْضِعٍ؟ قَالَ: فِيْ قَوْلِ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيْلِ: "بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ". فَجَعَلَ حِفْظَهُ إِلَيْهِمْ فَضَاعَ. وَقَالَ عَزَّ وَجَلَّ: "إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُوْنَ" فَحَفِظَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْنَا فَلَمْ يَضِعْ
تفسير قرطبي ج ١٠ ص ٨ الحجر آيت ٩ ط. مكتبه رشيديه كوئټه، تفسير معارف القرآن الحجر آيت ٩.

ددې يونيورسټۍ واله دا ګمان كول چې داسې نشي كيدى، ځكه قرآن كريم خو د دُنيا په مختلفو ملكونو كې چاپ كيږي، امكان شته چې څه نا څه تغير په كې موجود وي، نو دوى ددې خبرې د تصديق د پاره يو لوي مِقدار فنډ مقرر كړو، او د تحقيق د پاره يې مخصوص كسان اُوټاكل، او حكم يې ورته وكړو چې:

تاسو د دُنيا د مختلفو ملكونو او مختلفو حصو نه د مُسلمانانو كتاب يعنى قرآن كريم راجَمع كړئ، او بيا يې اُوګورئ چې آيا په دې كې په خپل مينځ كې څو فرق نشته؟

كله چې دوى په ډير محنت سره د دُنيا د مختلفو ملكونو نه د قرآن كريم څلويښت زره (۴٠٠٠٠) جدا جدا نُسخې يو ځاى ته راجَمع كړى، او بيا يې هره نُسخه د بلې سره حرف په حرف او نُقطه په نقطه مقائسه كړه نو په يوه نُسخه كې يې هم هيڅ قِسمه فرق او غلطي او نه مونده. دوى دا اِقرار وكړو چې واقعي قرآن كريم د دومره اُوږدې زمانې تيريدلو باوجود اوس هم هماغه شان محفوظ دى. (١)

ځكه خو پَروردِګارِ عالَم فرفايي:

﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾. (٢)

## قرآن كريم اوس هم په هماغه اَصلي حالت باندې محفوظ دى

محترمو! صرف قرآن كريم واحِده داسې يو كتاب دى چې دا اُوس هم په هماغه اَصلي حالت باندې موجود دى په كوم چې نازل شوى، ځكه قرآن كريم په عربي ژبه كې نازل شوى او اُوس هم په عربي كې دى. ددينه علاوه چې نور څومره آسماني كتابونه دي لكه توراة، اِنجيل، زبور وغيره دا په هغه اَصلي حالت باندې ندي پاتې شوي، بلكه په هغوى كې تحريف او تبديلي شوى.

مثلاً: توراة اصلاً په عِبراني ژبه كې نازل شوى، حالانكه دا اوس موجوده توراة خو په اَنګريزي ژبه كې دى، دا خو د هغې ترجمه ده.

---

(١) خطباتِ فقير ج٢٧ ص٩٣، اهلِ دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج٢ ص٦٧.

(٢) الحجر آيت ٩.

اِنجیل په سُریاني ژبه کې نازل شوی خو اوس هغه سُریاني ژبه نشته په کوم کې چې انجیل نازل شوی وُ .

بل دا چې د توراة او اِنجیل د اَصلي نسخو تر اوسه پورې هیڅ پته نه لږي ، په دې موجوده نُسخو کې په زَرهاوُ ځایونو کې اِختلاف موجود دی .

دغه رنګې مخکیني څه کتابونه په کلداني ژبه کې نازل شوي خو اوس هاغه ژبې نشته .

خلاصه دا چې مخکیني کتابونه په کومو ژبو کې نازل شوي وو هاغه ژبې یا خو مکمل ختمې شوي ، او چې نا څه موجود دي هغه هم هماغه ژبې ندي پاتې شوي په کوم کې چې هاغه کتابونه نازل شوي وو ، بلکه د دې اَصلي شکل مکمل بدل شوی .

# د قرآن کریم مقابله هیڅوک نشي کولی

قرآن مجید د الله ﷻ کلام دی لکه څرنګې چې د الله ﷻ د کارونو مقابَله څوک نشي کولی نو همدغه شان د الله ﷻ د کتاب مقابَله هم څوک نشي کولی .

په دُنیا کې ډیر ښه ښه کتابونه لیکل شوي خو لیکن تر اوسه پورې هیچا دا چیلِنج ندی ورکړی چې " زما د کتاب غوندې کتاب څوک نشي لیکلی " . ځکه په مَخ د زمکه ډیر فُصحاء ، بُلغاء او اَدیبان شته ، هغوی به د دینه بهترین کتاب اولیکي ، او که په هاغه زمانه کې نه وي نو په وروسته راتلونکې زمانه کې اَدیبان به د دې مقابله اوکړي .

لیکن صرف او صرف قرآن کریم داسې مُعجز کتاب دی چې د دې مقابَله هیڅوک نشي کولی . د کله نه چې دا نازل شوی د هاغه وخت نه را په دیخوا تر قیامته پورې خلقو ته د دې چیلِنج ورکړې شوی چې د دې په شان کلام جوړ کړئ .

بلکه که د دُنیا ټول فصحَاء او بُلغاء ، عرب او عجم ، انسانان او پیریان راجَمع شي خو بیا هم د قرآن کریم مقابَله نشي کولی .

او د دې خبرداري الله ﷻ د مخکې نه ورکړی ، ربِ کریم فرمایي :

﴿ قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴾ . (١)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته ورته ووايه : كه چيرته ټول انسانان او پېريان راجمع شي ددې د پاره چې ددې قرآن كريم په شان ( بل قرآن ) راوړي نو هيڅ كله به ددې په شان قرآن رانه وړي ، اګر چې په دوی كې بعضې د بعضو نورو د پاره مددګار شي .

كله چې د غونډ قرآن كريم غوندې كتاب هيڅا جوړ نكړې شو نو د لسو سورتونو چيلنج ورکړې شو :

﴿ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ، فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا أُنزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ وَأَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : آيا دوی ( يعنى دا كافران ) وايي چې نبي عليه السلام قرآن كريم د ځان نه ( په دروغه ) جوړ كړې دى ، نو ته ورته ووايه چې تاسو هم د قرآن كريم په شان لس (١٠) سورتونه د ځان نه ( په دروغه ) جوړ شوي راوړئ ، او د الله ﷻ نه سِوا چې تاسو څوک هم رابللې شئ هغه ( د مدد كولو دپاره ) را اُوبلئ كه چيرته تاسو ( په خپله دعوىٰ كې ) رښتيني يئ ، پس كه چيرته دوی تاسو ته جواب درنكړي ( يعنى دا كار او نه كړې شي ) نو تاسو پوهه شئ چې دا ( قرآن كريم ) د الله په عِلم ( او قدرت ) سره نازل كړې شوى ، او دا چې د الله ﷻ نه سِوا بل معبود نشته ، پس آيا تاسو مسلمانان يئ ؟ ( يعنى چې كله درته د قرآن كريم صداقت معلوم شو نو آيا تاسو اوس هم نه مسلمانيږئ ؟ ) .

كله چې د قرآن كريم غوندې لس (١٠) سورتونه هم چا جوړ نكړې شو نو ددينه مختصر يعنى د يو سورة جوړولو چيلنج وركړې شو :

---

(١) سورة بني اسرائيل ( الاسراء ) آيت ٨٨ . /

په سورة الطور كې ذكر دي ، ﴿ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ . فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا صَادِقِينَ ﴾ . الطور آيت ٣٣ ، ٣٤ .

(٢) سورة هود آيت ١٣ ، ١٤ .

الله تعالى فرمايي :

﴿أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾ . (١)

ترجمه : آيا دوى دا وايي چې پيغمبر عليه السلام د ځان نه ( په دروغه ) دا قرآن كريم جوړ كړې دى نو ( اې پيغمبره ! ) ته ورته ووايه چې تاسو ددې په شان يو سورة راوړئ ، او د الله ﷻ نه علاوه چې تاسو څوک هم رابللې شئ هغه رااوبلئ كه چيرته تاسو (په دې خپله دعوىٰ كې ) رښتيني يئ .

په مدينه منوّره كې دوباره د يو سورة راوړلو چيلنج وركړې شو ، او ورسره الله ﷻ ددې خبر هم وركړو چې نه خو دوى او س د قرآن كريم غوندې يو سورة جوړولې شي ، او نه به يې تر قيامته پورې جوړ كړي . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او كه چيرته ستاسو شک وي په هغه كتاب كې چې مونږ په خپل بنده ( محمد صلى الله عليه وسلم ) باندې نازل كړى نو تاسو هم ددې په شان يو سورة ( جوړ كړې ) راوړئ ، او د الله ﷻ نه بغير خپل ( ټول ) مددګاران هم رااوغواړئ كه چيرته تاسو ( په خپله دعوىٰ كې ) رښتيني يئ .

په وروسته آيت كې الله ﷻ فرمايي :

﴿ فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴾ . (٣)

---

(١) سورة يونس آيت ٣٨ .

(٢) البقرة آيت ٢٣ .

(٣) البقرة آيت ٢٤ .

ترجمه : پس که چیرته تاسو دا کار (یعنی د قرآن کریم په شان یو سورة جوړول) اونکړې شئ او هیڅ کله به یې اونکړې شئ نو (بیا) د هغه اُور نه اُوویرېږئ چې د هغې خَشاک (نافرمانه) خلق او کاڼي دي، دا اُور تیار کړې شوې دی د کافرانو د پاره .

باوجود ددینه چې په عربو کې ښه ښه شاعران او فصیحان موجود وو، د اسلام او مسلمانانو دُشمنان موجود وو، دایې نه غوښتل چې اسلام ترقي وکړي، بلکه همیشه یې د قرآن مجید دروغجن ثابت کولو غوښتل خو بیا یې هم ددې دومره چیلنجونو باوجود د قرآن کریم مقابله اونکړه، او ددې غونډې وړوکې سورة یې هم جوړ نه کړې شو، همدا د قرآن کریم د صداقت واضحه دلیل دی .

په دې موجوده دَور کې کافرانو ډیرې غټې غټې دعوې اوکړې، تر دې پورې چې سپوږمۍ ته د ختلو دعوې یې هم وکړې، لیکن تر اوسه پورې یو کافر هم دا دعویٰ اونکړه چې ما د قرآن مجید په شان یو سورة جوړ کړې، همدا د قرآن کریم د حقانیت او اِعجاز دلیل هم دی .

# د شپږو میاشتو مسلسل کوشش باوجود ابن مقنع یو آیت هم جوړ نه کړې شو

په دویمه صدۍ هجري کې ابن مقنع (١) یو مشهور شاعِر او اَدیب تېر شوی چې په عربۍ ژبه او د کلام په جوړولو یې ښه قدرت لرل، د اسلام او قرآن دشمنان ده ته راجَمع شو او ورته وې ویل :

اې ابن مقنع ! ته خو د عربۍ ژبې ډیر فصیح و بلیغ شاعر یې، تاته په شعر او نثر دواړو باندې ښه قدرت حاصل دی، لهذا ته د قرآن کریم په مقابَله کې یو کتاب جوړ کړه، ځکه د قرآن کریم په وجه خلق ډیر زر متأثره کیږي، او بار بار د الله ﷻ د طرفه ددې د مقابَلې چیلنجونه ورکړې شوي، نو دا خدمت صرف ته کولې شې چې ددې په شان کتاب اولیکې .

(١) په بعضې کتابونو کې ددهٔ نوم ابن المقفع ذکرشوی . ملهب اور جدید چیلنج ص ١۴۴ .

ابن مقنع ورته وويل : زه به دا كار په پوره يو كال كې وكړم خو شرط دا دى چې تاسو به زما ددې كال ټول اِخراجات او ضروريات پوره كوئ چې زه په فارغ زړه سره د قرآن كريم غوندې كتاب اوليكم .

خلق خوشحاله شو او فوراً يې دده مطالبه پوره كړه ، او د ټولو كال خرچه يې ورته وركړه.

ابن مقنع د ځان سره ډير زيات كاغذونه ، سياهي او قلمونه راواخيست او په ځانله كور كې كيناست ، او د قرآن كريم په مقابله كې كتاب ليكلو باندې يې شروع وكړه .

كله چې شپږ مياشتې تېرې شوى نو دې خلقو وويل : راځئ چې ابن مقنع ته ورشو چې هغه په دې شپږو مياشتو كې څومره كار كړى او څومره سورتونه يې جوړ كړي .

كله چې دوى هلته ورغله نو وې ليده چې د ابن مقنع سره قلم په لاس كې دى او په ډير ژوَر سوچ كې ډوب دى ، مخې ته يې سپين كاغذ پروت دى چې هيڅ ليكل په كې نه وو شوي خو شاته يې د شليدلو كاغذونو يو لوي ډيرې ( اَنبار ) جوړ كړې وُ ( يعنى په كاغذونو كې ليكل كړي وو خو واپس يې شلولي وو ، او د هغې نه يو لوي اَنبار جوړ شوې وُ ) .

خلقو ورنه پوښتنه وكړه : اې ابن مقنع ! تر اوسه پورې تا څومره كار كړى ؟ دهٔ د ډيرې ملامتيا نه سَر ښكته كړو او په ډيرې شَرمندګۍ سره يې وويل :

اې خلقو ! چې د كله نه هم زه د تاسو نه جدا شوې يم د هاغه وخت نه راپه ديخوا زه مسلسل كوشش كوم چې دقرآن كريم د يو وړوكي سورة په شان سورة جوړ كړم ، خو چې كله زه يو څو كرخې عبارت اوليكم او بيا يې د قرآن كريم سره مُقائسه كړم نو زما ضمير ماته وايي چې دا د قرآن مِثل نه دى ( ځكه قرآن كريم په فصاحت او بلاغت كې ډير زيات اُوچت دى ) نو زه دغه پانه اُوشلوم ، شاته يې اُوغورځوم ، بيا بله پانړه راواخلم كله چې په هغې كې يو څو كرخې اوليكم او د قرآن كريم سره يې اوګورم نو زه محسوسه كړم چې دا د قرآن كريم مِثل نه دى ، لهذا دا هم اُوشلوم ، د شپږو مياشتو نه راپه ديخوا مسلسل كوشش كوم ، بې شماره پانړې مې وربانديې خرابې كړى خو ما تر اوسه د قرآن كريم په شان يو وړوكې سورة هم جوړنكړې شو . (١)

(١) نداي ممبر و محراب ج٣ ص ٣٨٣ ، مذهب اور جديد چيلنج ص ١٣٣ .

سبحان الله . ابن مقنع باوجود ددينه چې په عربی ژبه يې ډير مهارت لرل ، ډير فصيح و بليغ شاعر وُ خو ليکن په دې دومره زمانه کې يې د قرآن کريم په شان يوه کرخه عبارت هم جوړ نه کړې شو ، ډير شرمنده او ناکامه شو ، او ددې کار نه يې لاس واخيست.

## د يو آيت په اوريدو ابن مقنع خپل قلم مات کړو

په يو روايت کې راځي چې ابن مقنع د يو هلک نه د قرآن مجيد دا آيت واوريد :

﴿ وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ . (١)

ابن مقنع چې ددې آيت فصاحت او بلاغت ته سوچ وکړو نو خپل قلم يې مات کړو ، کاغذونه يې ځيرې کړه او وې ويل : داسې کلام کول د بَشر د طاقت نه بهر دی.

د اِمرأ القيس خور چې دا آيت واوريده نو خانه کعبې ته لاړه ، هلته چې د عربو شاعرانو کومې قصيدې زوړندې وې هغه ټولې يې رابنکته کړې ، او وې ويل :

د قرآن کريم نه پس ددې قصيدو د فصاحت و بلاغت هيڅ حيثيت نشته.

حالانکه دا داسې قصيدې وې چې عربو تريو نيم سل (١٥٠) کاله پورې دې قصيدو ته سجدې کولې ، خو چې اسلام راغی نو قرآن کريم په خپل فصاحت و بلاغت سره ددې قصيدو حيثيت ختم کړو.

## مُسيلمه کذّاب هم د قرآن کريم په شان سورة جوړولو کې ناکامه شو

مُسيلمه کذّاب د نبي عليه السلام د ژوند په آخري وخت کې د نبوت دعوىٰ کړې وه ، ده ته هم خپلو ملګرو او مريدانو وويل چې ته د قرآن کريم په شان يو وړوکې سورة جوړ کړه. ده د ډير فکر او مسلسل کوشش کولو نه روستو د قرآن کريم د سورة فيل په مقابَله کې يو نقل تيار کړو خو چې کله دده مريدانو دده جوړ شوی کلام واوريده نو په ده يې لعنت وويل او سختې بَدې رَدې خبرې يې ورته وکړې چې دا تا کوم نقل تيار کړی دی دا خو د سړو د هوښيارانو خلقو خبرې نه دي ، دا به د قرآن کريم مقابله څه وکړي ؟

(١) سورة هود ايت ۴۴ .

مُسيلمه کذّاب چې د قرآن کريم د سورة فيل په مقابله کې کوم کلام جوړ کړې ؤ هغه دادی:

اَلْفِيْلُ، مَاالْفِيْلُ، وَمَا أَدْرَاکَ مَاالْفِيْلُ، لَهُ ذَنَبٌ وَبِيْلٌ، وَخُرْطُوْمٌ طَوِيْلٌ.

دده ددې کلام ترجمه داده: هاتي، هاتي څه شی دی؟ تاته څه پته ده چې هاتي څه شی دی؟ دده وړوکې لکۍ وی، او اوږد يې خړتَم وي. (۱)

فائده: يقيني خبره ده چې دا خُرافات د قرآن کريم د سورة فيل مقابله کله کولې شي؟ څکه خو خپلو مريدانو هم په مسليمه بن کذاب باندې لعنت وويل.

## د قرآن کريم مقابله کوونکي کس خراب اَنجام

علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب "الوفاء باحوال المصطفى" اول جلد کې يوه واقعه رانقل کړی:

ابومسلم نحوي رحمه الله فرمايي چې مونږ يو ځل د قرآن کريم د اِعجاز متعلق خبره کوله (چې دا داسې مُعجز کلام دی چې هيڅوک ددې مقابله نشي کولی)، په دې مجلس کې يو فاضل شيخ هم ناست ؤ هغه وويل:

مَا فِيْهِ مَا يَعْجِزُ الْفُضَلَاءُ عَنْهُ. په دې قرآن کريم کې داسې څه کمال دی چې فضلاء او بُلغاء ددې د مقابلې نه عاجز دي؟

ده يیا کاغذ او قلم راواخيست او بَره بالاخانې ته اُوخَت، او د دوی سره يې وعده وکړه چې زه به درې ورځې پس د قرآن کريم په شان کتاب ليکم.

کله چې درې ورځې تيرې شوی او هغه د بره نه رانښکته نه شو نو يو کس د معلومات د پاره بَره وَراُوخَت، نو هغه يې په داسې حالت کې اُوليده:

قد جفت يده على القلم. چې دده لاس په قلم باندې اُوچ شوی ؤ. (۲)

(۱) الوفاء باحوال المصطفى للامام ابي الفرج عبدالرحمن بن الجوزي ج۱ ص۲٦٧، وللدای ممبر و محراب ج۳ ص۲٥٨.

(۲) الوفاء باحوال المصطفى للامام ابي الفرج عبدالرحمن بن الجوزي ج۱ ص۲٦٨.

( يعنی غونډ وجود يې اُوچ شوې ؤ ، او په هماغه ځای مړ شوی وی ، خو د قرآن کريم په شان يوه کرخه هم نه وه ليکلی ) .

## د قرآن کريم په مُعجز والي باندې د " فيضي " اِقرار

" فيضي " چې د قرآن مجيد بې نُقطو کوم تفسير ليکلې دی د " سواطع الالهام " په نوم باندې . بعضې خلق دا ګمان کوي چې ګڼي دا تفسير په فصاحت کې د قرآن مجيد برابر دی . خو د دوی خيال غلط دی ، ځکه " فيضي " په خپله په دې تفسير کې دا اِقرار کړی چې د قرآن کريم په شان کتاب هيڅوک نشي جوړلی ، دی وايي :

كَلَامُ اللّٰهِ لَا حَدَّ لِمَحَامِدِهٖ . وَلَا عَدَّ لِمَكَارِمِهٖ . وَمَاءٌ لَاسَاحِلَ لَهٗ .

قرآن کريم د الله تعالی داسې کلام دی چې ددې د تعريفونو څه حَد نشته ، ددې د فضيلتونو څه شمار نشته ، او دا داسې سمندر دی چې ددې څه ساحِل ( غاړه ) نشته .

نو چې کله " فيضي " په خپله د قرآن مجيد د مُعجِز والي اِقرار کوي نو دده تفسير به په فصاحت و بلاغت کې څنګه د قرآن کريم برابر شي ؟

بل دا چې " فيضي " خو صرف دا کار کړی چې د قرآن کريم تفسير يې په داسې الفاظو سره کړی چې په هغې باندې نُقطې نشته ، او دا خو دومره غټ کمال نه دی ، ځکه د " فيضي " نه مخکې خو داسې کلام مُتَنَبّي ، حرِيري او نورو عربو اَديبانو هم جوړ کړی ، نو بيا د فيضي څه کمال پاتې شو ؟ (۱)

## د قرآن کريم په مُعجِز والي باندې د شاعرانو د اُستاذ اِقرار

مشهوره واقعه ده چې په عربو کې يو فصيح و بليغ شاعر ؤ خو کافر ؤ ، او د ډيرو شاعرانو استاذ هم ؤ ، کله چې د ښار د شور و شَغب نه تنګ شو نو غره ته لاړ ، هلته په يو غار کې ديره شو ، ځکه د ښارېې شور او جګړو دده په دِماغو غلط اَثر کولو .

دده ډير شاګردان وو ، کله به چې دده شاګردانو د عربۍ څه کلام جوړ کړو نو ددې د اِصلاح او تصحيح د پاره به يې ده ته وَر وړو ، د غار په خوله کې به يې پاڼړې کيښودی ،

---

(۱) ندائے منبر و محراب ج۳ ص ۳۸٦ .

دوى به لاړه ، دې شاعر به هغه پاڼې راواخيستى ، د هغې تصحيح به يې اوكړه ، بيا به يې واپس په هماغه ځاى كې كيښودى ، په صبا باندې به دې خلقو خپلې پاڼې واپس وړلى .

يوه ورځ دده يو شاګرد د قرآن كريم سورة كوثر ﴿ إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ . فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ . إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴾ په يوه پاڼه وليكل ، دې شاعر ته يې ور وړو ، ده نه يې وويل چې دا ماجوړ كړې دى ، ته ددې سره په همدې اَنداز باندې څلورمه مِصرع ( كړى ) جوړه كړه ، كاغذ يې د غار په خوله كې پريخود . كله چې صبا ورپسې ورغى نو ددې څلورمې مِصرعې په ځاى باندې دې شاعر ليكلي وو :

لَيْسَ هٰذَا قَوْلُ الْبَشَرِ . (١)

دا خو د انسان كلام نه دى ( چې زه ددې په شان كلام جوړ كړم ، بلكه دا خو د الله ﷻ كلام دى ) .

محترمو مسلمانانو ! د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په زمانه كې خو بې شماره فُصحاء ، بُلغاء او اَديبان موجود وو كه چيرته دوى د قرآن مجيد مقابله كولې شوى نو بيا به ديته نه مجبوره كيده چې د مسلمانانو خلاف توره راواخلي ، بلكه همداسې به يې د قرآن كريم تكذيب ثابت كړې وى ، خو چې كله په دې كې ناكامه شو نو بيا يې تورې ته لاس كړو .

په موجوده وخت كې د اَتيا كروړو ( ٨٠٠٠٠٠٠٠ ) نه زيات عيسايان موجود دي ، او د ديرش كروړو ( ٣٠٠٠٠٠٠٠ ) نه زيات هِندوان موجود دي ، همدغه رنګې بې شماره د دُنيا نور قومونه هم شته خو تر اُوسه پورې هيچاد قرآن كريم د مقابلې دا چيلنج قبول نه كړو ، نه يې ددې مقابله اوكړه ، او نه به تر د قيامته پورې څوک ددې مقابله اوكړې شي .

بلكه چې كله هم غير مُسلِمو د قرآن كريم خلاف سازش كړى نو الله ﷻ ناكامه كړي او رَسواء كړي دي .

---

(١) نداے منبر ومحراب ج٣ ص٣٨٨ .

# د يو عيسائي پادري ذهوكه او رسوا كيدل

يو وخت په متحده هندوستان كې د دهلي په چوك كې يو عيسائي پادري راغی او اعلان يې وكړو :

اې مسلمانانو ! تاسو وايئ چې زمونږ قرآن په حقه دی ، راشئ نن ما د مقابلې د پاره خپل انجيل راوړی دی ، تاسو خپل قرآن راوړئ ، دواړه كتابونه به دې اُور ته واچوو ، كه د چا كتاب او نه سوځيده هغه به په حقه وي ، او چې د چا هغه اُوسوزيده هغه به په ناحقه وي .

عيسائي پادري په چوك كې ولاړ دی ، او بار بار دا اعلانونه كوي ، مسلمانان حيران ولاړ دي . يو كس په منډه باندې د مسلمانانو عالم " شاه عبدالعزيز رحمه الله " ته ورغی ، هغه په خپله كتب خانه كې مطالعه كوله ، دې كس ورته ووېل :

شاه صاحب ! مسلمانان په ډير لوي امتحان كې ګير شوي . شاه صاحب ورنه پوښتنه وكړه چې څه چل دی ؟ ده ورته ووېل :

د دهلي په چوك كې يو عيسائي پادري ولاړ دی او بار بار مسلمانانو ته دا اعلان كوي :

اې مسلمانانو ! تاسو وايئ چې زمونږ قرآن په حقه دی ، نو تاسو خپل قرآن راوړئ ، ما هم خپل انجيل راوړی ، دواړه كتابونه به دې اُور وَر اَچوو ، كه كوم كتاب او نه سوځيده هغه به په حقه وي .

شاه صاحب ورته ووېل : وار خطاء كيږه مه ، دا د ومره غټه خبره نه ده .

شاه صاحب راروان شو ، كله چې د دهلي چوك ته رااُورسيده ، عيسائي پادري ولاړ دی ، ده ورنه پوښتنه وكړه :

پادري ! څه خبره ده ؟ هغه ورته ووېل : زه مقابلې ته راغلې يم ، تاسو خپل كتاب " قرآن مجيد " راوړئ ، او ما هم خپل كتاب " انجيل " راوړی دی ، دواړه كتابونه به دې اُور ته اُوغورځوو ، كه ستاسو كتاب اُوسوزيده نو تاسو به په ناحقه يئ ، او كه زمونږ كتاب اُوسوزيده نو مونږ به په ناحقه يو .

شاه صاحب خو دده په ذهوكه باندې پوهه شو ، ورته وې ويل :

دا دومره غټه خبره نه ده ، کتاب غور ځول بې اَدبي ده ، ته به خپل کتاب د سينې سره اُونيسې او زه به خپل کتاب د سينې سره اُونيسم او دواړه به دې اُور ته ننوځو ، که ته اُوسوزيدې نو ته به په ناحقه يې ، او که زه اُوسوزيدم نو زه به په ناحقه يم .

عيسائي پادري چې دا خبره واوريده نو وې ويل : داسې مقابله خو زه نشم کولی . دا يې وويل او د چوک نه يې مَنډه کړه . خلقو رااُونيوه ، ورته وې ويل : چې اوس به خامخا مقابله کوې . پادري ورته وويل : زه معافي غواړم ما په خپل کتاب پورې څه داسې مسَاله (دوايي) مږلې ده چې دا اُور نه سوزوي ، او په جسم مې نه ده مږلې ، لهذا زه دا مقابله نشم کولی ، دا يې وويل ، د چوک نه يې منډه کړه او لاړ اُوتختيده .

## د قرآن په اِعجاز باندې د يو اَمريکائي مُستشرِق " پروفيسر فنکل " اِقرار

علامه طنطاوي جوهري رحمه الله په خپل تفسير کې ليکلي چې په کال ١٩٣٢ء کې زما ملاقات د يو مِصري اَديب او اُستاذ کامل " گيلاني " سره اوشو ، هغه راته خپله يوه عجيبه واقعه بيان کړه :

هغه راته وويل چې يو ځل زما ملاقات د اَمريکې يو مُستشرِق " پروفيسر فنکل " سره اوشو ، چونکه زما او د هغه په مينځ کې نزدې تعلّقات وو ، ځکه زه هم د عربۍ ژبې يو اديب يم ، او هغه هم د عربۍ ، جَرمنۍ ، عبرانۍ او انگريزۍ ژبو پوخ اَديب وُ .

يوه ورځ هغه اَمريکائي مُستشرق ماته په غوږ کې پټ وويل : آيا ته هم په هاغه خلقو کې يې چې هغوی قرآن کريم يوه معجزه مني ؟ دا يې وويل او بيا يې په زوره اُوخندل ... مطلب يې دا وُ چې گني قرآن کريم مُعجزه نه ده ، بلکه دا د مسلمانانو هسې دعویٰ ده .

ما ورته وويل : اول به ما او تا تجربه اوکړو چې آيا مونږ د قرآن کريم غوندې فصيح و بليغ کلام جوړولې شو او که نه ؟ د تجربې کولو نه روستو به راته په خپله اَندازه اوشي چې آيا قرآن کريم مُعجز کلام دی او که نه ؟

بيا ما دې اُستاذ فنکل ته وويل : راځه مونږ به د قرآن کريم يو تصوّر او مفهوم په خپلو اَدبي الفاظو کې اوليکو بيا به په آخر کې د دې خپلو اَدبي جملو مقائسه د قرآن کريم د جملو سره اوکړو چې قرآن کريم دا مفهوم څنګه اداء کړی ؟ او مونږ څنګه اداء کړی ؟ نو په خپله به راته خبره واضحه شي .

هغه راسره دا خبره اُومنله ، دوارو قلم او كاغذ راواخيست ، او په شريكه مو د عربي داسې شل (٢٠) جملې جوړې كړى چې په هغې كې '' د جهنم د فراخولي '' خبره مونږ په ډير فصيح و بليغ انداز كې ذكر كړه ، په هغه جملو كې ځنې دادي :

إِنَّ جَهَنَّمَ وَاسِعَةٌ جِدًّا .

إِنَّ جَهَنَّمَ لَأَوسع مما تظنون .

إِنَّ سعة جَهَنَّم لا يتصوّرها عقل الانسان .

إِنَّ جَهَنَّمَ لتسع الدّنيا كلّها .

إنّ الجنّ والإنس إذا دخلوا جهنّم لتسعهم ولاتضيق بهم .

إنّ سعة جهنّم لتصغر امامها سعة السماوات والارض .

سترون من سعة جهنّم مالم تكونوا لتحملوا به او تتصوروه .

مهما حاولت ان نتخيّل سعة جهنّم فأنت مقصر ولن تصل الى شيء من حقيقتها .

إنّ البلاغة المعجزة تقصر وتعجز اشد العجز عن وصف سعة جهنّم .

إنّ سعة جهنم قد تخطت احلام الحاملين وتصوّر المتصورين .

متى امسكت بالقلم وتصديت لوصف سعة جهنم احسست بقصورك وعجزك .

إنّ سعة جهنم لايصفها وصف ولايتخيلها وهم ولاتدور بحسبان .

كلّ وصف لسعة جهنّم انّما هو فضول وهذيان .

كله چې مونږ خپل آخري كوشش وكړو او نور د مونږ سره داسې الفاظ پاتې نه شو چې دا مفهوم په كې اداء كړو نو ما ډير په فاتِحانه اَنداز كې پروفيسر فنكل طرف ته اُوكته ، او ورته مې وويل چې اوس به په تا باندې د قرآن كريم بلاغت او مُعجز والې ښكاره شي .

هغه راته وويل : آيا قرآن كريم د جهنم د فراخوالي دا مفهوم د مونږ نه په ډير بليغ اَنداز كې بيان كړى ؟

ما ورته وويل : مونږ خو د قرآن کريم په مقابله کې د وړو بچو حيثيت هم نه لرو . هغه په ډيرې حيرانتيا سره پوښتنه وکړه : په قرآن کريم کې دا مفهوم څنګه بيان شوی ؟ ما ورته د " سورة ق " دا آيت تلاوت کړو ، الله تعالی فرمايي :

﴿ يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴾ . (١)

ترجمه : په کومه ورځ چې مونږ جهنم ته ووايو : آيا ته ډک شوی ؟ او هغه به ووايي : آيا زياتي څه شته ؟

کله چې دې امريکائي مُستشرق پروفيسر فنکل د قرآن مجيد دا آيت واوريده او په دې کې يې دا فصاحت او بلاغت اوکته نو حيران پاتې شو ، څوله يې وازه پاتې شوه ، او وې ويل :

صَدَقْتَ نَعَمْ صَدَقْتَ وَأَنَا أُقِرُّ لَكَ ذٰلِكَ مُغْتَبِطًا مِنْ كُلِّ قَلْبِيْ .

تا رښتيا وويل ، يقيني تا رښتيا وويل ، زه په کلاؤ زړه سره دا اِقرار کوم ( چې قرآن کريم د فصاحت و بلاغت نه ډک مُعجز کلام دی ) .

ما ورته وويل : دا دومره د تعجب خبره نه ده ځکه ته چونکه د عربي ژبې اَديب يې تاته په دې آيت کې حَد درجه فصاحت و بلاغت ښکاره شو نو ځکه تا د حق اِقرار وکړو . (٢)

## د قرآن کريم په حقانيت باندې د يو عيسائي پادري اِقرار

د عيسايانو په اِبتدائي دوَر کې د مولانا رحمت الله صاحب سره د يو عيسائي پادري مناظره راغله ، په هغه مناظره کې حق غالب شو او باطل مغلوب شو ، يعنی مولانا رحمت الله صاحب اُوګټله ، او پادري شِکست اُوخوړ . په آخِر کې دې عيسائي پادري د مولانا رحمه الله صاحب نه پوښتنه وکړه :

مولانا صاحب ! د تاسره په دې خبره باندې د ټولو نه غټ دليل کوم يو دی چې " قرآن کريم د الله ﷻ کلام دی " ؟

کله چې مولانا صاحب دليل بيانول شروع کړه نو دې پادري ورته وويل :

---

(١) سورة ق آيت ٣٠ .

(٢) الجواهر في تفسير القرآن الكريم للشيخ طنطاوي جوهري ج٣ ص ١١١ ، ١١٢ .

مولانا صاحب ! تاته بنه پته ده چې زه عيسائي يم ، او د تاسره مې مُناظره هم وکړه خو دا دليل به درته زه بيان کړم ، او دا حق به زه واضح کړم ·

هغه دا چې : په دې وخت کې په ټوله دُنيا کې د تعليم ډير زُور دی ، زمونږ د لندَن پارلمنټ زمونږ د ملک د پاره قانون جوړوي ، او ددې قانون جوړولو چې کوم ممبران دي هغوی ډير اُوچت اُوچت تعليمونه کړي . کله چې دا تعليم يافته خلق يو قانون جوړ کړي نو په دې باندې شپږ مياشتې نه وي تيرې شوی چې په دې قانون کې غلطي را اُووځي ، بيا دوی په دې کې تَرميم وکړي او قانون بدل کړي ·

زمونږ د لندَن پارلمنټ خو پريږده بلکه که د ټولې دُنيا بهترين قانون دانان ، فلاسفه او زيرکه خلق راجَمع کړې شي او دوی يو قانون جوړ کړي نو بيا به هم په دې کې غلطي راوُوځي ، ځکه په دُنيا کې چې د قانون جوړولو دا اِداره جوړه شوی نو دا صرف ددې د پاره جوړه شوی چې دوی به وخت په وخت په قانون کې ترميمات او تَنسيخات کوي ، زاړه قوانين به ختموي .او نوي نوي قوانين به جوړوي . دا قانون ساز اِداره جوړول غټ دليل ددې دی چې زمونږ په وضع کړده قوانينو کې غلطي شته .

ليکن بل طرف ته ستاسو کتاب " قرآن مجيد " صرف ددا سې يو کس ( محمد ﷺ ) په لاس باندې ظاهر شوی چې هغه په ټول عُمر کې د چا نه اَلِف بَا هم ندي ويلي ، خالِصه اُمّي وُ ، بيا نبي عليه السلام د چا سره ددې قوانينو په جوړولو کې مشوره هم نده کړې ، ځکه په هاغه وخت کې اکثر خلق اُمّيان وو (۱) ، بيا په دې کتاب کې د اِنسانانو د ژوند متعلق غټ غټ قوانين ذکر دي ، خو د څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله تيريدو باوجود بيا هم ددې په قوانينو کې هيڅ غلطي را اُو نه وته ، د هرې زمانې سره ددې قوانين برابر دي نو دا غټ دليل ددې دی چې قرآن کريم د الله تعالی کلام دی ، ځکه که دا يو انسان جوړ کړې وی نو بيا به د وخت په تيريدلو سره ددې په قوانينو کې هم د تبديلۍ او ترميم ضرورت راغلې وی ·

پس معلومه شوه چې قرآن کريم د الله تعالی مُعجِز کلام دی ، يو دائمي قانون دی ، او په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته . (۲)

---

(۱) الله تعالی هم فرمايي : هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ .. سورة الجمعة آيت ۲ .

(۲) خطبات الحقاني لشيخ الاسلام سيد شمس الحق الحقاني رحمه الله ص ۲۴۳ .

## د قرآن کريم په اوريدلو کې عجيبه خوند او لذت دی

الله رب العزت د قرآن کريم په تلاوت کې داسې بهترين خوَند او لِذت ايخی چې دا د دُنيا په بل هيڅ کتاب کې نشته ، بيا خاصکر د هر قاري د تلاوت کولو ځانله ځانله خوَند وي ، دا ټول کمال او برکت صرف د قرآن کريم دی .

د قرآن کريم نه علاوه د دُنيا د نورو مذهبونو کتابونه که په هر قِسمه خوش آوازۍ سره اُولوستې شي نو په هغې کې به داسې خوَند او لِذت نه وي ، ګني انسان دې ورياندې تجربه وکړي ، بيا به ده ته په خپله نتيجه معلومه شي .

بلکه د قرآن کريم لوستلو ته خو د فرښتو غوندې مُقرّب مخلوق هم رانازليږي ، ديته غوږ نيسي ، او دا اَوري .

دغه وجه ده چې که د صحابه کرامو او نورو اَسلافو په ژوند باندې نظر واچولې شي نو دا به معلومه شي چې دوی د قرآن کريم تلاوت په داسې ښکلي اَنداز باندې کولو چې د هر يو آيت په لوستلو به يې خوَند او لِذت محسوسولو .

## د حضرت فاطمې رضي الله عنها د تلاوت او مانځه سره مينه

يو پيره حضرت فاطمه رضي الله عنها د ژمي په يَخو او اُوږدو شپو کې په تهجد و باندې اُودريده ، د دوه رکعتو نفلو نيت يې اُوتړل ، د قرآن کريم يو يو آيت يې دير په اِطمينان او سکون سره لوستلو ، دومره دير تلاوت يې اوکړو چې کله يې سلام اُوګرځول نو وې کتـه چې صُبح صادِق نزدې دی ( يعنی د سهَر داخليدو ته لږ وخت پاتې ؤ ) ، لاسونه يې د دُعا د پاره اُوچت کړه ، په ژړا شوه ، الله ﷻ ته يې عَرض وکړو :

اې الله ! ما خو صرف د دوه رکعتونو نفلو نيت تړلې ؤ ، دا شپه څومره لنډه وه ، دا خو صرف په دوه رکعته کولو سره ختمه شوه .

سبحان الله . حضرت فاطمې رضي الله عنها دومره په خوَند او اِطمينان سره تلاوت کولو چې تر سهره پورې په نفلو ولاړه وه خو بيا يې هم الله ﷻ ته د شپو د لنډ والي شکايت کولو .

# په غشي باندې د لږيدو باوجود تلاوت جاري ساتل

د ابو داؤد شريف حديث دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره غزوه ذات الرقاع ته اُووتو ، يو کس د مُشرکينو يوه ښځه قتل کړه ، د هغې خاوند قسَم وکړو چې زه به تر هغه وخته پورې په آرام نه کينم چې تر څو پورې د نبي عليه السلام د ملګرو وينه توی نه کړم ( او ددې بدَل وا نه خلم ) ، نو دې د نبي ﷺ د لښکر پسې شاته پټ پټ راروان ؤ ، پيغمبر عليه السلام په يو ځای کې پړاؤ واچول ، صحابه کرامو ته يې وفرمايل :

مَنْ رَجُلٌ يَكْلَؤُنَا ؟

کوم کس به زمونږ پيره ( حفاظت ) وکړي ؟

نو يو کس د مهاجرينو او يو کس د انصارو نه ديته تيار شو ، نبي عليه السلام ورته وفرمايل : تاسو ددې دَرّې ( غوندۍ ) په سَر باندې پيره کوئ .

کله چې دا دواړه هلته لاړه ( دوی په خپل مينځ کې پيره تقسيم کړه چې نمبر په نمبر په پيره کوو ) نو مهاجر صحابي د آرام کولو د پاره څملاست ، او اَنصاري د مانځه د پاره اُودريده ( ځکه ده د ځان سره سوچ وکړو چې د هسې ويخ اُودريدلو نه خو دا ښه ده چې په مانځه باندې اُودريږم ، هاغه مشرک هم چونکه د دوی پسې پټ راروان ؤ )

کله چې هغه مشرک دلته رااُورسيده نو دا اَنصاري صحابي يې په مانځه باندې ولاړ اُوليده ، دې پوهه شو چې دا خو د خپل قوم مُحافِظ او پهره دار دی ، نو دې مشرک دا صحابي په غشي باندې اُوويشت ، دا غشې دده په بدن کې ننوت ، دې صحابي دا غشې راوُويست ، او خپل مونځ يې جاري اُوساتل ، تر دې پورې چې دې مشرک دا صحابي په درې ( ۳ ) غشو باندې اُوويشتو ( هر غشې به دده په وجود کې ننوتو ، او ده به راويستو ، اګر چې دده د وجود نه وينه روانه وه ) خو ده بيا هم خپل مونځ جاري ساتلو ( آخر دده سره دا يَره پيدا شوه چې هسې نه په ډيرو غشو ويشتلو دې حالت ته اُورسم چې بيا د صحابه کرامو حفاظت رانه پاتې شي نو ) بيا ده رکوع او سجده وکړه ( مونځ يې پوره کړو ) ، او هغه خپل

مهاجر ملګري يې راپاڅول ، دې مشرک ته چې د دوی بيداريدل معلوم شو نو هغه لاړ اوتختيده .

کله چې دې مهاجر صحابي په دې انصاري صحابي باندې بهيدونکې وينه اُوليده نو ورته وې ويل :

سُبْحَانَ اللهِ أَلَا أَنْبَهْتَنِيْ أَوَّلَ مَا رَمٰى ؟

سبحان الله ، کله چې هغه په تا باندې د اول غشي ګوذار اوکړو نو تا ولې زه هلته راپا نه څولم ؟

ده ورته وويل :

كُنْتُ فِيْ سُوْرَةٍ أَقْرَؤُهَا فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ أَقْطَعَهَا . (١)

ما ( په مانځه کې ) يو سورة لوستلو نو ما دا نه خوښول چې زه دا په مينځ کې پريږدم (نو ځکه مې ته نه راپاڅولې ) .

**فائده** : سبحان الله ، دې صحابي د سورة په لوستلو کې دومره خوَند او لذت محسوسول چې مسلسل يې په وجود باندې غشي لږيده ، وينه ورنه روانه وه خو بيا يې هم په مينځ کې سورة پرېخودل نه غوښته .

---

(١) عَنْ جَابِرٍ. قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِيْ فِيْ غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ فَأَصَابَ رَجُلٌ امْرَأَةَ رَجُلٍ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ. فَحَلَفَ أَنْ لَا أَنْتَهِيَ حَتّٰى أُهْرِيْقَ دَمًا فِيْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ. فَخَرَجَ يَتْبَعُ أَثَرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلًا. فَقَالَ: مَنْ رَجُلٌ يَكْلَؤُنَا ؟ فَانْتَدَبَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَرَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ. فَقَالَ : « كُوْنَا بِفَمِ الشِّعْبِ ». قَالَ: فَلَمَّا خَرَجَ الرَّجُلَانِ إِلٰى فَمِ الشِّعْبِ اِضْطَجَعَ الْمُهَاجِرِيُّ، وَقَامَ الْأَنْصَارِيُّ يُصَلِّيْ، وَأَتَى الرَّجُلُ فَلَمَّا رَأٰى شَخْصَهُ عَرَفَ أَنَّهُ رَبِيْئَةٌ لِلْقَوْمِ. فَرَمَاهُ بِسَهْمٍ فَوَضَعَهُ فِيْهِ فَنَزَعَهُ . حَتّٰى رَمَاهُ بِثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ. ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ. ثُمَّ انْتَبَهَ صَاحِبُهُ. فَلَمَّا عَرَفَ أَنَّهُمْ قَدْ نَذِرُوْا بِهِ هَرَبَ، وَلَمَّا رَأَى الْمُهَاجِرِيُّ مَا بِالْأَنْصَارِيِّ مِنَ الدَّمِ . قَالَ : سُبْحَانَ اللهِ أَلَا أَنْبَهْتَنِيْ أَوَّلَ مَا رَمٰى .قَالَ : كُنْتُ فِيْ سُوْرَةٍ أَقْرَؤُهَا فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ أَقْطَعَهَا . سنن ابي داؤد بَابُ الْوُضُوْءِ مِنَ الدَّمِ رقم الحديث ١٩٨

په نورو رواياتو کې ورسره دا الفاظ هم ذکر دي چې دې انصاري صحابي ورته وويل ،

كُنْتُ فِيْ سُوْرَةٍ أَقْرَؤُهَا فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ أَقْطَعَهَا حَتّٰى أُنْفِذَهَا . فَلَمَّا تَابَعَ عَلَيَّ الرَّمْيَ رَكَعْتُ فَآذَنْتُكَ. وَايْمُ اللهِ لَوْلَا أَنْ أُضَيِّعَ ثَغْرًا . أَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِهِ لَقُطِعَ نَفَسِيْ قَبْلَ أَنْ أَقْطَعَهَا . أَوْ أُنْفِذَهَا . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٥٥٧ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح الاسناد ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٦٦٣ .

**تنبيه** زمونږ د اَحنافو په نزد باندې د وجود نه د وينې وتلو او بهيدلو سره اَودس ماتيږي ، ځکه د نبي عليه السلام نه صريح احاديث نقل دي چې د پوزې ماتيدو ( يعنى د پوزې نه د وينې تللو ) سره اَودس ماتيږي ، لهذا که د نور وجود نه وينه اُووځي او روانه شي نو په دې سره به هم اَودس ماتيږي .

لهذا د صريحو احاديثو په مقابَله کې د يو صحابي عمل دليل نشي کيدی . يا دا چې کيدې شي دې انصاري صحابي ته دا مسئله تر اوسه نه وه معلومه چې کني د وينې په وتلو سره اودس ماتيږي ، نو ځکه يې خپل مونځ جاري ساتلو . (١)

## په هر ځل تلاوت کولو سره انسان نوې لِذت محسوسوي

د دُنيا په بل يو کتاب کې داسې خوَند او لِذت نشته څومره چې په قرآن کريم کې دی ، ځکه د دُنيا نور کتابونه که انسان په اول ځل باندې لولي نو څه نا څه دِلچسپي يې په کې وي خو چې په دويم ځل او دريم ځل يې لولي نو دِلچسپي يې ډيره کمه شوې وي ، خو د څلورو يا پنځو ځلو لوستلو نه روستو د انسان زړه د هغه کتاب نه مکمل موړ شي ، بيا هغې ته کتل هم نه خوښوي .

ليکن قرآن کريم داسې يو کتاب دی چې انسان هر څومره دا زيات لولي نو همدومره يې ددې سره شوق او محبت زياتيږي ، او په هر ځل لوستلو سره ځانله لذت او خوَند محسوسوي بلکه که يو انسان ټول عُمر ددې تلاوت کوي نو په هر ځل به دده په شوق او دِلچسپۍ کې نوره هم اِضافه کيږي .

تاسو سوچ وکړئ سورة فاتحه ( يعنى الحمدُ لله ... ) انسان د مانځه په هر رکعت کې وايي ، او په هره ورځ يې په مانځه کې د امام نه هم اَوري خو ليکن دې ورباندې نه تنګيږي ، بلکه په هره پيره ده ته دا نوې شی معلوميږي ، او نوې لِذت په کې محسوسوي .

نبي عليه السلام فرمايي :

اَلْقُرْآنُ لَا يَخْلَقُ عَلَى كَثْرَةِ الرَّدِ . (٢)

---

(١) تحفة المسعود مترجَم ابوداؤد ج١ ص٩٣ .

(٢) رواه الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ٢٩٠٦ ، ورواه الدارمي . الشفاء ج١ ص ٣٩٠ .

قرآن کریم په بار بار ویلو سره نه زړیږي چې کني ددې نه د انسان زړه موړ شي.

## په هر دوَر کې د قرآن کریم عاشقان موجود دي

په دُنیا کې د بل هیڅ کتاب سره دومره عِشق او محبت ندې شوی څومره چې د قرآن کریم سره شوی، ځکه په هر دوَر کې ددې بې شمیره عاشقان تېر شوي:

قرآن کریم واحده داسې کتاب دی چې ځانله هم ددې تلاوت کړې شوی، او په مجلسونو کې هم ددې تلاوت کړې شوی.

د ورځې هم ددې تلاوت کړې شوی، او د شپې هم ددې تلاوت کړې شوی.

په قلاره هم ددې تلاوت کړې شوی او په اُوچت آواز سره هم ددې تلاوت کړې شوی.

ددې د تلاوت کولو په وخت هم د الله ﷻ د یَرې نه ژړا کړې شوی، او ددې په آوریدو هم ژړا کړې شوی.

ددې یو یو لفظ یاد کړې شوی، او ددې د یو یو لفظ معنی معلومه کړې شوی.

بلکه ډیر داسې عاشقان تېر شوي چې ټول عُمر یې په تلاوت او نشر و اِشاعت تېر کړی.

## د اسلافو د قرآن مجید سره د عِشق واقعات:

١. د حضرت عثمان رضي الله عنه په باره کې راځي چې دوی به په هره شپه د قرآن مجید ختم کولو. (١)

٢. حضرت خارجه بن مصعب رضي الله عنه فرمایي چې څلور (۴) داسې هَستۍ تېرې شوي چې هغوی په یو رکعت کې ټول قرآن مجید لوستلې دی:

اول: حضرت عثمان رضي الله عنه. دویم: حضرت تمیم داري رضي الله عنه.

دریم: حضرت سعید بن جبیر رحمه الله. څلورم: امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله. (٢)

د حضرت عبد الله بن زبیر رضي الله عنه په باره کې هم نقل دي چې دوی به هم په یوه شپه کې ټول قرآن ختمولو. (٣)

(١) إقامة الحجة في ان الاكثار في التعبد ليس ببدعة ص ١٨.

(٢) مناقب ابي حنيفه للامام الكردري ص ٢٥٥، إقامة الحجة في ان الاكثار في التعبد ليس ببدعة ص ١٩.

(٣) فضائل القرآن لمولانا زكريا صاحب ص ٢۴.

۳ . د حضرت عبد الله بن ادريس رحمه الله د وفات کيدو وخت چې نږدې شو نو دده لور ژړل ، ده ورته وويل : ژاړه مه ، ما په دې کور کې څلور زره ( ۴۰۰۰ ) پېرې قرآن مجيد ختم کړی . (۱)

همدغه شان واقعه د حضرت ابوبکر بن عياش رحمه الله په باره کې هم نقل ده ، دده ځوي ابراهيم وايي چې يو پېره ماته خپل والد صاحب "ابوبکر بن عياش رحمه الله" وويل :

بچيه ! ما هيڅ کله بې حيايي نه ده کړی ، او تر ديرشو ( ۳۰ ) کالو پورې ما هره ورځ د قرآن مجيد يو ختم کړی . بيا يې راته وويل : بچيه ! په دې کمره کې د الله ﷻ نافرماني مه کوه ځکه په دې کې ما دولس زره ( ۱۲۰۰۰ ) پېرې د قرآن مجيد ختم کړی .

څه دير وخت پس چې کله دده د وفات کيدو وخت راغی نو دده لور ژړل ، ده ورته وويل :

ژاړه مه ، آيا د تاسره دا يَره ده چې ماته به الله ﷻ عذاب راکړي ؟ حالانکه ما ددې کمرې په دې گنج کې څليريشت زره ( ۲۴۰۰۰ ) پېرې قرآن مجيد ختم کړی . (۲)

۴ . د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په باره کې نقل دي چې تر څلويښتو ( ۴۰ ) کالو پورې يې د ماسخوتن په اودس د سهَر مونځ کړی ، او په هره شپه به يې قرآن مجيد ختمول.(۳)

او په رمضان المبارک کې به يې يو شپيته ( ٦١ ) ختمونه کول : يو به يې د ورځې کُول ، دويم به يې د شپې کول ، او يو به يې په تراويحو کې کول . (۴)

او ټول يې اَويازره ( ۷۰۰۰۰ ) پېرې قرآن مجيد ختم کړې وُ . (۵)

نوټ : د امام شافعي رحمه الله په باره کې هم راځي چې دوی به هم په رمضان کې يو شپيته ( ٦١ ) ختمونه کول ، يو د ورځې ، بل د شپې ، او يو په تراويحو کې . (٦)

---

(۱) نووي شرح مسلم ج۱ ص ۱۰ .

(۲) نووي شرح مسلم ج۱ ص ۱۰ ، قرآن کريم ايک عظيم معجزه ص ۱۰۸ .

(۳) سير اعلام النبلاء ج٦ ص ۳۹۹ .

(۴) الخيرات الحسان ص ۸ .

(۵) سير اعلام النبلاء ج٦ ص ۴۰۰ . قرآن کريم ايک عظيم معجزه ص ۱۰۸ .

(٦) فضائل قرآن ص ۳۹ .

۵. حضرت مولانا زکريا رحمه الله په خپله فرمايي چې ما په رمضان المبارک کې کومه سپاره په ترايحو کې ويله هغه به ما د ورځې ديرش (۳۰) پېرې د ځان سره اړوله . (۱)

الله ﷻ د نيکانو خلقو په وختونو کې برکت اچوي کوم کارونه چې په څو څو ورځو کې نشي کيدی هغه دوی په يو څو گنهټو کې کوي ، دغه وجه ده چې ډيرو بزرگانو نه په لږ وخت کې د قرآن مجيد ختمول نقل شوي دي .

٦. امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي چې يو ځل مونږ څه ملگري د فضيل بن عياض رحمه الله ملاقات ته لاړو ، هغه ته دننه د ورتللو اِجازت مو اُوغوښته خو اِجازت را ته ملاؤ نه شو ، چا را ته وويل چې هغه د قرآن مجيد داسې عاشِق دی که هغه د تلاوت آواز واوري نو فورًا راوُوځي . مونږ يو ملگري ته وويل چې ته په تېز آواز باندې يو آيت ووايه ، ده په تېز آواز باندې سورة التکاثر لوستل شروع کړه ، نو فضيل بن عياض رحمه الله فورًا په داسې حالت کې راووت چې د تلاوت په اَوريدو سره يې گيره مبارکه په اُوښکو لمده شوې وه . او ده به چې کله پخپله هم تلاوت کولو نو په ډير اَدب او عاجزۍ سره به يې تلاوت کولو . (۲)

# د قرآن مجيد حِفظ کول هم يوه مُعجزه ده

قرآن مجيد د الله تعالی کلام دی ، په مختلفو طريقو سره ددې اِعجاز ثابت دی ، مشهور اعجاز خو يې دادی چې په دې کې داسې فصاحت و بلاغت موجود دی چې که د عربي ژبې هر څومره ماهِر کس وي خو ددې مقابَله نشي کولی ، ددې په شان يو وړوکې سورة هم نشي جوړولی ، تر قيامته پورې خلقو ته ددې چيلنج ورکړې شوې دی ، نه تر اُوسه پورې چا ددې په شان وړوکې سورة جوړ کړی ، او نه به يې تر قيامته پورې څوک جوړ کړې شي .

د قرآن کريم يو اِعجاز ددې حِفظ کول هم دي چې دا عرب او عجَم ، سړي او ښځې ، ځوانان او بوډاگان ، حتّی چې نابالغه ماشومان هم دا حفظ کولې شي . حالانکه يو کس د خپلې مورنۍ ژبې دومره غټ کتاب هم لفظ په لفظ نشي يادولی خو ليکن قرآن مجيد

---

(۱) يادِ اَيام .

(۲) تحفه حفاظ ص ۲۲۵ .

نابالغه ماشومانو ته هم يادېږي او بې د څه تكلّف نه يې روان ويلې شي ، دا د قرآن كريم يوه ښكاره معجزه ده چې هر چا ته معلومه ده .

په دُنيا كې د بل مذهب د يو كتاب حافظ نشته ، مګر په دې وخت كې د قرآن كريم حافظان د يو كرور نه هم زيات دي .

د عيسايانو اووه پنځوس ( ٥٧ ) ملكونه دي ، دوی د خپل كتاب په خوَريدو ډېرې خرچې كوي خو باوجود د دينه په ټوله دُنيا كې د انجيل يو حافظ هم نشته .

نن صبا په دُنيا كې عام طور څلور انجيله موجود دي ، هر يو د بل نه بدَل دی ، دا څلور واړه انجيله چې راجَمع كړی نو د قرآن كريم د لسو سيپارو هومره هم نه دي خو بيا هم د انجيل يو حافظ نشته ، دغه وجه ده چې د عيسايانو پادريان چې خپل عبادت كوي نو هم يې په لاس كې انجيل نيولې وي د هغې نه تلاوت كوي ، نو چې پَادريانو ته نه دي ياد نو نورو ته به څه ياد وي ؟ خو الحمدُ لله د قرآنِ كريم بې شماره حافظان موجود دي .

او دا يو عظيم سعادت هم دی چې د انسان په سينه كې د پروردِګارِ عالم دا بهترين كلام راشي ، او دده سينه وريادې منوّره شي ، دا سعادت الله ﷻ هر چاته نه نصيبه كوي بلكه چاته يې چې اُوغواړي نو هغوی ته يې نصيبه كوي .

يو شاعر وايي :

اين سعادت بزورِ بازو نيست * تا نه بخشد خدا ئے بخشنده

دا نيک بختي د متو په زور نه حاصليږي تر څو پورې چې وركوونكې رب انسان ته دا ورنكړي . يعنی دا د الله ﷻ په وركړه سره كيږي .

دغه وجه ده چې ډير ذهين ذهين خلق شته خو چې د الله ﷻ مدد ورسره نه وي نو د قرآن كريم حافظ نشي جوړيدی ، او ډير د كمزورې حافظې واله خلق داسې شته چې كله د الله ﷻ مدد ورسره ملګرې شي او خوارې وكړي نو د قرآنِ كريم حافظ ورنه جوړ شي .

ډير خوش نصيبه دي هغه خلق چا چې د قرآن كريم حفظ وكړو ، د دوی والدين هم خوش نصيبه دي ، د دوی استاذان او رِشته دار هم خوش نصيبه دي .

بعضې جاهله خلقو دا خبره مشهوره كړى چې " په قرآن مجيد يادولو سره حافظه كمزورې كيږي، او ددې يادول ډير مشكل دي " .

حالانكه د دوى دا خبره غلطه ده، ځكه په حفظ كولو سره خو حافظه نوره هم مضبوطيږي او دا خبره په تجربې سره ثابته ده چې كوم ماشوم اول حفظ وكړي او بيا روستو تعليم شروع كړي نو دا د خپلو ملګرو په نسبت ډير تكړه وي . بل دا چې قرآن مجيد خو د حافظې په زور نه ياديږي بلكه دا خو د مُعجزه كيدو په وجه انسان ته ياديږي، دغه وجه ده چې زَنانه، بوډاګان او نابالغه ماشومان هم دا يادولې شي، او په ډير لږ وخت كې يې يادولې شي .

## په لږ وخت كې د قرآن مجيد يادول

د اَسلافو ډير داسې وَاقعات موجود دي چې هغوى په ډير لږ وخت كې قرآن مجيد ياد كړې دى، ددې يو څو نمونې ستاسو د وړاندې بيانوم :

## مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله په يوه مياشت كې قرآن كريم ياد كړى

مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله چې د دارالعلوم ديوبند مهتمم ؤ، ده چې كله اولنې حج كولو نو په بحري جهاز كې حج ته روان شو، ځكه په هاغه وخت كې به خلق په بحري جهاز (او بَادباني كشتيو) كې حج ته تلل، په لاره كې به څو څو مياشتې اُولږيدى، خلق به د رمضان نه مخكې په شعبان كې د حج په سفر روان شو چې په وخت باندې مكې مكرمې ته اُورسي .

مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله هم په شعبان كې روان شو، كله چې رمضان راغى نو ده ته معلومه شوه چې په دې جهاز واله كسانو كې اګر چې لوي لوي علماء شته خو حافظ په كې يو هم نشته، نو ده ته دا خبره خوَښه نه شوه چې د علماؤ په دې دومره لوي جَماعت كې دې بيا هم تراويح په آخري سورتونو اوكړې شي، او د قرآن كريم ختم دې په كې اونكړې شي نو ده به په هره ورځ يوه سيپاره يادوله او د شپې به يې دا په تراويحو كې ويله، چې كله رمضان پوره كيده نو ده حفظ هم پوره كړې ؤ . (١)

(١) خطبات حكيم الاسلام ج١ ص ٢٦٤ ، سوانح قاسمي مرتبه مولانا يعقوب نانوتوي ، ارواح ثلاثه ص ٢٨٦ .

همدغه رنګې امام شافعي رحمه الله هم په يوه مياشت کې حفظ کړې ؤ ، په هره ورځ به يې يو ختم کولو ، او د شپې په تراويحو کې به يې هم غونډ قرآن مجيد لوستلو . (۱)

همدارنګې عزالدين ابن جماعة الشافعي رحمه الله هم په يوه مياشت کې ټول قرآن مجيد ياد کړې ؤ . (۲)

## امام محمد رحمه الله په اُووه ( ۷ ) ورځو کې قرآن مجيد ياد کړی

امام محمد بن الحسن الشيباني د امام ابوحنيفه رحمه الله په ممتاز شاګردانو کې دی او مُجتهِد امام دی ، کله چې دده عُمر څوارلس ( ۱۴ ) کاله شو نو د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مجلس ته راغی او د يوې مسئلې پوښتنه يې ورنه وکړه چې :

که يو کس د ماسخوتن مانځه اداء کولو نه پس بالغه شي نو آيا په ده باندې ددې مانځه دوباره اداء کول لازمي دی ؟ امام صاحب ورته وويل : آو ( دوباره به دا د ماسخوتن مونځ راګرځوي ) .

امام محمد صاحب پاڅيد ، او د جُمات په يو ګوټ ( ګنج ) کې يې د ماسخوتن مونځ دوباره وکړو ( دا دده اَولنی مسئله وه چې د امام صاحب نه يې زده کړه ) .

کله چې اِمام صاحب دې د مانځه په راګرځولو اُوليده نو تعجب يې اوکړو ، او وې ويل :

" که الله ﷻ اوغوښته نو دا هلک به ضرور کامياب شي " .

او همداسې اوشو هم ، الله ﷻ دده په زړه کې د علمِ فِقهې حاصلولو محبت واچول ، يو څو ورځې پس امام محمد رحمه الله د علمِ فِقهې حاصلولو په اِراده باندې د امام صاحب مجلس ته راغی ، ( په بعضې کتابونو کې ذکر دي چې دې د يو مالدار سړي ځوي ؤ ، ډير ذهين ؤ ، خپل پلار دې راوست او اِمام صاحب ته يې وويل چې تاسو ده ته ديني عِلم وَرزده کړئ ) .

امام صاحب د امامِ محمد نه پوښتنه وکړه : قرآن مجيد دې حفظ کړی ؟ ده ورته وويل : نه . امام صاحب ورته وويل : اول قرآن مجيد حفظ کړه بيا د علمِ فقهې حاصلولو د پاره

(۱) ظفر المحصلين باحوال المصنفين ص ۴۸۵ ، تحفه حفاظ ص ۱۶۶ .

(۲) شذرات الذهب ج ۷ ص ۱۳۹ .

راشه ( ځکه دا د امام صاحب د شاګرد کیدو د پاره ضروري وه چې ده ته به قرآن مجید په یادو باندې یاد وي ) .

پوره اُووه ( ۷ ) ورځې پس امام محمد صاحب د خپل پلار سره بیا راغی او وې ویل :

حَفِظْتُهُ . ما قرآن مجید حفظ کړو . ( امام صاحب ورنه اِمتحاناً یو څو ځایونه واورول ، ښه صحیح ورته یاد وُ ) .

ددې نه پس امام صاحب ده ته د علمِ فقهې په دَرس کې د شِرکت اجازت ورکړو چې څه وخت پس ورنه د اسلام عظیم مجتهِد جوړ شو . (۱)

## هشام بن محمد بن کلبي په درې ورځو کې مکمل قرآن مجید حفظ کړی

هشام بن محمد بن کلبي رحمه الله یو عالِم وُ ، یو ځل دې د څه علماء کرامو سره ناست وُ ، دې علماوُ په خپل مینځ کې خبرې کولې ، او ویل یې چې : فلانکې کس صرف عالِم دی ، فلانکې کس صرف حافظ دی ، فلانکې کس عالِم او حافِظ دواړه دی ، کله چې د هشام بن محمد کلبي تذکره راغله نو وې ویل چې دې غټ عالِم دی خو حافظ نه دی .

هشام وایي چې د ماسره دا اِحساس پیدا شو چې حفظ کول ضروري دي ، نو په هماغه ځای کې مې د حفظ اِراده وکړه ، دې فرمایي چې ما قرآن مجید راواخیست او ددې په یادولو مې شروع وکړه ، په درې ( ۳ ) ورځو کې دَنَنه دَنَنه ما ټول قرآن مجید حفظ کړو .

بیا به خلقو اِمتحاناً دده نه ځای په ځای په قرآن مجید کې تپوسونه کول ، ده به صحیح جواب ورکولو . (۲)

نوټ : دا واقعه مفتي تقي عثماني صاحب په خپل کتاب " تراشے " کې هم ذکر کړې .

سبحان الله ، صرف په درې ( ۳ ) ورځو کې غونډ قرآن مجید یادول د الله ﷻ خصوصي اِنعام دی .

(۱) بلوغ الاماني في سيرة الامام محمد بن حسن الشيباني ص ٥ ، مناقب امام ابو حنيفه للامام الكردري ص ٢٢٨ .

(۲) وفيات الاعيان ٦ / ٨٢ ، الوافي بالوفيات ٧ / ٢٢١ ، مختصر تاريخ دمشق ٦ / ٢٩٥ . اهلِ دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج٢ ص ٣٦ .

# په کم عُمرۍ کې قرآن مجيد يادول

د اَسلافو ډير داسې واقعات موجود دي چې هغوی په کم عُمرۍ کې قرآن مجيد حفظ کړی ، د دې يو څو نمونې ستاسو حضور ته وړاندې کوم :

## علامه ابن حجر د نهه کالو په عمر قرآن مجيد حفظ کړی

کله چې د ابن حجر رحمه الله عُمر پنځه کالو ته اُورسيده او ده د قرآن مجيد په يادولو شروع وکړه نو په يوه ورځ کې يې سورة مريم ياد کړو چې په دې سره خلق ډير حېرانه شو ، د نهه ( ۹ ) کالو په عُمر کې د قرآن مجيد پوره حافظ شو ، په ۷۸۴ هجري کې د يوولس (۱۱) کالو په عُمر کې يې په تراويحو کې غونډ قرآن مجيد واورول . (۱)

## علامه ابن لبان د پنځو کالو په عمر قرآن مجيد حفظ کړی

علامه ابن لبان رحمه الله په خپله فرمايي چې ما د پنځو ( ۵ ) کالو په عُمر قرآن مجيد ياد کړی ؤ ، او دا مې صرف په يو کال کې ياد کړی ؤ . دې وايي چې کله زما عُمر څلور کاله ؤ او د ابوبکر بن مقري سره ما څه سورتونه ياد کړه نو بعضې خلقو د مانه دا سورتونه زده کول اُوغوښته ، چې په دې سره بعضو نورو خلقو وويل چې دده عُمر ډير کم دی لهذا دده نه دا زده کول ندي په کار .

خو چې کله د مانه ابن مقري اِمتحان واخيست او راته وې ويل : سورة الکافرون ووايه ما ورته ښه صحيح وويل . بيا يې راته وويل : سورة التکوير ووايه هغه مې هم ښه صحيح وويل . بيا يو بل کس وويل : سورة المرسلات ووايه ما هغه هم ښه صيح واورول .

نو ابن مقري دوی ته وويل : ده ته چې څومره حصه ياده ده تاسو دده نه دا زده کوئ ، ذِمه واري يې په ما باندې ده . (۲)

---

(۱) ظفر المحصلين ص ۱۷۷ ، تحفه حفاظ ص ۱۶۷ .

(۲) مقدمه فتح الملهم ، تحفه حفاظ ص ۱۶۹ .

## د پنځو كالو په عمر قران مجيد حفظ كول

د هارون الرشيد بادشاه په دوَر كې يو كس خپل د پنځو (٥) كالو ځوي راوست ، هارون الرشيد ته يې وويل چې دا د قرآن مجيد حافِظ دی . كله چې پلار دې ماشوم ته وويل : بچيه ! تلاوت شروع كړه . نو هغه دومره ورو كې ؤ چې پلار ته يې وويل : تلاوت به كوم ځو ما له به كوره ( يا بل خوږ ځيز ) اَخلي . پلار ورته وويل : ته اول تلاوت وكړه بيا به درله ګوړ واخلم ، نو دې ماشوم تلاوت شروع كړو ، چونكه هارون الرشيد په خپله هم حافظ ؤ ده ورنه مختلف ځايونه واورول ، دې ماشوم ښه صحيح تلاوت وكړو ، حالانكه دده عُمر پنځه كاله ؤ . (١)

ابراهيم بن سعد فرمايي چې د خليفه مامون الرشيد دربار ته د ځلورو ( ٤ ) كالو يو ماشوم راوستې شو چې هغه قرآن مجيد ختم كړې ؤ . (٢)

سبحان الله ، دا د الله ﷻ فضل او اِحسان دی چې د ځلورو يا پنځو كالو ماشوم هم د قرآن مجيد حافظ جوړيدې شي ، او دا د قرآن كريم اِعجاز هم دی .

## په پوخ عُمر كې قرآن مجيد يادول

همدغه رنګې چې ځوک خواري او محنت وكړي او د الله ﷻ توفيق شامِل حال شي نو په پوخ عُمر كې هم الله ﷻ ورته د حفظ كولو دا عظيم سعادت ورنصيبه كوي :

## د پنځه اويا (٧٥) كالو په عُمر قرآن مجيد يادول

په كال ١٣٦٢ هجري كې چې كله انګريزانو مولانا حسين احمد مدني رحمه الله اونيوه او په جېل كې يې واچول نو ده په جېل كې د قرآن كريم حفظ شروع كړو ، حالانكه دده عُمر په دې وخت كې اَويا يا پنځه اَويا كاله ؤ ، په دې وخت كې عام طور ياداشت هم كمزورې كيږي ، مګر دا د قرآن كريم اِعجاز دی چې د هر عُمر واله كس دې طرف ته په صِدقِ دِل سره

(١) خطبات فقير ج١٨ ص ٨٥ ، و ج ٢٧ ص ٧٩

(٢) مقدمه ابن صلاح ص ٦٢ ، قرآن كريم ايک عظيم معجزه ص ١١٥ .

متوجه شي نو الله ﷻ دا عظيم سعادت ده ته نصيبه كوي .

نو مولانا صاحب په دې عُمر كې هم په جېل كې دوه ثُلثه قرآن كريم يعنى شل سيپارې يادې كړې ، او بيا به يې په هره شپه په تراويحو كې هم ويلې .(۱)

## د نوي (۹۰) كالو په عُمر حفظ كول

يو عالم ليكلي دي چې په كراچۍ كې زما نژدې يو دوست وُ هغه د نوي (۹۰) كالو په عُمر كې حفظ وكړو ، حالانكه د هغه په غونډ و جود كې يو ويخته هم تور نه وُ ، بلكه ټول سپين شوي وو ، خو د الله ﷻ په فضل و كرم او د دې كس په محنت سره ده ته د نوي (۹۰) كالو په عمر كې هم د حفظِ قرآن دا سعادت نصيبه شو .(۲)

## ژنانه هم قرآن مجيد حفظ كولې شي

دا د قرآن كريم اِعجاز دى چې څنګه سړي او ماشومان قرآن مجيد حفظ كولې شي نو همدغه شان ژنانه يې هم حفظ كولې شي .

په اُمّهاتُ المؤمنين كې د ټولو نه مخكې حضرت عائشې او حضرت حفصې رضي الله عنهما مكمل قرآن مجيد ياد كړې وُ ، بيا روستو نورو صحابياتو هم ياد كړو ، او دا سلسله همداسې روانه وه .

الحمدُ لله اوس هم بې شماره مدارس د بَناتو موجود دي چېرته چې ژنانه او ماشومانې قرآن مجيد يادَوي ، دغه وجه ده چې په دې اُمت كې ډيرې ذهينې او تكړه حافظانې تېرې شوي ، بلكه اِسلامي بادشاهانو د دې د پاره مستقل مدرسې جوړې كړې وى .

## د غياث الدين خلجي په زمانه كې په شاهي محل كې زر (۱۰۰۰) خادمانې حافظانې وى

د غياث الدين خلجي په زمانه كې د حفظ كولو ډيره چَرچه وه ، شادي آباد مانډو د عِلم مركز جوړ شوې وُ ، ده په مختلفو ځايونو كې د حفظِ قرآن مدرسې جوړې كړې وى .

(۱) خطبات حكيم الاسلام ج۱ ص۲۶۵ ، تحفه حفاظ ص۱۶۶ .

(۲) خطبات فقير ج۱۸ ص۸۵ ، و ج۲۷ ص۷۹ .

صرف په شاهي محل کې زر ( ۱۰۰۰ ) خادمانې داسې وې چې هغوی د قرآن مجيد حافظانې او قاريانې وې .

نو چې کله خادمانې قاريانې وې نو د شاهي خاندان زَنانه خو به په طريق اولى حافظانې وې. (۱)

## د زُبيده خاتون سل (۱۰۰) وينځې حافظانې وې

ابن خلکان ليکلي دي چې د هارون الرشيد بادشاه د بي بي " زبيده خاتون " ډيرې وينځې وې ، په دې کې سل ( ۱۰۰ ) وينځې د قرآن مجيد مکمل حافظانې وې ، او څه نورې داسې وې چې هغوی ته مکمل قرآن کريم ياد نهٔ ، بلکه بعض حصه ورته ياده وه .

زبيده خاتون په خپل محل کې دې حافظانو له داسې ترتيب جوړ کړې ؤ چې څليرشت (۲۴) گِنتې به ددې په محل کې د قرآن مجيد تلاوت جاري ؤ ، هرې وينځې به روزانه درې سپارې تلاوت په پابندۍ سره کول ، ددې د محل نه به هر وخت د قرآن مجيد د تلاوت آواز راتلو . (۲)

## د عَقلي قواعدو د نِگاه نه هم حفظ کول ضروري دي

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي چې د عقل تقاضا هم داده چې د قرآن مجيد يادول ضروري دي ، ځکه په دې کې خو هيڅ شک و شُبه نشته چې په دُنيا کې د علومو دينيهٔ باقي پاتې کيدل ضروري دي ، او قرآن کريم خو د ټولو علومو د پاره مأخذ او چينه ده لهذا ددې يادول هم ضروري دي ، ځکه عِلم خو بغير د الفاظو نه باقي نه پاتې کيږي .

بل دا چې که د حفظ دا سلسله ختمه شي نو بيا به اگر چې قرآن مجيد موجود وي خو خلق به ددې صحيح تلفظ نشي کولی ، مثلا حروف مقطعات ( الر ، الم وغيره ) چې کله د چا نه او نه ويل شي نو ددې صحيح تلفظ کول مشکل دی ، چاته به څه معلومه شي چې ددې حروفو تلفظ ځانله ځانله دی او که يو ځای ؟

(۱) تذکره قاريان هند ج۱ ص۹۹ ، تحفه حفاظ ص ۱۸۲ .

(۲) البداية والنهاية ج۱۰ ص۲۸۳ ، مثالي خواتين ، تحفه حفاظ ص ۱۸۲ .

لهذا د قرآن مجيد حفظ كول او ددې تلاوت كول ضروري دي. (١)

انسان لكه څرنګې چې په دُنيا كې خوراك، څكاك او تازه هوا ته محتاج دى نو ددې نه زيات دې په خپل ژوند كې قرآن كريم ته محتاج دى.

## قرآن كريم په هر اِعتبار سره بې مثاله كتاب دى

قرآن كريم د الله تعالى كلام دى، دا داسې يو عظيم كتاب د ى چې دا په هر اعتبار سره بې مثاله دى:

د فصاحت و بلاغت په اِعتبار سره هم ددې مِثل نشته، د جامِعيت په اِعتبار سره هم ددې مِثل نشته، د فضيلت او عظمت په اِعتبار سره هم ددې مِثل نشته، د مُعجز والي په اِعتبار سره هم ددې مِثل نشته، د مؤثِر كيدو په اِعتبار سره هم د دې مِثل نشته، بلكه په هر اِعتبار سره دا بې مِثله كتاب دى.

## دُعا

الله تبارک وتعالى دې مونږ ټولو ته د قرآن مجيد په اَحكاماتو باندې د پوهيدلو، ددې د يادولو او په دې باندې د عَمل كولو توفيق رانصيبه كړي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

**نوټ**: د قرآن كريم د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائل ددې كتاب په آخر كې د صفحه ٢٧٢ نه تر صفحه ٣٣٤ پورې تقريبًا اُووه اُويا (٧٧) مسائل ذكر دي، د هغې نه د ځان د پاره اِنتخاب وكړه، او د وخت او موقع مناسب يې بيان كړه.

ابوالشمس عفي عنه

(١) دعوات عبديت ج٦ ص ٧٥ مع الاختصار.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ الٓرٰ كِتٰبٌ أَنْزَلْنٰهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ إِلَى النُّوْرِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴾ سورة ابراهيم آية ١

# قرآن کريم يو اِنقلابي او مُؤثِر کتاب دی

تالیف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخيل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# قرآن کریم یو انقلابي او مؤثر کتاب دی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ. وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ. وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ الٓرٰ كِتٰبٌ أَنْزَلْنٰهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ إِلَى النُّوْرِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴾. (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهٖ آخَرِيْنَ. (٢) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ.

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو! قرآن کریم داسې یو اِنقلابي کتاب دی چې دا د انسانانو په ژوند کې اِنقلاب پیدا کوي، د انسانانو په زړونو او رُوحونو کې تبدیلي راولي. چا چې ددې په احکاماتو باندې عمل کړی نو الله ﷻ هغه ته د اِطمینان او سکون واله ژوند نصیبه کړی.

## د اِسلام نه مخکې او د اِسلام راوړو نه روستو د عربو حالت

د اسلام نه مخکې د جاهلیت په دوَر کې د عربو هغه خلق چې په کفر او شِرک کې مبتلاء وو، ژوندې لوڼانې به یې خَخولې، کاڼړو ته به یې خدایان ویل، بَربنډ طوافونه به یې کول، هر قِسمه ګناهونه به یې کول، شپه او ورځ به یې جنګونه کول، نه یې عقیده صحیح وه، نه یې عمل صحیح وُ، بلکه د ځناورو غوندې وخت به یې تېرول، چا وربانديې حکومت کول

---

(١) سورة ابراهیم آیت ١.

(٢) رواه مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها بَابُ فَضْلِ مَنْ يَقُوْمُ بِالْقُرْآنِ وَيُعَلِّمُهُ: ٢٦٩ (٨١٧)، ابن ماجه بابُ فضلِ مَن تعلّم القرآن وعلّمه حديث ٢١٨، السنن الكبرى للبيهقي بابُ إمامة الموالي ٥١٢٥.

هم نه غوښتل خو چې کله يې اِسلام راوړو او د قرآن کريم په اَحکاماتو باندې يې عمل وکړو نو د هماغه خلقو نه صحابه کرام جوړ شو ، د هماغه خلقو نه د دين راهنمايان جوړ شو ، د هماغه زمانې نه د خيرُ القرون والا زمانه جوړه شوه .

د عربو هغه خلق چې د قرآن کريم سره د تعلق نه مخکې ورته جُهلاء ويلې شو د قرآن کريم سره د تعلق نه پس ورته عُلماء وويلې شو .

د قرآن کريم په برکت سره په دوی کې اَولياءُ الله پيدا شو ، د فوج کمانډران پيدا شو ، سياست دانان او فُقهاء پيدا شو .

## صحابه کرامو د قرآن کريم په وجه په دُنيا کې اِنقلاب راوَست

بيا چې دا صحابه کرام به کوم ځای ته لاړه هلته به يې هم ددې قرآني اَحکاماتو په وجه اِنقلاب راوست ، د هغه ځای تهذيب به بدل شو ، مذهب به يې بدل شو ، او حتّی چې ژبه به يې هم بدله شوه .

نن چې مصر ، شام او عِراق ته عربي ممالک ويلې شي نو دا خو اَصلاً عربي ممالک نه وو ځکه مصر خو د قِبطيانو ملک وُ ، په دې کې به قِبطي ژبه ويلې شوه . شام د عيسايانو مُلک وُ په دې کې به رُومي او فلسطيني ژبه ويلې شوه . او عِراق د خراسان مُلک وُ په دې کې به بله ژبه ويلې شوه ، خو چې کله صحابه کرام دې ملکونو ته اُورسيده نو د قرآن کريم په برکت يې په کې داسې اِنقلاب پيدا کړو چې د دوی تَمَدّن ، تَهذيب مذهب او ژبه يې بدله کړه . (١)

قرآن کريم يو رُوح دی په دې سره قومونه ژوندي کيږي او سَرلَند کيږي ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَكَذٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ﴾ . (٢)

ترجمه : او همدغه شان ( اې پيغمبره ! ) مونږ تاته په خپل حکم سره يو روح ( يعنی قرآن کريم ) راوليږل .

(١) خطبات حكيم الاسلام لمولانا قاري محمد طيب صاحب ج ١٠ ص ٤٣ .

(٢) سورة الشورىٰ آيت ٥٢ .

قدرمنو ! هغه عرب چې نورو قومونو به دوی ته سپک کتل ، د نفرت په سترګه به يې ورته کتل ، دوی ته به يې جُهلاء او ذليل قوم ويل ، دوی ته به يې ډاکوان او شوک ماران ويل، دوی ته به يې غَرځني او غير مُهذّب ويل ، ځکه په ټوله مکه ښار کې نه مدرسه وه ، نه سکول وُ ، او نه کالج وُ ، صرف يوولس (۱۱) کسانو ته په کې خط ورتلو ، نوراکثر انپړ او اُميان وو.

خو چې دا رُوح يعنی قرآن کريم او د نبي عليه السلام دا تعليمات دوی ته اُورسيده او په خپل ژوند کې يې عمَلي کړه نو هماغه عرب په دُنيا کې معزز او سَربُلنده شو ، د هماغه خلقو نه صحابه کرام جوړ شو ، هماغه خلقو ته د ﴿ رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُمۡ وَ رَضُوۡا عَنۡهُ ﴾ خطاب ورکړې شو ، د هماغه خلقو نه عُلمای عرب جوړ شو.(۱) د هماغه خلقو نه داسې مضبوط ترين قوت جوړ شو چې په لږ وخت کې يې د دُنيا دوه غټ قومونو "فارس" او "رُوم" ته شِکست ورکړو ، فارس يې مکمل ختم کړو ، او د رُوم نه اکثره علاقه واخيسته.

کوم خلق چې په سياسي ژوند او مُلکي حالاتو د سره خبر نه وو د هغوی نه د سياست داسې اِمامان جوړ شو چې بيا يې ټولې دُنيا ته د سياست ، نظام او بادشاهۍ چلولو چَل اُوخوده ، او داسې يو نظام يې د حکومت روان کړو چې د دُنيا کافران هغوی ته تعجب کوي.

د قرآن کريم په برکت مسلمانانو د کم مقدار او لږو وسائلو باوجود بيا هم د کافرانو ډيرو مُسلحو فوجونو ته شِکست ورکړی : کله د درې زره (۳۰۰۰) مسلمانانو مقابله د کافرانو د يو لک (۱۰۰۰۰۰) مُسلح فوج سره راغلی خو بيا يې هم کافرانو ته شکست ورکړی.

کله د شپيتو (۶۰) مسلمانانو مقابله د شپيته زره (۶۰۰۰۰) مُسلحو کافرانو سره راغلی خو بيا يې هم ورته شکست ورکړی.

د اَتلس (۱۸) کالو ځوان " محمد بن قاسم " د شپږ زره (۶۰۰۰) مسلمانانو سره د هندوستان په څلويښت کروړه (۴۰۰۰۰۰۰۰) آبادۍ باندې حمله وکړه خو بيا يې هم پوره مُتحده هِندوستان فتح کړو.

طارق بن زياد د اُووه زره (۷۰۰۰) مسلمانانو سره غونډ يُورپ ته شِکست ورکړو.

(۱) خطبات حکيم الاسلام لمولانا قاري محمد طيب صاحب ج۱۰ ص ۵۰.

حالانکه د کافرانو دا ملکونه د افرادو ، دولت او جنګي آلاتو په اعتبار سره د مسلمانانو نه ډیر زیات وو خو په مسلمانانو کې د قرآن او اسلام په وجه یو رُوحاني قوت موجود وُ نو ځکه یې د کافرانو غټو غټو فوجونو ته شکست ورکول .(١)

یو هِندو د تاریخ کتاب لیکلی ، په دې کې هغه د نبي علیه السلام او قرآن کریم په باره کې لیکلي چې : کله یو انسان په داسې ځای کې پیدا شي چې هلته نه سکول شته ، نه تعلیم شته ، قوم یې هم وَحشي دی ، بیا دا کس ددې خپل قوم نه په لږو ورځو کې داسې مُهذّب او ښُکلي قوم جوړ کړي چې هغوی د خپل دین د خورولو د پاره هِندوستان ته راځي ، بیا پورې چین ته رسي ، او د خپل پیغمبر هر حکم مني نو که چیرته دا ددې کس ( یعنی د نبي ﷺ ) او دده د کتاب ( یعنی قرآن مجید ) د حقانیت دلیل نه وي نو بیا د حقانیت دلیل چاته وایي ؟ (٢)

سبحان الله ، یو هِندو هم د نبي علیه السلام په حقانیت باندې اِقرار کوي .

## د قرآن کریم د نزول نه مخکې د عربو جهالت

د قرآن کریم د نُزول نه مخکې که تاسو د عربو حالت واوریده نو حیران به شی ، دومره جَهالت او ناپوهي وه په کې چې یو کس به درې ( ٣ ) کاڼي راواخیسته ، په دوه وُ به یې اِستِنجاء وکړه ، او دریم به یې ځان له خدای جوړ کړو ، ویل به یې چې : دا زما خُدای دی .

## کاڼو ته خدای ویل

یو صحابي وایي چې د اِسلام نه مخکې زمونږ دا حالت وُ چې کله به په سفر باندې تللو نو د ځان سره به مو خپل خدای خامخا وړلو ، کاڼې به مو راواخیست او ویل به مو چې : دا زمونږ خدای دی . دا به مو د ځان سره په بِستره کې هم ځملولو ، خو چې کله به راته ددې نه بهترین کاڼې ملاؤ شو نو دا اَولنې به مو اُوغورځول ، او دې دویم ته به مو خدای ویل .

کله به مونږه د اُوړو نه ګوډاګې جوړ کړو او هغې ته به مو خدای ویل ، د هغې عبادت به مو کولو ، خو چې کله به اُوږې شو او د خوراک به نور څه نه وو نو دغه د اُوړو نه جوړ شوې

(١) خطبات افغاني ص ٢١١ .

(٢) خطباتِ حضرت شیخ ( مولانا حسن جان مدني شهید رحمه الله ) ص ١١٣ شوارلسمه خطبه معجزات .

خدای به مو په اور پوخ کړو او غوند به مو اوخوړو .

يو صحابي وايي چې : يو ځل زه د ښکار پسې تللی ووم ، د ماسره يو ښکلی کاڼی ؤ ما دا د ځان د پاره خدای جوړ کړی ؤ ، چې سهَر به تلم نو هغه به مې په خيمه کې پرېخود ، کله به چې د ښکار نه واپس راغلم نو هغه ته به مې سلام وکړو او سجده به مې ورته وکړه .

يوه ورځ چې زه د ښکار نه راغلم نو زما دا خدای لوند ؤ ، ما ويل دا څنګه چَل دی ؟ باران خو هم ندی شوی ، نو بيا ولې لوند دی ؟ خو بيا مې ذِهن ته خبره راغله چې زما د خدای په هوا کې اَلوتې دی ، په سمندر کې يې لامبلي دي ، او اوس واپس راغلې دی .

په صبا باندې چې راغلم نو بيا هم لوند ؤ ، دغه شان مسلسل به په هره ورځ لوند ؤ ، زما به همدا ګمان ؤ چې : دې په هوا کې اَلوځي ، په سمندر کې لامبي ، او واپس راځي .

يوه ورځ چې ښکار ته وَتم ما وويل زه نن دا خپل خدای ګورم چې دا څنګه په هوا کې اَلوځي . نو زه د يو بُوټي سره پټ کيناستم .

دې وايي چې ما به کله ښکار وکړو نو د ښکار خېټې ، سرونه او هډوکي به ما د خېمې سره خواؤ شا اُوغورځول ، دې له به مرغان او ګيدړان راتله .

زه د خپل خدای د اَلوتو په اِنتظار کې ناست ووم چې په دې وخت کې ګيدړان راغله ، هغه سرونه او خېټې يې اُوخوړل ، بيا يو ګيدړ راغی خپه يې اُوچته کړی او زما په خدای يې مِتيازې وکړی .

ما ويل : اُوهو دا خو سمندر ته د لامبلو د پاره نه ځي بلکه دا خو پرې ګيدړان متيازې کوي ، لخته راسره وه رامَنډه مې کړه ، او د دې کاڼي په وهلو مې شروع وکړه چې دا ته څنګه خدای يې چې ګيدړان هم په تا باندې مِتيازې کوي .

بيا راغلم توبه مې اُوويسته ، او د نبي عليه السلام په لاس مې ايمان راوړو .

د عربي شعر دی : أَرَبٌّ يَبُوْلُ الثُّعْلُبَانُ بِرَأْسِهِ + لَقَدْ ذَلَّ مَنْ بَالَتْ عَلَيْهِ الثَّعَالِبُ .

آيا داسې هم رَب وي چې ګيدړ دده په سَر متيازې کوي ؟ په تحقيق سره هغه ډير ذليل شو په چا باندې چې ګيدړانو متيازې کړي . (١)

(١) خطباتِ حضرت شيخ ص ١١٢ خوارلسمه خطبه ، اصول القرآن لشيخ الاسلام مولانا حسن شهيد مدني رحمه الله الاعجاز القامن اعجاز للبري .

# ژوندۍ لوراني خښول

د اسلام نه مخکې د عربو د جهالت اندازه به تاسو ته ددې واقعې نه هم اوشي چې دوی به خپلې لوراني ژوندۍ ښخولې ، یا د غېرت د وجې نه چې صبا به دا واده کیږي نو دا زما د پاره شرم دی ، یا د بَد رنګ والي د وجې ، او یا د غُربت د وجې نه.

بیا خاصکر په بنو تمیم کې د ژوندۍ جینکو ښخولو ډیر زور وُ ، ددې قبیلې سردار قیس بن عاصم چې کله اسلام قبول کړو نو هغه یوه ورځ د خپلې معصومې لور په خپل لاس باندې د ژوندۍ ښخولو واقعه نبي علیه السلام ته داسې بیان کړه چې :

اې د الله رسوله ! د اِسلام راوړو نه مخکې مونږ دومره ناپوهه وو چې یو ځل زه شام یا یَمن ته په سفر باندې تلم ، زما د تللو په وخت زما ښځه حامِله وه ( یعنی اُمید یې وُ ) ، زه په سفر کې ووم چې ددې جینۍ پیدا شوه.

اې د الله رسوله ! که چیرته زه په کور کې وی نو د ډیر جهالت د وجې به ما هغه سَمدستي په خاورو کې خَخه کړې وی ، خو چونکه زه په کور کې نه ووم نو هغه زما ښځې یو څو ورځې اُوساتله ، بیا ورسره دا یَره پیدا شوه چې هسې نه پلار یې دا معصومه جینۍ په زمکه کې ژوندۍ خخه کړي ، نو ددې یَرې د وجې یې خپلې ترور کره اُولیږله چې هلته به غټه شي ، او په پلار کې به یې څه رَحم پیدا شي نو بیا به یې ژوندۍ نه خخوي.

( د جاهلیت په دې زمانه کې یو ښه سړې وُ هغه به دا جینکۍ اخیستې او د مرګ نه به یې بَچ کولې ، تقریبًا دوه سوه جینکۍ یې د ژوندي خخیدو نه بچ کړې وی ، د جینکو پَالنه به یې کوله چې کله به لویه شوه نو بیا به یې کورنۍ والِه ته ویل : اوس ستاسو خوښه ده که دا اَخلی او که واده کوی یې (١) )

دې کس نبي علیه السلام ته وویل : کله چې څه وخت پس زه کور ته راغلم او معلومات مې وکړو نو راته معلومه شوه چې د ښځې مې مر بچې شوې وُ ، او خَخ کړې یې دی ، ما ویل چې بَس خبره ختمه شوه.

(١) د فرزدق نیکه حضرت صعصعه هم څلور نوي ( ٩۴ ) جینکۍ د ژوندي خخولو نه بچ کړې وی. ځکه چې کله به یو ظالم پلار خپله لور ژوندۍ خخوله نو ده به هغه له قیمت ورکړو ، ورنه وابه یې خیسته ، او بیا به یې ددې پَالنه کوله ، د نبي علیه السلام تر مبعوث کیدو پورې یې ۹۴ ورنوي جینکۍ د مرګ نه بچ کړې وی ، د اِسلام په وجه دا د ظلم رِواج مکمل ختم شو.

يو ورځ زه د څه کار د پاره د کور نه بهر اُووتم ، ښځې مې سوچ وکړو چې اوس خو دې نشته نو لور ته يې آواز وکړو ، هغه کور ته راغله ، لږ ساعت پس چې زه کور ته راغلم نو په کور کې مې يوه وړه ښائسته ماشومه اُوليده چې آخوا ديخوا يې منډې وهلې او مستې يې کوله ، زما هم ورباندې سترګې خوږې شوی ، ښځې زما د سترګو نه معلومه کړه چې د جينۍ سره د پلار مينه پيدا شوه .

ما د ښځې نه پوښتنه وکړه : اې نيک بختې ! دا د چا لور ده چې دومره ښائسته ده ؟

ښځې راته قصه وکړه چې دا خو ستا هماغه لور ده چې ته په سفر کې وی او دا پيدا شوې وه خو ما ستا د ډېرې چاله ورکړې وه چې هسې نه ته يې ژوندۍ خخه کړې ، اُوس د لږ وخت د پاره راغلې ده .

ما ورته وويل : هغوی کره يې دوباره مه ليږه ، بس همدلته به اُوسيږي ، ښځې مه لور ته وويل : بچۍ ! دا ستا پلار دی . هغې رامنډه کړه ماته راغاړې وته ، ما هم ځان ته رانږدې کړه . دې چې د پلار مينه اُوليده نو ډېره خوشحاله شوه ، د آبا آبا غږ يې راته کولو .

اې د الله رسوله ! دغه شان ورځې تېريدی دا معصومه جينۍ په کور کې خوشحاله خوشحاله ګرځيده ، ما ته به يې د مينې نه ډک آوازونه کول ، خو کله کله به مې دې جينۍ ته په کتلو سره دا سوچ کولو چې :

د دې په وجه به زه هم يوه ورځ د چا سخر جوړ شم ، دا به هم د چا ښځه وي ، او زه به دا ذلت برداشت کوم ، نو د خلقو سره به څنګه مخامخ کيږم ؟

دغه جهالت او غېرت راباندې غالب شو نو د دې د وجې به مې هر وخت دا سوچ کولو چې اوس په څه طريقې سره دا ژوندۍ خخه کړم .

آخر يوه ورځ مې صبر ختم شو ، خپلې ښځې ته مې وويل : دا ماشومه صفا کړه زه يې دَعوت ته ځم دا به هم د ځان سره بوځم . ښځې مې دا اُولامبوله ، پاکې جامې يې وَرواغوستی ، لور مې هم ډېره خوشحاله وه چې د خپل پلار سره ځم ، د تللو په وخت کې مې د ځان سره يوه کودالة هم پټه راواخيسته .

ما هغه يو ځنګل طرف ته روانه کړه ، دې معصومې جينۍ ته څه پته وه چې دا ظالم پلار ما چيرته بوځي ؟ نو دا ډېره خوشحاله وه ، کله به يې زما لاس اُونيوه ، کله به يې د مانه

مخکي مَنډې وهلی ، کله به يې په دې وړه معصومه ځله د ماسره خوږې خوږې خبري کولی، خو په ما باندې دومره ليونتوب غالبه ؤ ما کوشش کولو زر تر زره دا په خاورو کې ښخه کړم.

مزل مو کولو ، تر دې چې زه په يو ځای کې اودريدم ، ما په زمکه کې يوه کنده کنيستل شروع کړه ، دې معصومې لور رانده په حيرانتيا سره پوښتنه وکړه :

اباجانه ! په دې ځنګل کې دا کنده ولې کنې ؟ ما ورته وويل : په کار مې ده . دې به بار بار په دې وړه ځله تپوسونه کول .

کله به چې د کندې کنيستلو په وجه زما په جامو او بدن باندې خاوره پريوته نو دې معصومې جينۍ به په خپلو وړو وړو نازکو لاسونو باندې هغه صفا کوله ، او د ماشومانو په انداز کې به يې راته وويل : اباجانه ! ستا جامې خيرَنې شوی .

اې د الله رسوله ! کله چې ما غټه کنده اوکنيسته نو دغه معصومه بې ګناه ماشومه مې ناڅاپه په دې کنده کې وَراوغورځوله ، او زر زر مې پرې خاورې او ګټې وَر ويشتل شروع کړه ، دې ماشومې ماته ډير په حيرانتيا سره کتل ، او چغې يې وهلی ، او ويل يې :

ابا جانه اباجانه ! دا ته څه کوی ؟

خو زه ړوند کوڼ ووم ، غيرت او جهالت راخيستې ووم ، ما ظالم ته د هغې په چغو او سورو باندې هيڅ رَحم رانغی ، او ژوندی مې په کانو او خاورو کې ښخه کړه ، کله چې ما دا معصومه ماشومه ښَخه کړه او ددې آواز ختم شو نو بيا ما د اِطمينان ساه واخيسته ، او واپس ورنه کورته راغلم .

دې کس چې نبي عليه السلام ته د ددې مظلومې او بې وَسې ماشومې دا واقعه بيانوله نو د پيغمبر عليه السلام د سترګو مبارکو نه اوخکې روانې وی ، ژړل يې ، او وې ويل :

دا ډيره زياته بې رَحمي ده ، څوک چې په نورو باندې رحم نه کوي نو الله ﷻ به په دوی څنګه رحم وکړي ؟

بيا يې وفرمايل : که چيرته تا اِيمان نه وې راوړی نو څنګه حشر به دې ؤ ؟ (١)

(١) خطبات حضرت شيخ ص ١١٣ خوارلسمه خطبه معجزات ، افضل الحکايات ص ٤٦

# د قرآن کریم په وجه تبدیلي

بهر حال، خبره مې دا شروع کړې وه چې د قرآن کريم د نزول نه مخکې په عربو کې حَد درجه جهالت وُ خو ليکن د قرآن کريم د برکته الله ﷻ د دوی په ژوند کې داسې تبديلي پيدا کړه چې بيا همدا خلق د ټولې دُنيا د پاره راهنمايان اوګرځيده، بيا همدغه خلق صحابه کرام شو. معلومه شوه چې قرآن کريم يو انقلابي کتاب دی، د انسانانو په ژوند کې انقلاب پيدا کوي، او د دوی په زړونو کې انقلاب پيدا کوي.

يو عيسائي مُؤرخ "جرجي زيدان" ليکلي دي چې د قرآن کريم د نزول نه مخکې د عربو معاشره داسې خرابه وه چې هاغه خلقو ته انسانان ويل مناسب نه دي، بلکه شيطانان ورته ويل په کار دي، خو چې کله قرآن کريم نازل شو نو دې په کې يو انقلاب پيدا کړو او مسلمانان يې د هر قِسمه ګناهونو او جهالت نه داسې پاک کړه چې مونږ په دې مجبوره شو چې د هماغه خلقو په باره کې دا ووايو:

كَأَنَّهُمْ مَلَائِكَةٌ يَمْشُوْنَ عَلَى الْأَرْضِ.

ګويا دا فرښتې دي د آسمان نه راښکته شوي او په زمکه باندې ګرځي.

ځکه بيا په ټوله مدينه منوّره کې يو شراب خور او يو داکو نه پيدا کيده. او دا غټ دليل د دې دی چې قرآن کريم اِنقلاب راوستونکې کتاب دی. (١)

هاغه خلق چې هغوی به شپه او ورځ داکې کولې خو قرآن مجيد د هغوی په رُوحونو او د هغوی په اَخلاقو کې داسې اِنقلاب پيدا کړو چې بيا به د سرو او سپينو زرو ډيرې پراته وو خو په هغې کې به يې خيانت نه کول.

# د يو مسلمان امانت داري

د اِيران په جنګ کې حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د فوج مشري کوله، د اِيران دارالسّلطنت "مدائِن" فتح شو، ټول مال و دولت د هر ځای نه مدائِن ته راجَمع شو، مدائِن د دَريائ دَجله سره نزدې دی، په دې دَرياب باندې يو پُل وُ، د دې پُل سره نزدې د يو

(١) خطبات الفالي ص ٢١٩.

غریب مسلمان کور ؤ ، ځانله يې يوه وړه جُونپړه جوړه کړې وه ، په دې کور کې ټول آته (٨) کسان وو ، خو دومره غُربت ورباندې ؤ چې د څلورو ورځو نه ټول کور هيڅ نه وو خوړلي ، سخته ولږه يې برداشت کوله .

يوه ورځ دا غريب مسلمان د خپل کور نه بهر راأووت ، نو وې کته چې يو کس په اُووه (٧) قچرو باندې څوارلس (١۴) صندوقونه بار کړي دي ، او روان دی ، دا صندوقونه د سروزرو نه جوړ شوي وو او په مينځ کې په کې ډير قيمتي جواهرات وو .

دې مسلمان ورباندې په تېزه آواز وکړو چې اُودرېږه ، هغه چې دا غږ واورېده نو لاړ اُوتختېده ، او قچرې يې ځاى په ځاى پرېخودى .

باوجود ددېنه چې په ده باندې سخت غربت او وَلږه وه خو ليکن ده بيا هم دا اُووه واړه قچرې سره د څوارلسو صندوقونو د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په خدمت کې پيش کړې .

کله چې ددې صندوقونو تالې ماتې کړې شوی نو مُوَرِّخين ليکي چې په دې څوارلس صندوقونو کې دومره قيمتي جواهرات وو که مونږ ديته د نيمې دُنيا دولت اُووايو نو هم مبالغه به نه وي .

حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه چې دا اُوليده نو د ځان سره يې سوچ کولو : که چيرته دې مسلمان دا څوارلس واړه صندوقونه په کور کې ايخي وی ، يا کم اَز کم يو صندوق يې ورنه اخيستې وی نو دا خو د الله ﷻ نه علاوه بل هيچا هم نه ؤ ليدلی ، خو ليکن ده بيا هم په دې اَمانت کې خيانت او نه کړو او ټول يې دلته راوړه .

ده دا سوچ کولو چې هغه مسلمان ورته ووېل : آيا ستاسو اَمانت تاسو ته صحيح در اُورسيده ؟ ده ورته ووېل : آو . هغه ورته ووېل چې صحيح ده ، زه لاړم ، السلام عليکم .

حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ ورته ووېل : لږ اُودرېږه ، ددېنه به خپله حصه هم واخلی . بل دا چې زه اميرُ المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته ستا متعلق څه تعريفي کلمات هم ليکم چې :

کله د مونږ سره داسې اَمانت داره خلق موجود وي نو ګويا چې ټوله دُنيا د مونږ سره ده .

دې غريب مسلمان ورته جواب ورکړو : نه ماته د څه حصې راکولو ضرورت شته ، او نه د تعريف او سفارش کولو ، بلکه ما دا کار خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره کړی . دا يې وويل، او لاړ .

کله چې دا مسلمان لاړ نو حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دده پسې شاته يو کس اُوليږل چې ته دده حالات معلوم کړه ( چې اِقتصادي لحاظ سره څنګه دی ؟ ) ، کله چې دا کس واپس راغې نو ورته وې ويل :

د هغه مسلمان په کور کې اته ( ٨ ) کسان دي ، دومره په غُربت کې ژوند تيروي چې د څلورو ورځو نه را په ديخوا د غونډ کور واله د خوراک هيڅ شی نه دي خوړلی ، او په سخته ولږه کې مُبتلاء دي .

حضرت سعد ﷺ يوه بوري وريژې ، څه اُوړه ، قجورې ، شهد او څه غوړي يو کس ته وَرکړه ، او ورته وې ويل چې کله هغه غريب مسلمان په کور کې نه وي نو ته دا د خوراک اَشياء د هغه کور ته وَر وليږه ، ځکه که هغه په کور کې موجود وي نو هسې نه چې دوباره يې واپس را اُوليږي . نو دې کس د هغه کور ته دا شيان ور وړه . (١)

سبحانَ الله ، د اِنسانيت په تاريخ کې به څوک داسې مثال پيش نه کړي چې په خپله د څو څو ورځو نه ولږه برداشت کوي خو بيا هم د مسلمانانو په مال کې هيڅ خيانت نه کوي .

دا د اَخلاقو او ژوند تبديلي په کې د قرآني او نبوي تعليماتو په وجه راغلې وه ، د قرآن کريم په برکت سره د دوی اِيمانونه مضبوط شوي وو ، او داسې قوت په کې پيدا شوې وُ چې د دُنيا هيڅ طاقت د دوی مخه او نه نيوه ، او د الله ﷻ نه علاوه د بل هيڅ شي نه په زړه کې يَره پيدا نه شوه .

## د قرآن کريم په برکت يو رُوحاني طاقت پيدا کيدل

حضرت خالد بن وليد ﷺ چې کله عِراق فتح کړو ، او کافرانو د جنګ په ميدان کې شِکست اوخوړ ، نو د عِراق بې دِينه خلقو دا سازش شروع کړو چې د جنګ نه علاوه په بله طريقه د مسلمانانو جنګي مشران اُووژني .

(١) خطبات الحقاني لشيخ الاسلام محقق العصر حضرت علامه سيّد شمس الحق الحقاني صاحب نوّر الله مرقده ص ٢٢٠ .

کله چې حضرت خالد بن وليد ﷺ د دوی د سازش نه خبر شو نو دا خلق يې را اوغوښت، او پوښتنه يې ورنه وکړه چې تاسو څه سازش کولو ؟ دوی ورته رښتيا خبره وکړه چې کله مونږ د جنګ په ميدان کې ستاسو مقابله او نه کړې شوه نو اوس مونږ ستاسو د جنګي مشرانو د وژلو د پاره دا فِلان جوړ کړی چې : شَهد چونکه د عربو ډير خوښ دي ، په دې کې مونږ ډير تېز زهر اچولي دي زمونږ دا اِراده وه چې تاسو مشرانو ته دعوت درکړو ، او په تاسو باندې دا شهد اُوڅکو.

حضرت خالد بن وليد ﷺ ورته وويل : هغه شهد چيرته دي چې تاسو په ما باندې څکول غوښته ؟ هغوی ورله هغه شهد راوړه ، او ورته وې ويل چې په دې کې دومره طاقتوَر زهر دي چې دا لږ شهد د لسو (١٠) کسانو د وژلو د پاره کافي دي.

د حضرت خالد بن وليد ﷺ په الله ﷻ باندې اِعتماد دومره مضبوط وُ چې دا زهر يې راواخيست ، بسم الله الرحمن الرحيم يې وويله ، او ټول زهر يې اُوڅکل ، حالانکه هيڅ اَثر يې ورباندې او نه کړو.

ځکه د قرآن کريم په وجه په دوی کې داسې طاقت پيدا شوې وُ چې د الله ﷻ نه علاوه د بل هيڅ شي نه نه يَريده. (١)

## د قرآن کريم په وجه زړونه نرميږي

د قرآن کريم په وجه د کاڼي نه سخت زړونه نَرميږي ، او د زړه بَندې تالې (قُفلونه) ورباندې کلاويږي.

او څوک چې ددې په احکاماتو باندې عمل نه کوي ، ددې تلاوت نه کوي ، او په دې کې تدبّر نه کوي نو ګويا د دوی په زړونو باندې تالې لږيدلي دي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴾. (٢)

(١) خطبات الفالي لشيخ الاسلام محقق العصر حضرت علامه سيد شمس الحق الفالي صاحب نوّر الله مرقده ص ٢٣٣.

(٢) سورة محمد آيت ٢٤.

ترجمه : آيا دوی په قرآن کريم کې تدبّر ( غور او فکر ) نه کوي ؟ يا د دوی په زړونو باندې تالې ( قُفلونه ) لږيدلي دي ؟

بيا داسې خلقو ته الله ﷻ د قرآن کريم اَنوارات او برکات هم نه نصيبه کوي .

دا يقيني خبره ده چې که يوه دوائي هر څومره قيمتي وي خو چې انسان يې نه اِستعمالوي نو دې به ددې په فوائدو څه پوهه شي ؟

يا مثلاً د شهدو په باره کې دا يقيني خبره ده چې په دې کې شِفاء ده خو چې اوس يو سړې شهد نه استعمالوي ، او نه يې کور ته داخلوي نو ده ته په ددې شهدو نه څه فايده ملاوْ شي ؟

دغه رنګې چې کله يو سړې د قرآن کريم تلاوت نه کوي ، ددې په احکاماتو عمل نه کوې نو ده ته به ددې برکات څنګه حاصل شي ؟ (١)

او چا چې ددې تلاوت په غور سره آوريدلی نو الله ﷻ د هغه د زړه دُنيا بدله کړی . ډير کرتې صرف ددې په آوريدو باندې غير مسلمو ته اِيمان نصيبه شوی .

ددې په باره کې درته يو څو واقعات بيانوم :

## د قرآن کريم په اَوريدو سره د حضرت عمر ﷺ حالت بدليدل ، او بيا اِسلام قبول

مولانا محمد يوسف کاندهلوي رحمه الله په " حياة الصحابة " کې دا واقعه ليکلې :

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې يوه ورځ حضرت عمر رضي الله عنه خپله توره راواخيسته ، او ( نعوذُ بالله ) د نبي عليه السلام د قتل پسې اُووَت ، ( ځکه ده په دې وخت کې اِيمان نه وُ راوړی ، او د مسلمانانو سخت مخالِف وُ ) . په لاره کې ورسره د بني زُهره يو کس مخامخ شو ، هغه ورته پوښتنه وکړه :

أين تعمد يا عمر ؟ اې عمر ! چيرته دې اِراده کړی ؟

ده ورته وويل :

---

(١) خطبات حکيم الاسلام ج١٠ ص٣٨ .

أُرِيْدُ أَنْ أَقْتُلَ مُحَمَّدًا . (نعوذ بالله ) زه اراده لرم چې محمد (ﷺ) قتل کړم.

هغه ورته وويل : ته به د بنو هاشم او بنو زُهره نه څنګه په أمن شې ؟ ( هغوی به د دې په عوض کې تا قتل کړي ) .

حضرت عمر ﷺ ورته وويل : ګمان کوم چې ته هم بې دینه (یعنی مسلمان ) شوې يې او خپل دين دې پرېخی ؟ هغه ورته وويل :

أَفَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مَا هُوَ أَعْجَبُ مِنْ ذٰلِكَ ؟

آيا زه تا ته د دې نه هم ډير عجيبه اُوښايم ؟ هغه دا چې ستا خور او ستا اَوخي هم ايمان راوړی او ته چې په کوم دين يې هغه يې پرېخې دی .

په دې اَوريدو سره حضرت عمر ﷺ ډير غصه شو ، او نيغ د خور کور ته لاړ . هلته د مهاجرينو يو کس " حضرت خبّاب رضي الله عنه " دده اَوخي او دده خور ته قرآن کريم "سورة طه " خوده . حضرت عمر ﷺ دروازه ووهله ، کله چې حضرت خبّاب رضي الله عنه د حضرت عمر ﷺ په راتلو پوهه شو نو په کور کې په يوه کوټه کې پټ شو ، او په کومو صحيفو کې چې قرآن کريم ليکلې شوې وُ هغه بهَر پاتې شوی . حضرت عمر ﷺ چې ورننوت نو پوښتنه يې وکړه :

مَا هٰذِهِ الْهَيْنَمَةُ الَّتِيْ سَمِعْتُهَا عِنْدَكُمْ ؟

دا پټې خبرې د څه شي وی کومې چې ما واوريدی ؟

دوی ورته وويل : مونږ په خپل مينځ کې خبرې کولی . ده ورته وويل :

فَلَعَلَّكُمَا قَدْ صَبَوْتُمَا .

داسې معلوميږي چې تاسو بې دينه (یعنی مسلمانان) شوي يی ؟

هغه اَوخي ورته وويل :

أَرَأَيْتَ يَا عُمَرُ ! إِنْ كَانَ الْحَقُّ فِيْ غَيْرِ دِيْنِكَ ؟

اې عمر ! دا راته ووايه که چيرته حق ستا د دين نه علاوه په بل دين کې وي نو بيا ؟

حضرت عمر چې دا خبره واوريده نو په خپل اوخې يې ورټوپ کړه ، په زمکه يې راوغورځول ، او ښه يې اووهلو ، د حضرت عمر ﷺ خور راغله او د خپل خاوند د خلاصولو کوشش يې کولو ، نو ده هغه هم په مخ باندې دومره تېزه په څپيړه ووهله چې د مخ نه يې وينه راووته ، هغې په ورته په غصه کې وويل :

يَا عُمَرُ ! إِنْ كَانَ الْحَقُّ فِيْ غَيْرِ دِيْنِكَ ؟ أَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

اې عمر ! که چېرته حق ستا د دين نه علاوه په بل دين کې وي نو آيا بيا به هم نشې قبلولی ؟ دايې وويل او بيا يې کلمه شهادت ووېله .

(( په يو روايت کې راځي چې کله حضرت عمر ﷺ کورته داخل شو نو دده سره په لاس کې څه شی وُ په هغې باندې يې د خور سر ووهل ، هغه په ژړا شوه او وې ويل :

يَا ابْنَ الْخَطَّابِ ! اِصْنَعْ مَا كُنْتَ صَانِعًا فَقَدْ أَسْلَمْتُ .

اې عمر بن الخطاب ! ته چې څه کولې شی هغه اوکړه ما ايمان راوړې دی ، دا يې وويل او روانه شوه . (١) ))

کله چې حضرت عمر ﷺ د دوی نه نا اُميده شو ( چې دوی د اِسلام نه نه اَوړي ، او د غصې جوش يې هم څه نا څه ختم شو نو هغه صحيفې يې اُوليدی په کوم کې چې قرآن کريم ليکلې شوې وُ ) نو وې ويل : أعطوني هٰذا الكتاب الذي عندكم فأقرأه .

دا د تاسو سره چې کوم کتاب دی دا ماله راکړئ چې زه يې اُولولم .

خور ورته وويل :

إِنَّكَ رِجْسٌ ، وَلَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ، فَقُمْ فَاغْتَسِلْ أَوْ تَوَضَّأْ .

ته نا پاکه يې او دې له به صرف پاک خلق ګوتې وَر وړي ، پاڅه اول غُسل وکړه يا اَودس وکړه ( نو بيا به يې درکړم ) .

---

(١) حياة الصحابه لمولانا محمد يوسف كاندهلوي رحمه الله ج١ ص ٢٧٩ ، وسيرة ابن هشام ج ١٠ ص ٣٤٢ ، همدارنګې واقعه په طبقات الصحابه او تاريخ طبري کې هم د حضرت عمر رضي الله عنه په سيرت کې ذکر ده .

حضرت عمر ﷺ اَودس وکړو ( ځان يې پاک کړو ) بيا يې هغه کتاب رااخيست ، په هغې کې سورة طه ليکلې وُ ، د هغې لوستل يې شروع کړه ، کله چې دې آيت ﴿ إِنَّنِيٓ أَنَا اللّٰهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّآ أَنَا فَاعْبُدْنِيْ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِيْ .(١) ﴾ ته راأورسيده ( نو د قرآن کريم دې لوستلو ورباندې دومره اَثر وکړو چې سمدستي يې حالت بدل شو ) نو وې ويل :

دُلُّوْنِيْ عَلٰى مُحَمَّدٍ . ما د محمد صلى الله عليه وسلم خدمت ته بوځئ .

کله چې حضرت خبّاب رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه دا خبره واوريده نو د کوټې نه راأووت ، او وې ويل :

أَبْشِرْ يَا عُمَرُ . فَإِنِّيْ أَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنَ دعْوَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَ لَيْلَةَ الْخَمِيْسِ : « اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الْإِسْلَامَ بِعُمرِ بْنِ الْخَطَّابِ أَوْ بِعَمْرِو بْنِ هِشَامٍ » .

اې عمر ! زيرې قبول کړه ، پرون د زيارت په شپه چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم کومه دُعا غوښتې وه هغه دُعا ستا په حق کې قبوله شوه ، ځکه نبي عليه السلام دا دُعا غوښتې وه : اې الله ! اِسلام ته قوت ورکړه د حضرت عمر ﷺ ( د اِسلام راوړو ) په وجه ، يا د عَمروبن هشام (يعنى ابوجهل) په وجه . ( يعنى که دواړه اِيمان نه راوړي نو يو ته خو د اِسلام راوړو توفيق ورکړه چې په دې سره اسلام ته قوت حاصل شي ) .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دې وخت کې د صفا غر په بيخ کې په يو کور کې تشريف فرما وُ ، حضرت عمر ﷺ هلته ورغى ( اُورېده واقعه ده ) د پيغمبر عليه السلام سره يې ملاقات اوشو ، د څه خبرو کولو نه روستو پيغمبر عليه السلام په ده باندې لاس ايخې وُ او وې فرمايل :

اَللّٰهُمَّ هٰذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ، اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الدِّيْنَ بِعُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ .

اې الله ! دا عمربن الخطاب دى ، اې الله ! اسلام ته دده په ذريعه باندې عزت ورکړه .

حضرت عمر ﷺ وفرمايل :

(١) سورة طه آيت ١۴ .

أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ. زه دا ګواهي ورکوم چې ته د الله ﷻ رسول يې.

نو اسلام يې راوړو، بيا يې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته وفرمايل:

أُخْرُجْ يَا رَسُوْلَ اللهِ. (١)

اې د الله رسوله! اوس تاسو بهر را اووځئ، او په ښکاره طريقې سره عبادت کوئ.

د حضرت عمر ﷺ په اسلام راوړو سره اِسلام او مسلمانانو ته ډېر قوت حاصل شو.

---

(١) أخرج ابن سعد عن أنس رضي الله عنه قال: خرج عمر رضي الله عنه متقلدًا السيف، فلقيه رجل من بني زُهْرة قال: أين تعمد يا عمر؟ فقال: أريد أن أقتل محمداً. فقال: وكيف تأمن من بني هاشم وبني زُهرة إذا قتلتَ محمداً؟ قال: فقال له عمر: ما أراك إلا قد صبأت وتركتَ دينك الذي كنتَ عليه. فقال: أفلا أدلك على ما هو أعجبُ من ذلك؟ قال: وما هو؟ قال: أختك وخَتَنُك قد صَبَوا وتركا دينك الذي أنت عليه. قال: فمشى عمر ذامراً حتى أتاهما وعندهما رجل من المهاجرين يقال له خبَّاب قال: فلما سمع خباب حِسَّ عمر توارى في البيت، فدخل عليهما فقال: ما هذه الهَيْنَمة التي سمعتها عندكم؟ قال: وكانوا يقرؤون: «طه». فقالا: ما عدا حديثًا تحدَّثناه بيننا. قال: فلعلكما قد صبوتما قال: فقال له ختنة: أرأيت يا عمر إن كان الحق في غير دينك؟ فوثب عمر على خَتَنة فوطأه وطأً شديداً، فجاءت أخته فدفعته عن زوجها فنفحها بيده نفحة فدمَّى وجهها. فقالت وهي غضبَى: يا عمر! إن كان الحق في غير دينك أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا رسول الله صلى الله عليه وسلم. فلما يئس عمر قال: أعطوني هذا الكتاب الذي عندكم فأقرأه. قال: ـ وكان عمر يقرأ الكتب ـ فقالت أخته: إنك رِجْس، ولا يمسه إلا المطهَّرون، فقم فاغتسل أو توضأ. قال: قام عمر فتوضأ ثم أخذ الكتاب فقرأ «طه» حتى انتهى إلى قوله: { إِنَّنِيٓ أَنَا اللهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّآ أَنَا فَاعْبُدْنِيْ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِيْ } قال فقال عمر: دلُّوني على محمد. فلما سمع خبّاب قول عمر خرج من البيت فقال: أبشر يا عمر، فإني أرجو أن تكون دعوة رسول الله صلى الله عليه وسلم لك ليلة الخميس: «اَللّٰهمَّ أعز الإسلام بعمر بن الخطاب أو بعمرو بن هشام». قال: «ورسول الله صلى الله عليه وسلم في الدار التي في أصل الصفا. فانطلق عمر حتى أتى الدار. قال: وعلى باب الدار حمزة، وطلحة رضي الله عنهما وأناس من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما رأى حمزة وَجَلَ القوم من عمر. قال حمزة: نعم. فهذا عمر. فإن يرد الله بعمر خيراً يسلم ويتبع النبي صلى الله عليه وسلم. وإن يرد غير ذلك يكن قتله علينا هيّناً. قال: ورسول الله صلى الله عليه وسلم داخلٌ يُوحَى إليه. قال: فخرج رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى أتى عمر فأخذ بمجامع ثوبه وحمائل السيف وقال: «أما أنت بمنتهٍ يا عمر حتى ينزل الله بك من الخزي والنكال ما أنزل بالوليد بن المغيرة؟ اَللّٰهمَّ هذا عمر بن الخطاب. اَللّٰهمَّ أعزَّ الدين بعمر بن الخطاب». قال فقال عمر: أشهد أنك رسول الله. فأسلم وقال: أخرج يا رسول الله. اخرجه ابن سعد ٣/ ١٩١ عن انس، كذا في العيني ٨/ ٦٨، وذكره ابن اسحاق بهذا السياق مطوّلاً كما في البداية ٣/ ٨١، حياة الصحابة لمولانا محمد يوسف الكاندهلوي ج١ ص ٢٧٦ تحمل سعيد بن جبير و زوجته فاطمة اخت عمر رضي الله عنهما الشدائد.

فائده: بهر حال، دا دومره اوږده واقعه مې ددې د پاره ذکر کړه چې قرآن کريم داسې مؤثر کتاب دی چې اګر چې حضرت عمر ﷺ (نعوذ بالله) د رسول الله ﷺ د قتل پسې راأوتې وُ خو د قرآن کريم سورة طٰه څه آيتونو لوستلو سره په کې دومره زر تبديلي راغله چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو او اسلام يې قبول کړو.

## د تلاوت په اَوريدو د حضرت جُبَير بن مُطعم ﷺ اسلام راوړل

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کې د سورة الطور آيت ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴾ د لاندې د حضرت جُبَير بن مُطعِم رضي الله عنه واقعه رانقل کړې، کومه چې امام بخاري، امام مسلم او نورو محدّثينو هم ذکر کړې ده:

حضرت جُبَير بن مُطعِم رضي الله عنه فرمايي: زه (د مسلمانيدو نه مخکې) مدينې منورې ته راغلم چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره د غزوه بدر د قيديانو متعلق خبرې وکړم، کله چې مدينې منورې ته راأورسيدم نو ما نبي عليه السلام په داسې حالت کې اُوليده چې د ماښام په مانځه باندې ولاړ وُ، او سورة الطور يې تلاوت کولو ﴿ وَالطُّورِ . وَكِتَابٍ مَّسْطُورٍ .. ﴾ کله چې دې آيت ته راأورسيده: ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ . مَا لَهُ مِن دَافِعٍ ﴾ ترجمه: بيشکه ستا د رب عذاب خامخا واقع کيدونکې دی، نشته دې ددې څوک دَفع کوونکې نو په ما باندې يې داسې اَثر اُوکړو قريبه وه چې د ډيرې يَرې د وجې نه زما زړه چاوديدلې وی. فَأَسْلَمْتُ خَوْفًا مِنْ نُزُوْلِ الْعَذَابِ. نو ما د عذاب د نازليدو د يَرې د وجې نه اسلام قبول کړو. ما ګمان کول چې هسې نه ددې ځای نه د پاڅيدو نه مخکې راباندې عذاب راشي. (١)

---

(١) اخرجه البخاري ٧٦٧، ٣٠٥٠، ٤٨٥٤. ومسلم ٤٦٣، وابوداؤد ٨١١، والنسائي ٢/ ١٦٩، وابن ماجه ٨٣٢، واحمد ٤/ ٨٤ من حديث جبير بن مطعم. / قَالَ جُبَيْرُ بْنُ مُطْعِمٍ: قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ لِأَسْأَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ. فَوَافَيْتُهُ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ (وَالطُّورِ) إِلَى قَوْلِهِ: (إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ . مَا لَهُ مِن دَافِعٍ) فَكَأَنَّمَا صَدَعَ قَلْبِي. فَأَسْلَمْتُ خَوْفًا مِنْ نُزُوْلِ الْعَذَابِ، وَمَا كُنْتُ أَظُنُّ أَنْ أَقُوْمَ مِنْ مَقَامِي حَتَّى يَقَعَ بِيَ الْعَذَابُ. تفسير قرطبي ج١٧ ص ٦٥ سورة طه آيت ٧، ٨. رقم الحديث ٥٦٦٨.

# د قرآن کریم په اوریدو سره د سعدبن معاذ رضي الله عنه او اسید بن حضیر رضي الله عنه اسلام راوړل (١)

١) فلما انصرف القوم بعث معهم رسول الله صلى الله عليه وسلم مصعب بن عمير وأمره أن يقرئهم القرآن ويعلمهم الإسلام ويفقههم في الدين، وكان مصعب يسمى بالمدينة المقرئ. وكان منزله على أسعد بن زرارة. ثم إن أسعد بن زرارة خرج بمصعب فدخل به حائطا من حوائط بني ظفر. فجلسا في الحائط فاجتمع إليهما رجال ممن أسلم. فقال سعد بن معاذ لأسيد بن حضير: انطلق إلى هذين الرجلين اللذين قد أتيا دارنا ليسفها ضعفاءنا فازجرهما. فإن أسعد بن زرارة ابن خالتي، ولولا ذلك لكفيتكه. وكان سعد بن معاذ وأسيد بن حضير سيدي قومهما من بني عبد الأشهل وهما مشركان. فأخذ أسيد بن حضير حربته ثم أقبل إلى مصعب وأسعد وهما جالسان في الحائط. فلما رآه أسعد بن زرارة قال لمصعب: هذا والله سيد قومه قد جاءك. فاصدق الله فيه. قال مصعب: إن يجلس أكلمه. قال: فوقف عليهما متشتما. فقال: ما جاء بكما إلينا تسفهان ضعفاءنا؟ اعتزلا إن كانت لكما في أنفسكما حاجة. فقال له مصعب: أو تجلس فتسمع؟ فإن رضيت أمرا قبلته، وإن كرهته كف عنك ما تكره. قال: أنصفت. ثم ركز حربته وجلس إليهما. فكلمه مصعب بالإسلام وقرأ عليه القرآن. [فقالا]: والله لعرفنا في وجهه الإسلام قبل أن يتكلم في إشراقه وجهه وتسهله. ثم قال: ما أحسن هذا وأجمله، كيف تصنعون إذا أردتم أن تدخلوا في هذا الدين؟ قالا له: تغتسل وتطهر ثوبك ثم تشهد شهادة الحق، ثم تصلي ركعتين. فقام واغتسل وطهر ثوبه، وتشهد شهادة الحق ثم قام وركع ركعتين. ثم قال لهما: إن ورائي رجلا إن اتبعكما لم يتخلف عنه أحد من قومه، وسأرسله إليكما الآن سعد بن معاذ، ثم أخذ حربته فانصرف إلى سعد وقومه. وهم جلوس في ناديهم. فلما نظر إليه سعد بن معاذ مقبلا قال: أحلف بالله لقد جاءكم أسيد بغير الوجه الذي ذهب [به] من عندكم. فلما وقف على النادي قال: قال له سعد: ما فعلت؟ قال: كلمت الرجلين فوالله ما رأيت بهما بأسا وقد نهيتهما. فقالا: فافعل ما أحببت. وقد حدثت أن بني حارثة خرجوا إلى أسعد بن زرارة ليقتلوه، وذلك أنهم عرفوا أنه ابن خالتك ليخفروك. فقام سعد مغضبا مبادرا للذي ذكره له من بني حارثة، فأخذ الحربة. ثم قال: والله ما أراك أغنيت شيئا فلما رآهما مطمئنين عرف أن أسيدا إنما أراد أن يسمع منهما. فوقف عليهما متشتما. ثم قال لأسعد بن زرارة: لولا ما بيني وبينك من القرابة ما رمت هذا مني تغشانا في دارنا بما نكره. قال أسعد لمصعب: جاءك والله سيد قومه. وإن اتبعك لم يخالفك منهم أحد. فقال [له] مصعب: أو تقعد فتسمع فإن رضيت أمرا ورغبت فيه قبلته، وإن كرهته عزلنا عنك ما تكره. قال سعد: أنصفت. ثم ركز الحربة فجلس. فعرض عليه ... عليه القرآن. قالا: فعرفنا والله في وجهه الإسلام قبل أن يتكلم لإشراقه وتسهله. ثم قال لهما: كيف تصنعون إذا ... دخلتم في هذا الدين؟ قالا له: تغتسل وتطهر ثوبك. ثم تشهد شهادة الحق ثم تصلي ركعتين. فقام واغتسل وطهر ثوبه، وتشهد شهادة الحق وركع ركعتين. ثم أخذ حربته فأقبل عامدا إلى نادي قومه ومعه أسيد بن حضير. فلما رآه قومه مقبلا قالوا: نحلف بالله لقد رجع سعد إليكم بغير الوجه الذي ذهب به من عندكم. فلما وقف عليهم قال: يا بني عبد الأشهل كيف تعلمون أمري فيكم؟ قالوا: سيدنا وأفضلنا رأيا وأيمننا نقيبة. قال: فإن كلام رجالكم ونسائكم علي حرام حتى تؤمنوا بالله ورسوله. قال: فما أمسى في دار بني عبد الأشهل رجل ولا امرأة إلا مسلم ومسلمة. تفسير بغوي ١ / ٣٨٣ سورة آل عمران آيت ١٠٣. تفسير خازن ١ / ٢٧٩، تفسير مظهري ٢ / ١١٠ سورة آل عمران آيت ١٠٣.

تفسيرِ بغوي ، تفسيرِ مظهري او تفسيرِ خازن د سورة آل عمران آيت ﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا . (١) ﴾ د لاندې يوه اوږده واقعه رانقل كړې ، په مختصرو الفاظو كې يې ستاسو د وړاندې نقل كوم :

كله چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم په مكه معظمه كې ؤ ، او تر اوسه يې مدينې منوّرې ته هجرت نه ؤ كړى ، نو د مدينې منوّرې نه د حج په موسم كې دولس كسان مكې معظمې ته راغله ، د دوى ملاقات د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په عقبه مقام كې اوشو ، په دې كې حضرت اَسعَد بن زُرَارَة رضي الله عنه هم ؤ كوم چې د مخكې نه ايمان راوړې ؤ ، دوى د نبي كريم ﷺ سره بيعت وكړو ، ديته د اَلْعَقَبَةُ الْأُوْلَى بيعت وايي .

كله چې دوى واپس تلل نو رسو الله صلى الله عليه وسلم د دوى سره حضرت مُصعَب بن عُمَير رضي الله عنه هم اُوليږل ( چې دوى ته به د قرآن كريم اَحكامات ښائي ) .

دې چې هلته لاړو نو د حضرت اَسعَد بن زُرَارَة رضي الله عنه سره دېره شو ( د دين دعوت به يې چلولو ) ، يوه ورځ دا حضرت مُصعَب بن عُمَير رضي الله عنه او حضرت اَسعَد بن زُرَارَة رضي الله عنه دواړه د دين د دعوت د پاره ووتل ، يو ځاى ته لاړه ، هلته ورته هاغه كسان راجَمع شو كومو چې د مخكې نه ايمان راوړې ؤ .

په دې قوم كې دوه غټ سَرداران وو ، د يو نوم سَعدبن مُعَاذ ؤ ، او د بل نوم اُسَيد بن حُضَير ؤ ، دواړه مشركان وو .

كله چې دې سردارانو دا مسلمانان اُوليده چې حضرت مُصعَب بن عُمَير رضي الله عنه او اَسعَد بن زُرَاره رضي الله عنه ته راجَمع شوي دي نو دې سعد بن مُعاذ اُسيد بن حُضير ته ووېل :

اِنْطَلِقْ إِلٰى هٰذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ اللَّذَيْنِ قَدْ أَتَيَا دَارَنَا لِيُسَفِّهَا ضُعَفَاءَنَا فَازْجُرْهُمَا . فَإِنَّ أَسْعَدَ بْنَ زُرَارَةَ ابْنُ خَالَتِيْ ، وَلَوْلَا ذٰلِكَ لَكَفَيْتُكَهُ .

ته دې دوه كسانو ته ورشه كوم چې زمونږ كورونو ته ددې د پاره راغلي دي چې زمونږ كمزوري خلق بې وقوفه كړي ، دوى اُورټه ( ددې ځاى نه يې لرې كړه ) ، او ته ځكه ورشه

(١) آل عمران آيت ١٠٣ .

چې دا اسعد بن زراره زما د ترور ځوي دی ، که دې زما رِشته دار نه وی نو زه به بیا ددهٔ د پاره کافي شوې ووم .

اُسید بن حُضیر خپله نېزه راواخیسته او دوی طرف ته وَر روان شو . کله چې حضرت اَسعد بن زُرَارة ﷺ دا اُولیده چې د دوی طرف ته را روان دی نو ده حضرت مُصعب بن عُمَیر ﷺ ته وویل :

قسَم په الله ، دا خو د خپل قوم مشَر دی ، کله چې تاته راشي نو د الله ﷻ وحدانیت ورته ربښتیني ثابت کړه ، د هیڅ نه مه ویرېږه ، حق خبره ورته وکړه . ده ورته وویل :

إِنْ يَجْلِسْ أُكَلِّمْهُ .

که چیرته دې کیني نو زه به ورسره خبرې وکړم .

کله چې دا سَردار دوی ته را اُورسیده نو دوی ته یې کنځل او بَدې ردې خبرې شروع کړې ، او ورته وې ویل :

تاسو دلته څا راوستي یئ ؟ چې دلته زمونږ کمزوري خلق بې وقوفان کوی ، که د خپل ځان خېر غواړې نو ددې ځای نه ځئ .

حضرت مُصعَب بن عُمیر ﷺ ورته وفرمایل : که چیرته ته کیني او زمونږ خبره واوری نو دا به ډیره ښه وي ، پس که ستا خوښه شوه نو قبوله یې کړه ، او که خوښه دې نه شوه نو مه یې قبلوه .

هغه ورته وویل : تا ډیره د اِنصاف خبره اوکړه ( زه به ستاسو خبره واورم چې تاسو څه وایی ) ، ده خپله نیزه په زمکه کې خَخه کړه ، او د دوی سره کیناست ،

فَكَلَّمَهُ مُصْعَبٌ بِالْإِسْلَامِ وَقَرَأَ عَلَيْهِ الْقُرْآنَ .

نو حضرت مُصعَب ﷺ دده سره د اسلام متعلق خبره وکړه ، او ده ته یې د قرآن کریم څه حصه واوروله .

( څکه صحابه کرامو ته معلومه وه چې قرآن کریم داسې اِنقلابي کتاب دی چې دا د انسان د زړه دُنیا بدلوي ، د زړه بَندې تالې ګلاووي ، او د انسان په ژوند کې پوره اِنقلاب راولي ، نو څکه یې دده د وړاندې د قرآن مجید تلاوت اوکړو ) .

دا صحابه كرام فرمايي چې د قرآن كريم په اَوريدو سره په ده كې داسې تبديلي راغله چې دده د وينا نه مخكې مونږ ته دده په مخ كې د اِسلام آثار ښكاره شو .

د قرآن كريم اَوريدو نه روستو دې اُسيد بن حُضير وويل :

مَا أَحْسَنَ هٰذَا وَأَجْمَلَه .

دا څه ښائسته او بهترين كلام دى .

بيا يې وويل : كله چې تاسو يو كس په خپل دين كې داخلوئ نو د هغه سره څه طريقه كار كوئ ؟ دوى ورته وويل : ته غُسل وكړه ، خپلې جامې پاكې كړه ، بيا د حق گواهي وركړه ( يعنى كلمه شهادت ووايه ) ، بيا دوه ركعته مونځ وكړه ( نو په دې سره به ته په اِسلام كې داخل شى ) ، نو دې پاڅيده او دا ټول كارونه يې وكړه .

بيا يې دوى ته وويل : د ماسره يو بل كس هم دى كه چيرته هغه هم ستاسو تابعداري وكړي ( ايمان راوړي ) نو دده په قوم كې به هيڅوک هم بغير د اِيمان نه پاتې نه شي ( بلكه ټول به د هغه په وجه مسلمانان شي ) ، د هغه نوم سَعد بن مُعاذ دى ، زه ورځم هغه به راأوليږم ، پس ده خپله نيزه واخيسته او د سعد بن مُعاذ او د هغه قوم طرف ته ورروان شو ، كوم چې په يو مجلس كې د خپل قوم سره ناست ؤ .

كله چې سَعد بن مُعاذ دا أسيد بن حُضير أوليده چې د هغوى طرف ته وَر روان دى (او هغه دده مخ ته اُوكته نو هغه خپل قوم ته وويل :

أَحْلِفُ بِاللهِ لَقَدْ جَاءَكُمْ أُسَيْدٌ بِغَيْرِ الْوَجْهِ الَّذِيْ ذَهَبَ بِهِ مِنْ عِنْدِكُمْ .

زه په الله ﷻ باندې قسَم كوم چې اُسيد د تاسو نه په كوم مَخ باندې تللې ؤ اوس تاسو ته د هغې نه په بدل مخ باندې راغى .

( چونكه د اِسلام په راوړو سره دده مخ منوّر شوې ؤ نو ځكه دوى ته بَدل معلوميده ، او سَعد هم په دې باندې پوهه شو )

كله چې اُسيد دوى ته راورسيده نو سَعد ورنه پوښتنه وكړه : تا د دوى سره څه وكړه ؟ ده ورته وويل : ما د دوى سره خبرې اوكړى قسَم په الله ما خو په دوى كې څه بده خبره او نه ليده . بيا ده نورې خبرې هم اوكړى ، نو سعد غصه شو ، ورته وې ويل : تا خو هيڅ كار نه دې كړى .

بیا ده خپله نیزه راواخیسته ، او د دوی طرف ته وَر روان شو ، کله چې هغوی ته وَراورسیده نو په کنځلو او بدو ردو خبرو کولو یې شروع اوکړه ، بیا یې حضرت اَسعد بن زُرارة ته وویل : که چیرته زما او ستا په مینځ کې خپلولي ( رِشته داري ) نه وی نو تا به د ما نه دا کار نه وی کړی ، آیا ته زمونږ په کورونو کې هغه دین خوَرَوی کوم چې مونږ نه خوَښوو ؟

... حضرت مُصعَب بن عُمَیر ﷺ ورته وویل : که چیرته ته کینی او زمونږ خبره واوری نو ډیره به ښه وي ، پس که ستا خوَښه شوه نو قبوله یې کړه او که خوښه دې نه شوه نو چې ته خفه کیږی مونږ به د دې ځای نه لاړ شو .

سعد وویل : اَنْصَفْتَ . تا د اِنصاف خبره وکړه .

بیا ده خپله نیزه په زمکه کې اُوټومبله او کیناست . حضرت مُصعَب ﷺ ده ته هم اِسلام پیش کړو او د قرآن مجید څه حصه یې ورته واوروله .

د قرآن کریم اَوریدو په ده باندې دومره اَثر وکړو ، دا صحابه کرام قسَم کوي چې ده د خبرو کولو نه مخکې مونږ ته ده په مخ کې د اِسلام آثار ښکاره شو . بیا دې سَعد هم دا خبره وکړه چې کله تاسو په اِسلام کې داخلیدل غواړی ( یا بل داخلوی ) نو څه کار کوئ ؟

دوی ورته وویل : ته غُسل اوکړه ، خپلې جامې صفا کړه ، بیا د حق گواهي ورکړه ، بیا دوه رکعته مونځ اوکړه ( نو په اِسلام کې به داخل شی ) ، ده هم دا ټول کارونه اوکړه .

بیا ده هم خپله نیزه راواخیسته ، او خپل قوم طرف ته وَر روان شو ، کله چې قوم دا اُولیده نو هغوی وویل : قسَم په الله سَعد چې د دې ځای نه په کوم مخ باندې تللې وُ اوس تاسو ته د هغې نه په بدل مخ باندې راغی .

( ده په مخ کې هم د اِسلام راوړو په وجه یو جدا نُورانیت پیدا شوې وُ کوم چې قوم ده په مخ کې محسوس کړو ) .

کله چې دې خپل قوم ته رااُورسیده نو دوی ته یې وویل : اې زما قومه ! تاسو زما په باره کې څه وایې ؟ هغوی ورته وویل : ته زمونږ سَرداریې ، او ته په مونږ کې د بهترینې رای واله شخصیت یې ، ده ورته وویل :

فَإِنَّ كَلَامَ رِجَالِكُمْ وَنِسَائِكُمْ عَلَيَّ حَرَامٌ حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللهِ وَرَسُولِهِ .

بيشکه ستاسو د سړو او ستاسو د ښځو خبرې د ماسره تر هغه وخته پورې حرامې دي تر دې پورې چې تاسو په الله ﷻ او د هغه په رسول صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړی (نو بيا به زه درسره خبرې کوم) .

دده خبره ټولو اُومنله ، او د ماښامه پورې د ټولې قبیلې سړو او ښځو ایمان راوړو .

**فايده** : پس معلومه شوه چې قرآن کريم داسې مؤثِر او انقلابي کتاب دی چې د دې په اَوريدو سره غير مُسلمو ته د ايمان غوندې عظيم دولت نصيبه کيږي .

ځکه خو به بعضې کافرانو د دې تاثير په وجه قرآن مجيد ته سِحر ويل ، او يو بل به يې ويل :

﴿ لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : تاسو دا قرآن مه اَورئ ، او ( چې کله لوستلې شي نو ) په دې کې شور کوئ ، د دې د پاره چې تاسو غالب شئ .

## د قرآن کريم په اَوريدو سره د طفيل دوسي اِسلام راوړل

طفيل دوسي د خپلې قبيلې سَردار وُ ، کله چې مکې معظمې ته راغی نو مشرکينو ورته وويل : دلته يو کس دی ، د هغه سره داسې جَادو دی چې هغه ورور د ورور نه جدا کړې دی. لهذا ته په خپلو غوږونو کې مالوچ کيده چې د هغه آواز وا نه وری ، د دې د پاره چې د هغه جادو په تا باندې اَثر او نه کړي .

يوه ورځ طفيل دوسي د مسجدِ حرام سره تېريده ، نبي کريم صلی الله علیه وسلم په مانځه ولاړ وُ ، تلاوت يې کولو ، ده تلاوت واوريده ، د ځان سره يې سوچ وکړو چې د کلام عېبونه او مَحاسِن خو زه هم پيژنم ، دا تلاوت اَورم چې په دې کې څه څه عېبونه دي ؟ نو په توجّه سره يې تلاوت واوريده . پيغمبر عليه السلام مونځ ختم کړو او کور ته لاړو .

---

(۱) سورة حم السجده (فصلت) آيت ۲۶ .

د تلاوت په اَوريدو سره د طفيل دوسي په زړه او دِماغو کې داسې انقلاب پيدا شو چې صبر يې او نه کړې شو ، د نبي عليه السلام پسې شاته لاړو ، او اِسلام يې قبول کړو ، ده به فرمايل :

قسَم په الله ، د قرآن کريم نه بهترين کلام تر اُوسه پورې زما غوږونو ندی اَوريدلی، او د اِسلام نه ډير عادِلانه مذهب ما تر اوسه پورې بل ندې ليدلی . (١)

## د يو سورة په لوستلو سره د لبيد بن ربيعه ﷺ اسلام راوړل

حضرت لبيد بن ربيعه رضي الله عنه په فصاحت و بلاغت کې ډير مشهور ؤ ، ده يوه قصيده اُوليکله او په کعبه شريفه يې راځوړَنده کړه .

او دا به د شاعر د پاره لوي اِعزاز ؤ ، ځکه خلقو به ددې په ليدو سره د شاعر فصاحت و بلاغت ته آفرين ويل .

يو مسلمان د قرآن مجيد يو مختصر سورة وليکل او ددې قصيدې سره يې څنګ کې په خانه کعبه راځوړَند کړو .

کله چې بله ورځ لبيد بن ربيعه راغی ، دا سورة يې اُوليده ، او وې لوستو نو دومره اَثر يې ورباندې اوکړو چې اِعلان يې وکړو :

دا د بشر قول نه دی ( بلکه دا د پَروردګارِ عالَم کلام دی ) ، هملته يې اِيمان راوړو . دې د قرآن مجيد نه دومره متأثِره شو چې خپله شاعري يې هم پريخوده .

يوه ورځ حضرت عمر رضي الله عنه دده نه د شعر ويلو غوښتنه وکړه ، او ورته وې ويل :

أَنْشِدْنِيْ شَيْئًا مِنْ شِعْرِكَ .

خپل څه ( تازه ) شِعر خو راته ووايه :

ده ورته وويل :

مَا كُنْتُ لِأَقُوْلَ شِعْرًا بَعْدَ أَنْ عَلَّمَنِيَ اللهُ الْبَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ . (٢)

---

(١) ندای ممبر و محراب؟ ج٣ ص٢٠٧ .

(٢) اُسد الغابة ج٤ ص٢١٦ ترجمه لبيد بن ربيعة .

د کله نه چې الله ﷻ ماته سورة بقره او سورة آل عمران رانصيبه کړي د هغې نه را په ديخوا ما ته شعر ويل مزه نه راکوي.

# د قرآن کريم تأثير

محترمو مسلمانانو وروڼو! کومو خلقو به چې کلک قسَمونه کول چې مونږ به اسلام نه قبلوو، خو چې کله به يې قرآن کريم واوريده نو دومره آثر به يې ورباندې وکړو چې ځاى په ځاى به يې اسلام قبول کړو.

. صحابه کرام چې کله د نجاشي بادشاه دَربار ته لاړه، او هلته يو صحابي د نجاشي بادشاه د وړاندې د قرآن مجيد تلاوت وکړو نو په دې سره د نجاشي د زړه دُنيا بدله شوه.

هماغه د آثر واله قرآن مجيد د مونږ سره اوس هم موجود دی خو کاش چې مسلمانان دا په خپل ژوند کې عمَلي کړي، او ددې په احکاماتو باندې عمل وکړي نو بيا به ددې آثر او برکت ظاهر شي. ځکه قرآن کريم داسې د تأثير نه ډک کلام دی چې ددې په آوريدو سره د انسان زړه منوّر کيږي، او دده په ژوند کې پرې تبديلي راځي.

## په اَمريکه کې د فِلم جوړوونکې کمپنۍ په مالِک باندې د قرآن کريم آثر

مولاناً اشرف علي تهانوي رحمه الله يوه واقعه رانقل کړی چې: په اَمريکه کې د فِلم جوړولو يوه کمپني وه، ددې مالِک غير مُسلمه ؤ، يو ځل ده اِراده وکړه چې د مانځه فِلم جوړ کړم، نو هلته په اَمريکه کې چې کوم عرب اُوسيده ده هغوی ته دا خبره وکړه چې:

تاسو ماله يو ښه مُؤذِن، يو خُوش آوازه اِمام، او ورسره لس يا پنځلس مُقتديان راولئ چې زما په کمپنۍ کې دوی مونځ اوکړي، نو زه به د دوی فِلم جوړ کړم.

کله چې دا ټول ماسخوتن کمپنۍ ته راغله نو اول خو مُؤذِن آذان وکړو. په دې آذان کولو سره د کمپنۍ په دې مالِک باندې ډير آثر اوشو. بيا چې جُمعه شروع شوه او اِمام د قرآن مجيد تلاوت شروع کړو نو دې تلاوت آوريدو سره په ده باندې داسې آثر اوشو چې ډير زيات يې اُوژړل.

کله چې مونځ ختم شو نو د کمپنۍ مالِک دې اِمام ته وويل: ماته کلمه ووايه زه مسلمانيږم. هغه ورته کلمه وويله، او مُسلمان شو.

بیا ددې کمپنۍ مالک وویل : تاسو به هره ورځ ماته دوه گنهټې د قرآن مجید درس راکوئ ، او ددې أحکام به راته ښایئ .

بیا ده د فلم دا کمپني بنده کړه . خپلو ملګرو ورته ډیر وویل : په تا باندې څه اوشو چې تا دا دومره غټه کمپني بنده کړه ؟

ده ورته وویل : ما د دُنیا غټ غټ کاروبارونه اوکړه ، او ډیر مال و دولت مې اوګټل خو ماته به د زړه سکون نه نصیبه کیده ، خو چې اوس مې اِسلام قبول کړو نو ماته د زړه داسې اطمینان او سکون حاصل شو چې دا ماته مخکې نه وُ نصیبه شوی ، اوس غواړم چې په همدې اِسلام ته ترقي اوکړم . (١)

سبحان الله ، صرف د تلاوت په اَوریدو پرې دومره اَثر اوشو چې ځای په ځای یې اِیمان راوړو .

## د تلاوت په اَوریدو سره د فرانس د ډمانو یو ګروپ مسلمانیدل

زما اُستاذِ محترم " شیخ الحدیث حضرت مولانا حسن جان مدني شهید رحمه الله " د خپل اُستاذ په حواله یوه واقعه بیان کړی .

شیخ صاحب فرمایي چې مونږ ته خپل استاذ دا واقعه بیان کړی چې : یو ځل په فرانس کې د ډمانو یو ګروپ مسلمان شو ، دا خبره د هغه وخت په اَخبارونو کې هم نشر شوه . زه چې خبر شوم نو ډیر حېران شوم چې فرانس خو په یورپي ملکونو کې ډیر بې حَیاء ملک دی . په دې کې ډمانو څنګه اسلام قبول کړو ؟ نو ما ددې خلقو پته د ځان سره اولیکله ،او ددې خبرې د تحقیق د پاره هلته ورغلم .

کله چې د هغوی سره ملاؤ شوم نو ما ورته پوښتنه وکړه :

په اَخبارونو کې لیکلي چې تاسو مسلمانان شوي یئ ، نو اوس زه دا معلومات کول غواړم چې : تاسو څنګه مسلمانان شوئ ؟ د اسلام کتابونه مو لوستلي او که چا درته تبلیغ کړی ؟

دوی راته وویل :

---

(١) قرآن کریم کے حیرت انگیز واقعات. لمولانا قاري طاهر رحيمي .

مونږ د قرآن مجيد تلاوت واوريده نو په دې كې مونږ داسې خوَند او لذت محسوس كړو چې د دُنيا په بل هيڅ شي كې نه وُ ، نو ځكه مونږ اسلام قبول كړو .

بيا دوى مزيد تشريح وكړه چې : كله مونږ د قرآن مجيد تلاوت په اول ځل واوريده نو مونږ له يې ډير خوَند راكړو ، بيا مونږ د عربي ملكونو نه د تلاوت كيستې را اُوغوښتې . او زمونږ عادت دادى چې د هر شِعر او بيت سره بيم باجه او موسيقي جوړوو خو چې كله مونږ د قرآن كريم سره موسيقي جوړول اوغوښتل نو دا نه جوړيده ، هر څومره كوشش مو چې اوكړو د قرآن كريم سره مو موسيقي جوړه نه كړې شوه ، ځكه چې ددې يو آيت اُوږد دى او بل لنډ دى ، خو خوَند او مزه يې د اَشعارو او بيتونو نه هم زياته ده ، مونږ پوهه شو چې دا د انسانانو كلام نه دى ، بلكه دا د الله رب العزت كلام دى ، نو ځكه مونږ اسلام قبول كړو.(١)

## د يو آيت په معنى باندې غوَر كولو سره د فرانس ډاكټر مسلمانيدل

ډاكټر غرينيه د فرانس مشهور ډاكټر دى ، دې د فرانس د پارلمنټ مِمبر هم وُ ، خو غيرمُسلمه وُ ، ده يو ځل په سمَندري جهاز كې سفر كولو ، ناڅاپه يې د مِصر سره خپل سفر قطع كړو ، او د مسلمانانو يو عالِم ته ورغى ، كلمه يې وويله او مسلمان شو .

د مسلمانيدو نه پس يې د پارلمنټ نه اِستعفاء هم وركړه ، او د فرانس په يو وړوكي كلي كې يې اُوسيدل شروع كړه .

يو صحافي "محمود بى مصري" دده كورته ورغى ، د ملاقات نه پس يې ددې ډاكټر نه پوښتنه وكړه :

تاسو اِسلام ولې قبول كړو ؟ آيا ددې نه مخكې تاسو چيرته د يو مسلمان عالِم نه قرآن مجيد ويلى وُ ؟

ده ورته جواب وركړو : ددې نه مخكې تر اُوسه پورې زما د يو مسلمان عالِم سره ملاقات ندې شوى ، خو اِسلام مې ځكه قبول كړو چې ما د قرآن كريم د يو آيت په معنى كې غوَر وكړو ، د هغې د وجې ماته دا معلومه شوه چې قرآن كريم رښتينې د الله ﷻ كلام دى .

بيا دې ډاكټر خپله تفصيلي واقعه داسې بيان كړه چې :

(١) خطبات حضرت شيخ ص ٩٨ .

زما د ژوند اكثره حصه په سمندري سفرونو كې تېره شوې ، ځكه د څه ضرورياتو په وجه ما ډيرې سمندري سفرې كړي ، او په دې كې مې مختلف حالات ليدلي .

يو ځل ما سفر كولو ، ما ته د فرانسيسي ژبې مترجَم قرآن مجيد ملاؤ شو ، ما چې قرآن مجيد كلاؤ كړو نو د سورة النُّور په دې څلويښتم آيت مې نظر پريوَت ، د دې ترجَمه چې ما مطالعه كړه او په دې كې مې غوَر او فكر اوكړو نو زه د دې نه ډير متأثِره شوم .

ځكه په دې كې الله ﷻ د هغه كافرانو د بَدو اعمال مثال ذكر كړى كوم چې د قيامت د ورځې نه مُنكر دي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَىٰهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ سَحَابٌ ظُلُمَٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَآ أَخْرَجَ يَدَهُۥ لَمْ يَكَدْ يَرَىٰهَا وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ﴾

ترجمه : ( د كافرانو د بَدو اعمالو مثال ) يا د ژوَر درياب د تيارو په شان دى چې دا تياره د سمندر چَپې پټوي ( يعنى د تيارو د پاسه د سمندر لوي لوي چَپې وي ، بيا ) د دې چپو د پاسه نورې چَپې وي ، ( بيا ) د هغې د پاسه وريځ وى ( چې د دې وريځ په وجه د ستورو هغه رڼا هم لاندې نه راځي ، حاصل دا چې ) يو بل د پاسه ( هر طرف ته ) تياره وي ، ( په دې دومره تيارو كې ) كه چيرته يو كس خپل لاس را اُوباسي ( او ديته كتل اوغواړي نو د ډيرو تيارو د وجې نه ) هيڅ كله دې خپل لاس نشي كتى ، ( حالانكه لاس انسان ته ډير نزدې وي او ځاته يې ډير رانزدې كولې هم شي ، نو چې د ډيرو تيارو د وجې نه خپل لاس نشي كتى نو نور اَندامونه به څه اُووينې ؟ ) ، او چا ته چې الله ﷻ په خپله د هدايت رَڼا نه وي وركړي نو د ده د پاره بل هيچرته رڼا نشته .

**د آيت خلاصه**: په دې آيت كې الله ﷻ د هغه كافرانو د بَدو اعمالو مثال بيان كړى چې د قيامت د ورځې نه مُنكر دي ، دوى هم په مختلفو تيارو كې ډوب دي : د كُفر او جهالت تياره ، د بَدو اِعتقاداتو تياره ، د بَدو اَقوالو تياره ، او د بَدو اَعمالو تياره . يعنى هر طرف ته داسې په تياره كې ډوب دي لكه شپې چې د سمندر په بيخ كې تياره وه ، بيا د هغې د پاسه د لوي لوي چَپو تياره وي ، بيا صرف دا يوه چَپه نه وي بلكه د چپو د پاسه نورې چپې وي ، بيا په آسمان كې وريځ هم وي چې د ستورو هغه رڼا يې هم بنده كړې وي ، نو د سمندر

په بېخ كې حَد درجه تياره وي ، كه په دې تياره كې يو كس خپل لاس سترګو ته رانژدې كړي نو د ډېرو تيارو په وجه دا هيڅكله نشي ليدى ، نو چې لاس نشي ليدى نو دا نور آندامونه په څه اوګوري ؟

دغه رنګې د ا د قيامت نه مُنكر كافران هم د هر طرف نه په تيارو كې ډوب دي ، د دوى سره هيڅ رَڼا نشته ، ځكه رڼا خو د اِسلام په وجه وي او دوى اسلام نه قبلوي ، نو كه دوى د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره مخامخ شي نو د اعمالو هيڅ اَجر به او نه ګوري .

د فرانس دا ډاكټر وايي چې په دې آيت كې د سمندري نظارو كيفيت په ډېر بهترين اَنداز كې بيان شوى ، نو زه ددې نه ډېر متأثره شوم ، ځكه په دې كې د كافرانو د بدو اَعمالو مثال په ډېر مختصر او جامِع انداز كې بيان شوى .

ما دا ګمان وكړو چې ګني محمد صلى الله عليه وسلم به هم زما غوندې شپه او ورځ د سمندر سفرونه كړي وي . هغوى د سمندري تيارو داسې نا اشنا بيان كړى چې ګويا هغه په خپله د وريځې په شپه كې لاندې د سمندر د چپو په مينځ كې دغه حالت ليدلې دى ، ځكه د سمندري اُمورو يو لوي ماهر كس هم په دغه شان مختصرو الفاظو كې داسې بهترينه نظاره او كيفيت نشي بيانولى .

خو چې كله ماته معلومه شوه چې محمد صلى الله عليه وسلم خالِصه اُمّي وُ ، هغه په خپل ژوند كې چيرته هم سمندري سفر نه دې كړى نو زه پوهه شوم چې دا قرآن كريم د محمد صلى الله عليه وسلم خبرې نه دي ، بلكه دا د هغه ذات ( الله جل جلاله ) خبرې دي چې هغه په تكه توره تياره كې د سمندر په بېخ كې دا هر څهويني .

دا ډاكټر وايي چې كله ماته ددې يو آيت په وجه د قرآن كريم حقانيت معلوم شو چې دا د الله ﷻ كلام دى نو ځكه ما اِسلام قبول كړو . (١)

(١) قرآن كريم ايک عظيم معجزه ص ٢١٥ مع التغير والاضافة .

# په کميونستانو باندې د تلاوت اَثر

د مصر مشهور و معروف شخصيت" قاري عبدالباسط " خپله واقعه بيانوي چې :

يو ځل زه د مصر صدر "جمال عبدالناصر " د ځان سره په سَرکاري دَوره باندې روس ته بوتلم ، هلته د کميونستو حکومت وُ ، کميونسټ خو د الله ﷻ د ذات نه هم مُنکِر دي ، جمال عبدالناصر د هغوی سره د ملکي اُمورو متعلق په يو ميټِنګ کې شِرکت کول.

کله چې د ميټِنګ څه حصه مکمل شوه ، او داسې څه لږ وخت د مشورو د پاره وَقفه ورکړې شوه نو جمال عبدالناصر ددې ميټِنګ والو ته وويل چې زما دا ملګرې ( قاري عبدالباسط صاحب ) به ستاسو د وړاندې څه اُووايي ، هغوی ورته وويل : صحيح ده او دې وايي.

قاري عبدالباسط صاحب فرمايي : چې ما د قرآن کريم د سورة طٰه تلاوت شروع کړو :

﴿ طٰهٰ . مَآ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لِتَشۡقٰۤى . اِلَّا تَذۡكِرَةً لِّمَنۡ يَّخۡشٰى . تَنۡزِيۡلًا مِّمَّنۡ خَلَقَ الۡاَرۡضَ وَالسَّمٰوٰتِ الۡعُلٰى ... ﴾

( دا هغه آيتونه دي چې ددې په اَوريدو سره په حضرت عمر رضي الله عنه باندې هم اَثر شوی وُ ، او بيا يې اِيمان راوړو ) .

قاري صاحب فرمايي چې کله ما دوه رکوع تلاوت وکړو او سترګې مې را اُوغړولې نو ما د قرآن کريم مُعجزه په خپلو سترګو اُوليده چې د ډيرو کميونستانو د سترګو نه بې اِختياره اُوخکې رواني وې.

جمال عبدالناصر د دوی نه پوښتنه وکړه چې : تاسو ولې ژاړئ ؟ هغوی ورته وويل : ستا دې ملګري چې څه وويل په دې خو مونږ پوهه نه شو خو دده په دې کلام کې داسې تأثير وُ چې ددې په وجه زمونږ زړونه نرَم شو او بې اِختياره مو د سترګو نه اُوښکې راروانې شوې ، مونږ نه پوهيږو چې دا په مونږ باندې څه چل اوشو ؟

سبحان الله . کميونسټ خو هغه خلق دي چې د الله ﷻ د ذات نه مُنکر دي ، قرآن کريم نه مني او په قرآن کريم نه پوهيږي خو چې د قرآن کريم تلاوت ته يې غوږ اُونيوه نو الله ﷻ د هغوی په زړونو باندې ددې آثر ښکاره کړو .

اوس چې يو مسلمان وي ، د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اُمّتي وي او هغه په صدقِ دِل سره ددې تلاوت کوي يا ديته غوږ نيسي نو الله ﷻ به يقيني طريقې سره دده په زړه باندې هم ددې ښه اثر پيدا کوي .

شيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان مدني شهيد رحمه الله به فرمايل چې قاري عبدالباسط صاحب د مِصرؤ ، په کويت کې دفن دی ، ده به چې کله په لبنان کې تلاوت کول نو په زرګونو عيسايان به مسلمانيدل .

او عيسايانو به ويل : قرآن کريم چې د حضرت عيسیٰ عليه السلام په شان کې کوم بيان کړی واقعي د حضرت عيسی عليه السلام شان همداسې ؤ . (١)

## د نبي عليه السلام عادتِ مبارکه

د نبي عليه السلام عادتِ مبارکه همدا ؤ چې څوک به ورته راغله نو د هغوی د وړاندې به يې قرآن مجيد لوستو ، چې ددې په اَوريدو به هغه ډير متأثِره شو او ايمان به يې راوړو .
ځکه يقينًا د دُنيا په ټولو کتابونو کې دومره قوي تأثير په بل کتاب کې نشته څومره چې په قرآن مجيد کې دی .

د عکاظ ميلې نه به چې کله خلق واپس خپلو کورونو طرف ته روان شو ، او په لاره کې به يې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه قرآن مجيد واوريده نو داسې به متأثِره شو چې کور ته د تللو په ځای به يې د نبي عليه السلام صُحبت غوره کړو ، او په اِيمان به مُشرّف شو .

ځکه خو د اُردو ژبې يو شاعر وايي :

اُتر کر حِرا سے سوئے قوم آيا • اور ايک نسخه کيميا ساتھ لايا

وه بجلي کا کڑکا تھا يا صوتِ هادي • عرب کي زمين جس نے ساري هِلا دي.

---

(١) خطبات حضرت شيخ ص ١٠٠ .

# د تلاوت په کولو يا اُوريدلو سره د اَسلافو حالت

په قرآن کريم کې الله ﷻ داسې هيبت او جلال اينبې چې دا د دُنيا په بل هيڅ کلام کې نشته ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ﴾ . (١)

ترجمه : په دې قرآن سره د هغې خلقو څرمنې زيګ زيګ کيږي (٢) کوم چې د خپل رب نه ويريږي ، بيا د هغوی څرمنې او زړونه د الله ذکر طرف ته نرم شي (٣) .

دغه وجه ده چې صحابه کرامو به کله د قرآن کريم تلاوت کولو او يا به يې اُوريدلو نو کيفيت به يې بدل شو ، په سترګو کې به يې اُوښکې راغلې. الله تعالی ددې بيان داسې کوي:

﴿ وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ ﴾ . (٤)

ترجمه : او کله چې دوی هغه کلام واوريده کوم چې رسول ( صلی الله عليه وسلم ) ته نازل کړې شوی دی نو ته به د دوی سترګې ګوری چې اُوښکې به څڅوي ، ځکه چې دوی حق پيژندلی دی .

همدغه رنګې د اَسلافو په باره کې ډير داسې واقعات نقل دي چې کله به دوی د قرآن مجيد تلاوت واوريده ، او په دې کې به د الله ﷻ د عذاب تذکره وه نو حالت به يې بَدل شو ، او اکثر به بې هوشه شو .

## د تلاوت په اُوريدو د حضرت عمر رضي الله عنه حالت

حافظ ابن کثير رحمه الله په خپل تفسير " تفسيرِ ابن کثير " کې د آيت ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴾ د لاندې د حضرت عُمر رضي الله عنه واقعه رانقل کړی چې :

---

(١) سورة الزمر آيت ٢٣ .

(٢) دا کِنايه ده د خَوف نه ، يعنی کله چې مؤمنان د عذاب آيتونه واوري نو د الله د ډَر د وجې نه يې ځوني زيګ شي ، زړه يې نرم شي ، او ويَره په کې پيدا شي .

(٣) يعنی کله چې د رحمت آيتونه واوري نو په دې سره د دوی زړونه نرم شي ، او د الله تعالی ياد ، او په قرآن مجيد باندې عمل کولو طرف ته متوجه شي .

(٤) سورة المائده آية ٨٣ .

يوه شپه حضرت عُمر ﷺ د ښار د حالاتو معلومولو د پاره اُووت ، نو د مسلمانانو په يو کور باندې تيريده ، هلته يو مسلمان په مانځه باندې ولاړ وُ ، او تلاوت يې کولو ، حضرت عُمر ﷺ هم د تلاوت اَوريدلو د پاره اُودريده ، هغه سورة الطور تلاوت کولو ﴿ وَالطُّورِ . وَكِتَٰبٍ مَّسْطُورٍ ... ﴾ کله چې دې آيت ته رااورسيده :

﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ . مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ﴾.

ترجمه : بيشکه ستا د رب عذاب خامخا واقع کيدونکې دی، نشته دې د دې څوک دَفع کوونکې

نو حضرت عمر ﷺ قسَم وکړو :

قَسَمٌ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ حَقٌّ. په رَب د کعبې قسَم چې دا حق دی .

بيا د سوَرلۍ نه راښکته شو ، يو ديوال ته تَکيه شو ( د تللو طاقت يې نه وُ ) ، څه ډير وخت خفه ناست وُ .

کله چې کور ته لاړ نو د دې آيت په اَوريدو وربانديې دومره اَثر شوې وُ چې :

فَمَكَثَ شَهْرًا يَعُوْدُهُ النَّاسُ لَا يَدْرُوْنَ مَا مَرَضُهُ ؟

تر د يوې مياشتې پورې مريض وُ ، خلق به بيمار پُرسۍ له راتله ، خو هيچا ته دا پته نه لګيده چې د ده مرض څه شی دی ؟ (١)

حضرت ابورافع رحمه الله فرمايي چې يو ځل ماد سهر په مانځه کې د حضرت عمر ﷺ پسې اِقتداء اوکړه ، زه د سرو په آخري صف کې ولاړ ووم ، حضرت عمر ﷺ د سورة يوسف

---

(١) خَرَجَ عُمَرُ يَعِسُّ الْمَدِيْنَةَ ذَاتَ لَيْلَةٍ. فَمَرَّ بِدَارِ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ. فَوَافَقَهُ قَائِمًا يُصَلِّيْ. فَوَقَفَ يَسْتَمِعُ قِرَاءَتَهُ فَقَرَأَ : {وَالطُّوْرِ ..} حَتّٰى بَلَغَ { إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ . مَالَهُ مِنْ دَافِعٍ } قَالَ : قَسَمٌ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ حَقٌّ . فَنَزَلَ عَنْ حِمَارِهِ وَاسْتَنَدَ إِلٰى حَائِطٍ. فَمَكَثَ مَلِيًّا. ثُمَّ رَجَعَ إِلٰى مَنْزِلِهِ. فَمَكَثَ شَهْرًا يَعُوْدُهُ النَّاسُ لَا يَدْرُوْنَ مَا مَرَضُهُ . رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . تفسير ابن کثير ج ٦ ص ٧ سورة الطور آيت ٧ ، ٨ .

وفي رواية : عَنِ الْحَسَنِ: أَنَّ عُمَرَ قَرَأَ: { إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ . مَالَهُ مِنْ دَافِعٍ } . فَرَبَا لَهَا رَبْوَةً عِيْدَ مِنْهَا عِشْرِيْنَ يَوْمًا. فضائل القرآن لابي عبيد ص ٦٢ ، تفسير ابن کثير ج ٦ ص ٧ سورة الطور آيت ٧ ، ٨ .

تلاوت شروع کړو ، دوی به په ډیر اوچت آواز سره تلاوت کولو ، کله چې دې آیت ته راأورسید : ﴿ إِنَّمَآ أَشْكُوا بَثِّي وَحُزْنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ . (١)

ترجمه : بیشکه زه بیانوم خپل خفګان او خپل غم صرف الله ﷻ ته .

نو دومره یې أوژړل چې د ډیرې ژړا په وجه یې قِرأت بَند شو ، مخکې نور یې او نه لوستې شو ( زه اګر چې د ټولو نه په آخِري صَف کې ولاړ ووم خو لیکن ) ما د دوی د ژړا آواز په آخري صَف کې هم صفا أوریدو . (٢)

## د تلاوت په اوریدو د اِمام شافعي رحمه الله بې هوشه کیدل

یوه ورځ امامِ شافعي رحمه الله د یو قاري نه دا آیت واوریده :

﴿ هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ، وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴾ . (٣)

ترجمه : دا هغه ورځ ده چې دوی به خبرې نه کوي ، او نه به دوی ته اِجازت ورکولې شي چې دوی عُذر پیش کړي .

ددې آیت أوریدو وړاندې دومره آثر وکړو چې ځای په ځای بې هوشه شو ( بیا څه وخت پس په هوش کې راغی ) . (۴)

## د تلاوت په أوریدو د علي بن فضیل رحمه الله بې هوشه کیدل

علي بن فضیل رحمه الله د یو کس نه دا آیت واوریده :

﴿ يَوْمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ . (٥)

ترجمه : په کومه ورځ چې به خلق د رَبّ العالمین ( الله ﷻ ) د وړاندې أودریږي .

---

(١) سورة يوسف آية ٨٦ .

(٢) قيام الليل مروزي ص ٥٧ .

(٣) سورة المرسلات آية ٣٥ ، ٣٦ .

(۴) سمع الشافعي رحمه الله قارئاً يقرأ ﴿ هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ، وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴾ فغشي عليه . احياء علوم الدين ج٢ ص ٣٩٧ .

(٥) سورة المطففين آية ٦ .

كله چې علي بن فضيل رحمه الله د الله ﷻ د وراندې د اُودريدو تصوّر اوكړو نو دا يې برداشت نه كړې شو ، په زمكه رااوغورځيد او بې هوشه شو . (١)

## د تلاوت په اَوريدو د حضرت شبلي رحمه الله حالت

يو ځېره حضرت شبلي رحمه الله په خپل جُمات كې تراويح كولى ، كله چې اِمام دا آيت اُولوست :

﴿ وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او كه چيرته مونږ اُوغواړو نو كومه وَحي چې مونږ تاته كړيده هغه به درنه خامخا واپس يُوسو .

حضرت شبلي رحمه الله بې اِختياره چغه اُووهله ، رنګ يې زيړ شو ، جِسم يې په لړزيدو شو ، او د ستركو نه يې اُوښكې رواني شوى ، خلقو ګمان وكړو چې ګني مَړ شو .

ده به بار بار ويل : الله ﷻ داسې مُستغني ذات دى چې د خپل محبوب سره هم داسې خطاب كوي . (٣)

## د تلاوت په اَوريدو يو كس بې هوشه كيدل ، او په دَرياب كې ډُوبيدل

محمد بن صبيح نقل كړي چې يو كس په درياى فُرات كې غُسل كولو ، د دَرياب په غاړه يو كس روان وُ ، تلاوت يې كولو ، كله يې چې دا آيت اُولوست :

﴿ وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾ . (٤)

---

(١) وسمع علي بن الفضيل قارئاً يقرأ ﴿ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ فسقط مغشياً عليه . احياء علوم الدين ج٢ ص ٣٩٨ .

(٢) سورة بني اسرائيل ( الاسراء ) آيت ٨٦ .

(٣) كان الشبلي في مسجده ليلة من رمضان وهو يصلي خلف إمام له فقرأ الإمام ﴿ وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ﴾ فزعق الشبلي زعقة ظن الناس أنه قد طارت روحه واحمر وجهه وارتعدت فرائصه وكان يقول بمثل هذا يخاطب الأحباب يردد ذلك مراراً . احياء علوم الدين ج٢ ص ٣٩٨ .

(٤) سورة يس آيت ٥٩ .

ترجمه : ( مُجرمانو ته به وويلې شي : ) اې مُجرمانو ! تاسو نن ورځ ( ددې نورو نه ) جدا شئ .

په دَرياب کې غُسل کوونکي کس چې دا آيت واوريد نو دومره اَثر يې ورباندې اوکړو چې بې هوشي ورباندې راغله ، خپل ځان يې کنټرول نه کړې شو ، او د سمندر په چپو کې دوب شو . (۱)

بلکه ډير بزرګان داسې تېر شوي چې په خپله د تلاوت کولو يا د بل نه د تلاوت اَوريدو په وجه ورباندې دومره يَره راغلې چې بې هوشه شوي ، او په بې هوشۍ کې وفات شوي .

## د تلاوت په اَوريدو د ابوجرير رحمه الله بې هوشه کيدل او وفات کيدل

ابوجرير رحمه الله تابعي دی ، صالح المري دده د وړاندې څه آيتونه تلاوت کړه ، په ابوجرير رحمه الله يې دومره اَثر وکړو چې بې هوشه شو ، او بيا وفات شو . (۲)

## د تلاوت په کولو سره د حضرت زُرَارة بن اوفى رحمه الله بې هوشه کيدل او وفات کيدل

حضرت زُرَارة بن اوفٰى رحمه الله جليلُ القدر تابعي دی ( د حضرت عمران بن حصين ، حضرت ابوهريرة او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهم سره يې ملاقات شوی ) ، دده يو شاګرد "بهز بن حکيم" وايي چې يو ځل حضرت زُرَارة بن اَوفٰى رحمه الله مونږ ته په بصره کې په مسجدِ قشيره کې د جُمعې اِمامت کولو ، کله چې دې آيت ته رااُورسيده :

﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ . فَذٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ . عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴾ . (۳)

ترجمه : پس کله چې پُوکې اُووهلې شي په شپېلۍ کې ، نو دا ورځ به ډيره سخته وي ، په کافرانو باندې به آسانه نه وي .

(۱) عن محمد بن صبيح قال كان رجل يغتسل في الفرات فمرّ به رجل على الشاطيء يقرأ ﴿ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴾ فلم يزل الرجل يضطرب حتى غرق ومات. احياء علوم الدين ج ۲ ص ۲۹۸ .

(۲) وأبو جرير من التابعين قرأ عليه صالح المري فشهق ومات . احياء علوم الدين ج ۲ ص ۲۹۷ .

(۳) سورة المدثر آية ۸ - ۱۰ .

د آيت په ويلو سره د آخرت يَره وربانديې دومره غالبه شوه چې فورًا راپريوَت، بې هوشه شو، او په هماغه مِحراب کې وفات شو.

بيا مونږ راپورته كړو، او دده خپل كورته مو دده لاش وې وړو. (١)

## د تلاوت په اَوريدو سره د جِنّاتو وفات کيدل

د تلاوت په اَوريدو سره په جِنّاتو باندې هم اَثر کيږي، امام غزالي رحمه الله ذکر کړي:

يو بزرګ "حضرت خليد رحمه الله" فرمايي: يوه شپه ما دا آيت ﴿كُلُّ نَفۡسٍ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِ. (١)﴾ بار بار لوستلو، نا څاپه راباندې هاتفي آواز اوشو:

اې انسانه! ته به تر څو پورې بار بار دا آيت تلاوت کوې تا خو په دې آيت سره څلور داسې جِنّات قتل کړه چې هغوی د پيدائش نه تر اوسه پورې (د الله ﷻ د عظمت د وجې نه) پورته آسمان طرف ته سَرونه نه وو اُوچت کړي. (٢)

قرآن کريم داسې مؤثِر کتاب دی چې ددې په اَوريدو سره ډيرو ګناهګارانو د خپلو ګناهونو نه توبه ويستې ده:

## د تلاوت په اَوريدو د فضيل بن عياض رحمه الله د ګناه نه توبه ويستل

فضيل بن عياض رحمه الله مشهور داکو او غَلۊ، د شپې د غلا په نيت باندې اُووت، يو ځاى ته اُورسيده، نو هلته يو چا د قرآن مجيد تلاوت کولو، ده د هغه نه دا آيت واوريده:

﴿ أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلۡحَقِّ ﴾. (٣)

(١). سير اعلام النبلاء ج٢ ص ٥١٦ ./ وروى أنّ زرارة بن أوفى ـ وكان من التابعين ـ كان يؤمّ الناس بالرّقة فقرأ ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ ...﴾ فصعق، ومات في محرابه رحمه الله. احياء علوم الدين ج ٢ ص ٣٩٨.

(١) آل عمران آيت ١٨٥.

(٢) قيام الليل مروزي، وقال بعض الصوفية كنتُ أقرأ ليلة هذه الآية ﴿كُلُّ نَفۡسٍ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِ﴾ فجعلتُ أردّدها فإذا هاتف يهتف بي: كم تردّد هذه الآية فقد قتلتَ أربعة من الجنّ ما رفعوا رءوسهم إلى السماء منذ خلقوا. احياء علوم الدين ج ٢ ص ٣٩٨.

(٣) سورة الحديد آية ١٦.

ترجمه : آيا وخت ندې راغلی د هغه خلقو د پاره چا چې ايمان راوړی چې د دوی زړونه نرَم شي د الله د ذِکر د پاره ، او کوم حق (او ربښتيني ) کلام چې نازل شوی ددې د پاره .

ددې په اَوريدو سره په ده دومره اَثر اوشو چې يَره ورباندې راغله ، چغه يې اُووهله ، الله ﷻ طرف ته متوجّه شو ، او په هماغه ځای کې يې د غلا نه توبه اُويسته ، د امامِ ابوحنيفه رحمه الله شاګردي يې اِختيار کړه ، او مشهور بزرګ ورنه جوړ شو . (١)

## د تلاوت په اَوريدو د ذوالنون مصري رحمه الله د ګناه نه توبه ويستل

ذوالنون مِصري رحمه الله اول په يو شراب خانه کې ملازمت کولو ، او شراب يې هم څکل ، يوه ورځ يې په يو ځای کې د سورة الحديد دا آيت واوريد :

﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ﴾ . (٢)

ترجمه : آيا وخت ندې راغلی د مؤمنانو دپاره چې د دوی زړونه د الله تعالی د ذِکر او د ربښتيني نازل شوي کلام د وړاندې نرَم شي .

ددې آيت په اَوريدو سره په ده باندې داسې اَثر اوشو چې په هماغه ځای يې توبه اُويسته ، چې زه به بيا نه شراب اُوڅکم او نه به د شرابي سره پاتې شم .

د هغه نه هم الله ﷻ لوي بزرګ او وَلي جوړ کړو . (٣)

د اَسلافو ډير داسې واقعات موجود دي چې دوی د غصې په حالت کې د قرآن مجيد آيت اَوريدلې نو دومره اَثر يې ورباندې کړی چې خپله غصه يې هم کنټرول کړې ، او ورسره يې جانبِ مقابل کس سره اِحسان هم کړی :

## د تلاوت په اَوريدو سره د حضرت حسن رضي الله عنه حالت

حضرت حسن بن علي رضي الله عنهما يو ځل څه دَعوت کړې ؤ ، ناست ؤ ، وينځې ورله د خُوروا (شوروا) نه ډکه کاسه راوړه ، په وينځه څه هيبت راغی نو د شوروا ډکه کاسه په

---

(١) لنداى ممبر و محراب ج٣ ص ٢٠٧ .

(٢) سورة الحديد آية ١٦ .

(٣) اصول القرآن لشيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان مدني شهيد رحمه الله .

دوی ورتوی شوه ، دوی ورته په غصه کې وَر اوکته ، هغه اُویریده او مُتصِل یې د قرآن کریم دا آیت تلاوت وویل ؛

﴿ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ ﴾. (١)

ترجمه : ( الله ﷻ د مُتقیانو صفت دا بیانوي چې ) مُتقیان غصه زغمي ( یعنی غصه په قابو کې ساتي ) .

د آیت په اَوریدو مُتصل حضرت حسن ﷺ وفرمایل : ما خپله غصه ختمه کړه .
هغه وینځې وویل :

﴿ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ﴾. (٢)

ترجمه : متقیان د خلقو قصور معاف کوي .

حضرت حسن ﷺ ورته وفرمایل : ما ته معاف کړی .
وینځې وویل :

﴿ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴾. (٣)

ترجمه : او الله تعالی د نیکانو ( اِحسان کوونکو ) سره محبت کوي .
ده ورته وویل :
أَعْتَقْتُكِ . ته ما آزاده کړی .

**فایده** : حضرت حسن رضي الله عنهما اګرچې غصهوَ خو چې د وینځې د خُلې نه یې دا آیت واوریده په کوم کې چې د غصې د زغَملو ، د معاف کولو ، او اِحسان کولو ذکر دی نو دې آیت وریاندې فوراً دومره اَثر اوکړو چې غصه یې هم برداشت کړه ، وینځه یې هم معاف کړه ، او بیا یې اِحسان هم ورسره وکړو چې آزاده یې کړه .

(١) سورة آل عمران آية ١٣٤ .

(٢) سورة آل عمران آية ١٣٤ .

(٣) سورة آل عمران آية ١٣٤ .

# كافرانو به هم په پټه د قرآن كريم اوريدلو ته غوږ نيولو

محترمو مسلمانانو ! قرآن كريم داسې د اسرارو ، رُموزو ، فصاحت او بلاغت نه ډك كلام دى چې كله به رسول الله صلى الله عليه وسلم د شپې په مانځه كې ددې تلاوت كولو نو په خپله ابوجهل او نورو كافرانو به په پټه ددې اوريدو ته تر سهَره پورې غوږ نيولو ، او ددې نه به يې لذت حاصلولو ، بيا به سهَر واپس خپلو كورونو ته تلل .

مفسرينو يوه واقعه رانقل كړې چې يوه شپه ابوسفيان ( چې لا تر اوسه مسلمان شوې نه وُ ) ، ابوجهل ، او اخنس درې واړه ځانله ځانله د تلاوت اوريدلو د پاره د نبي عليه السلام كور ته لاړه ، پيغمبر عليه السلام په مانځه كې د قرآن مجيد تلاوت كولو ، په دې درې واړو كې هر يو كس په داسې ځاى كې پټ ولاړ وُ چې يو بل يې نه ليده ، تر سهره پورې يې د قرآن مجيد اوريدو ته غوږ نيولې وُ .

كله چې سهر واپس كورونو ته روان شو نو په لاره كې په يو ځاى كې درې واړه سره يو ځاى شو . ( د يو بل نه يې د راتلو پوښتنه وكړه ، كله چې ورته خبره ښكاره شوه چې هر يو كس د قرآن مجيد اوريدو د پاره راغلې دى ) نو يو بل يې مَلامته كړه ، د يو بل سره يې كلكه وعده وكړه چې بيا به د قرآن كريم اوريدلو د پاره نه راځو . ځكه زمونږ د قوم خلق كه مونږ په دې راتلو اوګورې نو هغوې به هم بيا دلته راځي چې دا به زمونږ د پاره مُشكل پيدا كړي ، دا وعده يې سره اوكړه ، او خپلو كورونو ته لاړه .

كله چې دويمه شپه شوه نو په دې درې واړو كې هر يو دا ګمان وكړو چې ګني هغه نور دوه به نه وي راغلي صرف زه به د قرآن مجيد اوريدو د پاره لاړ شم ، نو درې واړه بيا په پټه د تلاوت اوريدو د پاره لاړه ، ټوله شپه يې تلاوت واوريده ، سهر چې كله واپس كيده نو په لاره كې بيا سره يو ځاى شو ، په خپل مينځ كې يې بيا يو بل ملامته كړه او آئنده يې د نه راتللو وعده اوكړه .

كله چې دريمه شپه شوه نو بيا هر كس دا ګمان اوكړو چې ګني هغه نور دوه به نه وي راغلي صرف زه به لاړ شم ، نو درې واړه بيا د تلاوت اوريدو د پاره لاړه ، كله چې سهر راواپس كيده نو په لاره كې سره بيا يو ځاى شو ، نو خپل مينځ كې يې سره وويل :

لَا نَبْرَحُ حَتَّى نَتَعَاهَدَ أَنْ لَا نَعُوْدَ .

مونږ تر هغه وخته پورې ددې ځای نه نه جداکيږو ترڅو پورې چې دا کلکه پخه وعده او کړو چې بيا به نه راځو .

نو کلکه وعده يې سره اوکړه ، او خپلو کورنو ته لاړه .

کله چې سهر شو نو أخنس خپله أمسا راواخيسته ، د ابوسفيان کور ته راغی او ورته وې ويل : اې ابو حنظله ! تا چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه کوم قرآن واوريده په هغې کې ستا څه رايه ده ؟ ده ورته وويل :

يَا أَبَا ثَعْلَبَةَ ! وَاللهِ لَقَدْ سَمِعْتُ أَشْيَاءَ أَعْرِفُهَا وَ أَعْرِفُ مَا يُرَادُ بِهَا . وَ سَمِعْتُ أَشْيَاءَ مَاعَرَفْتُ مَعْنَاهَا وَلَا مَا يُرَادُ بِهَا .

اې ابوثعلبة ! ما د محمد ﷺ نه داسې خبرې واوريدی چې زه هغه پيژنم ، او د هغې مراد هم پيژنم ، او څه خبرې مې داسې واوريدی چې د هغې په معنی او مراد باندې پوهه نه شوم .

اخنس ورته وويل : قسَم په الله زما هم همدا حالت دی .

بيا اخنس ددينه پس د ابوجهل کور ته راغی ، او ورته وې ويل :

يَا أَبَا الْحَكَمِ ! مَا رَأْيُكَ فِيمَا سَمِعْتَ مِنْ مُحَمَّدٍ ؟

اې ابوالحکم ! تا چې د محمد ( صلی الله عليه وسلم ) نه کوم قرآن واوريده په هغې کې ستا څه رايه ده ؟

ابوجهل ورته وويل : مونږه او بنو عبدمناف ( يعنی د نبي عليه السلام قوم ) په شرافت حاصلولو کې هميشه د يو بل سره مُشت و ګريوان يو ( يعنی هر يو قوم د شرافت حاصلولو کوشش کوي ) ، دوی دَعوتونه او خوراکونه ورکړه نو مونږ هم د هغې په مقابله کې ورکړه ، دوی سخاوت او وَرکړه اوکړه نو مونږ هم اوکړه ، ( يعنی هر کار چې دوی د شرف حاصلولو د پاره کړی نو مونږ هم هغه کړی ) ، تر دې پورې چې دوی وايي :

هُنَا نَبِيٌّ يَأْتِيهِ الْوَحْيُ مِنَ السَّمَاءِ .

د مونږ سره پيغمبر دی هغه ته د آسمان نه وَحي راځي .

ابوجهل اخنس ته وويل : اې اخنس ! اوس به مونږ دا خبره د كوم ځاى نه راوړو ؟ ( چې د دوى مقابله اوكړو )

وَاللهِ لَا نُؤْمِنُ بِهِ أَبَدًا وَلَا نُصَدِّقُهُ .

قسم په الله مونږ به په ده هيڅ كله ايمان را نه وړو ، او نه به دده تصديق اوكړو .

نو اخنس پاڅيده او خپل كور ته لاړ . (١)

**فائده** : معلومه شوه چې قرآن كريم د اَسرارو او رُموزو نه ډك مؤثر كلام دى ځكه خو د كافرانو د شپې خوب تختيدلې وُ ، او ددې د اَوريدو د پاره به په پټه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم كور ته راتله ، او نبي عليه السلام به چې په مانځه كې كوم تلاوت كولو هغه به

---

(١) وروى ابن اسحق : أنّ أبا سفيان وأبا جهل والأخنس خَرَجُوْا ليلةً ليستمعوا من رسول الله وهو يُصَلّي من اللّيل في بيته ، فأَخَذَ كلُّ رجلٍ منهم مجلسًا يستمع فيه ، وكلّ لا يعلم بمكان صاحبه ، فَبَاتُوْا يستمعون ، حتى إذا طلع الفجرُ تَفَرّقوا ، فجمعهم الطريق فتلاوموا ، وقال بعضهم لبعض : لا تعودوا فلو رآكم بعض سفهائكم لأوقعتم في نفسه شيئا ثم انصرفوا .

حتى إذا كانت الليلة الثانية عاد كلّ رجل منهم الى مجلسه ، فباتوا يستمعون له حتى إذا طلع الفجرُ تفرّقوا فجمعهم الطريق ، فقال بعضهم لبعض مثل ما قالوا أوّل مرّة ثم انصرفوا .

حتى إذا كانت الليلة الثالثة أخذ كل رجل منهم مجلسه فباتوا يستمعون له حتّى طلع الفجر تفرّقوا فجمعهم الطريق فقال بعضهم لبعض : لا نبرح حتى نتعاهد أنْ لا نعود ، فتعاهدوا على ذلك ثم تفرّقوا .

فلما أصبح الأخنس أخذ عصاه ، ثم خرج حتى أتى أبا سفيان في بيته فقال له :

أخبرني يا أبا حنظلة عن رأيك فيما سمعت من محمد . فقال : يا أبا ثعلبة ! والله لقد سمعتُ أشياء أعرفها وأعرفُ ما يراد بها ، وسمعتُ أشياء ما عرفتُ معناها ولا ما يراد بها .

فقال له الأخنس : وأنا والذي حلفت به كذلك .

ثم خرج من عنده حتى أتى أبا جهل فدخل عليه بيته وقال له : يا أبا الحكم ! ما رأيك فيما سمعتَ من محمد ؟

فقال : ماذا سمعت تَنَازَعْنَا نحن وبنو عبد مناف الشرَف ، أطعموا فأطعمنا وأعطوا فأعطينا ، حتى إذا تحاذينا على الركب وكنا كفرسي رهان قالوا :

هنا نبي يأتيه الوحي من السماء ، فمتى ندرك مثل هذه ؟ والله لا نؤمِنُ به أبدًا ولا نصدقه .

فقام عنه الأخنس وتركه . اعراب القرآن وبيانه ج٥ ص ٥٢٦ في تشريح آيت ولاتجهر بصلاتك ولاتخافت ... بحث : الجهر والمخافتة وبيان السبب في ذلك ، وتفسير ابن كثير ، التضمين النحوي في القرآن ج٢ ص ٤٣ .

يې تر سهره پورې اَوريده ، بيا به واپس تله . خو ليکن د ضد ، عناد او قومي تعصّب په وجه په کې بعضو بَدبختو ايمان نه راوړو لکه ابو جهل وغيره .

## يو سوال او د هغې جواب

بعضې خلق دا اعتراض کوي چې د قرآن مجيد تلاوت خو مونږ هم کوو ، او مونږ هم دا آورو نو په مونږ باندې ولې دا سې آثر نه کوي ؟

جواب : کله چې داکتر د مريض علاج کوي نو د دوائي سره سره ورته پرهيز هم ښائي چې د دې دې شيانو نه به ځان ساتې .

اوس که دا مريض د دوائي سره سره پرهيز هم اوکړي نو د دوائي آثر ښکاره کيږي ، او که پرهيز او نه کړي نو آثرات يې نه ښکاره کيږي .

قرآن کريم هم د هر قِسمه جِسماني او رُوحاني مرضونو د پاره شِفاء ده خو د دې د پاره دا ضروري ده چې انسان د دې تلاوت په غوَر سره واوري ، د دې په اَحکاماتو باندې عمل اوکړي ، او ورسره ورسره د گناهونو او حرام خوراک نه هم ځان اُوساتي نو بيا به د دې ښه آثرات ښکاره شي .

نن صبا اکثر خلق د قرآن کريم په اَحکاماتو باندې عمل نه کوي ، او د دې سره سره د گناهونو او حرام خوراک نه پرهيز هم نه کوي نو د انسان په ژوند باندې به د قرآن کريم آثرات څه ښکاره شي ؟

## اعتراض : د قرآن کريم احکامات په دې زمانه کې نشي فِټ کيدی

بعضې بې دِينه خلق دا اِعتراض کوي چې چونکه دا مَادرَن زمانه ده په دې د قرآن کريم احکامات صحيح نشي فِټ کيدی ، او په دې باندې عمل کول ممکن نه دی .

**جواب** : ددې جواب دادی چې قرآن کريم خو تر د قيامته پورې راتلونکو ټولو انسانانو د پاره جامع قانون دی ، نو الله ربُّ العزت خو حکيم و عليم ذات دی هغه داسې حکم په قرآن کريم کې ندی نازل کړی چې هغه د يوې زمانې سره نه فِټ کيږي ، بلکه د اِسلام هر حکم د هرې زمانې ، هر قِسمه خلقو ، او هر قِسمه حالاتو د پاره موافق دی .

دا خو د انسان خپله غلطي ده چې د گناهونو په وجه يې فِطرت بَدل شوی ، او د قرآن کريم په بهترينو احکاماتو کې ورته تَنگي او سختي معلوميږي .

ددې داسې مثال دی لکه د تبې (بُخار) په وجه د انسان د خُلې خوَند تريخ شي نو بيا په ده باندې خواږه نعمتونه هم ترخه لږي ، حالانکه نقصان خو ددې خوږو نعمتونو نه دی ، بلکه په خپله د انسان د خُلې خوَند تريخ دی .

يا د څه بيماری په وجه د انسان د وجود آندامونه اُوپړسيږي نو په ده باندې خپلې روغې جامې هم تَنگې شي ، نو نقصان خو د جامو ندی بلکه د وجود په آندامونو کې نقصان راغی .

که چيرته يو مسلمان په صحيح طريقې سره د قرآن کريم په احکاماتو باندې عمل اوکړي او ددې سره تعلق پيدا کړي نو دا اوس هم د هدايت او تأثير کتاب دی ، کوم اِنقلاب چې دې د صحابه کرامو په زمانه کې پيدا کړې وُ اوس هم هماغه اِنقلاب او تأثير پيدا کوي ، خو چې مسلمان په صِدقِ دِل سره ددې تلاوت اوکړي ، او ددې په احکاماتو باندې عمل اوکړي .

## خلاصه :

محترمو ! ما درته د قرآن کريم د تأثير متعلق دا يو څو واقعات بيان کړه ، د موضوع د اُوږدوالي نه د بچ کيدو په خاطر په همدې باندې اِکتفاء کوم .

الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې د قرآن کريم سره مينه پيدا کړي ، ددې په اَحکاماتو باندې دې راته د عمل کولو توفيق راکړي ، او دا واقعات دې زمونږ د پاره عِبرت او نصيحت اوگرځوي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : د قرآن کريم د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائل ددې کتاب په آخر کې د صفحه ۲۷۲ نه تر صفحه ۳۳۴ پورې تقريبًا اُووه اَويا ( ۷۷ ) مسائل ذکر دي ، د هغې نه د ځان د پاره اِنتخاب وکړئ ، او د وخت او موقع مناسب يې بيان کړئ .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾ سورة يونس آية ٥٧.

# د قرآن کریم د تعظم او عمل په وجه الله جل جلاله قومونو ته ترقي ورکوي

تالیف


آبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فیض القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د قرآن كريم د تعظيم او عمَل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي وركوي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴾. (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا ، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ . (٢)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

## قرآن كريم د هدايت كتاب دى

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! قرآن كريم د الله تعالى كلام دى ، دا د انسانانو د پاره د هدايت مركز دى ، په دې كې د انسانانو د پاره د سِياسياتو ، مَعاشياتو ، اِقتصادياتو ، اَخلاقو او اَعمالو متعلق مكمل قانون موجود دى .

قرآن كريم د هدايت داسې جامِع كتاب دى چې دا د ګمراهۍ په تيارو كې غورځيدلې كس د هدايت رَڼا طرف ته راولي ، د ذِلت په كنده كې غورځيدونكې كس ثُريّا ته رسوي ، او انسان ته نيغه لاره ښائي ، بلكه د انسان د پاره آبِ حيات دى .

(١) سورة يونس آية ٥٧ .

(٢) رواه مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها بَابُ فَضْلِ مَنْ يَقُوْمُ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ ... ٢٦٩ ( ٨١٧ ) ، ابن ماجه بابُ فضلِ مَن تعلّم القرآن وعلّمه حديث ٢١٨ ، السنن الكبرى للبيهقي بابُ إمامة الموالي ٥١٢٥ .

ځکه په دې کې د پيدائش نه واخله تر مرګه پورې ، او د مرګ نه روستو تر جنت داخليدو پورې قدم په قدم د انسان د پاره هدايت او راهنمائي موجود ده .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ الٓمٓ . ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴾ . (١)

ترجمه : الٓمٓ . دا ( قرآن کريم هغه ) کتاب ( دی چې ) په دې کې هيڅ شک نشته ، هدايت دی د پرهيزګارانو د پاره .

په سورة ابراهيم کې الله تبارک وتعالی فرمايي :

﴿ الٓرٰ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴾ . (٢)

ترجمه : الٓرٰ . دا ( قرآن کريم داسې ) يو کتاب دی چې ( اې پيغمبره ! ) دا مونږ تا ته نازل کړی ، ددې د پاره چې ته ( ددې په ذريعه ) خلق ( د کفر ) د تيارونه را اُوباسې ، او ( د ايمان ) رڼا ته يې راولې د دوی د رب په حکم سره ، د داسې پروردګار لارې طرف ته چې غالب او ستائلې شوې دی .

په يو بل آيت کې الله ﷻ فرمايي :

﴿ يٰاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ . (٣)

ترجمه : اې خلقو ! تاسو ته د خپل رَب د طرفه نصيحت راغلې دی ، او په سينو کې چې کومې بيمارۍ دي د هغې د پاره شِفاء ده ، او د مؤمنانو د پاره هدايت او رَحمت دی .

قرآن کريم انسان ته حقه او نيغه لاره ښائي ، الله رب العزت فرمايي :

---

(١) سورة البقرة آية ١ ، ٢ .

(٢) سورة ابراهيم آية ١ .

(٣) سورة يونس آية ٥٧ .

﴿إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا﴾. (١)

ترجمه: بيشكه دا قرآن كريم هغه لاره ښائي كومه چې بالكل نيغه (او حقه) ده، او زيرې وركوي هغه مؤمنانو ته كوم چې نيک كارونه كوي چې "بيشكه د دوى د پاره دير لوي اَجر مقرر دى".

## د قرآن كريم سره چې د څه شي واسطه راغلى الله ﷻ هغه ته لوي مقام وركړى

محترمو! قرآن كريم داسې بركتي كتاب دى چې ددې سره د چا هم، او د څه شي هم واسطه راغلى نو الله ﷻ هغه ته لوي مقام او عِزت وركړى.

وجه داده چې كله د يو څيز نِسبت د بل مُعزز شي سره راشي نو په دې سره ددې څيز عزت او شرافت هم زياتيږي. نو قرآن كريم خو دير مُعزز كتاب دى ځكه دا د الله ﷻ كلام دى، اوس چې ددې سره د چا هم او د څه شي هم واسطه راشي الله ﷻ به هغه ته هم دير عزت وركوي. ددې يو څو نمونې ستاسو د وړاندې ذكر كوم:

١. قرآن كريم چې په كومه شپه نازِل شوى (يعنى د ليلة القدر په شپه كې) نو الله ﷻ دې شپې ته د كال په نورو شپو باندې دير فضيلت وركړى: چې دا شپه يې د زرو (١٠٠٠) مياشتو نه بهتره گرځولې. الله رب العزت فرمايي:

﴿إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ، لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾. (٢)

ترجمه: بيشكه مونږ دا قرآن كريم نازل كړى په شپه د قدَر كې (يعنى د ليلة القدر په شپه كې)، او تا ته څه پته ده چې شپه د قدَر څومره اُوچته ده؟ شپه د قدَر ديره بهتره ده د زرو (١٠٠٠) مياشتو نه.

---

(١) سورة الاسراء (بني اسرائيل) آيت ٩.

(٢) سورة القدر آيت ١ – ٣.

۲. قرآن کریم چې په کومه میاشت کې نازل شوی ( یعنی د رمضانُ المبارک په میاشت کې ) نو الله جل جلاله دې میاشت ته دکال په نورو میاشتو باندې ډیر فضیلت ورکړی. ربِ کریم فرمایي:

﴿ شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ ﴾. (۱)

ترجمه: میاشت د رمضان هغه (مبارکه میاشت) ده چې په دې کې قرآن کریم نازل کړې شوې دی.

۳. قرآن کریم چې په کوم پیغمبر نازل شوی ( یعنی محمّدٌرسولُ الله صلی الله علیه وسلم باندې ) نو الله ﷻ دوی ته په ټولو اَنبیاءِ کرامو، بلکه په ټولو کائِناتو باندې ډیر فضیلت ورکړی، چې:

دوی یې اِمامُ الانبیاء، سیّدُ الأوّلین والآخرین، رحمةٌ لِلعالمین، او د قیامته پورې انسانانو د پاره هادي ګرځولی، جِسماني مِعراج یې ورته نصیبه کړی، د ختمِ نبوّت تاج یې دوی ته په سَر کړی، او د قیامت په ورځ د شفاعتِ کُبریٰ حق یې صرف دوی ته ورکړی. (۲)

۴. قرآن کریم چې په کومو سینو کې محفوظ وي، یا دوی ددې زده کړه، تلاوت او بل ته خودَنه کوي نو اللهُ ربّ العزت داسې خلقو ته د عامو مسلمانانو په نسبت اُوچت مقام ورکړی: دوی ته بهترین مخلوق ویلې شوي. (۳)

دوی ته اَهلُ الله او د الله ﷻ خاص بندګان ویل شوي. (۴)

---

(۱) سورة البقرة آية ۱۸۵.

(۲) نوټ: د نبي علیه السلام د شان او فضیلت متعلق تفصیلي بیان ددې "اِصلاحي مُدلَّل تقریرونه" کتاب په څلورم جلد کې تیر شوی، هلته دې اُوکتې شي. ابوالشمس علي عنه

(۳) نبي علیه السلام فرمایي: خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ. رواه البخاري كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابٌ: خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ رقم الحديث ۵۰۲۷، و ابوداود بَابٌ فِي ثَوَابِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ۱۴۵۲، والترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْلِيمِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ۲۹۰۷، و احمد ۱/۵۸، ۶۹.

(۴) نبي علیه السلام فرمایي: أَهْلُ الْقُرْآنِ هُمْ أَهْلُ اللهِ وَخَاصَّتُهُ. رواه النسائي بسند صحيح، و رواه ابن ماجه في المقدمة رقم الحديث ۲۱۵، واحمد ۳/ ۱۲۷، ۱۲۸؛ والدارمي ۲/ ۴۳۳، والحاكم ۱/ ۵۵۶، وصححه العلامة الالباني في صحيح ابن ماجه ۱۷۸، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۰۴۶.

او دوى ته د اُمت آشراف ويل شوي. (١)

٥ . قرآن كريم چې په كومه سينه كې محفوظ وي نو الله ﷻ ددې حافظِ قرآن په وجه دده والدينو ته هم اُوچت مقام وركوى چې: د قيامت په ورځ به دوى ته داسې يو تاج وَر په سَر كړي چې د هغې رڼا به د نمَر د رڼا نه زياته وي. (٢)

داسې جوړې به وَر واغوندي چې د هغې قيمت به ټوله دُنيا نشي پوره كولى. (٣)

٦ . قرآن كريم چې په كومه ژبه كې نازل شوى (يعنى عربى ژبه كې) نو الله ﷻ دې ژبې ته د دُنيا په نورو ژبو باندې عزت وركړى، الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾. (٤)

ترجمه: بيشكه مونږ دا قرآن كريم په عربى (ژبه) كې نازل كړى ددې د پاره چې تاسو (پرې) پوهه شى.

بل دا چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ژبه هم عربي وه، او په جنت كې به د جَنّتيانو ژبه هم عربي وي.

---

(١) نبي عليه السلام فرمايي: أَشْرَافُ أُمَّتِيْ حَمَلَةُ الْقُرْآنِ وَأَصْحَابُ اللَّيْلِ. بيهقي شعب الايمان عن ابن عباس رقم الحديث ٢٤٤٧، ٢٩٧٧، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٢٦٦٢، كنزالعمال ج١ ص٢٥٧ الباب السابع في تلاوة القرآن وفضائله رقم الحديث ٢٢٥٦ ط. دارالكتب العلمية بيروت.

(٢) نبي عليه السلام فرمايي: مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيْهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. ضَوْءُهُ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِيْ بُيُوْتِ الدُّنْيَا لَوْ كَانَتْ فِيْكُمْ. فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِيْ عَمِلَ بِهٰذَا ؟ . رواه ابوداؤد بَابٌ فِيْ ثَوَابِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ١٤٥٣، واحمد في مسنده، والحاكم ١ / ٥٦٧، والمنذري ٢ / ٤٥٥، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٣٥.

(٣) نبي عليه السلام فرمايي: مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَتَعَلَّمَهُ وَعَمِلَ بِهِ أُلْبِسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَاجًا مِنْ نُوْرٍ ضَوْءُهُ مِثْلُ ضَوْءِ الشَّمْسِ. وَيُكْسٰى وَالِدَيْهِ حُلَّتَانِ لَا يَقُوْمُ بِهِمَا الدُّنْيَا. فَيَقُوْلَانِ: بِمَا كُسِيْنَا ؟ فَيُقَالُ: بِأَخْذِ وَلَدِكُمَا الْقُرْآنَ. المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٠٨٦ ذِكْرُ فَضَائِلِ سُوَرٍ، وَآيٍ مُتَفَرِّقَةٍ. . وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. وصححه العلامة الالباني رحمه الله في صحيح الترغيب ١٤٣٤، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٨٧، المتجرالرابح في ثواب العمل الصالح ص ٢٤٩ ابواب قراءة القرآن.

(٤) سورة يوسف آية ٢.

نبي عليه السلام فرمايي :

أَحِبُّوا الْعَرَبَ لِثَلَاثٍ : لِأَنِّي عَرَبِيٌّ، وَالْقُرْآنُ عَرَبِيٌّ ، وَكَلَامُ أَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ . (١)

تاسو محبت کوئ د عربو سره د درې وجهو نه : ځکه زه عربي يم ، قرآن عربي دی ، او د جنتيانو کلام به هم عربي وي .

٧. قرآن کريم چې په کوم اُمّت باندې نازل شوی ( يعنی په دې آخري اُمّت باندې ) نو الله ﷻ دې اُمّت ته بهترين اُمت ويلی . ربِ کريم فرمايي :

﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ﴾ . (٢)

ترجمه : تاسو بهترين اُمّت يئ چې د خلقو ( د هدايت ) د پاره راويستل شوي ( يعنی پيدا کړې شوي ) يئ ، تاسو به ( خلقو ته ) د نيکئ حکم کوئ ، د بَدو کارونو نه به منع کوئ ، او په الله ﷻ به ايمان راوړئ .

٨. قرآن کريم چې په کومه زمانه کې نازل شوی ( يعنی د نبي عليه السلام په زمانه کې ) نو الله ﷻ هغه زمانې ته په نورو زمانو باندې فضيلت ورکړی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

خَيْرُ الْقُرُونِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ . (٣)

بهترينه زمانه زما زمانه ده ، بيا هغه خلق چې څوک دوی ته نزدې وي .

---

(١) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١١٤٤١ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٦٩٩٩ ، وهذا الحديث رواه البيهقي في شعب الايمان ، كنزالعمال رقم الحديث ٣٣٩٢٢ .

(٢) سورة آل عمران آية ١١٠ .

(٣) وفي رواية : خَيْرُكُمْ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ . شرح السنة للبغوي باب خيرالقرون رقم الحديث ٣٨٥٧ هَذَا حَدِيثٌ مُتَّفَقٌ عَلَى صِحَّتِهِ . أَخْرَجَهُ مُحَمَّدٌ، عَنْ إِسْحَاقَ، عَنِ النَّضْرِ، وَأَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ.

په مسلم شريف کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی نبي عليه السلام فرمايي : خَيْرُ أُمَّتِي الْقَرْنُ الَّذِينَ يَلُونِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ . صحيح مسلم رقم الحديث ٢١٠ ( ٢٥٣٣ ) بَابُ فَضْلِ الصَّحَابَةِ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ.

۹ . قرآن کریم چې په کومه زمکه نازل شوی ( یعنی مکه معظمه او مدینه منوّره کې ) نو الله ﷻ دې زمکې ته اُوچت مقام ورکړی ، ځکه خو الله ﷻ په مکه مکرّمه باندې قسَم خوړلی :

﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴾ . (١)

ترجمه : زه قسَم خورَم په دې ښار ( مکه معظمه ) باندې .

۱۰ . قرآن کریم چې کومې فرښتې راوړی ( یعنی حضرت جبریل علیه السلام ) نو الله ﷻ دې فرښتې ته اُوچت مقام ورکړی " چې دایې د فرښتو سَرداره ګرځولی " .

پروردِګارِعالَم فرمایي :

﴿ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ﴾ . (٢)

ترجمه : نازِل کړې ( یعنی راوړې دی ) دا قرآن جبرائیل ( علیه السلام ) .

پس معلومه شوه چې د قرآن کریم سره د چا هم او د څه شي هم واسطه راغلی نو الله ﷻ هغه ته لوي مقام او عزت ورکړی .

د یو دوه مثالونو په ذریعه تاسو ته دا خبره نوره هم واضحه کولې شم :

**اول مثال** : مثلاً انسان د خَختو د بټې نه څه خَختې راوړي ، څه په بیتُ الخلاء ( یعنی لِیټرین ) کې لاندې په فَرش اُولږوي ، او څه په جُمات کې لاندې په فَرش اُولږوي .

اوس چې د کومو خَختو واسطه د لِیټرین سره راغلی نو په هغې باندې خلق د څپلو سره ګرځي ، بَرېندې خپې ایښودل هم پرې نه خوښوي .

او چې د کومو خَختو واسطه د جُمات سره راغلی نو په هغې باندې خلق سجده لږوي ، د څپلو سره پرې ګرځېدل بَد ګڼي .

اګر چې دا دواړه خَختې د یو ځای نه راغلې خو چونکه د دې یو ځای خَختو د الله ﷻ د کور " یعنی جُمات " سره واسطه راغلې ده نو ځکه یې شان هم دومره اُوچت شو .

---

(١) سورة البلد آية ١ .

(٢) سورة الشعراء آيت ١٩٣ .

همندغه شان قرآن کريم هم د الله ﷻ کلام دی چې ددې سره هم د چا واسطه راشي نو الله رب العزت به هغه ته هم لوي مقام او عزت ورکوي .

**دويم مثال** : يا مثلا انسان د بازار نه دوه گزه کپړه راوړي ، د يو گز نه په کور کې د ماشومانو د پاره رُونبې جوړ کړي ، او د بل گز نه د قرآن مجيد د پاره پُوخ جوړ کړي .

اوس په دې رُونبي باندې زنانه د ماشومانو اودس ماتې هم صفا کوي ، خو د قرآن مجيد په دې پُوخ باندې خلق پوزې پاکول هم بې اَدبي گڼي ، حالانکه دواړه يو شان کپړې دي .

خو د قرآن مجيد دې پوخ ته چې دومره عزت ملاؤ شو دا صرف ددې په وجه چې ددې د قرآن مجيد سره واسطه راغلی .

همدغه شان چې د چا هم د قرآن کريم سره واسطه راشي يعنی ددې تلاوت کوي ، ددې احکامات زده کوي ، ددې د نشر و اِشاعت خدمت کوي ، او په دې باندې عمل کوي نو الله ﷻ به ده ته هم شرافت او عزت ورکړي .

## د قرآن کريم د تعظيم په وجه د قومونو ترقي

د مسلم شريف حديث دی ، د حضرت عمر رضي الله عنه نه روايت دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا ، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ . (۱)

يقينًا الله تعالی ددې کتاب ( قرآن کريم ) په وجه ډير قومونه اُوچتوي ، او ډير قومونه په دې باندې ښکته راغورځوي ( او ذليله کوي ) .

يعنی دا د الله ﷻ فيصله ده چې کوم قومونه په قرآن کريم عمل وکړي ، دا د ژوند په هره مرحله کې د خپل ځان د پاره راهنما اوگرځوي ، او ددې سره تعلق پيدا کړي نو الله رب

(۱) رواه مسلم کتاب صلاة المسافرين وقصرها بَابُ فَضْلِ مَنْ يَقُومُ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ ... ۲٦٩ ( ۸۱۷ ) ، ابن ماجه باب فضل من تعلم القرآن وعلمه حديث ۲۱۸ ، السنن الکبری للبيهقي بابُ إمامة الموالي ٥۱۲٥ .

العزت داسې قومونو ته په دُنيا کې سَربُلندي، ترقي، او عِزت ورکوي، او په آخرت کې يې په خپلو خاصو بندګانو کې شاملوي.

او کوم قومونه چې د قرآن کريم نه اِعراض وکړي، ددې په مُقتضيَاتو باندې عمل اونکړي، او دا د خپل ځان د پاره راهنما او نه ګرځوي نو الله رب العزت داسې قومونه ذليله کوي، او ښکته يې راغورځوي.

په دې حديث کې نبي کريم ﷺ د قومونو د عُروج او زَوال سبب خودلی دی.

او دا يقيني خبره ده چې کله هم مسلمانانو قرآن کريم د خپل ځان د پاره دَستورِ حيات ګرځولی، او په دې يې عمل کړی نو دوی په دُنيا کې غالبه او کامياب وو.

او چې د کله نه هم دوی قرآن کريم پرېښی، او د غير مُسلمو تابعداري يې شروع کړې نو دوی ذليله شوي، او د يهودو او نصارىٰ ؤ غلامان جوړ شوي:

دا مضمون د قرآن کريم ددې آيت نه هم معلومېږي، الله تعالی فرمايي:

﴿يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ﴾. (١)

ترجمه: الله تعالی په دې (قرآن کريم کې مثالونو بيانولو) سره ډير خلق ګمراه کوي، او ډيرو ته په دې سره هدايت کوي، او نه ګمراه کوي په دې سره مګر فاسقان خلق.

د اُردو ژبې يو شاعر وايي:

وه زمانه ميں مُعزز تھے مسلماں هو کر • هم خوار هو کر تارِک قرآں هو کر

د فارسي ژبې شاعر وايي:

گر همي خواهي مسلمان زيستن • نيست ممکن جز به قرآن زيستن

بزرګانو يوه عجيبه خبره ليکلې:

إِنْ أَرَدْتَ أَنْ تَعْرِفَ قَدْرَكَ عِنْدَ اللهِ فَانْظُرْ إِلَى قَدْرِ الْقُرْآنِ عِنْدَكَ.

که چيرته ته غواړې چې د الله ﷻ په نزد خپل مقام معلوم کړې نو ته او ګوره چې ستا په زړه کې د قرآن کريم څه مقام دی؟

(١) سورة البقرة آية ٢٦.

يعنی که چيرته د يو انسان په زړه کې د قرآن کريم قدر و عظمت زيات وي نو دا انسان به هم د الله رب العزت په نزد قدَرمن او مُعزز وي، او که چيرته دده په زړه کې د قرآن کريم سره هيڅ مينه نه وي نو دده مقام به هم د الله ﷻ په نزد همداسې وي.

په صحابه کرامو کې ډير داسې شخصيات وو چې هغوی ته الله ﷻ د اِسلام او قرآن په وجه داسې مقام ورکړې ؤ کوم چې دوی ته مخکې نه ؤ حاصل.

## د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه

يو ځيره حضرت عمر رضي الله عنه په خپل دَورِ خلافت کې د خپل فوج سره په سفر روان ؤ، د مکې معظمې په يو غَر باندې تېريده، د غَرمې وخت ؤ، سخته ګرمي وه، په يو ځای کې اُودريده، او لاندې وادۍ طرف ته يې کتل.

چونکه دې اميرُ المؤمنين ؤ، دده په اُودريدو سره ټول فوج هم ولاړ ؤ، ده ډير وخت ښکته وادۍ طرف ته کتل، آخر يو کس ورنه پوښتنه وکړه:

اې اميرُ المؤمنين! خير خو دی؟ تاسو څه شی ګوری؟ ستاسو د وجې نه غونډ لښکر ولاړ دی، او سخته ګرمي ده.

حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل: چې کله زه هلک ووم او ما اِسلام نه ؤ راوړی نو ما به دې وادۍ ته اُوښان د څريدلو د پاره راوسته، ليکن ماته به د اُوښانو څرولو طريقه هم نه راتله، کله به چې ما اُوښان کور ته واپس بوتله او زما پلار "خطاب" به دا همداسې اُوړي اُوليده نو زه به يې اُورټلم، او راته به يې وويل:

اې عمر! چې کله تاته د اُوښانو څرولو چَل نه درځي نو ته به آئنده کامياب ژوند څنګه تېر کړی؟

حضرت عمر ﷺ دې فوج ته وويل: چې زه هاغه وخت رايادوم چې کله عمر ته د اُوښانو څرولو طريقه هم نه ورتله، ليکن اوس الله رب العزت د اِسلام او قرآن په وجه اميرُ المؤمنين جوړ کړم. (١)

(١) دوای دل ص ٦٥، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج ٢ ص ٥٨.

# د قرآن كريم په وجه غلامانو ته هم لوي مقام حاصل شو

بلكه دقرآن كريم په وجه الله ﷻ غلامانو ته هم اُوچت مقام وركړی ، ددې په باره كې درته يو دوه واقعات بيانوم :

١. حضرت عمر ﷺ په مكه معظمه باندې حضرت نافع بن عبدالحارث عامل (حاكم) مقرر كړې وُ ، يو ځيره ددې نافع بن عبدالحارث ملاقات د حضرت عمر ﷺ سره په عسفان مقان كې اوشو ، حضرت عمر ﷺ ورنه پوښتنه وكړه :

تا په وادی (يعني اهلِ مكه وُ) باندې څوک عامِل (خپل نائب او نګران) مقرر كړو ؟ هغه ورته وويل : ابن ابزي .

حضرت عمر ﷺ ورنه پوښتنه وكړه : ابن ابزي څوک دی ؟ ده ورته وويل : زمونږ په غلامانو كې يو غلام دی .

حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل :

آيا تا په دوی باندې يو غلام خپل خليفه او جان نشين مقرر كړی ؟ ده ورته وفرمايل :

إِنَّهُ قَارِئٌ لِكِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . وَإِنَّهُ عَالِمٌ بِالْفَرَائِضِ .

بيشكه ابن ابزي د الله د كتاب (قرآن كريم) قاري دی ، او دې ددې په فرائضو باندې عالِم دی .

حضرت عمر ﷺ وفرمايل :

... نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ : إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا . وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ . (١)

---

(١) رواه مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها بَابُ فَضْلِ مَنْ يَقُومُ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ... ٢٦٩ (٨١٧) ، ابن ماجه بابُ فضلِ مَن تعلّم القرآن وعلّمه حديث ٢١٨ ، السنن الكبرى للبيهقي بابُ إمامة الموالي ٥١٢٥ .

يقيناً رسول الله ﷺ فرمايلي دي : بيشكه الله تعالى ددې كتاب په وجه ډير قومونه اُوچتوي ، او ډير قومونه په دې باندې ښكته راغورځوي ( او ذليله كوي يې ). (١)

نو غلامانو ته هم د قرآن كريم په وجه اُوچتوالي نصيبه شو .

۲ . د حضرت ابوحذيفه رضي الله عنه يو غلام ؤ چې سالِم نوم يې ؤ ، د بَدن نه ډير كمزورې ؤ ، كله چې په اول ځل باندې د مدينې منوّرې يو يهودي تاجر دا سالِم د شام نه راوست ، او دلته په مدينه منوّره كې يې ددې خرڅول اوغوښته ، نو دده د كمزورتيا په وجه هيچا دې نه اخيسته .

درې ورځې د خرڅولو په ځاى كې په كرمۍ كې ولاړ ؤ ، خو هيچا دده اخيستو ته زړه نه ښه كول ، آخر د مدينې منوّرې يوې نيكې بي بي " شبية " دا واخيسته .

كله چې حضرت حذيفه ﵁ ددې بي بي سره واده وكړو ، او دواړه مكې معظمې ته راغله نو دا غلام هم ورسره ؤ ، حضرت حذيفه ﵁ دې آزادول اوغوښته خوغلام ورته وويل :

ما مه آزادوه ، زه د تا سره خوشحال يم .

بهر حال دې غلام ايمان راوړو او د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه يې قرآن كريم زده كول شروع كړه . قرآن كريم ده ته داسې عزت او مقام وركړو چې : په يوه موقع باندې دې سالِم ﵁ د صحابه كرامو اِمامت كوِلو چې په مقتديانو كې د حضرت عمر ﵁ غوندې عظيم شخصيت هم ؤ .

د ابوداؤد شريف حديث دى ، حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي :

---

(١) الطريق الى الجنة ص ٢٥٧ ، تنبيه الغافلين باب ٥٦ باب ماجاء في فضل القرآن .

أَنَّ نَافِعَ بْنَ عَبْدِ الْحَارِثِ تَلَقَّى عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ إِلَى عُسْفَانَ. فَقَالَ لَهُ عُمَرُ : مَنِ اسْتَخْلَفْتَ عَلَى أَهْلِ الْوَادِي ؟ يَعْنِي أَهْلَ مَكَّةَ قَالَ : ابْنَ أَبْزَى. قَالَ : مَنِ ابْنُ أَبْزَى ؟ قَالَ: رَجُلٌ مِنْ مَوَالِيَّ. قَالَ: اِسْتَخْلَفْتَ عَلَيْهِمْ مَوْلًى؟ قَالَ : إِنَّهُ قَارِئٌ لِكِتَابِ اللهِ. قَالَ: أَمَا إِنَّ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا . وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ . جامع معمر بن راشد رقم الحديث ٢٠٩٤٢ بَابُ التَّلَقِّي.

لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُونَ الْأَوَّلُونَ نَزَلُوا الْعُصْبَةَ . قَبْلَ مَقْدَمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَكَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ « وَكَانَ أَكْثَرَهُمْ قُرْآنًا » . زَادَ الْهَيْثَمُ : وَفِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ. وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الْأَسَدِ . (١)

د نبي عليه السلام مديني منورې ته د هجرت كولو نه مخكې كله چې د مهاجرينو اوله ډله مديني منورې ته راغله، او په عُصبَه مقام كې يې پړاؤ واچول ( عُصبه په قباء كې يو ځاى دى ) نو د دوى د مانځه اِمامت حضرت سالِم رضي الله عنه كولو ، كوم چې د حضرت ابوحذيفه رضي الله عنه غلام ؤ ، ځكه دا سالِم رضي الله عنه د دې نورو په نسبت د قرآن مجيد ډير قاري ؤ ، او په دې مقتديانو كې حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه او ابوسلمة بن عبدالاسود رضي الله عنه هم وو .

فايده: سبحان الله ، حضرت سالِم رضي الله عنه دومره كمزورې غلام ؤ چې څوک دده اخيستو ته تيار نه وو خو د قرآن كريم په وجه الله جل جلاله دومره لوي مقام وركړو چې بيا يې په عُصبه مقام كې د صحابه كرامو اِمامت كولو .

يو ځل حضرت سالِم رضي الله عنه په جُمات كې د قرآن مجيد تلاوت كولو نبي عليه السلام چې اُوليده نو وې فرمايل :

هٰذَا سَالِمٌ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِيْ أُمَّتِيْ مِثْلَ هٰذَا . (٢)

دا خو سالِم دى ، د ابوحذيفه غلام دى ، بيا نبي عليه السلام وفرمايل : ټول تعريفونه الله جل جلاله لره دي چا چې زما په اُمت كې داسې كس پيدا كړو .

(١) سنن ابي داؤد رقم الحديث ٥٨٨ بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ ، صحيح البخاري رقم الحديث ٦٩٢ بابُ امامة العبد والمولى ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٥٠٠١ ، وقال الالباني هذا حديث صحيح .

(٢) المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٥٠٠١ ذِكْرُ مَنَاقِبِ سَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، وقال الحاكم : هٰذَا حديث صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ هٰكَذَا .

# د قرآن کریم د تعظیم په وجه د سلطان محمود غزنوي مغفرت

مشهور بزرګ " خواجه معین الدین چشتي رحمه الله " ذکر کړي چې کله سلطان محمود غزنوي رحمه الله وفات شو نو دده د وفات نه پس یو عالِم دې په خوب کې اُولیده ، پوښتنه یې ورنه وکړه چې : الله ﷻ درسره څه معامله اوکړه ؟ محمود غزنوي رحمه الله ورته وویل:

الله تعالی د قرآن کریم د یوې پاڼې د تعظیم په وجه زما مغفرت اوکړو .

واقعه داسې وه چې زه یو ځل په یو کلي کې میلمه شوم ، د اُوده کیدو د پاره چې ماته کومه کمره حواله شوه او ما د خُوب اِراده اوکړه ، نو هلته د کمرې په یو ځَاخته کې د قرآن کریم یوه پاڼه پرَته وه ، ما د ځان سره سوچ اوکړو چې په دې کمره کې خو د قرآن مجید پاڼه ده او په دې کې اُوده کیدل بې اَدبي ده .

بیا مې ذِهن ته خبره راغله چې دا پاڼه به په بل ځای کې کیدم ، او زه به دلته اُوده شم ، خو چې سوچ مې وکړو نو دا راته ډیره بې اَدبي معلومه شوه چې د خپل آرام د پاره دا پاڼه بل ځای ته ویسم ، نو ما هغه پاڼه په خپل ځای پریخوده ، او ددې د تعظیم په وجه ما ټوله شپه ویخه تېره کړه .

الله رب العزت د قرآن کریم ددې پاڼې د اَدب په وجه زما مغفرت وکړو . (۱)

**نوټ** : دا واقعه په بعضې کتابونو کې په دې اَنداز ذکر ده چې :

یو بادشاه د سپل او ښکار د پاره اُوتې وُ ، د ښکار په تَکل کې د خپلو ملګرو نه ډیر لرې لاړ ، شپه ورباندې راغله ، د یو بانډیچي سره میلمه شو ، د شپې چې په کومه کمره کې پروت وُ په هغې کې په یو طاقچه کې قرآن مجید ایخې وُ ، ده چې قرآن مجید اُولیده نو دده په زړه کې د قرآن مجید دومره قدر و عظمت وُ چې تر سهره پورې د کمرې په یو ګَنج کې ناست وُ ، د قرآن د تعظیم په وجه اُوده نه شو ، بهرحال سهَر بادشاه لاړ .

څه وخت پس وفات شو ، د وفات نه پس د هغه زمانې مشهور بزرګ او وَلي " خواجه نظام الدین صاحب " دا په خوب کې اُولیده ، پوښتنه یې ورنه وکړه چې :

(۱) دلیل العارفین مجلس پنځم ص ۲۲ .

الله تعالی درسره څه معامله اوکړه ؟

بادشاه ورته ووېل : زه يې اُوبخلم . ځکه الله رب العزت ته زما د قرآن کريم اَدب او په هاغه شپه باندې د قرآن کريم د تعظيم په وجه ويخ پاتې کېدل دومره خوَښ شوي وو چې د هغې په وجه يې زما مغفرت وکړو . (١)

## د بسم الله د تعظيم په وجه د دواړو جهانو سعادت حاصلېدل

امام رازي رحمه الله په تفسيرِ کبير کې د بِشرُ الحافي واقعه رانقل کړې چې :

دې روان وُ ، نو په لاره کې يې يو کاغذ اوموندو چې په هغې باندې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ليکلې وه ، ده هغه کاغذ راپورته کړو ، صفا يې کړو ، په مُشکو يې مُعطر کړو او بيا يې تېر کړو .

د شپې يې خوب اوليده ، په خوب کې ورته يو ويونکې وايي :

يَا بِشۡرُ ! طَيَّبۡتَ اِسۡمَنَا فَنَحۡنُ نُطَيِّبُ اِسۡمَكَ فِي الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ .

اې بِشره ! تا زمونږ د نوم تعظيم اوکړو نو مونږ به په دُنيا او آخرت کې ستا نوم اُوچت کړو . ( او تا ته به عزت درکړو ) . (٢)

حضرت علي رضي الله عنه يو کس اوليده چې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ يې ليکله ، نو ورته وې فرمايل :

دا ښه صفا او خوشخطه ليکه ، ځکه يو سړي دا خوشخطه ليکله نو الله تعالی هغه اُوبخلو . (٣)

---

(١) انوار الباري .

(٢) رأى بِشۡرُ الحافي كاغذًا مَكۡتُوبًا فِيهِ : بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ، فَرَفَعَهُ وَطَيَّبَهُ بِالۡمِسۡكِ وَبَلَعَهُ فَرَأَى فِي النَّوۡمِ قَائِلًا يَقُوۡلُ : يَا بِشۡرُ ! طَيَّبۡتَ اسۡمَنَا فَنَحۡنُ نُطَيِّبُ اسۡمَكَ فِي الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ . تفسير كبير ٢٢ / ١٣ سورة طه البحث السادس في النكت ، اولها .

(٣) تفسير مظهري ج١ ص ٩١ .

# د قرآن کريم د تعظيم په وجه عثمان او د ده اولاد ته په ترکو کې سُلطنتِ عُثمانيه حاصليدل

په تُرکو کې د سلطنتِ عُثمانيه نوم به هرچا اوريدلې وي ، د دې سلطنتِ عثمانيه بُنياد ايخودونکې يو غريب کس وُ ، خو د قرآن کريم د تعظيم او آدب په وجه ورته الله ﷻ د تُرکو حکومت ورکړو ، او تر ډيره زمانه پورې د ده په آولاد کې دا حکومت راروان وُ .

واقعه داسې وه چې : عُثمان يو غريب کس وُ ، د تُرکو په يو کلي کې اوسيده ، خو باوجود د غُربت نه ډير مِهمان نواز وُ ، په کور کې به چې ورسره څه وو هغه به يې ميلمه ته راوړه ، د دې ډير ميلمنو د تلو راتلو په وجه آخِر د کلي واله ورنه تنګ شو ، او دې يې د خپل کلي نه اوويست ، د ده يو پير او مُرشِد وُ دې د هغه ځای ته لاړ ، هغه ته يې دا واقعه ذکر کړه چې زه د خپل کلي واله خلقو رااوويستم ، اوس خو د ماسره هيڅ نشته ، زه چيرته لاړ شم ؟

پيرصاحب ورته تسلي ورکړه چې هيڅ غم مه کوه ، زما په دې کمره کې اوسيږه .

عثمان ډير ستړې وُ ، ماسخوتن چې کله څملاست ، څه وخت پس يې سترګې رااوغړولې نو وې ليده چې د ده خپې کوم طرفته دي هغې طرف ته قرآن مجيد ايخې وُ .

دې اګر چې بې عِلمه وُ خو د مضبوط ايمان خاوند وُ ، په دې ليدو سره ډير خفه شو ، راپاڅيده ، د قرآن مجيد سره نزدې اودريده ، ډير يې اوژړل ، توبه يې اوويسته ، استِغفار يې وويل ، بيا يې لاسونه د دُعا د پاره اوچت کړه ، او دا دُعا يې اوغوښته :

اې الله ! د مانه بې آدبي اوشوه ، په دې کمره کې ستا کلام پروت وُ ، خو ما په غلطۍ کې دې طرف ته خپې غزَولې وي . اې الله ! ما معاف کړه ، او زما ګناهونه اوبخه .

ټوله شپه يې په ژړا او زارۍ باندې دا دُعا اوغوښته . د شپې په آخِره حصه کې ورله پير صاحب راغی او ورته وې ويل :

اې عثمان ! مبارک شه ، نن شپه قرآن کريم د الله ﷻ په دَربار کې ستا سفارش وکړو ، الله ﷻ د ده سفارش قبول کړو ، او ستا د پاره دا حکم اوشو چې :

ته به هم بادشاه يې ، او ستا آولاد به هم بادشاه وي .

عثمان ورته په ژړا کې وويل : حضرت صاحب ! زه خو د کلي واله خلقو د خپل کور نه هم راأوويستم نو زه به څنګه بادشاه شم.

پير صاحب ورته ووېل : غم مه کوه ، ته به هم بادشاه يې او ستا آولاد به هم بادشاه وي.

عثمان به بار بار په حيرانتيا سره خپله خبره کوله او پير صاحب به ورته همدغه جواب ورکوله، آخِر دا چې د پير صاحب نه يې اِجازت راواخيست ، او راروان شو .

کله چې بهَر راأووت نو دولس کسان ورسره ملاؤ شو چې په آسونو باندې سواره وو ، هغوی دده ته يو آس ورکړو ، او ورته وې ويل : مونږ ستا غلامان يو ، او ستا هر حکم منلو ته تيار يو .

عثمان د ځان سره دا کسان روان کړه ، سفر يې کولو ، په لاره کې ورته يو کلي راغی ، ددې کلي سردار هم د دوی سره ملګرې شو ، او څه روپۍ يې هم دوی ته ورکړې. ده به سفر کولو او خلق به ورسره ملګري کيدل ، آخِر دا چې ډير فوج او روپۍ ورسره جَمع شوی.

په هاغه زمانه کې د رُوم بادشاه عيسائي ؤ ، هغه ته چې کله معلومه شوه چې د عثمان سره لوي فوج او ډير مال و دولت دی نو هغه دې د خپل فوج آفسر جوړ کړو ، چونکه ددې بادشاه نارينه آولاد نه ؤ ، کله چې وفات شو نو دا عثمان دهغه په ځای باندې بادشاه مقرر شو.

نو د سلطنتِ عثمانيه بُنياد په دې طريقه کيښودې شو ، بيا تر ډيره زمانه پورې دده په آولاد کې دا حکومت راروان ؤ .

## د قرآن کريم د تعظيم په وجه د لوي حادثې نه بَچ کيدل

مولانا آشرف علي تهانوي رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې چې يو ځل فضل حق مرحوم ( کوم چې په يو وخت کې د مُسلم ليګ وزارتِ بنګال کلکته کې وزير اعظم هم ؤ ، ده ) د دِهلي نه کلکتې ته په ريل ګاډي کې د تللو اِراده وکړه ، دې د ريل ګاډي په اوله ډَبه کې کيناست . څه ډيرې بېګونه ورسره وو ، خپل نَوکر ته يې ووېل :

په کوم بيګ کې چې قرآن مجيد ؤ هغه دې ګاډي ته راخيجولې دی؟

نَوکر ورته ووېل : تر اُوسه لاندې ايخی ، اوس وَرځم راخيجوم يې . ځکه څه بېګونه ما راوړي دي ، او څه لاندې پاتې دي ، قرآن کريم هم هلته دی .

د فضل حق په زړه کې چونکه د قرآن کريم ډير قدر و عزت ؤ ، ده چې د نوکر خبره واوريده نو فورًا راپاڅيد ، نوکر ته يې ووېل : تاته خو ما مخکې ويلي وو چې د ټولو نه اول به دې ګاډي ته قرآن کريم راوړې ، بيا به زه روستو ګاډي ته راخيجم ، چونکه دې ګاډي ته تا اول قرآن مجيد نه دې راوړی نو لهذا مونږ به دې کې نه ځو ، په بل ګاډي کې به لاړ شو . دا يې ووېل ، او د ګاډي نه کوز شو ، نور سامانونه يې هم ځان سره کوز کړو .

په ريل ګاډي کې چې کوم هِندوان ناست وو ، هغوی چې دا معامله اُوليده نو وې خندل . او وې ويل : دا فضل حق څه مذهبي ليوني دی چې ځکه يې نوکر ګاډي ته اول قرآن مجيد نه ؤ راوړی نو د ګاډي نه کوز شو ، دا خو څه دومره غټه خبره نده .

بهر حال دا ريل ګاډی روان شو ، کله چې کلکتې ته نزدې شو نو دې اوله ډَبه کې چا بَم ايخې ؤ هغې زادرَز وخل ، او اکثره خلق په کې مړه شو ، يو څو په کې ژوندي پاتې شو خو هغه هم زخميان وو .

دا بَم د فضل حق مخالفينو دده د وژلو د پاره په دې ډَبه کې ايخې ؤ ، ځکه هغوی ته معلومه شوې وه چې دې به صبا د ريل ګاډي په دې اوله ډَبه کې ځي ، نو ځکه يې ورته پَټ په کې بَم ايخې ؤ .

خو چونکه فضل حق د قرآن د تعظيم په وجه د دې ګاډي نه کوز شوې ؤ او په بل ګاډي کې لاړ نو ځکه هغه الله ﷻ محفوظ ساتلې ؤ .

کله چې فضل حق په بل ګاډي کې کلکتې ته اُورسيده او هغه ته دا واقعه معلومه شوه نو بيا هغه په يو ځای کې تقرير کولو ، د تقرير په دَوران کې يې دا خبره اوکړه چې هِندوانو زه وژل غوښتم خو الله ﷻ زه د قرآن کريم د تعظيم په وجه د دوی د غلط سازش نه بچ کړم ، او تر څو پورې چې د ما سره قرآن کريم وي دوی ما ته د الله ﷻ په حُکم سره هيڅ نقصان نشي رارسولی .

په دې ډَبه کې چې کوم هِندوان ژوندي پاتې شوي وو او زخميان وو هغوی په اَخبار کې دا بيان ورکړې ؤ چې کله فضل حق زمونږ د ګاډي نه کوز شو نو مونږ وريسې اُوخندل چې

دا ليونى دى ، خو مونږ ته اوس پته اولېده چې د هغه سکته كيدل دده د پاره ښه وو ، د خپل كتاب د تعظيم په وجه دې محفوظ شو . (۱)

## په قرآن كريم باندې عمل كول

محترمو مسلمانانو ! د قرآن كريم په حقوقو كې يو حق دا هم دى چې ددې په اَحكاماتو باندې به مسلمان عمل كوي ، ځكه قرآن كريم خو د همدې عمل كولو د پاره نازل شوې دى . الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَهٰذَا كِتٰبٌ أَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او دا ( قرآن كريم ) يو بركتي كتاب دى ، مونږ دا نازل كړې دى پس تاسو ددې پيروي وكړئ ( يعنى په دې باندې عمل كوئ ) ، او پرهيزگاري ( ويره ) كوئ ، ددې د پاره چې په تاسو باندې رحم وكړې شي .

لهذا مسلمان ته په كار دي چې دده هر عمل د قرآن كريم د اَحكاماتو مطابق وي . صحابه كرام لكه څرنگې چې د قرآن كريم حافظان وو نو همدغه شان دوى په قرآن كريم باندې عمل كوونكي او ددې عاشِقان هم وو ، دوى قرآن كريم د خپل ځان د پاره مَشعلِ راه گرځولې وُ ، دغه وجه وه چې چيرته به تلل نو الله رب العزت به كاميابه كول .

د حضرت عائشې رضي الله عنها نه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د اَخلاقو متعلق پوښتنه اوشوه ، نو دې ورته وفرمايل :

كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآن . (۳)

د نبي عليه السلام اَخلاق په قرآن مجيد باندې عمل كول وو .

يعنى كه چيرته څوک قرآن كريم په مُجَسم شكل كې كتل غواړي نو هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ذاتِ مُباركه دى ، چې د هغوى هر عمل د قرآن كريم موافق وُ .

---

(۱) قرآن كريم ايک عظيم معجزه ص ۲۰۸ .

(۲) الانعام آيت ۱۵۵ .

(۳) الادب المفرد رقم الحديث ۳۰۸ ، شرح السنّة للبغوي بَابُ حُسنِ الخُلُق جز ۱۳ صفحه ۷۶ -حديث ۳۴۹۴ .

د حضرت ابوبكر صديق ﷺ په باره کې راځي چې دوی سورة بقره په دوه نيم کاله کې مکمل کړې وه ، دوی ته د عربی ژبې په پوهيدو کې څه مُشکل نه ؤ ځکه د دوی مورنی ژبه عربي وه خو دوی به چې د قرآن کريم آيت لوستلو نو په هغې باندې به يې عمل هم کولو ، نو ځکه يې په دومره ډيره زمانه کې سورة بقره مکمل کړې وه .

• دغه رنګې د حضرت عمر ﷺ په باره کې نقل دي چې دوی په دولس کاله کې سورة بقره زده کړې وه ، بيا يې چې کله پوره کړه نو اُوښ يې ذبح کړو . (١)

همدغه رنګې د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په باره کې نقل دي چې تر د آتو (٨) کالو پورې يې سورة بقره زده کوله . (٢)

دې حضراتو وربانديې دومره وخت ځکه تېرول چې کوم آيت به يې يادول نو په هغې به يې عمل هم کولو . لهذا مسلمانانو ته په قرآن کريم باندې عمل کول په کار دي .

## نن صبا د مسلمانانو د ذلت وجه د قرآن کريم نه لرې والې دی

نن صبا چې مسلمانان په هر ځای کې ذليله او کمزوري دي نو ددې اَصل وجه داده چې د دوی د قرآن کريم سره هغه تعلق نه دې پاتې شوی کوم چې د صحابه کرامو او اَسلافو ورسره ؤ : مسلمانان ددې د زده کولو ، په دې باندې د پوهيدلو ، او ددې په اَحکاماتو باندې د عمل کولو کوشش نه کوي نو ځکه د قرآن کريم د اَنواراتو او برکاتو نه محرومه دي .

که مسلمانان بيا هم هماغه شان عزت او کاميابي حاصلول غواړي نو ددې واحِده لاره داده چې د قرآن کريم سره تعلق پيدا کړي ، دا د خپل ځان د پاره مُقتداء اوګرځوي ، او ددې په اَحکاماتو باندې عمل اوکړي نو الله ﷻ به دوی ته بيا غلبه ورکړي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا ، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ . (٣)

---

(١) رواه البيهقي في شعب الايمان ، والخطيب . دُرّمنثور .

(٢) رواه الامام مالک في الموطاء .

(٣) رواه مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب فَضْلِ مَنْ يَقُومُ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ... ٢٦٩ ( ٨١٧ ) ، ابن ماجه باب فضل من تعلم القرآن وعلّمه حديث ٢١٨ ، السنن الكبرى للبيهقي باب إمامة الموالي ٥١٢٥ .

يقيناً الله تعالى ددې كتاب ( قرآن كريم ) په وجه ډير قومونه اوچتوي ، او ډير قومونه په دې باندې ښکته راغورځوي ( او ذليله كوي ).

ډيره د افسوس خبره داده چې د خلقو سره د أخبار كتلو وخت شته ، د فرضي أفسانو او دروغو واقعاتو كتلو وخت شته ، د فحش فلمونو كتلو وخت شته ، ټوله ورځ د دوستانو سره د ګپ شپ لړولو وخت شته ، د ميډيكل انجينئرنګ او كمپيوټر د زده كولو وخت شته ، د اعلى أعلى دُنيوي تعليمونو كولو وخت شته

خو افسوس صَد افسوس چې د مسلمان سره د قرآن كريم د زده كولو ، ددې د تلاوت كولو ، او په دې باندې د عمل كولو وخت نشته . وَإِلَى اللهِ الْمُشْتَكَى

آيا انسان چيرته دا سوچ كړې دى چې يو ورځ به د الله ﷻ دربار ته حاضريږم ، هغه به رانه ددې په باره كې تپوس كوي ، نو مونږ به آخر څه جواب وركړو ؟

## د قرآن كريم شكايت د هغه چا خلاف چې ددې حقوق يې نه وي أداء كړي

څوک چې په دُنيا كې د قرآن كريم حقوق اداء نه كړي يعنى په دې ايمان رانه وړي ، ددې تلاوت نه كوي ، او ددې په أحكاماتو باندې عمل نه كوي نو دا قرآن كريم به د قيامت په ورځ د داسې خلقو خِلاف شكايت كوي .

د مشكوة شريف حديث دى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

ثَلَاثَةٌ تَحْتَ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ : اَلْقُرْآنُ يُحَاجُّ الْعِبَادَ لَهُ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ ، وَالْأَمَانَةُ ، وَالرَّحِمُ تُنَادِيْ : أَلَا مَنْ وَصَلَنِيْ وَصَلَهُ اللهُ ، وَمَنْ قَطَعَنِيْ قَطَعَهُ اللهُ . (۱)

د قيامت په ورځ به د عرش لاندې درې شيان وي ( چې دوى ته به د الله ﷻ په نزد لوي مقام او قُرب حاصل وي ) : يو قرآن كريم دى چې دې به د بندګانو سره جګړه كوي ( يعنى چا چې ددې حقوق نه وي اداء كړي ، ددې تعظيم يې نه وي كړى ، او په دې يې عمل نه وي

(۱) شرح السنة للبغوي وقال هذا حديث صحيح مشكوة كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني حديث ۲۳ .

کړي نو قرآن کريم به د هغوی سره جګړه کوي او دوی ته به سزا ورکوي . (١) ) د قرآن کريم ... ظاهر هم شته او باطن هم . (٢)

د عرش لاندي دويم شی آمانت دی ، او دريم شی رحِم دی ( يعنی صِله رَحمي ) ، دا به آواز کوي : خبردار چا چې زه يو ځای کړم ( يعنی زما د حق لحاظ يې اُوساتل ) نو الله تعالی به هغه ( د خپل رحمت سره ) يو ځای کړي ، او چا چې زه اُوشلولم ( يعنی زما د حقوتو لحاظ يې او نه ساتل ) نو الله تعالی به هغه هم د خپل خاص رحمت نه لرې کړي .

امام قرطبي رحمه الله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو حديث رانقل کړی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّقَ مُصْحَفَهُ لَمْ يَتَعَاهَدْهُ وَلَمْ يَنْظُرْ فِيْهِ جَآءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُتَعَلِّقًا بِهِ يَقُوْلُ: يَارَبَّ الْعَالَمِيْنَ ! إِنَّ عَبْدَكَ هٰذَا اِتَّخَذَنِيْ مَهْجُوْرًا فَاقْضِ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ . (٣)

چا چې قرآن زده کړو ، بيا يې په کور کې بند کړې رازوړند کړو ، نه يې ددې تلاوت وکړو ، او نه يې ددې په احکاماتو کې غور و فکر وکړو نو د قيامت په ورځ به دا قرآن دده په غاړه کې پريوتې راشي او د الله ﷻ په دَربار کې به شکايت وکړي ، آو اُو به وايي :

اې ربّ العالمينه ! بيشکه ستا دې بنده زه پريخې ووم ، اوس تاسو زما او دده تر مينځ فيصله وکړئ .

## د نبي عليه السلام شکايت د هغه چا خلاف چې د قرآن کريم حقوق يې نه وي أداء کړي

څوک چې د قرآن کريم حقوق اداء نه کړي او مکمل يې پريږدي نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به د الله رب العزت د وړاندې د داسې خلقو خِلاف شکايت وکړي .

---

(١) او چا چې د قرآن کريم حقوق اداء کړي وي نو قرآن کريم به دهغوی د پاره شفاعت او سفارس کوي ، لکه دا مضمون مخکې تېر شوې دی . ابو الشمس عفي عنه

(٢) د قرآن کريم د ظاهر مطلب دا دی چې په قرآن کريم کې کوم احکامات بيان شوي د هغې معنی بالکل واضحه ده ، اکثر خلق پرې پوهيږي ، او ددې د پاره د څه خاص فکر او تأمل ضرورت نشته .
د قرآن کريم د باطن مطلب دا دی چې د قرآن کريم د پاره څه داسې معاني هم شته چې په هغې باندې هر سړې نه پوهيږي . بلکه ددې د پاره د غور ، فکر او تفسير ضرورت وي چې په دې باندې صرف خواص او علماء پوهيږي . مظاهر حق شرح مشکوة .

(٣) ذکره الثعلبي . تفسير قرطبي ١٣/٢٨ سورة الفرقان آيت ٣٠ ، تفسير معارف القرآن آيت ٣٠ .

د قرآن کریم په سورة فرقان کې الله ﷻ ددې تذکره داسې کړې :

﴿ وَقَالَ الرَّسُوْلُ يَارَبِّ ! إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ﴾ . (١)

ترجمه : او رسول (ﷺ) به (د قیامت په ورځ ) اُووایي : اې زما ربه ! بیشکه زما قوم دا قرآن پرېښې وُ . (٢)

اګر چې د نبي علیه السلام ددې شکایت په باره کې د مفسّرینو مختلف اقوال دي : بعضې مفسّرین وايي چې نبي علیه السلام دا شکایت په دُنیا کې کړې وُ نو الله رب العزت ورته په وروستې آیت کې تسلي ورکړه چې : ﴿ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا ﴾ . (٣)

او بعضې مفسّرین وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د قیامت په ورځ د الله ﷻ په دَربار کې د هغه خلقو خلاف شِکایت وکړي چا چې په دُنیا کې په قرآن کریم باندې ایمان نه وي راوړی ، یا یې ددې حقوق نه وي اَداء کړي ، یا یې پرې عمل نه وي کړی ، او یا یې ددې سپکاوې کړې وي . (٤)

## د قرآن کریم نه خالي زړه په شان د وران کور دی

د ترمذي شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

إِنَّ الَّذِيْ لَيْسَ فِيْ جَوْفِهٖ شَيْءٌ مِّنَ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ . (٥)

بیشکه هغه کس چې د هغه په زړه کې د قرآن کریم څه حصه نه وي نو هغه ( یا د هغه زړه ) په شان د وران (یعنی کنډَر ) کور دی .

---

(١) سورة الفرقان آیت ٣٠ .

(٢) وَقَالَ الرَّسُوْلُ : يَعْنِيْ: وَيَقُوْلُ الرَّسُوْلُ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ يَارَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا . يَعْنِيْ مَتْرُوْكًا فَأَعْرَضُوْا عَنْهُ . وَلَمْ يُؤْمِنُوْا بِهٖ وَلَمْ يَعْمَلُوْا بِمَا فِيْهِ . تفسير البغوي ٣/ ٢٥٥ سورة الفرقان آية ٣٠ .

(٣) سورة الفرقان آیت ٣١ .

(٤) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله ، تفسیر بغوي الفرقان آیت ٣٠ .

(٥) سنن الترمذي رقم الحدیث ٢٩١٣ باب ١٨ وقال الترمذي هٰذا حديث حسن صحيح . المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ٢٠٣٧ ، شرح السنة للبغوي رقم الحدیث ١١٨٥ .

فايده : په فارسي کې يوه لطيفه ده : " خانهٔ خالي را دِيو ميگيرد " . يعنې په وَران کور باندې ديوان ( او پېريان ) قبضه کوي .

نو لکه څرنګې چې په وران کور باندې د پېريانو او ديوانو قبضه وي او د هغې رونَق ختم وي نو همدغه شان هغه زړه چې هغه د اِيمان او قرآن د نُور نه خالي وي نو په هغې باندې هم د پېريانو او ديوانو قبضه وي ، او د هغې رونق او اَهميت هم ختم شي .

اوس چې يو کس څومره ډير په قرآن پوهيږي ، او په سينه کې يې څومره ډير قرآن محفوظ وي نو همدومره به ددې انسان باطن هم د اِيمان او نُور نه ډک وي ، او چې څومره دې پرې کم پوهيږي نو همدومره به دده باطن هم د نُور په رڼا باندې کم آباد وي .

هم دغه شان په کوم کور کې چې تلاوت کولې شي په هغې کې برکت پيدا کيږي ، فرښتې ورته داخليږي ، او شيطان د هغې نه تختي .

د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِيْ تُقْرَأُ فِيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ . (١)

تاسو د خپلو کورونو نه قبرستان مه جوړوئ ( چې نه په کې مونځ کوئ او نه په کې تلاوت کوئ ) ، بيشکه شيطان د هغې کور نه تَختي په کوم کې چې سورة بقره لوستلې شي .

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي :

اَلْبَيْتُ الَّذِيْ إِذَا قُرِئَ فِيْهِ الْقُرْآنُ حَضَرَتْهُ الْمَلَائِكَةُ . وَتَنَكَّبَتْ عَنْهُ الشَّيَاطِيْنُ . وَاتَّسَعَ عَلَى أَهْلِهِ . وَكَثُرَ خَيْرُهُ . وَقَلَّ شَرُّهُ .

وَإِنَّ الْبَيْتَ إِذَا لَمْ يُقْرَأْ فِيْهِ حَضَرَتْهُ الشَّيَاطِيْنُ . وَتَنَكَّبَتْ عَنْهُ الْمَلَائِكَةُ . وَضَاقَ عَلَى أَهْلِهِ وَقَلَّ خَيْرُهُ . وَكَثُرَ شَرُّهُ . (٢)

په کوم کور کې چې د قرآن کريم تلاوت کولې شي هغې ته فرښتې راځي ، شيطانان ددې نه ؤځي ، دا د خپلو اُوسيدونکو د پاره فراخه کيږي ( اَولاد يې ډيريږي ) ، خير يې زياتيږي ، او شر يې کميږي .

---

(١) صحيح مسلم . بَابُ اسْتِحْبَابِ صَلَاةِ النَّافِلَةِ فِي بَيْتِهِ . وَجَوَازِهَا فِي الْمَسْجِدِ رقم الحديث ٧٨٠ .

(٢) کنز العمال رقم الحديث ٢٤٣٧ الباب السابع : في تلاوة القرآن وفضائله الفصل الأول : في فضائل تلاوة القرآن .

او په کوم کور کې چې د قرآن کریم تلاوت نشي کولی دیته شیطانان داخلیږي ، فرښتې ددې نه اوځي ، دا په خپلو اوسیدونکو تنګیږي ( په دوی تَنګسیا او بې برکتي راځي ) ، ددې خیر کمیږي ، او شَر یې زیاتیږي .

لهذا هر مسلمان ته په کار دي چې دده په سینه کې د قرآن مجید څه حصه خامخا موجوده وی ، بیا ددې تلاوت کوي ، ددې په احکاماتو باندې عمل کوي ، او ورسره ورسره ددې تعظیم هم کوي .

## د قرآني آیتونو او احادیثو سپکاوې سخت خطرناک دی

محترمو مسلمانانو ! چا چې په دُنیا کې د قرآني آیتونو یا احادیثو ، یا د نبي علیه السلام د یو سُنت اِستهزاء او سپکاوې کړی نو هغوی الله ﷻ په دُنیا او آخرت دواړو کې ذلیله کړي .

### ۱ د آیت د اِستهزاء په وجه د سترګو اُوبه او نظر ختمیدل :

امامِ کواشي رحمه الله په خپل تفسیر کې دا واقعه رانقل کړی چې یو کس د یو مُتکَبِّره مغروره انسان د وړاندې د قرآن کریم دا آیتِ مبارکه تلاوت کړو ، الله تعالی فرمایي :

﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍ ﴾ . (۱)

ترجمه : ( اې پیغمبره ! ) ته ورته ووایه : آیا تاسو کتلي دي که چیرته ستاسو اُوبه اُوچې شي ( یعنی ښکته لاړې شي ) نو څوک به په تاسو کې رواني ( د چینې ) اُوبه راولي ؟

دې مُتکَبِّره انسان د اِستهزاء او غرور په اَنداز کې وویل : زمونږ ګېنتي ، بیلچې او تَبَرګي به مونږ له دا اُوبه را اُوباسي . فَذَهَبَ مَاءُ عَيْنَيْهِ وَعمي . (۲)

( د آیت د اِستهزاء په وجه یې ) د دواړو سترګو اُوبه یې ځای په ځای ختمې شوی ، او ړُوند شو

(۱) سورة الملک آیة ۳۰ .

(۲) حکی الکواشي في تفسيره أن بعض المتجبرين تلي عليه قوله تعالى : ﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍ ﴾ فقال : تأتي به الفؤوس والمعاول . فذهب ماء عينيه وعمي . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص۲۲۸ كتاب تلاوة القرآن .

عبرت : الله ﷻ ده ته ددې آيت د اِستهزاء په وجه داسې سزا ورکړه چې د دواړو سترګو اوبه يې ختمې شوې ، ګويا الله رب العزت ده ته دا اوخوده چې که ته دومره قادر يې نو اول د خپلو سترګو اوبه راواپس کړه کومې چې تاته ډيرې نزدې دي . الله ﷻ دې مونږ د داسې سپکاوي نه اوساتي . آمين

## ۲. د اَحاديثو د اِستهزاء په وجه دواړه خپې اُوچيدل او شليدل

امام ابوداؤد سجستاني رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې چې د احاديثو زده کوونکو طالبانو کې يو طالب ډير خواهش پَرسته، بې حَياء ، او مُتکبّره وُ ، ده د نبي کريم ﷺ دا حديث مبارک واوريده : إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضًا بِمَا يَطْلُبُ.(۱)

بيشکه فرښتې د طالب العلم د پاره خپلې وزرې غوړوي (يعنى دده دوراندې عاجزي او تواضع کوي (۲) ) ځکه فرښتې د هغه کار په کولو خوشحاله وي کوم چې دا طالب العلم طلب کوي (يعنى د علم په زده کولو دا فرښتې خوشحاله وي) .

---

(۱) ترمذي رقم الحديث ۳۵۳۵ باب فضل التوبة والاستغفار وما ذُكر من رحمة الله بعباده ، وحديث ۲٦۸۲ ، ابوداؤد حديث ۱۲٦۱ ، ابن ماجه حدث ۲۲۳ ، الآداب للبيهقي حديث ۸٦۲ ، شرح السنة للبغوي ۱/ ۲۷۷ .

(۲) لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا : اي تخضع وتتواضع . قرطبي ج ۱ ص ۳۳۰ .

قال الخطابي في معنى " وضعها أجنحتها " ثلاثة اقوال : احدها : انه بسط الاجنحة . الثاني : انه بمعنى التواضع تعظيمًا لطالب العلم . الثالث : أنّ المرادَ به النزول عند مجالس العلم وترک الطيران . نزهة الناظرين في الاخبار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۸ .

قَوْلُهُ: « وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا » قِيْلَ مَعْنَاهُ : أَنَّهَا تَتَوَاضَعُ لِطَالِبِ الْعِلْمِ تَوْقِيْرًا لِعِلْمِهِ. كَقَوْلِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى. {وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ} . وَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: {وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ} أَيْ: تَوَاضَعْ لَهُمْ. وَقِيْلَ مَعْنَى وَضْعِ الْجَنَاحِ : هُوَ الْكَفُّ عَنِ الطَّيَرَانِ، وَالنُّزُوْلُ لِلذِّكْرِ، كَمَا ذُكِرَ فِي الْحَدِيْثِ « ... إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ، وَحَفَّتْ بِهِمُ الْمَلَائِكَةُ ». وَكَمَا رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ الْمَلَائِكَةَ يَطُوْفُوْنَ فِي الطَّرِيْقِ يَلْتَمِسُوْنَ أَهْلَ الذِّكْرِ، فَإِذَا وَجَدُوْا قَوْمًا يَذْكُرُوْنَ اللهَ تَنَادَوْا : هَلُمُّوا إِلَى حَاجَتِكُمْ . قَالَ: « فَيَحُفُّوْنَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا ». وَقِيْلَ: مَعْنَاهُ: بَسْطُ الْجَنَاحِ، وَفَرْشُهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ بِتَحْمِلَهُ عَلَيْهَا. فَيُبَلِّغَهُ حَيْثُ يَقْصِدُهُ مِنَ الْبِلَادِ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ وَقِيْلَ: مَعْنَاهُ: الْمَعُوْنَةُ، وَتَيْسِيْرُ السَّعْيِ لَهُ فِي طَلَبِهِ. شرح السنة للبغوي ۱/ ۲۷۷ باب فضل العلم .

نو دې مُتكبّره كس په خپلو څپلو كې ميخونه ټک وهل ( اود ميخونو تېره سرونه يې لاندې طرف ته راوست ) ، او د استهزاء په طور يې وويل : أُرِيْدُ أَنْ أَطَأَ أَجْنِحَةَ الْمَلَائِكَةِ.

زه اراده لرم چې د فرښتو وزرې په دې ميخونو سره پائمال او ماتې کړم.

نو الله تعالى ده ته دا سزا ورکړه چې دده په خپو باندې خوړونکې خطرناکه بيماري اولږيده . (١)

٣ . امام نووي رحمه الله ذكر كړي ، چې يحيٰ ساجي رحمه الله فرمايي : يو پېره مونږ څه ملګري د بَصرې په يوه کوڅه کې د يو لوي مُحدِّث عالِم ملاقات ته تلو ، مونږ په تېزۍ مزل کولو ، د مونږ سره يو بې پَرواه بې دينه کس هم ملګرې وُ ، هغه د استهزاء په طور وويل :

إِرْفَعُوْا أَرْجُلَكُمْ عَنْ أَجْنِحَةِ الْمَلَائِكَةِ لَاتَكْسِرُوْنَهَا.

تاسو خپل قدمونه د فرښتو د وَزرو نه پورته کړئ ، هسې نه چې د هغوى وزرې ماتې نه کړې.

ګويا ده د پيغمبر عليه السلام ددې حديث پورې اِستهزاء وکړه :

نو الله ﷻ ده ته دا سزا ورکړه چې ځاى په ځاى يې خپې اُوچې شوې ، او را اُوغورځيده . (٢)

## ٤ . د حديث د اِستهزاء په وجه د ذِلت سزا

علماؤ يوه واقعه رانقل کړې چې يو بِدعتي سړي د نبي کريم ﷺ دا حديث مبارک واوريد چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) و روي عن ابي داود السجستاني أنه قال : كان في أصحاب الحديث رجل خليع فسمع حديث النبي صلى الله عليه وسلم : إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضًا بِمَا يَطْلُبُ فجعل في نعليه مسامير من حديد ، وقال : أُرِيْدُ أَنْ أَطَأَ أَجْنِحَةَ الْمَلَائِكَةِ. فأصابته الأكلة في رجليه . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٢٢٨ كتاب تلاوة القرآن . ٢٢٩.

(٢) وروى النووي رحمه الله عن ابي يحيى الساجي قال : كنا نمشي في أزقة البصرة الى باب بعض المحدثين فأسرعنا المشي ، وكان معنا رجل ماجن متهم في دينه فقال : إِرْفَعُوْا أَرْجُلَكُمْ عَنْ أَجْنِحَةِ الْمَلَائِكَةِ لَاتَكْسِرُوْنَهَا كالمستهزئ ، فما زال من موضعه حتى جفت رجلاه وسقط . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٢٢٨ كتاب تلاوة القرآن . ٢٢٩

إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ؟ (١)

په تاسو کې چې کله يو کس د خوب نه راپاڅي نو هغه دې خپل لاس لوخي ته نه داخلوي، تر دې پورې چې دې دا لاس اُووينځي ( نو بيا خېر دی د لوخي نه په لاس اُوبه راخيستې شي) ځکه ده ته دا پته نشته چې د ده لاس چيرته شپه تيره کړی ؟

( ځکه اِمکان شته چې د ده لاس د ګندګۍ ځای سره لږيدلي وي، نو که اوس د راپاڅيدو نه پس بغير د وينځلو نه لاس لوخي ته داخل کړي نو اُوبه ورسره ګنده کيږي ) .

دې بِدعتي کس چې دا حديث واوريده نو د اِستهزاء په طور يې د نبي عليه السلام د حديث په مقابله کې وويل :

ماته دا پته وي چې په بِستره کې زما لاس چيرته شپه تيروي ..

( چونکه د نبي عليه السلام په حديث کې ذکر دي : فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ؟ دا سړي نه پوهيږي چې د ده لاس چيرته شپه تيروي ؟ نو دې بدعتي د اِستهزاء په طور وويل : ماته دا پته وي چې د شپې په بِستره کې زما لاس چيرته شپه تيروي، نو الله ﷻ ده ته داسې سزا ورکړه چې : )

فَأَصْبَحَ وَقَدْ أَدْخَل يَدَهُ فِي دُبُرِهِ إِلَى ذِرَاعِهِ . (٢)

کله چې سهَر دا سړی راپاڅيده نو خپل لاس يې په دُبره کې ( يعنی شاته حِصه کې ) تر څنګل پورې دننه کړې وُ .

(١) صحيح مسلم بَابُ كَرَاهَةِ غَمْسِ الْمُتَوَضِّئِ وَغَيْرِهِ يَدَهُ الْمَشْكُوكَ فِي نَجَاسَتِهَا فِي الْإِنَاءِ قَبْلَ غَسْلِهَا ثَلَاثًا رقم الحديث ٢٧٨ .

وفي رواية : إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلَا يُدْخِلْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ، أَوْ أَيْنَ كَانَتْ تَطُوفُ يَدُهُ . سنن ابي داؤد بَابُ فِي الرَّجُلِ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ قَبْلَ أَنْ يَغْسِلَهَا رقم الحديث ١٠٥ .

(٢) وحكي أن بعض المبتدعين سمع قول النبي صلى الله عليه وسلم : إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ؟ قال ذلك المبتدع كالمستهزئ : أَنَا أَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدِي فِي الْفِرَاشِ . فَأَصْبَحَ وَقَدْ أَدْخَل يَدَهُ فِي دُبُرِهِ إِلَى ذِرَاعِهِ . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٢٢٨ كتاب تلاوة القرآن . ٢٢٩ .

**فائده** : الله رب العزت ده ته دا اُوخوده چې ده ته د سره پته هم نه وه او خپل لاس يې په دُبره کې تر څنګلې پورې دَننه کړې ؤ .

## ٥. د مسواک د اِستهزاء په وجه د ذِلت سزا

اِمام نووي رحمه الله په کتاب البستان کې يوه واقعه رانقل کړی چې زمونږ په دې زمانه کې يوه واقعه پيښه شوی ، هغه دا چې : يو کس ؤ ، هغه به د علماؤ او نيکانو سره سخت بُغض لرل ، او د دوی متعلق يې ډيره بَده عقيده لرله .

خو ددې کس يو ځوي ؤ چې ډير نيک انسان ؤ ، د علماؤ سره يې ښه تعلق او اِعتقاد لرل.

يوه ورځ ددې بَدبخته سړي دا نيک ځوي د خپل شيخ او اُستاذ ملاقات له تللې ؤ ( هغه ورله په تُحفه کې مسواک ورکړو ) ، کله چې دې واپس راغی ، او خپل دې پلار ورسره مسواک اُوليده ، نو د اِستهزاء او سپکاوي په طور يې دې ځوي ته ووېل :

مَا أَعْطَاکَ شَيْخُکَ ؟

تا ته خپل شيخ او اُستاذ څه درکړه ؟

ده ورته ووېل : مسواک يې راکړو . دې پلار ورنه مسواک واخيست ، او ددې د سپکاوي په خاطر يې دا مسواک په خپله دُبره (يعنی شاته حصه) کې ووهل .

څه لږه موده پس ددې بَدبخته انسان د شاته حصې نه د ماهي په شکل يو څيز راپريوَت (يعنی دده نه پيدا شو) ، هغې څيز دې کس له ټَک ورکړو ، ده هغه اُوژل ، في الحال يا دوه ورځې پس ورپسې دا کس هم وفات شو . الله ﷻ دې مونږ ټول د داسې ذِلت نه اُوساتي . (١)

---

(١) قال النووي رحمه الله في كتاب البستان بعد أن ذكر هذه الحكايات : ومن هذا المعنى ما وجد في زماننا هذا وتواترت به الأخبار وثبت عند القضاة أن رجلًا في قرية من بلاد بصرى في أوائل سنة خمس وستين وستمائة كان سيء الاعتقاد في أهل الخير ، وله ابنٌ يحسن الاعتقاد فيهم ، فجاء ابنه من عند شيخ له صالح ومعه سواک ، فقال له : ما أعطاک شيخک ؟ مستهزئا فقال : هذا السواک ، فأخذ منه وأدخله في دُبره إحتقارًا له ، فبقي مدة ، ثم ولد ذلک الرجل الذي أدخل السواک في دبره جروا قريب الشبه بالسمكة فقتله ومات الرجل في الحال او بعد يومين ، عافانا الله من بلائه . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٢٤٨ كتاب تلاوة القرآن . ٢٤٩ .

همدغه شان واقعه علامه ابن کثیر رحمه الله په خپل کتاب البداية والنهاية کې هم نقل کړې چې په بصره کې یو کس وُ ، ابوسلام نوم یې وُ ، ډیر بې باکه او بې غیرته سړی وُ ، یو کرَت دده د وړاندې د مسواک فضائل او فوائد بیان شو ، نو دهٔ د ډیرې غصې د وجې قسَم وکړو چې زه به دا مسواک په خپله دُبره کې وَهم.

دې بَدبخت چې کله دا کار وکړو نو الله رب العزت دهٔ ته د نبي علیه السلام د یو سُنت عمل یعنې د مسواک د بې حرمتۍ په وجه دا سَزا ورکړه چې تقریبًا نهه میاشتې پس دده په خېټه کې دَرد پیدا شو ، ناڅاپه دده د شا د لارې (یعنې دُبر) نه د مَږې په شان داسې ځنګلي څیز پیدا شو چې څلور یې خپې وې ، یو لویشت او څلور ګوتو په اَندازه یې لکۍ وه ، د ماهي په شان یې سَر وُ ، او مخې ته یې څلور غاښونه راوتي وو .

د پیدا کېدو سره دې ځناور یو څو چغې وکړې ، چې په دې سره ددې کس لور راغله ، او هغې دا ځناور مړ کړو . دې کس وویل چې دې ځناور ماله ټَک راکړو او دَننه په خېټه کې یې زما کولمې شلولې دي ، درې ورځې پس دا کس هم ورپسې مړ شو . ددې واقعې مُشاهده ډیرو خلقو کړې وه : (١)

پس معلومه شوه چې د سُنتو په بې حُرمتۍ الله ﷻ انسان ته سخته سزا ورکوي .

## ٦ . په حدیث کې دشک کوونکي کس اَنجام

ابن منده اصفهاني رحمه الله چې د علمِ حدیث لوي امام دی او بې شمیره کتابونه یې لیکلي دي ، دې وایي چې زه یو ځل شام کې یو مُحدِث ( د احادیثواستاذ ) ته د علم حاصلولو دپاره لاړم ، کله چې هغه ته ورغلم نو ما اولیده چې هغه په خپل مخ باندې یو پَرده اچولې وه ، او احادیث یې بیانول .

ابن منده رحمه الله وایي چې کله ما دا اولیده نو زه حیران شوم چې په دې مخ یې دا پَرده ولې اچولې ده ؟ کله چې هغه د احادیثو دَرس ختم کړو ، او هغه ته پته اولږیده چې ابن منده راغلې دې ، نو زه یې را اوغوښتم ، او راته وې ویل چې اې ابن منده ! تاته پته شته چې ما په دې خپل مخ باندې دا پَرده ولې اچولې ده ؟

(١) البداية والنهاية ج٣ ص٢٠٧ ، فضائل مسواک ص ٥٠ ، مثالي فکر انګیز واقعات و لطائف ص ٧٢ .

ماورته وويل : ماته هيڅ پته نشته . هغه راته وويل : چې يوه ورځ زه د يو مشر استاذ (شيخ الحديث) په درس کې ناست ووم ، هغه د پيغمبر عليه السلام احاديث بيانول ، کله چې هغه دې حديث ته راأورسيده چې نبي عليه السلام فرمايي :

أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنْ رُكُوعٍ أَوْ سُجُودٍ قَبْلَ الإِمَامِ أَنْ يَجْعَلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ أَوْ يَجْعَلَ اللهُ صُورَتَهُ صُورَةَ حِمَارٍ .(١)

کوم کس چې په تاسو کې د اِمام نه مخکې سَر رااوچتوي نو آيا هغه د الله ﷻ نه نه ويريږي چې الله ﷻ دده سَر د خره اوګرځوي ، يا دده صورت په شان د صورت د خره اوګرځوي ؟

دې محدِث وويل : چې کله ما دا حديث واوريد ، نو زما په زړه کې شک پيدا شو : چې دا څنګه کيدې شي چې د يو انسان سَر د خره اوګرځي ؟

نو چې د شپې اوده شوم ، او سَهر راپاڅيدم نو زما سَر د خره ګرځيدلې و .

د هغې نه روستو ما هيچاته خپل سَر نه دې ښکاره کړې ، اګر چې طالبانو ته احاديث بيانوم خو هر وخت مې په خپل سَر باندې پَرده اچولې وي .

خو اې ابن منده ! ته راته لوي عالِم معلوميږې ، زه تاته قَسَم درکوم چې تر څو پورې زه ژوندې يم ته به هيچاته دا حال نه وائې ، او چې کله زه وفات شم نو بيا خلقو ته دا ووايه چې : خبردار ! د احاديثو اَوريدو په وخت په ډير اَدب کينئ ، او په احاديثو کې هيڅ قِسمه شک و شُبه مه کوئ (ګني الله ﷻ به ډيره سخته سزا درکړي) .

ابن منده وايي چې ما ورسره دا ګلکه وعده وکړه چې ستا تر ژوند پورې به هيچاته دا حال نه وايم ، نو هغه د خپل مخ نه پرده لرې کړه ، ما اوليده چې لاندې بدن يې د انسان وُ ، او سَر يې د خره وُ .(٢)

(١) اخرجه البخاري في الاذان باب ٥٣ ، ومسلم في الصلاة حديث ١١٥ ، ١١٦ ، ١١٩ ، وابوداود في الصلاة باب ٧٥ ، والترمذي في الجمعة باب ٥٦ ، والنسائي في الامامة باب ٣٨ ، وابن ماجه في الامامة باب ٤١ . الترغيب والترهيب ج١ ص ١٩٧ الترهيب من رفع المأموم رأسه قبل الامام في الركوع والسجود .

(٢) عبرت الكنز والعات ص ١٢٠ .

فايده : قدرمنو ! تاسو واوريده چې د پيغمبر ﷺ په يو حديث کې يې شک او کړو نو الله رب العزت ورته په دُنيا کې د عبرت د پاره سزا ورکړه .

## د قرآن کريم مقام

محترمو مسلمانانو ! قرآن کريم داسې رېښتينې او کامل کتاب دی چې دا د دين أصل دی ، ځکه ددې په اِشاعت باندې د اِسلام دين موقوف دی ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم ددې په باره کې فرمايي :

إِنَّ أَصْدَقَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللهِ . (١)

بېشکه ډېره رېښتينې خبره د الله ﷻ کتاب دی .

الله رب العزت په خپله د قرآن مجيد د مقام په باره کې فرمايي :

﴿ لَوْ أَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللهِ ﴾ . (٢)

ترجمه : که چيرته مونږ دا قرآن کريم په يو غَر باندې نازل کړې وی نو تا به خامخا دا غر ليدلې وُ چې د الله ﷻ د ډَرې د وجې به عاجزي کوونکې ، او ټوټې ټوټې شوې وُ .

يعنی که چيرته قرآن کريم د غرونو په شان په سختو او درَنو څيزونو باندې نازل کړې شوې وی ، او دوی ته د انسان په شان پوهه او شعور ورکړې شوې وی نو دا غرونه به هم د قرآن کريم د لوئي د وجې ذره ذره شوي وو . (٣)

الله تعالى په خپله قرآن کريم ته " هُدًى لِلنَّاسِ " ويلی ، چې دا هدايت دې د خلقو د پاره . (٤)

---

(١) سنن النسائي رقم الحديث ١٥٧٨ كيف الخطبة ، صحيح ابن خزيمه ١٧٨٥ باب صفة خطبة النبي صلى الله عليه وسلم ، كنز العمال رقم الحديث ٩٦٣ .

(٢) سورة الحشر آية ٢١ .

(٣) تفسير مظهري ، معارف القرآن الحشر آيت ٢١ .

(٤) شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ .... البقرة آيت ١٨٥ .

دا هغه عظيم کتاب دی چې د حضرت جبريل عليه السلام په واسطې سره په سيّدُ الاوّلين والآخرين محمّدُ رّسولُ اللهُ صَلی الله عليه وسلم باندې نازل شوی.

دا داسې مُقدّس کتاب دی چې د بې اَودسه کس د پاره ددې مَسه کول هم ممنوع دي، الله تعالی فرمايي:

﴿ لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴾. (۱)

ترجمه: لاس به نه وَروړي ديته مگر صرف پاک خلق.

ددې مُتعلمينو او مُعلمينو ته د اُمت بهترين خلق ويل شوي، نبي عليه السلام فرمايي:

خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ. (۲)

په تاسو کې ډير بهترين ( او اَفضل ) کس هغه دی چې هغه قرآن کريم زده کړو او بيا يې بل ته اُوخوده.

او الله ﷻ عزت او ذلت دواړه په دې کتاب باندې موقوف کړی. (۳)

که څوک ددې په احکاماتو باندې عمل کوي نو په دُنيا او آخرت دواړو کې به عزت مند او کامياب وي، او څوک چې پرې عمل نه کوي نو په دواړو جهانو کې به ذليله وي.

همدغه رنگې قرآن کريم به د انسان د پاره په ژوندون او قبر کې هم په کار راځي، او په قيامت کې به دده د پاره شفاعت کوي.

## دُعا

الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې هم د قرآن کريم تعظيم پيدا کړي، ربِ کريم دې مونږ ټولو ته د قرآن کريم د زده کولو، په دې د پوهيدلو، ددې د تلاوت کولو او ددې د نَشرولو

---

(۱) سورة الواقعة آية ۷۹.

(۲) رواه البخاري كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابٌ: خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ رقم الحديث ۵۰۲۷، و ابوداؤد بَابٌ فِي ثَوَابِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ۱۴۵۲، والترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْلِيمِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ۲۹۰۷، واحمد ۵۸/۱، ۶۹.

(۳) نبي عليه السلام فرمايي: إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ. رواه مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها بَابُ فَضْلِ مَنْ يَقُومُ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ... ۲۶۹ ( ۸۱۷ )، ابن ماجه بابُ فضلِ مَن تعلّم القرآن وعلّمه حديث ۲۱۸ السنن الكبرى للبيهقي بابُ إمامة الموالي ۵۱۲۵.

توفيق راکړي ، او ربِ ذُوالجلال دې مونږ ته د ژوند په هره مرحله کې ددې په تعليماتو باندې د عمل کولو توفيق رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن

**نوټ** : د قرآن کريم د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائل ددې کتاب په آخر کې د صفحه ۲۷۲ نه تر صفحه ۳۳۴ پورې تقريبًا اُووه اَويا (۷۷) مسائل ذکر دي، مقررين حضرات دې ددې نه د ځان د پاره اِنتخاب وکړي ، او د وخت او موقع مناسب دې بيان کړي .

ابوالشمس عفي عنه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د قرآن کریم موضوع متعلق نور معتمَد واقعات:

( **نوټ** : د قرآن کریم موضوع متعلق درته یو څو نور معتمد واقعات نقل کوم ، که موقع وه نو مقرّرین حضرات د دې نه هم اِستفاده کولې شي . إبوالشمس عفي عنه ) .

## د یوې ښځې د قرآن کریم سره شوق :

## ( چې هره خبره یې د آیت په ویلو سره کوله )

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمایي چې زه یو ځل حج ته لاړم ، د حج نه واپس راتلم ، په لاره کې مې د عربو یوه بوډۍ ښځه اُولیده چې د ورَیٖ قمیص یې اغوستې وُ ، د یوې اُونې سره خفه ناسته وه ، د خپلې قافلې نه پاتې شوې وه ، ما د هغې نه پوښتنه وکړه ، هغې به د هرې خبرې جواب د قرآن مجید آیت په ویلو سره راکولو .

(( **نوټ** : د هغې دواړو په مینځ کې مکالمه ستاسو د وړاندې رانقل کوم ، د فائدې په خاطر ورسره د آیتونو ترجَمه هم د قوسونو په مینځ کې لیکم ، د دې د پاره چې د آیت نه په مطلب اخیستلو کې آساني پیدا شي . ابوالشمس عفي عنه )) .

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمایي : ما په هغې سلام واچول ، هغې راته په جواب کې وویل :

﴿ سَلَامٌ قَوۡلًا مِّنۡ رَّبٍّ رَّحِيۡمٍ ﴾ . (۱)

( ترجمه : د مهربان رب د طرفه به په دوی سلام ویلې شي ) .

عبدالله ابن مبارک رحمه الله فرمایي : دې بوډۍ زَنانه ماته د سلام جواب د قرآن مجید آیت په ویلو سره راکړو .

ما ورنه پوښتنه وکړه : چیرته راغلې وې ؟ هغې جواب راکړو :

---

(۱) سورة یس آیة ۵۸ .

﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ﴾ .(١)

( ترجمه : او تاسو پوره کړئ حج او عُمره د الله ﷻ د رَضا د پاره ) .

زه پوهه شوم چې د حج کولو د پاره راغلې ده .

ما ورته وويل : دلته څه کوې ؟ هغې راته وويل :

﴿مَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ﴾ . (٢)

( ترجمه : څوک چې الله گمراه کړي نو ده ته بل هيڅ څوک هدايت کوونکي نشته ) .

زه پوهه شوم چې لار ورنه ورکه شوې ده . ما ورته وويل : اوس چيرته ځې ؟ هغې وويل

﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى﴾ . (٣)

( ترجمه : پاکي ده هغه ذات لره چا چې بوتلو خپل بنده ( محمد ﷺ ) د مسجدِ حرام نه مسجدِ اقصىٰ ته ) .

زه پوهه شوم چې حج يې اداء کړې دى ، اوس بيتُ المقدس طرف ته ځي . ما ورنه پوښتنه وکړه : دلته د څو ورځو نه ناسته يې ؟ هغې وويل :

﴿ثَلَاثَ لَيَالٍ سَوِيًّا﴾ . (٤)

(ترجمه : درې شپې مُسلسل ./ يا : درې شپې صحيح سالِم)

ما ورته وويل : دلته خو د خوراک څه نشته نو ته څه شى خورې ؟ هغې وويل :

﴿.. هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ﴾ . (٥)

( ترجمه : هغه (رب) ماته خوراک او څکاک راکوي ) .

مقصد يې دا وُ چې الله ﷻ ماته په يو څه نا څه طريقه رِزق رارسوي .

---

(١) سورة البقرة آية ١٩٦ .

(٢) سورة الاعراف آية ١٨٦ .

(٣) سورة الاسراء (بني اسرائيل) آية ١

(٤) سورة المريم آية ١٠ .

(٥) سورة الشعراء آية ٧٩ .

ما ورنه پوښتنه وکړه: آودس په څه شي کوی؟ (ځکه دلته خو اُوبه نشته)، هغې راته وويل:

﴿... فَلَمْ تَجِدُوا مَآءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا﴾. (١)

(ترجمه: ... پس که تاسو اُوبه نه مومی، نو د پاکې خاورې قصد وکړئ. يعنی په پاکه خاوره باندې تيمّم اُووهئ).

زه پوهه شوم چې په خاوره تيمّم کوي.

ما ورته وويل: د ماسره د خوراک څه شيان دي دا اُوخوره، هغې وويل:

﴿ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ﴾. (٢)

(ترجمه: بيا پوره کړئ روژه تر شپې پورې).

زه پوهه شوم چې روژه يې ده. ما ورته وويل: دا خو د رمضان مياشت نده نو تا څنګه روژه نيولې ده؟ هغې وويل:

﴿وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ﴾. (٣)

(ترجمه: او څوک چې په خوشحالۍ سره نيکي وکړي نو بيشکه الله ﷻ ډير قدَردان پوهه دی).

زه پوهه شوم چې نفلي روژه يې نيولې ده. ما ورته وويل: په سفر کې خو دروژې ماتولو اِجازت شته. نو هغې راته وويل:

﴿وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾. (۴)

(ترجمه: او چې روژه اُوساتئ نو دا ستاسو د پاره غوره ده که چيرته تاسو پوهيږئ).

ما ورته وويل: ته زما په شان عامې خبرې ولې نه کوی؟ (چې هره خبره د قرآن مجيد په آيت ويلو سره کوی؟)، هغې وويل:

(١) سورة النساء آية ۴٣

(٢) سورة البقرة آية ١٨٧.

(٣) سورة البقرة آية ١٥٨.

(۴) سورة البقرة آية ١٨۴.

﴿ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾. (۱)

(ترجمه: د انسان د خُلې نه چې څه خبره اوځي نو دده سره يوه ساتونکې فرښته "د ليکلو د پاره" تياره ناسته وي).

مقصد يې دا ؤ چې فرښتې د انسان هره خبره ليکي نو ځکه د احتياط د وجې عامې خبرې نه کوم، بلکه هره خبره په آيت ويلو سره کوم.

ما ورنه پوښتنه وکړه: ته د کومې قبيلې يې؟ هغې وويل:

﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴾. (۲)

(ترجمه: او د کوم څيز چې تا ته عِلم نشته د هغې پسې مه ځه، بيشکه غوږ، سترګه او زړه ددې ټولو څيزونو به د هر چا نه تپوس کولې شي).

مقصد يې دا ؤ چې د کومې خبرې د تاسره څه و اسطه نشته د هغې په تپوس کولو سره خپل وخت مه ضائع کوه، او دداسې خبرو تپوسونه مه کوه.

ما ورته وويل: ما معاف کړه، د ما نه غلطي اوشوه چې بې فائدې پوښتنه مې وکړه، هغې وويل:

﴿ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ﴾. (۳)

(ترجمه: په تاسو باندې نن ورځ هيڅ اِلزام نشته، الله تعالى دې تاسو معاف کړي).

ما ورته وويل: زما په اُوښه باندې کينى چې خپلې قافلې ته دې وَر اُورسوم؟ هغې راته وويل:

﴿ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ﴾. (۴)

(ترجمه: او تاسو چې د نيکۍ کوم کار کوئ په هغې باندې الله پوهه دى).

مقصد يې دا ؤ چې که تاسو د ما سره اِحسان کوئ نو الله ﷻ به ددې اَجر درله درکړي.

---

(۱) سورة ق آية ۱۸.

(۲) سورة الاسراء (بني اسرائيل) آية ۳۶.

(۳) سورة يوسف آية ۹۲.

(۴) سورة البقرة آية ۱۹۷.

ما خپله اُوښه کینوله ، او دې ته مې وويل : په دې اُوښه باندې کینه ، هغې د سوَریدلو نه مخکې وویل :

﴿ قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ ﴾ . (۱)

( ترجمه : ته مؤمنانو سړو ته ووایه چې دوی خپلې سترګې ښکته ساتي ) .

هغې ماته دا ویل غوښتل چې ته خپل نظر ښکته کړه نو زه به په اُوښ سوره شم ، ما خپل نظر ښکته کړو ، او یو طرف ته اُودریدم . کله چې هغه په اُوښه باندې کیناسته نو اُوښې وَراني اُوکړو ، مَنډه یې کړه ، او ددې جامې یې اُوشلولې . نو دې وویل :

﴿ وَمَآ أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ ﴾ . (۲)

( ترجمه : او تاسو ته چې کوم مصیبت دَر رسي نو دا د خپلو لاسونو د عمل په وجه دَررسي .

مقصد یې دا وُ چې دلته څه مشکل شته نو ځکه دې اُوښې مَنډه کړه .

عبدالله بن مبارک رحمة الله فرمايي : چې ما ددې اُوښې خپې اُوتړلې ، او د کجاوې تَسمه مې صحیح کړه ، بیا مې دیته وویل : اُوس په اُوښه سوَره شه ، هغې چې زما دا مهارت او قابلیت اُوکته چې اُوښې له مې خپې اُوتړلې نو وې ویل :

﴿ فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ ﴾ . (۳)

(ترجمه : پس مونږ ددې فیصلې پوهه سلیمان ( عليه السلام ) ته ورکړه ).

د سوریدو نه مخکې دې د سفر دُعا وویله :

﴿ سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ . وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴾ . (۴)

( ترجمه : پاکې ده هغه ذات لره چا چې مونږ له دا " غټ غټ حیوانات او څیزونه " تابع کړي دي ، او مونږ خو نه یو دې لره " په خپل هِمت سره " تابع کوونکي ) .

---

(۱) سورة النور آية ۳۰ .

(۲) سورة الشورى آية ۳۰ .

(۳) سورة الانبياء آية ۷۹ .

(۴) سورة الزخرف آية ۱۳ .

ما د اوښې پرې اونيوه ، تېز تېز تلم ، او په اوښه باندې مې تېز تېز آوازونه هم کول ، نو هغې راته وويل :

﴿وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ﴾ . (١)

(ترجمه : او ميانه رَوي کوه په خپل تَګ کې ، او ښکته کړه خپل آواز ) .

زه پُوهه شوم ، نو په قلاره تللم ، او څه اَشعار مې هم د ځان سره ويل ، دې راته وويل :

﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ . (٢)

(ترجمه : پس لولئ هغه څه چې آسان وي له قرآن نه ) .

مقصد يې دا وُ چې د اَشعارو په ځای باندې د قرآن مجيد تلاوت کوه . نو ما د قرآن مجيد تلاوت کول شروع کړه ، دې چې دا واوريده نو خوشحاله شوه ، او وې ويل :

﴿وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُوا الْأَلْبَابِ﴾ . (٣)

(ترجمه : او نصيحت نه قبلوي مګر خاوندان د عقل ) .

د څه تلاوت کولو نه روستو ما ددې نه پوښتنه وکړه : آيا ستا خاوند ژوندې دی ؟ دې وويل

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ . (٤)

( ترجمه : اې د ايمان خاوندانو ! تاسو دداسې شيانو په باره کې تپوس مه کوئ که چيرته هغه تاسو ته ښکاره شي نو تاسو به غَمژن کړي ) .

زه پوهه شوم چې خاوَند يې وفات شوې دی ، بيا زه چَپ روان ووم ، ددې نه مې څه تپوسونه نه کول ، آخِر دا چې قافلې ته وَر اورسيدم ، ما دې ته وويل چې دا قافله رااورسيده په دې کې ستا څوک رِشته دار وغيره شته ؟ دې راته وويل :

﴿الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ . (٥)

(١) سورة لقمان آية ١٩ .

(٢) سورة المزمل آية ٢٠ .

(٣) سورة البقرة آية ٢٦٩ .

(٤) سورة المائده آية ١٠١ .

(٥) سورة الكهف آية ٤٦ .

( ترجمه ، مال او زامن د دُنيا د ژوَند ښائست دي ) .

مقصد يې دا دُ چې په دې قافله کې زما زامن دي ، او مال و دَولت هم ورسره شته .

ما ورته وويل : دوی ته په قافله کې کوم کار حواله دی ؟ ( چې په آسانۍ سره يې اُوپېژنم ) ، هغې راته وويل :

﴿ وَعَلَامَاتٍ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴾ . (١)

( ترجمه : او څه نورې نخښې هم دي " چې د هغې په ذريعه دا خلق لار بيامومي " او په ستورو سره هم دوی لار بيامومي ) .

زه پوهه شوم چې ددې ځامن د قافلې رَهبران او راهنمايان دي . ما ورته وويل د دوی څه نومونه دي ؟ دې راته وويل :

﴿ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا ﴾ . (٢)

﴿ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوسٰى تَكْلِيمًا ﴾ . (٣)

﴿ يَا يَحْيٰى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ ﴾ . (٤)

( ترجمه : او الله جوړ کړو ابراهيم عليه السلام لره " خپل " مُخلِص دوست .

او الله ﷻ حضرت موسى عليه السلام سره خبرې کړې وی په خبرو کولو سره .

اې يحيٰی اُونيسه دا کتاب په قوت سره ) .

زه پوهه شوم چې ددې د زامنو نومونه ابراهيم ، موسى او يحيٰی دی . ما په تېزه باندې درې واړو ته آوازونه وکړه : يا ابراهيم . يا موسٰى . يا يحيٰى ! نو فورًا درې ځوانان رااُووته کله چې مونږ کيناستو نو دې ښځې خپلو بچو ته وويل :

﴿ فَابْعَثُوا أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هٰذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ فَلْيَنظُرْ أَيُّهَا أَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ ﴾ . (٥)

---

(١) سورة النحل آية ١٦ .

(٢) سورة النساء آية ١٢٥ .

(٣) سورة النساء آية ١٦٤ .

(٤) سورة مريم آية ١٢ .

(٥) سورة الكهف آية ١٩ .

( ترجمه : پس تاسو يو كس په دې خپلو روپو سره ښار طرف ته اُوليږئ ، هغه دې اُوګوري چې كوم خوراك ښه پاكيزه دی نو هغه دې تاسو ته د هغې نه رِزق راوړي ) .

مقصد يې دا وُ چې يو كس لاړ شئ او ده له بهترين خوراك واخلئ ، او دلته يې راوړئ .

دا يې چې واوريدل نو يو كس لاړ ، څه خوراك يې واخيست ، رايې وړو ، او زما مخې ته يې كيښود ، بيا دې بوډۍ ښځې ماته وويل :

﴿ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴾ . (١)

( ترجمه : تاسو ښه په خوَند " او مزو سره " خورئ او څكئ ، په سبب د هغه اعمالو سره چې تاسو په تيرو شوو ورځو كې كړي دي ) .

بيا دې ښځې بل آيت هم وويل :

﴿ هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴾ . (٢)

( ترجمه : د اِحسان بَدله صرف اِحسان دی ) .

مقصد يې دا وُ چې زه ستا د حُسنِ سلوك شكريه اداء كوم .

عبدالله بن مبارك رحمه الله فرمايي چې ما ددې بوډۍ دې زامنو ته وويل : ستاسو خوراك په ما باندې تر هغه وخته پورې حرام دی تر څو پورې چې تاسو ماته ددې بُوډۍ حالت بيان نه كړئ .

دوی راته وويل : دا زمونږ مور ده ، او د څلويښت ( ۴۰ ) كالو نه را په ديخوا ددې همدا حالت دی چې هره خبره او هر جواب د قرآن كريم آيت په ويلو سره كوي ، په دې څلويښت كاله كې دې تر اُوسه په خُوله باندې بله خبره نده راويستی .

او دې په ځان باندې دا پابندي ځكه لږولې ده چې چيرته مې د خولې نه داسې خبره او نه اُوځي چې د الله ﷻ د ناراضتيا سبب اوګرځي .

ما وويل : ﴿ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ . (٣)

(١) سورة الحاقة آية ٢٤ .

(٢) سورة الرحمن آية ٦٠ .

(٣) سورة المائدة آية ٥٤ .

دا د الله ﷻ فضل دى چا ته يې چې اوغواړي هغه ته يې وركوي ، او الله تعالى خاوند د فراخې او پوهه دى . (١)

## د حضرت خنساء رضي الله عنها په عربى ژبه كې مهارت

تاسو ته د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د زماني د يوې زَنانه واقعه ذكر كوم چې د يو مشهور شاعرِ په شعر اَوريدو يې مُتّصل په هغې كې ديرې غلطيانې رااُوويستلى .

نو چې كله يوه زَنانه په عربى ژبه كې دومره مهارت لرل ، نو اوس تاسو اَندازه اُولږوئ چې د هغه وخت مشهور فصيح و بليغ شاعرانو به په عربى ژبه كې څومره مهارت لرل ؟

خو ليكن ددې دومره مهارَت باوجود كله چې قرآن كريم بار بار دوى ته درويشت (٢٣) كاله د مقابَلې چيلنج وركولو نو كه قرآن كريم (نعوذُ بالله) د الله ﷻ كلام نه وى نو بيا به خامخا دوى په دې كې غلطيانې راويستې وى ، او ددې مقابله به يې كړې وى ، بيا دوى څه له په دې مجبوره كيده چې تورې ته يې لاس كړو ؟

دا خو ښكاره خبره ده چې دوى د قرآن كريم مقابله نشوه كولى ، ځكه چې دا د الله ﷻ كلام دى ، او لكه څرنګې چې د الله ﷻ د افعالو مقابله څوک نشي كولى نو د الله ﷻ د كلام مقابله به څنګه اوكړي ؟

دا د هغه وخت واقعه ده چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته تر اوسه پورې نبوّت نه وُ وركړې شوى .

واقعه داسې وه چې يو ځل د عُكاظ په بازار كې د عربو مشهور ، فصيح و بليغ شاعران او خطيبان راجَمع وو ( په دې كې به شاعرانو په اَشعارو كې د خپل ځان او خپل قوم صفتونه كول ) ، حضرت حسان ﷺ په خپله مَدحه كې دا دوه شعرونه اُولوست :

١. لَنَا الْجَفَنَاتُ الْغُرُّ يَلْمَعْنَ فِي الضُّحٰى • وَأَسْيَافُنَا يَقْطُرْنَ مِنْ نَجْدَةٍ دَمَا

٢. وَلَدْنَا بَنِي الْعَنْقَاءِ وَابْنَيْ مُحَرِّقٍ • فَأَكْرِمْ بِنَا خَالًا وَأَكْرِمْ بِنَا اِبْنَمَا

---

(١) ديني دسترخوان ج٢ ، يادګار واقعات ج٣ ص ٢٧٦ .

په دې اوله مصرع کې حضرت حسان ﷺ د خپل قوم سخاوت بيان کړی چې د مونږ سره داسې غټ غټ ديګونه دي چې د هغې تَندي رُوښانه دي ، او د څاښت په وخت کې دا پړقيږي
په دې دويمه مِصرع کې حضرت حسان رضي الله عنه د خپل قوم شجاعت بيان کړی .

کله چې حضرت حسان ﷺ دا دوه اَشعار وويل نو په دې مجلس کې د عربو يوه شاعره زَنانه " حضرت خنساء " هم وه ( دې بيا روستو اِيمان راوړې وُ ) ، دې چې کله د حضرت حسان ﷺ دا دوه شِعرونه واوريده نو مُتّصل پاڅيده ، او وې ويل :
اې حسان ! ستا په دې دواړو شِعرونو کې اَته ( ۸ ) غلطيانې دي ، آيا تا له شَرم نه درځي چې په دې دومره غټه مَجمع کې د غلطيو نه ډک اَشعار وايې ؟

حضرت حسان ﷺ حيران شو ، او ورته وې ويل : آيا زما په دوه شِعرونو کې اَته غلطيانې دي ؟ ته يې راته اُوښايه چې کوم کوم ځای دي .

حضرت خنساء رضي الله عنها ورته فی البديه بغير د څه سوچ کولو نه د اول شِعر په اوله مِصرع کې څلور غلطيانې رااُوويستې ، او په دويمه مِصرع کې يې ورته درې غلطيانې رااُوويستې ، او په دويم شِعر کې يې ورته داسې غلطي رااُوويسته چې په دې سره يې د غونډ شعر مفهوم ورله باطل کړو .

حضرت خنساء ورته وويل : ستا د اول شِعر په اوله مِصرع کې څلور غلطيانې دا دي :

اوله غلطي دا ده چې تا د " جَفَنَات " لفظ استعمال کړی ، دا د جَمع قِلت صيغه ده ، چې د لسو ( ۱۰ ) ديګونو نه په کمو دلالت کوي ، که چيرته تا ددې په ځای باندې د " جِفَان " لفظ اِستعمال کړې وی نو دا به صحيح وُ ځکه " جِفَان " د جَمعِ کثرت صيغه ده چې د لسو نه په زياتو ديګونو دلالت کوي ، نو په دې سره به ستا سخاوت پوره واضحه شوې وُ .

دويمه غلطي دا ده چې تا د " الغُرُّ " لفظ اِستعمال کړی ، ددې معنی ده " هغه سپين والې چې په تَندي باندې موجود وي " ، که چيرته تا ددې په ځای باندې د " بيض " لفظ اِستعمال کړې وی نو په دې کې وُسعت او فراخي زياته وه ، ځکه بيا به يې صرف د تَندي په سپين والي دلالت نه کولی بلکه د ټول مَخ په سپين والي به يې دلالت کولی .

دریمه غلطي داده چې تا د " يَلْمَعْنَ " لفظ استعمال کړی ، " لمع " هغه ځمک ته وایي چې د لږ وخت د پاره وي او یا غائب شي ، یا ظاهر شي او یا پټ شي .

که چیرته تا ددې په ځای باندې د " يَشْرِقْنَ " لفظ استعمال کړې وی نو په دې کې په مبالغه زياته وه ، ځکه اِشراق هغه ځمک ته وایي چې همیشه بَرقرار وي .

څلورمه غلطي داده چې تا ته د " ضُحٰی " لفظ اِستعمال کړی چې دا دڅاښت وخت ته وايي ، او د څاښت په وخت کې میلمانه ډیر کم وي . که چیرته تا ددې په ځای باندې د " عشية " لفظ استعمال کړې وی نو په دې سره به په سخاوت کې مبالغه راغلې وی ، ځکه د شپې میلمانه ډیر راځي ، خوراک هم وکړي او یا شپه هم اوکړي ، نو په دې سره به ستا سخاوت ښه واضح شوې وُ .

حضرت خنساء رضي الله عنها وویل : دا خو ستا په اوله مِصرع کې څلور غلطیانې شوی اوس ستا په دویمه مِصرع کې درې (٣) غلطیانې دي :

اوله غلطي دا چې تا د " أَسْيَافُنَا " لفظ استعمال کړی چې دا د جَمع قِلت صیغه ده د لسو (١٠) نه په کمو تورو باندې دلالت کوي ، که چیرته تا ددې په ځای د " سُيُوْفُنَا " لفظ استعمال کړې وی نو په دې کې به مُبالغه زياته وه ، ځکه " سُيُوْف " جَمع کثرَت ده د لسو نه په زیاتو تُورو باندې دلالت کوي .

دویمه غلطي داده چې تا د " يَقْطُرْنَ " لفظ استعمال کړی ، ددې معنی داده چې " زمونږ د تُورو نه یو یو څاڅکې وینه تویږي " . که چیرته تا ددې په ځای باندې د " يَجْرِيْنَ " لفظ استعمال کړې وی نو دې به په شجاعت باندې ښه دلالت کولی ، ځکه په دې کې د خُونریزۍ ډیر والې معلومیږي .

دریمه غلطي داده چې تا د " دَمٌ " لفظ اِستعمال کړی ، دا د مفرد صیغه ده ، وینې ته وایي ، که چیرته تا ددې په ځای باندې د جَمع صیغه " دِمَاء " استعمال کړې وی نو دې

به ستا په شجاعت کې نوره هم اِضافه کړې وی ، ځکه دې به د ځونريزی په دير والي دلالت کړې وی .

حضرت خنساء رضي الله عنها ورته وويل : ستا د آخِري شعر غوند مفهوم او مُراد باطل دی ، ځکه تا په خپلو ځامنو باندې فخر کړی ، حالانکه تاته په کار وو چې تا د خپلو والدينو ځوبيانې بيان کړې وی ، او په دوی باندې تا فخر کړې وی ، ځکه دوی د فخر مُستحقِين دي، وجه داده چې دوی ته زيږولې يې ، او ستا تربيت يې کړی .

فائده : بهر حال کله چې يو صَحرا نشينې زَنانه دومره مهارت لرل چې د مشهور شاعر په دوه اشعارو کې يې مُتّصل آته غلطيانې رااوويستی ، نو تاسو سوچ وکړئ چې دې نورو فصيح و بليغ شاعرانو به څومره مهارت لرل .

حالانکه ددې دومره مهارت باوجود بيا هم دوی په قرآن مجيد کې يوه غلطي هم را اُو نه ويسته ، او نه يې ددې مقابله اوکړې شوه .

معلومه شوه چې قرآن کريم د الله تعالى کلام دی ، او ددې مقابله هيڅوک نشي کولی . (١)

(١) قرآن کريم ايک عظيم معجزه ص ٢١ .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د قرآن کریم د مختلفو موضوعاتو متعلق یو څو ضروري فقهي مسائل :

**نوټ** د قرآن کریم د مختلفو موضوعاتو متعلق درته یو څو ضروري فِقهي مسائل ذکر کوم ، مُقرِرین حضرات د وخت او مُوقع مناسب ددې مسائلو نه هم د ځان د پاره اِنتخاب کولې شي ، چې د تقریر په دَوران یا آخر کې یې بیان کړي .

نفسِ مسئله مې په پښتو ژبه کې لیکلی ، خو ورسره مې د اهلِ عِلمو د فائدې د پاره د معتمدو فتاؤ نه د عربي عبارات هم رانقل کړی .

البته د کتاب د اُوږد والي نه د بچ کیدو په خاطر مې د عربي ترجمه نده لیکلی .

دا مسائل چونکه د مخکیني پنځه واړه موضوعاتو سره تعلق لري ، نو ځکه مې تفصیلي بیان کړي .

ابوالشمس عفي عنه

# د قرآن کریم زړې یا شلیدلې پاڼې ښخول یا په دریاب کې اچول په کار دي

کله چې د قرآن کریم پاڼې ضعیفې شي، او یا اوشلیږي او په دې کې تلاوت کول ممکن نه وي نو دا به د مسلمان مړي غوندې په احترام سره په یوه کپړه کې تاؤ کړې شي، بیا به په داسې ځای کې دفن کړې شي چې خلق د پاسه پرې نه ګرځي.

او یا به په یو بورۍ کې واچولې شي، او یو دروند کاڼړې به هم په دې بورۍ کې کیږدي، بیا به یې په دریاب کې واچوي.

اَلْمُصْحَفُ إِذَا صَارَ بِحَالٍ لَا يُقْرَأُ فِيهِ يُدْفَنُ كَالْمُسْلِمِ. قال ابن عابدين تحت قوله: (يُدْفَنُ) أَيْ يُجْعَلُ فِي خِرْقَةٍ طَاهِرَةٍ وَيُدْفَنُ فِي مَحَلٍّ غَيْرِ مُمْتَهَنٍ لَا يُوطَأُ. (۱)

وفي الهندية: اَلْمُصْحَفُ إِذَا صَارَ خَلَقًا لَا يُقْرَأُ مِنْهُ وَيُخَافُ أَنْ يَضِيعَ. يُجْعَلُ فِي خِرْقَةٍ طَاهِرَةٍ وَيُدْفَنُ، وَدَفْنُهُ أَوْلَى مِنْ وَضْعِهِ مَوْضِعًا يُخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ النَّجَاسَةُ أَوْ نَحْوُ ذٰلِكَ. (۲)

# د قرآن کریم ضعیفې پاڼې سوزول ناجائز او بې ادبي ده

د قرآن کریم زړې پاڼې به یا دفن کولې شي، او یا به په دریاب کې اچولې شي سوزول یې ناجائز دي.

حضرت عثمان رضي الله عنه چې د قرآن کریم زړې پاڼې سوزولې وې نو محدثین د دې مختلف جوابات کوي:

قاضي عیاض رحمه الله فرمایي چې حضرت عثمان ﷺ اول دا پاڼې په اوبو وینځلې وې، او بیا یې خالي پاڼې سوزولې وې، ګویا هغه قرآن مجید نه دې سوزولی بلکه هغه صفا پاڼې یې سوزولې وې.

(۱) رد المحتار ج۱ ص ۱۷۷ كتاب الطهارة قبيل باب المياه في ابحاث الغسل. فتاوى حقانيه ج۲ ص ۱۶۵.

(۲) الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۲۳ كتاب الكراهية الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة والمصحف.. فتاوى حقانيه ج۲ ص ۱۶۶، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۵ ص ۴۴۳، فتاوى محموديه ج۷ ص ۱۳۴، ۱۳۶.

وَفِي الذَّخِيْرَةِ : اَلْمُصْحَفُ إِذَا صَارَ خَلَقًا وَتَعَذَّرَ الْقِرَاءَةُ مِنْهُ لَا يُحْرَقُ بِالنَّارِ إِلَيْهِ أَشَارَ مُحَمَّدٌ وَبِهِ نَأْخُذُ. (١)

وفى الهندية : اَلْمُصْحَفُ إِذَا صَارَ خَلَقًا وَتَعَذَّرَتِ الْقِرَاءَةُ مِنْهُ لَا يُحْرَقُ بِالنَّارِ. أَشَارَ الشَّيْبَانِيُّ (اى محمد) إِلَى هٰذَا فِي السِّيَرِ الْكَبِيْرِ، وَبِهِ نَأْخُذُ. (٢)

## د عربي مَتَن نه بغير د ټول قرآن كريم ترجمه شائع كول ناجائز ده

په دې باندې د ټول اُمت اِجماع ده چې د عربي مَتَن نه بغير د ټول قرآن مجيد يا د اكثره حصې ترجمه شائع كول ناجائز او حرام ده ( بلكه د ترجمې سره سره د قرآن كريم عربي مَتَن يعنى آيتونه ليكل هم ضروري دي ).

البته د يو يا دوه آيتونو ترجمه بغير د عربي مَتَن نه شائع كول خېر دى.

قال الشيخ ابن الهمام رحمه الله : إِنِ اعْتَادَ الْقِرَاءَةَ بِالْفَارِسِيَّةِ أَوْ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ مُصْحَفًا بِهَا يُمْنَعُ، وَإِنْ فَعَلَ فِي آيَةٍ أَوْ آيَتَيْنِ لَا. فَإِنْ كَتَبَ الْقُرْآنَ وَتَفْسِيْرَ كُلِّ حَرْفٍ وَتَرْجَمَتَهُ جَازَ. (٣)

---

(١) رد المحتار ج٦ ص ٤٢٢ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع.

(٢) الفتاوى الهندية ج٥ ص ٣٢٣ كتاب الكراهية الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة والمصحف. فتاوى حقانيه ج٢ ص ١٦٤، و ص ١١٥.

د حضرت عثمان رضي الله عنه د قرآن كريم صفا پاڼړو سوزولو واقعه په بخاري شريف او نورو كتابونو كې ذكر ده، او علماءد معنې مختلف جوابات كوي: وَأَمَرَ بِمَا سِوَاهُ مِنَ الْقُرْآنِ فِي كُلِّ صَحِيْفَةٍ أَوْ مُصْحَفٍ أَنْ يُحْرَقَ. صحيح البخاري رقم الحديث ٤٩٨٧ بَابُ جَمْعِ الْقُرْآنِ.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: فِي رِوَايَةِ الْأَكْثَرِ أَنْ يُخْرَقَ بِالْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ. وَلِلْمَرْوَزِيِّ بِالْمُهْمَلَةِ. وَ رَوَاهُ الْأَصِيْلِيُّ بِالْوَجْهَيْنِ وَالْمُعْجَمَةُ أَثْبَتُ ..... وَفِي رِوَايَةِ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ لَا تَقُولُوا لِعُثْمَانَ فِي إِحْرَاقِ الْمَصَاحِفِ إِلَّا خَيْرًا ..... وَقَدْ جَزَمَ عِيَاضٌ بِأَنَّهُمْ غَسَلُوْهَا بِالْمَاءِ ثُمَّ أحرقوها مُبَالَغَةً فِي إذهابها. قَالَ ابن بَطَّالٍ فِي هٰذَا الْحَدِيْثِ جَوَازُ تَحْرِيْقِ الْكُتُبِ الَّتِي فِيْهَا اسْمُ اللهِ بِالنَّارِ وَأَنَّ ذٰلِكَ إِكْرَامٌ لَهَا وَصَوْنٌ عَنْ وَطْئِهَا بِالْأَقْدَامِ ..... وَقَالَ ابن عَطِيَّةَ : اَلرِّوَايَةُ بِالْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ أَصَحُّ. وَهٰذَا الْحُكْمُ هُوَ الَّذِيْ وَقَعَ فِي ذٰلِكَ الْوَقْتِ. وَأَمَّا الْآنَ فَالْغَسْلُ أَوْلَى لِمَا دَعَتِ الْحَاجَةُ إِلَى إِزَالَتِهِ. فتح الباري ج٩ ص ١٨، و ج ١٠ ص ٢٥ كتاب فضائل القرآن باب جمع القرآن ط. دار الفكر بيروت. فتاوى محموديه ج٧ ص ١٣٨.

(٣) فتح القدير ج١ ص ٢٤٨ باب صفة الصلوة.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: وَتَجُوزُ كِتَابَةُ آيَةٍ أَوْ آيَتَيْنِ بِالْفَارِسِيَّةِ لَا أَكْثَرَ. (قال الشامي رحمه الله:) وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْفَارِسِيَّةَ غَيْرُ قَيْدٍ. (١)

مفتي شفيع رحمه الله په دې باندې مستقل رِساله ليکلې ده، د هغې نوم دی "جواهر الفقه" په هغې کې نور تفصيل هم موجود دی.

لهذا د عربي متن نه بغير صرف په اُردو، فارسي، اَنګريزي يا بله ژبه کې د قرآن شريف ليکل او چاپ کول منع دي. په "الاتقان" کې په دې خبره د ائمه اَربعهؒ اجما هم نقل ده.

وَقَالَ أَشْهَبُ سُئِلَ مَالِكٌ: هَلْ يُكْتَبُ الْمُصْحَفُ عَلَى مَا أَحْدَثَهُ النَّاسُ مِنَ الْهِجَاءِ؟ فَقَالَ: لَا إِلَّا عَلَى الْكِتْبَةِ الْأُولَى. رَوَاهُ الدَّانِيُّ فِي الْمُقْنِعِ. ثُمَّ قَالَ وَلَا مُخَالِفَ لَهُ مِنْ عُلَمَاءِ الْأُمَّةِ.

وَقَالَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ: يَحْرُمُ مُخَالَفَةُ مُصْحَفِ الْإِمَامِ فِي وَاوٍ أَوْ يَاءٍ أَوْ أَلِفٍ أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ. وَقَالَ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ: مَنْ كتب مُصْحَفًا فَيَنْبَغِي أَنْ يُحَافِظَ عَلَى الْهِجَاءِ الَّذِي كتبوا به هذه الْمَصَاحِفَ، وَلَا يُخَالِفُهُمْ فِيهِ، وَلَا يُغَيِّرُ مِمَّا كَتَبُوهُ شَيْئًا فَإِنَّهُمْ كَانُوا أَكْثَرَ عِلْمًا وَأَصْدَقَ قَلْبًا وَلِسَانًا، وَأَعْظَمَ أَمَانَةً مِنَّا، فَلَا يَنْبَغِي أن يظن بِأَنْفُسِنَا اسْتِدْرَاكًا عَلَيْهِمْ. (٢)

وصرح بتحريم كتابته بالعجمية في الفتاوى الفقهية الكبرى:

قَالَ بَعْضُ أَئِمَّةِ الْقُرَّاءِ وَنِسْبَتُهُ إِلَى مَالِكٍ، لِأَنَّهُ الْمَسْئُولُ وَإِلَّا فَهُوَ مَذْهَبُ الْأَئِمَّةِ الْأَرْبَعَةِ. قَالَ أَبُو عَمْرٍو: وَلَا مُخَالِفَ لَهُ فِي ذٰلِكَ مِنْ عُلَمَاءِ الْأُمَّةِ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: وَالَّذِي ذَهَبَ إِلَيْهِ مَالِكٌ هُوَ الْحَقُّ، إِذْ فِيهِ بَقَاءُ الْحَالَةِ الْأُولَى إِلَى أَنْ يَتَعَلَّمَهَا الْآخَرُونَ، وَفِي خِلَافِهَا تَجْهِيلُ آخِرِ الْأُمَّةِ أَوَّلَهُمْ. وَإِذَا وَقَعَ الْإِجْمَاعُ كَمَا تَرَى عَلَى مَنْعِ مَا أَحْدَثَ النَّاسُ الْيَوْمَ مِنْ مِثْلِ كِتَابَةِ الرِّبَا بِالْأَلِفِ مَعَ أَنَّهُ مُوَافِقٌ لِلَفْظِ الْهِجَاءِ، فَمَنْعُ مَا لَيْسَ مِنْ جِنْسِ الْهِجَاءِ أَوْلَى ...... وَزَعْمُ أَنَّ كِتَابَتَهُ بِالْعَجَمِيَّةِ فِيهَا سُهُولَةٌ لِلتَّعْلِيمِ كَذِبٌ مُخَالِفٌ لِلْوَاقِعِ، وَالْمُشَاهَدَةِ فَلَا يُلْتَفَتُ لِذٰلِكَ عَلَى أَنَّهُ لَوْ

(١) الدر المختار مع ردّ المحتار ج١ ٣٥٣ مطلب في حكم القراء بالفارسية ... فتاوى حقانيه ج٢ ص ١٧٢.

(٢) الاتقان في علوم القرآن ج٢ ص ١٦٧ النوع السادس والسبعون في مرسوم الخط، فتاوى محموديه ج٧ ص ٢١٥.

سَلِمَ صِدْقُهُ لَمْ يَكُنْ مُبِيْحًا لِإِخْرَاجِ أَلْفَاظِ الْقُرْآنِ عَمَّا كُتِبَتْ عَلَيْهِ. وَأَجْمَعَ عَلَيْهَا السَّلَفُ وَالْخَلَفُ. (۱)

د داسې قرآن مجيد خريد و فروخت هم منع دی. (۲)

البته که اصل د عربي متَن ( آيتونه ) موجود وي نو بيا ددې سره د هرې ژبې ترجمه او تفسير ليکل او چاپ کول خېر دی. خو خالِصه ترجمه چاپ کولو کې ډېر نقصانونه دي:

۱. ځکه قوي احتمال شته چې بيا به خلق دا خالصه ترجمه قرآن مجيد ګڼړي.

۲. بيا به خلق همدا ترجمه لولي، او د عربي متَن نه به بالکل محرومه شي، ځکه چې کله د خالِصه ترجمې چاپ کولو اِجاوت ورکړې شي نو بيا به د وخت په تېرېدلو سره په عربي کې چاپ کيدل ختم شي، خلق به بيا دا نشي معلومولی چې کومه ترجمه صحيح ده او کومه غلطه ده؟

۳. بيا به غير مُسلمه هم د قرآن کريم ترجمه چاپ کړي، او د خپل مَطلب خبرې به په کې ننَباسي، نَعُوذُ بِالله بيا به د قرآن کريم حالت هم د تورات او اِنجيل غوندې شي چې هر طرف ته به ترجمه وي، خلق به په کې د خپلې خوَښې تبديلياني کوي، او مسلمانانو ته به د اصلِ کتاب پته هم نه لږي.

او کله چې ددې سره اصل عربي متَن موجود وي نو علماء کرامو ته دا پته لږي چې دا ترجمه صحيح ده او دا غلطه ده.

۴. په خالِصه ترجمې چاپ کولو کې دا هم اِمکان شته چې بيا به خلق په مانځه کې د قرآن کريم په ځای دا خالِصه ترجمه لولي. ددې نه علاوه په دې کې نور هم بې شميره نقصانات شته.

ددې د وجې اَئمه اَربعهؒ د عربي متَن نه بغير خالِصه ترجمه چاپ کول ناجائز ګرځولی، که چا داسې چاپ کړه نو داسې ترجمه به دفن کولې شي. (۳)

(۱) الفتاوی الفقهية الکبری ج۱ ص ۳۸، اکام النفائس في اداء الاذکار بلسان الفارس ص ۱۲۹، فتاوی محمودية ج۷ ص ۲۱۸

(۲) فتاوی محمودية ج۷ ص۲۱۵، ۲۱۳، امداد الاحکام ج۱ ۱۳۰ تا ۱۲۹، شامي ج۱ ص ۲۸۶ مطلب في بيان المتواتر والشاذ، فتح القدير ج۱ ص ۲۸۶ باب صفة الصلوٰة.

(۳) فتاوی محمودية ج۷ ص ۲۱۹ تا ۲۲۳.

# د تلاوت په شروع کې د أعُوذُ بِالله ويلو حکم

د قرآن کريم د سورة النّحل ددې آيت ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ . ⁽¹⁾ ﴾ په وجه مسلمانانو ته د قِراءت په وخت د تَعَوّذ حکم شوی ، لهذا مسلمان ته په کار دي چې د تلاوت شروع کولو نه مخکې أعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ووايي .

اګر چې د اکثرو مفسّرينو په نزد په دې آيت کې اَمر د وجوب د پاره نه دی ، بلکه صرف د نُدب د پاره دی .

لما قال القاضي ثناء الله رحمه الله : قد صحّ عن النّبيّ صلى الله عليه وسلم انه كان يصلّي اي يتعوّذ قبل القراءة ، وعليه انعقد الاجماع من السّلف والخلف ، لكنّه سنّة عند الجمهور العلماء . (٢)

وقال محمّد بن احمد القرطبي رحمه الله : هذا الامر على النّدب في قول الجمهور في كلّ قرأة في غير الصلوة . (٣)

# په بَربَنډ سَر د تلاوت کولو حکم

د تلاوت کولو نه مخکې افضل داده چې انسان د خپل وَس مطابق ښه لِباس واغوندي ، پَګړی اُووهي ، او بيا تلاوت وکړي . لهذا په بَربَنډ سَر تلاوت کول بې اَدبي ده

رَجُلٌ أَرَادَ أَنْ يَقْرَأَ الْقُرْآنَ فَيَنْبَغِيْ أَنْ يَكُوْنَ عَلٰى أَحْسَنِ أَحْوَالِهِ يَلْبَسُ صَالِحَ ثِيَابِهِ ، وَيَتَعَمَّمُ وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ ، لِأَنَّ تَعْظِيْمَ الْقُرْآنِ وَالْفِقْهِ وَاجِبٌ ، كَذَا فِيْ فَتَاوىٰ قَاضِيْ خَانْ . (٤)

---

(١) سورة النحل آية ٩٨ .

(٢) تفسير مظهري ج٥ ص ٣٧٠ سورة النحل تحت تفسير الآية ٩٨ .

(٣) احكام القرآن ج١ ص ٨٦ القول في الاستعاذة ، ومثله في مختصر تفسير ابن كثير ج٢ ص ٣٤٦ سورة النحل آية ٩٨ .

فتاوى حقانيه ج٢ ص ١٣٢ .

(٤) الفتاوى الهندية ج٥ ص ٣١٥ الباب الرابع في الصّلاة والتّسبيح ورفع الصوت عند قراءة القرآن . فتاوى محموديه ج٧ ص ١٥٧ .

## د ډير مَجبوريَت او بيمارۍ په وجه په ملاسته هم تلاوت کول جائز دی

که انسان بيمار وي ، يا د خپو دَردونه لري او په کيناستو سره تلاوت نشي کولی نو په ملاسته هم تلاوت کول جائز دي .

لَا بَأْسَ بِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ إِذَا وَضَعَ جَنْبَهُ عَلَى الْأَرْضِ . وَلٰكِنْ يَنْبَغِي أَنْ يَضُمَّ رِجْلَيْهِ عِنْدَ الْقِرَاءَةِ، كَذَا فِي الْمُحِيطِ . (١)

## د تلاوت په وخت خُله پاکه ساتل په کار دي

د تلاوت په آدابو کې دا هم ده چې انسان خپله خُله د نَسوارو وغيره نه پاکه کړي ، مسواک استعمال کړي ، او بيا تلاوت اوکړي .

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَجْلِسَ مُسْتَقْبِلًا مُتَخَشِّعًا بِسَكِينَةٍ وَوَقَارٍ مُطْرِقًا رَأْسَهُ .

وَيُسَنُّ أَنْ يَسْتَاكَ تَعْظِيمًا وَتَطْهِيرًا . وَقَدْ رَوَى ابْنُ مَاجَه عَنْ عَلِيٍّ مَوْقُوفًا ، وَالْبَزَّارُ بِسَنَدٍ جَيِّدٍ عَنْهُ مَرْفُوعًا : " إِنَّ أَفْوَاهَكُمْ طُرُقٌ لِلْقُرْآنِ فَطَيِّبُوهَا بِالسِّوَاكِ ". (٢)

## د تلاوت په دَوران کې دُنياوي خبرې ندي په کار

انسان ته په کار دي چې د تلاوت په دَوران کې دُنيوي خبرې اونکړي ، او که ضرورت وُ نو قرآن مجيد دې بَند کړي بيا دې کوي . (٣)

## قرآن مجيد په تجويد سره لوستل په کار دي

قرآن مجيد په تجويد او تَرتيل سره لوستل په کار دي ، قصدًا بې تجويده ويل صحيح نه دي . وَالْأَخْذُ بِالتَّجْوِيْدِ حَتْمٌ لَازِمٌ * مَنْ لَمْ يُجَوِّدِ الْقُرْآنَ آثِمٌ . (٤)

(١) الفتاوى الهندية ج٥ ص ٣١٦ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِي الصَّلَاةِ وَالتَّسْبِيحِ وَرَفْعِ الصوت عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ . فتاوى محمودية ج٧ ص ١٥٩ .

(٢) الاتقان في علوم القرآن ج١ ص ١٠٥ النوع الخامس والثلاثون في آداب تلاوة القرآن ط . سهيل اكيدمي لاهور . فتاوى محمودية ج٧ ص ١٦٠ آداب تلاوت .

(٣) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٣ ص ٢٢٠ .

(٤) المقدمة الجزرية ١ / ١١ باب التجويد .

تجويد اِختيارول لازم دي ، او څوک چې قرآن مجيد په تجويد سره نه لولي هغه ګناه ګار دی.

ليکن عام خلق د تجويد نه ناواقفه وي ، ددې غلبه جَهل په وجه فُقهاؤ د عوامو د پاره د مانځه په جواز کې د توَسّع نه کار اخيستی ( يعنی عوام که صريحه غلطي او نه کړي نو د تجويد نه بغير لوستلو سره هم د دوی مونځ کيږي ).

البته سره د عِلمه قصدًا بغير د تجويد نه تلاوت کول صحيح نه دي ، که داسې غلطي يې اوکړه چې معنی يې بالکل بدله شوه ، او په هيڅ صورت نه صحيح کيده نو بيا به مونځ راګرځولې شي. (١)

# په تدبّر سره د تلاوت کولو ثواب زيات دی

چې څومره يو کس په تدبّر او اَدب سره تلاوت کوي نو همدومره ددې ثواب زيات وي (٢) که يو عالِم بغير د تدبّر او پوره توَجّو نه تلاوت کوي نو په دې باندې دومره بنه آثرات نه مُرتّب کيږي ، او که يو عام انسان په تدبّر ، توجّو او اَدب سره تلاوت کوي نو په دې سره په زړه کې نَرمي پيدا کيږي ، او اِيمان يې مضبوطيږي. (٣)

---

(١) فالأصل فيها عند الإمام ومحمد رحمهما الله تعالى تغير المعنى تغيرًا فاحشًا وعدمه للفسا وعدمه مطلقا سواء كان اللفظ موجودا في القرآن أو لم يكن . وعند أبي يوسف رحمه الله إن كان اللفظ نظيره موجودا في القرآن لا تفسد مطلقا تغير المعنى تغيرا فاحشا أو لا . وإن لم يكن موجودا في القرآن تفسد مطلقا ولا يعتبر الإعراب أصلا ومحل الاختلاف في الخطأ والنسيان . أما في العمد فتفسد به مطلقا بالاتفاق إذا كان مما يفسد الصلاة . أما إذا كان ثناء فلا يفسد ولو تعمد . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نورالايضاح باب زلة القاري ص ٢٧٥ ، فتاوى محموديه ج٧ ص ١٩١ .

(٢) وَالمَنْزِلَةُ الَّتِيْ فِي الحَدِيْثِ هِيَ مَا يَنَالُهُ العَبْدُ مِنَ الكَرَامَةِ عَلَى حَسَبِ مَنْزِلَتِهِ فِي الحِفْظِ وَالتِّلَاوَةِ لَا غَيْرَ. وَذٰلِكَ لِمَا عَرَفْنَا مِنْ أَصْلِ الدِّيْنِ أَنَّ العَامِلَ بِكِتَابِ اللهِ المُتَدَبِّرَ لَهُ أَفْضَلُ مِنَ الحَافِظِ وَالتَّالِيْ لَهُ إِذَا لَمْ يَنَلْ شَأْنَهُ فِي العَمَلِ وَالتَّدَبُّرِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني ج٢ ص ٥٨٩ ط. اصح المطابع بمبئ.

واعلم ان القرآن لم ينزل لقراءة الفاظه فقط . بل انما انزل ليتدبر آياته ويتفكر معانيه ويعمل بما فيه من الاوامر والنواهي وغيرهما . شرح شرعة الاسلام ص ٥٦ ، الاتقان في علوم القرآن ج١ ص ١٠٨ النوع الخامس والثلاثون في آداب التلاوة .

(٣) قَالُوا: وَاسْتِحْبَابُ التَّرْتِيْلِ لِلتَّدَبُّرِ وَلِأَنَّهُ أَقْرَبُ إِلَى الإِجْلَالِ وَالتَّوْقِيْرِ وَأَشَدُّ تَأْثِيْرًا فِي القَلْبِ وَلِهٰذَا يُسْتَحَبُّ لِلْأَعْجَمِيِّ الَّذِيْ لَا يَفْهَمُ مَعْنَاهُ التَّقَى. الاتقان في علوم القرآن ج١ ص ١٠٨ النوع الخامس والثلاثون في آداب التلاوة .

داسې کس ته الله ﷻ د هر حرف په عِوض کې لس نيکۍ ورکوي ، بلکه چې څومره په ډير تدبّر سره تلاوت کولې شي نو همدومره د هر حرف په عِوض کې نيکۍ هم زياتې ملاويږي . (۱)

## په معنٰی باندې د نه پوهيدو باوجود هم تلاوت کول عبادت دی

د قرآن مجيد تلاوت کول مستقِل عبادت او اعلیٰ عبادت دی ، په قرآن کريم او احاديثو کې ددې ډير ترغيب ورکړې شوی ، د نبوّت په مقاصدو کې دا مستقل مقصد ګرځول شوی .

ځکه قرآن کريم د نبي عليه السلام د بعثت درې مقاصد ذکر کړي :

۱ . د قرآن مجيد تلاوت کول . ۲ . د کتاب او حِکمت تعليم ورکول . ۳ . تزکيه . (۲)

همدغه رنګې د هر حرف په عِوض کې د لسو نيکيو اَجر ورکولو وعده شوی . (۳)

لهذا د تلاوت کولو په وخت که انسان ددې په معنی پوهيږي او که نه پوهيږي خو ده ته ددې اَجر ورکولې شي .

---

(۱) ( وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا ) . أَيْ مُضَاعَفَةٌ بِالْعَشْرِ وَهُوَ أَقَلُّ التَّضَاعُفِ الْمَوْعُودِ بِقَوْلِهِ تَعَالَى {مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا} [ الأنعام: ١٦٠ ] وَاللهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَآءُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج۴ ص ۳۵۵ ، كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني . فتاوى محموديه ج۷ ص ۲۰۹ .

(۲) رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ سورة البقرة آية ۱۲۹ . قال الامام الرازي في تفسيره : ( قَوْلُهُ: وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ ) وَالْمُرَادُ أَنَّهُ يَأْمُرُهُمْ بِتِلَاوَةِ الْكِتَابِ وَيُعَلِّمُهُمْ مَعَانِيَ الْكِتَابِ وَحَقَائِقَهُ . وَذٰلِكَ لِأَنَّ التِّلَاوَةَ مَطْلُوبَةٌ لِوُجُوهٍ : مِنْهَا بَقَاءُ لَفْظِهَا عَلَى أَلْسِنَةِ أَهْلِ التَّوَاتُرِ فَيَبْقَى مَصُونًا عَنِ التَّحْرِيفِ وَالتَّصْحِيفِ . وَمِنْهَا أَنْ يَكُونَ لَفْظُهُ وَنَظْمُهُ مُعْجِزًا لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَمِنْهَا أَنْ يَكُونَ فِي تِلَاوَتِهِ نَوْعُ عِبَادَةٍ وَطَاعَةٍ . وَمِنْهَا أَنْ تَكُونَ قِرَاءَتُهُ فِي الصَّلَوَاتِ وَسَائِرِ الْعِبَادَاتِ نَوْعَ عِبَادَةٍ . فَهٰذَا حُكْمُ التِّلَاوَةِ إِلَّا أَنَّ الْحِكْمَةَ الْعُظْمٰى وَالْمَقْصُودَ الْأَشْرَفَ تَعْلِيمُ مَا فِيهِ مِنَ الدَّلَائِلِ وَالْأَحْكَامِ . فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى وَصَفَ الْقُرْآنَ بِكَوْنِهِ هُدًى وَنُورًا لِمَا فِيهِ مِنَ الْمَعَانِي وَالْحِكَمِ وَالْأَسْرَارِ . فَلَمَّا ذَكَرَ اللهُ تَعَالَى أَوَّلًا أَمْرَ التِّلَاوَةِ ذَكَرَ بَعْدَهُ تَعْلِيمَ حَقَائِقِهِ وَأَسْرَارِهِ فَقَالَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ . تفسير كبير ج۴ ص ٦٦ طبع بيروت .

(۳) عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ . وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا . لَا أَقُولُ الٓمٓ حَرْفٌ . وَلٰكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ . وَلَامٌ حَرْفٌ . وَمِيمٌ حَرْفٌ . رواه الترمذي كتاب فضائل القرآن رقم الحديث ۲۹۱۰ ، والمنذري ۲/ ۳۴۲ . مشكوة ص ۱۸٦ .

ځکه د تلاوت کولو ځان له اَجر دی ، ددې په معنٰی باندې د پوهیدلو ځان له اَجر دی ، او ددې په احکاماتو باندې د عمل کول ځانله اَجر دی.

لهذا څوک چې په معنٰی باندې د پوهیدو نه بغیر تلاوت کول بې فائدې ګڼي د دوی خبره صحیح نه ده ، بلکه دوی په دې خبره کولو سره یو قِسم د قرآن کریم ګستاخي او بې اَدبي کوي ، ددې نه توبه ویستل واجب دي. (١)

## د تلاوت په دَوران کې چې د نبي علیه السلام نوم مُبارک راشي د درود شریف ویلو حکم

اګر چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د نوم مبارک اَوریدو په وخت شرعًا درود شریف ویل واجب دي مګر د تلاوت کولو په وخت چې د نبي علیه السلام نوم مبارک راشي نو بهتره داده چې تلاوت جاري اُوساتلې شي ، البته د تلاوت کولو نه پس درود شریف ویل په کار دي ، خو که چیرته د تلاوت په دَوران کې درودشریف اُووایي نو دا هم جائز ده .

قال العلامة ابن عابدین : وَلَوْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَمَرَّ عَلَى اِسْمِ نَبِيٍّ فَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ عَلَى تَأْلِيْفِهٖ وَنَظْمِهٖ أَفْضَلُ مِنَ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ ذٰلِكَ الْوَقْتِ. فَإِنْ فَرَغَ فَفَعَلَ فَهُوَ أَفْضَلُ وَإِلَّا فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ. (٢)

قال العلامة قاضیخان : رجلٌ یقرء القرآنَ فَسَمِعَ اسمَ النبيِّ صلّی الله علیه وسلم ذکر الناطفي رحمه الله انّه لا یجب علیه الصلاة والتسلیم لأنّ قراءة القرآن علی النّظم والتّألیف افضل من الصّلاة علیه صلی الله علیه وسلم . فأذا فرغ من القراءة إنْ صلّ علی النبي صلی الله علیه وسلم کانَ حسنًا . وإنْ لم یصلّ فلا شيء علیه... (٣)

---

(١) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۲۵۸ ، ۲۵۹.

(٢) رد المحتار ج١ ص ٥١٩ مطلب فی المواضع التي تکره فیها الصلوة علی النبي صلی الله علیه وسلم .

(٣) فتاوی قاضي خان ج١ ص ٣٧٧ کتاب الحظر والاباحة ، ومثله فی الهندیة ج٥ ص٣١٦ کتاب الکراهیة الباب الرابع فی الصلوة والتسبیح .. ، فتاوی حقانیه ج٢ ص ١٦٢.

## بې اَودسه د قرآن مجيد تلاوت كول جائز دي ، خو لاس به نه وَروړي

بې اَودسه د قرآن مجيد تلاوت كول جائز دي .

وَيُبَاحُ لَهُ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ لِمَا رُوِيَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « كَانَ لَا يَحْجِزُهُ عَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ إِلَّا الْجَنَابَةُ » . (١)

مګر بې اَودسه بغير د كپړې نه لاس وَروړل جائز نه دي .

لَا يَجُوزَ لِلْمُحْدِثِ .... مَسُّ الْمُصْحَفِ مِنْ غَيْرِ غِلَافٍ . (٢)

د قرآن مجيد وِقايه ( او پوخ ) په دوه قِسمه دى : يو قِسم هغه وِقايى ( ګتې ) دي چې هغه د قرآن كريم ګنډلو په وخت يو ځاى د پاڼرو سره ګنډَل شوې وي ، نو ددې حكم هم د قرآن مجيد په شان دى ، ناپاكه كس به ديته هم لاس نه وَروړي .

دويم قِسم هغه وِقايى او پُوخونه دي چې هغه د قرآن كريم نه لرې كيدې هم شي ، لكه نن صبا چې كڅوړې وغيره دي .

نو كوم قرآن مجيد ته چې كڅوره اچول شوې وي ، يا جدا كيدونكې وِقايه ورته اچول شوې وي نو بيا داسې قرآن مجيد ته بې اَودسه لاس وَروړل هم جائز دي .

په فتاوى هِنديه كې ذكر دي :

... إِلَّا بِغِلَافٍ مُتَجَافٍ عَنْهُ كَالْخَرِيْطَةِ وَالْجِلْدِ الْغَيْرِ الْمُشَرَّزِ لَا بِمَا هُوَ مُتَّصِلٌ بِهِ . هُوَ الصَّحِيْحُ . هٰكَذَا فِي الْهِدَايَةِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى . (٣)

## د قرآن مجيد ترجمې ته بې اَودسه د لاس وَروړلو حكم

د قرآن مجيد ترجمه كه په هره ژبه كې وي ( كه پښتو كې وي ، اُردو كې وي ، فارسي كې وي او كه انګريزي كې وي ) خو مسلمان ته بې اَودسه ديته لاس وَروړل مكروه دي .

اګر چې قرآن مجيد په عربى ژبه كې دى خو مقصد يې همدغه معنى ده .

(١) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج١ ص٣٣ كتاب الطهارة مطلب مس المصحف .

(٢) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج١ ص٣٣ كتاب الطهارة مطلب مس المصحف . شامي ج١ ص٧٣ ، فتاوى هنديه ج١ ص٣٨ الباب السادس في الدماء المختصة بالنساء . آپ كے مسائل اور ان كا حل ج٢ ص٢٥٠ .

(٣) الفتاوى الهندية ج١ ص٢٠٨ ، جديد فقهي مسائل ص٢٥ .

په فتاوى عالمګيري کښ ذکر دي :

وَلَوْ كَانَ الْقُرْآنُ مَكْتُوبًا بِالْفَارِسِيَّةِ يُكْرَهُ لَهُمْ مَسُّهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَكَذَا عِنْدَهُمَا عَلَى الصَّحِيحِ . (١)

## نابالِغه ماشومان بې اَودسه هم قرآن مجيد د زده کولو د پاره راخيستې شي

په نابالِغه ماشومانو باندې اَودس فرض نه دى ، ځکه دوى مُکلف نه دي ، لهذا دوى بې اَودسه هم قرآن مجيد راخيستې شي .

( قَوْلُهُ : وَلَا يُكْرَهُ مَسُّ صَبِيٍّ ... ) فِيهِ أَنَّ الصَّبِيَّ غَيْرُ مُكَلَّفٍ .... (٢)

اګرچې ماشومانو ته د قرآن کريم زده کولو د پاره بې اَودسه هم ددې د راخيستو اِجازت شته خو بيا هم دوى ته د اَودس او پاکى حکم په کار دى ، ددې د پاره چې دوى ورسره عادت شي .

لابأس بدفع المصحف واللوح الى الصبيان لانّهم لايخاطبون بالطهارة . وانْ اُمروا بها تخلقًا . (٣)

وَلَا بَأْسَ بِدَفْعِ الْمُصْحَفِ إِلَى الصِّبْيَانِ لِأَنَّ فِي الْمَنْعِ تَضْيِيعَ حِفْظِ الْقُرْآنِ وَفِي الْأَمْرِ بِالتَّطْهِيرِ حَرَجًا بِهِمْ . (٤)

معناه : لا بأس بانْ يدفع الطاهرون المصحف الى الصّبيان المُحدثين ... (٥)

---

(١) الفتاوى الهندية ج١ ص ٣٩ الفصل الرابع في احكام الحيض والنفاس والاستحاضة ، جديد فقهي مسائل ص ٢٧ .

(٢) شامي ج١ ص ١٧٤ سنن الغسل ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج٣ ص ٣٥٢ قرآن كريم كي عظمت اور اس كي تلاوت

(٣) كبيري ص ٥٩ فروع بعد سنن الغسل .

(٤) فتح القدير ١ / ١٦٩ باب الحيض والاستحاضة .

(٥) عناية مع فتح القدير ١ / ١٦٩ باب الحيض والاستحاضة ، فتاوى حديثية ١٦٥ ، ٢٣٢ مطلب في انه يكره اخذ الفال من المصحف ، الهندية ج١ ص ٣٩ كتاب الطهارة الباب السادس الفصل الرابع ، طحطاوي على مراقى الفلاح ص ١١٥ باب الحيض والنفاس والاستحاضة ، نفع المفتي والسائل ص ١١١ ، رحيميه ديوبند ص ١٢٣ باب ما يتعلق بتلاوة القرآن ، شرح شرعة الاسلام ص ٦٢ ، فتاوى حموي ص ٣٨١ ، فتاوى محمودية ج٧ ص ١١٣ آداب قرآن .

## د تلاوت کیسټ ته بې اَودسه د لاس وَرووړلو حکم

دا اتفاقي خبره ده چې د قرآن کریم لیکل شوي آیتونو ته بې اَودسه لاس وَرووړل صحیح نه دي، لیکن په کیسټ کې خو آیتونه لیکل شوي نه وي نو ځکه دیته بې اَودسه لاس وَرووړل هم جائز دي، او دلیل یې دا دی چې په کیسټ کې خو د قرآن کریم آواز وي، او د قرآن کریم آواز د بدن سره لږیدو د پاره پاکي ضروري نه ده، دغه وجه ده چې د جُنب د پاره د تلاوت اَوریدل جائز دي. (۱)

## د حیض په حالت کې د قرآن کریم دَرس کول

دا خو اتفاقي خبره ده چې د حائضې او جُنُب د پاره د تلاوت په نیت باندې د قرآن مجید تلاوت کول جائز ندي، لیکن که یوه زَنانه اُستاذه وي، او د جینکو دَرس ورسره وي، او بله زَنانه د دَرس د پاره نه وي نو د مُفتٰی بِهٖ قول مطابق حائضې ته د تعلیم په نیت باندې یوه یوه کلمه ویل جائز دي.

اګرچې امام طحاوي رحمه الله د تحقیق مطابق حائضه ښځه د تعلیم په نیت نیم آیت هم لوستلې شي.

قال ابن عابدین: قَوْلُهُ ( وَقِرَاءَةُ قُرْآنٍ) أَيْ وَلَوْ دُوْنَ آيَةٍ مِنَ المركبَاتِ لَا الْمُفْرَدَاتِ. لِأَنَّهُ جُوِّزَ لِلْحَائِضِ الْمُعَلِّمَةِ تَعْلِيْمُهُ كَلِمَةً كَلِمَةً كَمَا قَدَّمْنَاهُ. (۲)

قال الشیخ السید احمد الطحطاوي رحمه الله: ( قَوْلُهُ وَقِرَاءَةُ قُرْآنٍ ) ای یمنع الحیض ومثله الجنابة قراءة القرآن وشمل اطلاقه الاية و مادونها وهو قول الکرخي وصححه صاحب الهداية فی التجنیس و قاضیخان في شرح الجامع الصغیر والوالواجي في فتواه و مشی علیه المصنف فی المستصفی و قواه فی الکافي و نسبه صاحب البدائع الی عامة المشائخ. (۳)

---

(۱) امداد الفتاوی ج۱ ص ۱۲۵، جدید فقهي مسائل ص ۲۴ طبع راشد کتب خانه چمن.

(۲) رد المحتار ج۱ ص ۲۹۳ کتاب الصلاة.

(۳) طحطاوي حاشية الدر المختار ج۱ ص ۱۵۰ باب الحیض، ومثله فی التاتارخانية ج۱ ص ۳۳۲ باب الحیض نوع فی الاحکام التي تتعلق بالحیض، فتاوی حقانیه ج۲ ص ۵۶۱.

همدغه رنګې که حائضه ښځه د قرآن کريم آيتونه د دُعا په نيت لولي نو دا هم بِلاکراهته جائز دي، خو د تلاوت په نيت به يې نه لولي .

لما قال ابن عابدين ( وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ بِقَصْدِهِ ) فَلَوْ قَرَأَتِ الْفَاتِحَةَ عَلَى وَجْهِ الدُّعَاءِ أَوْ شَيْئًا مِنَ الْآيَاتِ الَّتِي فِيهَا مَعْنَى الدُّعَاءِ وَلَمْ تُرِدِ الْقِرَاءَةَ لَا بَأْسَ بِهِ . (١)

قال الشيخ السيّد احمد الطحطاوي رحمه الله : ( قوله بِقَصْدِهِ ) امّا اذا قرأ على قصد الثناء او افتتاح أمر لايمنع في اصحّ الروايات . والتسمية لاتمنع اتفاقاً إذا كانت على قصد الثناء او افتتاح امر .

وَفِي الْعُيُونِ لِأَبِي اللَّيْثِ: قَرَأَ الْفَاتِحَةَ عَلَى وَجْهِ الدُّعَاءِ أَوْ شَيْئًا مِنَ الْآيَاتِ الَّتِي فِيهَا مَعْنَى الدُّعَاءِ وَلَمْ يُرِدِ الْقِرَاءَةَ لَا بَأْسَ بِهِ. (٢)

همدغه شان حائضه ښځه ذکر و أذکار او تسبيحات هم لوستلې شي .

قال الحصكفي رحمه الله : ( وَلَا يُكْرَهُ النَّظَرُ إِلَيْهِ ) أَيِ الْقُرْآنِ ( لِجُنُبٍ وَحَائِضٍ وَنُفَسَاءَ ) لِأَنَّ الْجَنَابَةَ لَا تَحِلُّ الْعَيْنَ ( كَ ) مَا لَا تُكْرَهُ (أَدْعِيَةٌ) أَيْ تَحْرِيمًا . وَإِلَّا فَالْوُضُوءُ لِمُطْلَقِ الذِّكْرِ مَنْدُوبٌ، وَتَرْكُهُ خِلَافُ الْأَوْلَى، وَهُوَ مَرْجِعُ كَرَاهَةِ التَّنْزِيهِ. (٣)

وَلَا يُكْرَهُ قِرَاءَةُ الْقُنُوتِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ. كَذَا فِي التَّبْيِينِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى . كَذَا فِي التَّجْنِيسِ وَالظَّهِيرِيَّةِ. وَيَجُوزُ لِلْجُنُبِ وَالْحَائِضِ الدَّعَوَاتُ وَجَوَابُ الْأَذَانِ وَنَحْوُ ذَٰلِكَ فِي السِّرَاجِيَّةِ . (٤)

## د جنابت په حالت کې د قرآن مجيد ليکل ناجائز دي

د جنابت په حالت کې د قرآن مجيد ليکل ناجائز دي که لاس يې د کاغذ سره لږي او که نه، که آيت پوره ليکي يا کم .

(١) رد المحتار ج١ ص٢٩٣ باب الحيض .

(٢) طحطاوي حاشية الدرالمختار ج١ ص ١٥٠ باب الحيض . فتاوى حقانيه ج٢ ص ٥٦٢ .

(٣) الدر المختار وحاشية ابن عابدين ( رد المحتار ) ج١ ص ١٧٢ ، مطلب يطلق الدعاء على ما يشمل الثناء ، فتاوى حقانيه ج٢ ص ٥٥٦ .

(٤) الفتاوى الهندية ج١ ص ٣٧ الفصل الرابع في احكام الحيض والنفاس . فتاوى حقانيه ج٢ ص ٥٥٧ .

په دې ټولو حالاتو کې د جنابت په حالت کې د قرآن مجيد ليکل صحيح نه دي .

وَالجُنُبُ لَا يَكْتُبُ القُرْآنَ وَإِنْ كَانَتِ الصَّحِيفَةُ عَلَى الأَرْضِ وَلَا يَضَعُ يَدَهُ عَلَيْهَا وَإِنْ كَانَ مَا دُونَ الآيَةِ . (١)

جُنب به قرآن مجيد نه ليکي اګر چې کاغذ په زمکه پروت وي ، او دې خپل لاس په کاغذ نه ږدي ، او اګر چې دا د يو آيت نه کم وي خو بيا هم په دې ټولو صورتونو کې د جنب د پاره قرآن مجيد ليکل جائز نه دي .

او که صرف اَودس يې نه وُ نو بيا قرآن مجيد ليکلې شي ، خو شرط دا دی چې لاس به يې په کاغذ باندې نه وي لږېدلی .

لَا تُكْرَهُ كِتَابَةُ قُرْآنٍ وَالصَّحِيفَةُ أَوِ اللَّوْحُ عَلَى الأَرْضِ . (٢)

د بې اَودسه د پاره د قرآن مجيد ليکل مکروه ندي خو چې کاغذ او تَختې په زمکه وي ( يعنی د ده لاس ورسره نه لږي ) .

خو بيا هم اَدب دا دی چې په اَودس کې او ليکلې شي . همدغه حکم په کمپيوټر باندې د قرآن مجيد د ليکلو هم دی . (٣)

# د جنابت په حالت کې په کمپيوټر باندې د قرآن مجيد ليکلو حکم

په شريعتِ مُقدّسه کې د قرآن کريم ډير اِحترام راغلې ، دغه وجه ده چې د جُنب د پاره تلاوت کول صحيح نه دي ، همدغه رنګې فقهاء کرامو د جُنب د پاره د قرآن مجيد ليکل منع کړي . چونکه په کمپيوټر يا ټائپ رائټر باندې هم قرآن مجيد ليکلې شي لهذا د جُنب د پاره په دې باندې ليکل هم ناجائز دي .

البته بې اَودسه په دې ذرائعو ( يعنی کمپيوټر او ټائپ رائټر وغيره ) باندې قرآن مجيد ليکل جائز دي خو شرط دا دی چې لاس به د قرآن مجيد د آيتونو سره نه لږوي .

---

(١) الفتاوى الهندية ج١ ص ٣٩ الفصل الرابع في احكام الحيض . جديد فقهي مسائل ص ٢٢ .

(٢) الدر المختار ج١ ص ١٧٣ سنن الغسل .

(٣) جديد فقهي مسائل ص ٢٥ .

لما في الهندية : وَالْجُنُبُ لَا يَكْتُبُ الْقُرْآنَ وَإِنْ كَانَتِ الصَّحِيفَةُ عَلَى الْأَرْضِ وَلَا يَضَعُ يَدَهُ عَلَيْهَا وَإِنْ كَانَ مَا دُونَ الْآيَةِ . (١)

قال السيد احمد الطحطاوي رحمه الله : وأما كتابة القرآن فلا بأس بها إذا كانت الصحيفة على الأرض عند أبي يوسف لأنه ليس بحامل للصحيفة وكره ذلك محمد وبه أخذ مشايخ بخاري . (٢)

## قرآن مجيد ښکلول ( يعنی چَپ کول ) جائز دي

د قرآن مجيد ښکلول جائز دي ؛ ځکه دصحابه کرامو او سلفو صالحينو دا عادت وُ چې دوی به قرآن مجيد ښکلول ، او په دې کې د قرآن کريم تعظيم هم دی .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : رُوِيَ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يَأْخُذُ الْمُصْحَفَ كُلَّ غَدَاةٍ ، وَيُقَبِّلُهُ وَيَقُولُ : عَهْدُ رَبِّي وَمَنْشُورُ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ .

وَكَانَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُقَبِّلُ الْمُصْحَفَ وَيَمْسَحُهُ عَلَى وَجْهِهِ . (٣)

ليکن د ښکلولو په وخت قرآن مجيد رااوچتول په کار دي ، سَر ورپسې وَرښکته کول ندي په کار . (۴)

همدارنګې صرف په ښکلولو اکتفاء نده په کار ، بلکه د ښکلولو سره سره ددې تلاوت کول ، ددې په معنی باندې ځان پوهه کول ، او په دې باندې عمل کول هم په کار دي . (٥)

---

(١) الفتاوى الهندية ج١ ص ٣٩ الفصل الرابع في احكام الحيض .

(٢) حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ج١ ص ١۴۴ باب الحيض . فتاوى حقانيه ج٢ ص ٥٦٦ .

(٣) الدر المختار ج٥ ص ٢۴٦ كتاب الحظر والاباحة ، ص ١٦۴ فتاوى حقانيه ج٢ ص ١٥٩ . طحطاوي على مراقي الفلاح ج۴ ، شرح شرعة الاسلام ج١ ص ٧٨ ، فتاوى محموديه ج٧ ص ١۴٩ . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۴٢١ ، ۴٢٢ .

(۴) فتاوى محموديه ج٧ ص ١۴٧ آداب قرآن .

(٥) فتاوى محموديه ج٧ ص ١۴٨ آداب قرآن .

# مكمل قرآن مجيد حِفظ كول فرضِ كفايه دى

د ټول قرآن مجيد حفظ كول فرضِ عين ندى ، بلكه فرضِ كفايه دى .

وَحِفظُ جَمِيعِ القُرْآنِ فَرضُ كِفَايَةٍ . (۱)

هر كال په تراويحو كې دديٍ ختم كول يا آوريدل مستحب دي .

( وَالخَتمُ ) مَرَّةً سُنَّةٌ ، وَمَرَّتَينِ فَضِيلَةٌ ، وَثَلَاثًا أَفضَلُ . ( وَلَا يُترَكُ ) الخَتمُ ( لِكَسلِ القَومِ ) لٰكِن فِي الاِختِيَارِ الأَفضَلُ فِي زَمَانِنَا قَدرُ مَالَا يَثقُلُ عَلَيهِم ، وَأَقَرَّهُ المُصَنِّفُ وَغَيرُهُ . (۲)

او په هرو څلويښتو (۴۰) ورځو كې يو پېره ختم كول مستحب دى .

يَنبَغِي لِحَافِظِ القُرآنِ فِي كُلِّ أَربَعِينَ يَومًا أَن يَختِمَ مَرَّةً (۳)

د قرآن مجيد دومره حصه يادول چې په هغې سره مونځ جائز كيږي دا په هر مسلمان باندې فرضِ عين ده د سورة فاتحې او يو سورة يادول واجب دي ، او د ټول قرآن كريم حفظ كول فرضِ كفايه دي .

فَاعلم أَنّ حِفظَ ما تجوزُ به الصّلوة فرض عينٍ على كلّ مكلّف ، وَحِفظ فَاتِحَةِ الكِتَابِ وَسُورَةٍ وَاجِبٌ ، وحفظ سائر القرآن فَرضُ كِفَايَةٍ . (۴)

خلاصه دا چې په مانځه كې تلاوت كول فرضِ عين دي ، او د مانځه نه بهر تلاوت كول فضيلت او ثواب دى . (۵)

---

(۱) الدرالمختار ج۱ ص ۳٦۱ باب صفة الصلاة مطلب فى الفرق بين فرض العين .. طبع نعمانيه ، حلبي كبير ص ۴۹۵ تتمات فيما يكره من القرآن ، فتاوى محموديه ج۷ ص ۱۸۱ باب چهارم حفظ قرآن .

(۲) الدر المختار على الشامي ج۱ ص ۴۷۴ ، ۴۷۵ باب الوتر والنوافل مبحث صلاة التراويح طبع نعمانيه ، عالمگيري ص ۱۱۷ فصل فى التراويح طبع كوئټه ، البحر الرائق ج۲ ص ٦۸ باب الوتر والنوافل طبع كوئټه ، فتاوى محموديه ج۷ ص ۱۸۱ باب چهارم حفظ قرآن .

(۳) الدر المختار على الشامي ج۵ ص ۴۷۴ ، ۴۸۲ قبيل كتاب الفرائض ، كنزالدقائق ص ۴۹۷ ، فتاوى هنديه ج۵ ص ۳۱۷ الباب الرابع فى الصلاة كتاب الكراهة ، فتاوى محموديه ج۷ ص ۱۸۱ باب چهارم حفظ قرآن .

(۴) حلبي كبير ص ۴۹۵ تتمات فيما يكره من القرآن فى الصلاة و مالايكره فى القراءة ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۴ ص ۴۴۱ تخريج شده ايڈيشن .

(۵) آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۴ ص ۴۴۱ تخريج شده ايڈيشن .

خو که په غونډ کلي کې يو حافظ هم نهٔ نو دا لويه محرومي ده ، کوشش په کار دی چې حافظ په کې پيدا شي . (۱)

## د قرآن مجيد په هره کرخه باندې ګوته ايخودل او بِسْمِ الله ويل

که يو کس د قرآن مجيد په هر کرخه باندې ګوته کرځوي او صرف بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وايي نو ده ته صرف د بسم الله ويلو ثواب حاصليږي .

لأنّ التّسمية آية من القرآن أنزلت للفصل وللتّبرک فی الابتداء بين السّور عندنا . (۲)

د نور قرآن کريم د تلاوت کولو ثواب ورته نه ملاويږي . (۳)

چاچې قرآن کريم نه وي ويلی هغوی دې کوشش وکړي چې په ناظره باندې قرآن کريم ووايي ، خو چې تر څو پورې يې قرآن کريم نه وي زده کړی نو که دې د قرآن کريم په حروفو باندې ګوته ګرځوي نو انشاء الله د ثواب نه به نه محرومه کيږي ، خو ددې دا مطلب نه دی چې چا قرآن مجيد ويلې وي هغه دې هم دا کار کوي ، بلکه هغه به تلاوت کوي . (۴)

## قرآن مجيد هر وخت په جيب کې ساتل بهتر نه دي

بعضې قرآن مجيدونه په وړوکي سائز کې چاپ شوي وي نو دا هر وخت په جيب کې ساتل مناسب نه دي ، ځکه بعضې وخت د انسان اَودس نه وي او دې جيب ته لاس تَنباسي .

يا بعضې وخت انسان ناپاک ځای (ليټرين وغيره) ته لاړشي ، نو په دې سره د قرآن کريم بې اَدبي کيږي .

---

(۱) فتاوی محموديه ج۷ ص ۱۸۴ باب چهارم حفظ قرآن .

(۲) تفسير نسفي ج۱ ص ۲٦ طبع دار ابن کثير بيروت .

(۳) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۴۵۵ تخريج شده ايڈيشن .

(۴) فتاوی عثماني لمولانا محمد تقي عثماني دامت برکاتهم العالية ج۱ ص ۲۱۱ فتوی نمبر ۲۸/۷۳۸ ب فصل في تعليم القرآن وتعظيمه وتلاوته .

إِذَا كَانَ فِي جَيْبِهِ دَرَاهِمُ مَكْتُوبٌ فِيهَا اسْمُ اللهِ تَعَالَى، أَوْ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ فَأَدْخَلَهَا مَعَ نَفْسِهِ الْمَخْرَجَ يُكْرَهُ. (١)

## که په غلطۍ سره د انسان نه قرآن مجيد اُوغورځي ، ددې حکم

که د انسان نه په غلطۍ سره قرآن مجيد اُولوېږي نو دې به اِستغفار وايي ، او توبه به اُوباسي . الله تعالى فرمايي :

﴿ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾ (٢)

ترجمه : په تاسو کې چې څوک په نادانۍ (بې عِلمۍ) سره بَد وکړي بيا ددې نه پس توبه اُوباسي او خپل عمل ښه (سَم) کړي نو بيشکه الله تعالى بخونکې مهربان دی . (٣)

که د اِستغفار او توبې سره سره صدقه ورکوي نو هم خېر دی . خو په عوامو کې چې کومه مسئله مشهوره ده چې : " که دچا نه په غلطۍ سره قرآن مجيد اُوغورځېږي نو دې به د قرآن کريم په مقدار غنم خېرات کوي " دا مسئله په يو کتاب کې هم نشته ( بلکه دا د عوامو خُود ساخته مسئله ده ) . (۴)

## د قرآن کريم رَسمُ الخَط توقيفي دی

د قرآن کريم په رَسمُ الخط کې د مصحف عثماني اِتباع شوی چې دا د مشرانو صحابه کرامو په موجودګۍ کې په يو خاص طريقې سره مرتّب شوی ، ددې رَسمُ الخط توقيفي دی . لهذا د يو قياسي قانون مطابق په دې کې تبديلي جائز نه ده ، بلکه د قرآن مجيد د کلماتو په ليکلو کې به د مصحف عُثماني اِتباع کولې شي ، نه د قوانينِ عربي .

لما قال احمد مُصطفى المراغي رحمه الله : أَمّا كتابة المصحف فهى تابعة للطريق الّتي كتب بها المصحف في عهد عثمان ابن عفان رضي الله عنه الخليفة الثالث على يد جماعة من كبار

---

(١) الفتاوى الهندية ج٥ ص ٣٢٣ كتاب الكراهية الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة والمصحف ، فتاوى محموديه ج٧ ص ١١٢ حفظ قرآن

(٢) سورة الانعام آية ٥۴ .

(٣) فتاوى محموديه ج٧ ص ١٢٣ حفظ قرآن . امداد الفتاوى ج۴ ص ٦٠ .

(۴) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۴٩١ تخريج شده ايڈيشن .

الصّحابة وتسمى " الرسم العثماني " وقد اتبع فيها نهج خاص يخالف ما اتبع فيما بعد في كثير من المواضع ، ومن ثم قيل : خطان لا يقاس عليهما : خط العروض، وخط المصحف العثماني. (١)

وقال عبدالعظيم الزرقاني رحمه الله : في مسئلة رسم خط القرآن ثلاثة اقوال : الأول : أنه توقيفي لا تجوز مخالفته. وذلك مذهب الجمهور... (٢)

## د قرآن كريم رَسمُ الخَط د عام رسمُ الخط نه جدا دى

د قرآن كريم رَسمُ الخط د عام رسمُ الخط نه جدا دى ، دغه وجه ده چې كله د جَمعِ په صيغه كې د واو نه پس الف نشي ليكلى لكه په جَاءُوْ كې .

او كله د مفرد په صيغه كې د واو نه پس الف ليكلې شي ، لكه په يَدْعُوْا ، اُدْعُوْا وغيره كې .

وَقَدْ خَالَفَهَا فِيْ بَعْضِ الْحُرُوْفِ خَطُّ الْمُصْحَفِ الْإِمَامِ . وَقَالَ أَشْهَبُ: سُئِلَ مَالِكٌ: هَلْ يُكْتَبُ الْمُصْحَفُ عَلَى مَا أَحْدَثَهُ النَّاسُ مِنَ الْهِجَاءِ ؟ فَقَالَ: لَا إِلَّا عَلَى الْكَتْبَةِ الْأُولى...

سُئِلَ مَالِكٌ عَنِ الْحُرُوْفِ فِي القرآن الْوَاوِ وَالْأَلِفِ، أَتُرَى أَنْ يُغَيَّرَ من الْمُصْحَفِ إِذَا وُجِدَ فِيْهِ كَذٰلِكَ ؟ قَالَ: لَا . قَالَ أَبُوْ عَمْرٍو: يعني الواو والألف والمزيدتين فِي الرَّسْمِ الْمَعْدُوْمَتَيْنِ فِي اللَّفْظِ و الواو في "أُولُوا" . وَقَالَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ : يَحْرُمُ مُخَالَفَةُ مُصْحَفِ الإمام فِيْ وَاوٍ أَوْ يَاءٍ أَوْ أَلِفٍ أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ . (٣)

## قرآن كريم د خپل رَسمُ الخط نه علاوه په بل رَسمُ الخط كې چاپ كول ناجائز دي

د قرآن كريم رسمُ الخط متعين دى ، لهذا دا په بل رسمُ الخط كې چاپ كول ناجائز دى.

---

(١) تفسير مراغي ج١ ص١٣ مقدمة طريق كتابة القرآن .

(٢) مناهل العرفان ج١ ص ٣٧٠ هل رسم الخط توقيفي ؟ ، فتاوى حقانيه ج٢ ص ١٣١ كتاب تفسير القرآن

(٣) الاتقان في علوم القرآن ج٢ ص ١٦٦ ، ١٦٧ النوع في مرسوم الخط و آداب كتابته ، فتاوى فريديه ج١ ص٢٣٦.

او دا عُذر پیش کول چې " خلق په عربۍ نه پوهیږي " دا فضول عُذر دی ، ځکه که انسان محنت وکړي نو قرآن کریم زده کولی شي .

وَيَنْبَغِيْ لِمَنْ أَرَادَ كِتَابَةَ الْقُرْآنِ أَنْ يَكْتُبَهُ بِأَحْسَنِ خَطٍّ .... كَمَا هُوَ مُصْحَفُ الْإِمَامِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ . كَذَا فِي الْقُنْيَةِ . (١)

## د خطونو په سَر کې د بِسْمِ الله ... لیکلو حکم

د برکت د پاره د خط په سَر کې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ لیکل جائز دي ، خو که په یو ځای کې دا احتمال وُ چې ددې خط د اَدب لحاظ به او نه ساتلې شي بلکه په لارو او نالو کې به او غورځیږي نو بیا به یې نه لیکي ( صرف په خُله باندې ویل یې کافي دي ) .

یکره کتابة قرآن أو إسم الله تعالی علی ما یفرش لما فیه من ترك التعظیم وکذا علی درهم ومحراب وجدار لما یخاف من سقوط الکتابة . (٢)

مفتي شفیع رحمه الله لیکلي چې د خط لیکلو اصل سُنت خو دادي چې د هر خط په شروع کې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اولیکلې شي ، خو د قرآن کریم او احادیثو په رَڼا کې فقهاؤ دا قاعده لیکلې ده چې چیرته د بسم الله او د الله ﷻ د نوم حفاظت نه کیږي بلکه په بې پَرواهۍ سره غورځولې شي نو بیا په داسې خطونو او ځایونو کې بسم الله لیکل جائز نه دي. ګني د بسم الله په بې ادبۍ کې به بیا ورسره دا لیکونکې هم شریک وي .

نن صبا چې کوم خطونه یو بل ته لیکلې شي نو اکثره بیا په نالو او ډیرانونو کې غورځولې شي نو ځکه د خط لیکلو په وخت کې صرف په خُله باندې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ویل په کار دي ، لیکل یې نه دي په کار . (٣)

(١) فتاوی هندیة ج٥ ص٣٢٣ الباب الخامس في آداب المسجد ، جواهر الفقه ج١ ص٧٢ ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٢ ص٢٩٣ تخریج شده ایډیشن .

(٢) حاشیة الطحطاوي علی مراقي الفلاح شرح نور الإیضاح ص١١٨ باب الحیض . فتاوی محمودیه ج٧ ص١٢٥ .

(٣) معارف القرآن ج٦ ص٥٦٧ .

## د تلاوت په وخت سَر خوزول

د تلاوت کولو په وخت سَر خوَزول شرعي حکم ندی بلکه طبعي شی دی ، څوک سَر خوزوي او څوک نه. (۱)

## په دَفتري وخت کې تلاوت يا نوافلو کولو حکم

که انسان په سَرکاري يا غيرسرکاري دفتر کې کار کوي ، او په دَفتري وخت کې تلاوت يا نوافلو کولو سره په دفتري کارونو کې نقصان راتلو نو بيا دا تلاوت کول يا نفل کول ناجائز دي ( ځکه په دې کې د نورو خلقو حقوق ضائع کيږي ) . (۲)

او که ده دفتري کار خلاص کړې وي او فارغه ناست وي نو بيا ده د پاره تلاوت يا نفل کول جائز دي ، بلکه مُستحسن دي . (۳)

## صرف په کتلو د تلاوت ثواب نه ملاويږي ، البته د کتلو او تصوّر کولو ثواب ملاويږي

که يو کس صرف قرآن مجيد ته ګوري او په ژبه باندې ددې تلاوت نه کوي نو ده ته د تلاوت ثواب نه ملاويږي ، ځکه تلاوت ديته وايي چې په ژبه باندې د قرآن کريم الفاظ اداء کړې شي .

البته ده ته به د قرآن مجيد د کتلو او په زړه کې ددې د تصوّر کولو ثواب ملاويږي .

لانّ القراءة فعل اللسان . (۴)

وَ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الْمُصْحَفِ أَوْلَى مِنَ الْقِرَاءَةِ عَنْ ظَهْرِ الْقَلْبِ. لما روي عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه عن النّبي صلى الله عليه وسلم : أفضل عبادة أمّتي قراءة القرآن نظرًا.

---

(۱) فتاوى محموديه ج۷ ص ۱۶۲ آداب تلاوت.

(۲) ددې پوره تفصيل د مفتي شفيع رحمه الله په تفسير معارف القرآن ج۸ ص ۶۹۳ کې ذکر دی طبع ادارة المعارف کراچي.

(۳) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۴۹۰ .

(۴) مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ص ۱۲۲ .

ولانّ فيه جمعًا بين العبادتين وهو النظر في المصحف وقراءة القرآن . (١)

## د ٧٨٦ په ليکلو سره د بسم الله ثواب نه حاصليږي

که يو کس د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم په ځای باندې د ٧٨٦ عدد اوليکي نو په دې سره د بسم الله ثواب نه حاصليږي ، ځکه دا د بسم الله قائم مقام نه دی ، بلکه دا خو د بسم الله عدد دی ، په دې سره صرف ورته اِشاره کولې شي . لهذا پوره بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليکل په کار دي . (٢)

## آيتونه د جانداره شيانو په شکل ليکل حرام دي

د قرآن کريم آيتونه د جانداره شيانو په شکل ليکل حرام دي ، او دا د قرآن کريم د آيتونو بې اَدبي ده ، په عُرف کې ديته تصوير ويلې شي ، آيتونه ورته نشي ويلی .

لکه ځرنګې چې د سروزرو نه جوړ شوي بُت ته انسان نشي ويلی بلکه بُت ورته ويلې شي ، دغه رنګې د آيتونو نه جوړ شوي تصوير ته په عُرف کې تصوير وايي ، آيت ورته نه وايي .

بل دا چې د غير مُبارک نُقطو او خطونو نه د حيوان تصوير جوړول د ټولو فقهاؤ په نزد حرام دي نو د مُبارک نُقطو او خطونو ( يعنی د قرآن مجيد آيتونو ) نه د جانداره شيانو تصوير جوړول خو په طريقِ اولی حرام دي .

وفی الهندية : عَنِ الحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى أَنَّهُ يُكْرَهُ أَنْ يُصَغَّرَ المُصْحَفُ وَأَنْ يَكْتُبَهُ بِقَلَمٍ دَقِيْقٍ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى . قَالَ الحَسَنُ وَبِهِ نَأْخُذُ . (٣)

(١) فتاوى خانيه على هامش الهنديه ج١ ص ١٦٢ الباب الحادي والعشرون في الجنائز ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۴۳۷ .

(٢) فتاوى محموديه ج٧ ص ١٦٢ آداب تلاوت .

(٣) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۴۹۳ ، فتاوى فريديه ج١ ص ۲۵۴ .

## د ترجمې په ويلو سره د تلاوت ثواب نه ملاويږي ، البته په معنی باندې د پوهيدو ثواب ملاويږي

قرآن مجيد په عربي ژبه کې نازل شوی . (۱)

او ددې د هر هر لفظ په تلاوت کولو سره د لسو (۱۰) نيکيو وعده شوی . (۲)

لهذا د قرآن مجيد د عربي الفاظو په ويلو سره د تلاوت ثواب ملاويږي ، د اُردو ، فارسي يا بلې ژبې په خالِصه ترجمې لوستلو سره د تلاوت ثواب نه ملاويږي .

البته د قرآن مجيد په معنی باندې د پوهيدو ثواب ورته حاصليږي . (۳)

## د مانځه نه بهر چې تلاوت کولې شي د هغې د اَوريدو حکم

په مانځه کې چې کله تلاوت کولې شي نو په اتفاق باندې ددې اَوريدل واجب دي ، ددې آيت په وجه چې :

﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ . (۴)

ترجمه : او کله چې قرآن کريم لوستلې شي نو ديته غوږ کيدئ (يعنی دا په توجّه سره واورئ) ، او چپ اُوسئ ، ددې د پاره چې په تاسو رحم اوکړې شي .

خو چې د مانځه نه علاوه په بل وخت کې تلاوت کولې شي نو ددې اَوريدل واجب دي او که نه ؟ ددې په باره کې دوه قِسمه اقوال موجود دي : يو د وجوب ، او دويم د عدمِ وجوب . متأخرينو علماء کرامو د آسانۍ او سهولت د پاره دويم قول ته ترجيح ورکړې ، لهذا د مانځه نه بهر که د قرآن مجيد تلاوت کولې شي نو اګر چې اَوريدل يې مُستحب دي خو واجب نه دي .

---

(۱) ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ . سورة يوسف آية ۲ .

(۲) عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا ، لَا أَقُولُ الٓمٓ حَرْفٌ ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ ، وَلَامٌ حَرْفٌ ، وَمِيمٌ حَرْفٌ . رواه الترمذي كتاب فضائل القرآن رقم الحديث ۲۹۱۰ ، والمنذري ۲ / ۳۴۲ . مشكوة ص ۱۸۶ .

(۳) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۴۵۸ ، ۴۵۷ .

(۴) الاعراف آيت ۲۰۴ .

وَحَكَى ابْنُ الْمُنْذِرِ الإِجْمَاعَ عَلَى عَدَمِ وُجُوْبِ الإِسْتِمَاعِ وَالإِنْصَاتِ فِيْ غَيْرِ الصَّلَاةِ وَالْخُطْبَةِ. وَذٰلِكَ أَنَّ إِيْجَابَهُمَا عَلَى كُلِّ مَنْ يَسْمَعُ أَحَدًا يَقْرَأُ. فِيْهِ حَرَجٌ عَظِيْمٌ ، لِأَنَّهُ يَقْتَضِيْ أَنْ يَتْرُكَ لَهُ الْمُشْتَغِلُ بِالعِلْمِ عِلْمَهُ ، وَالْمُشْتَغِلُ بِالْحُكْمِ حُكْمَهُ ، وَالْمُبْتَاعَانِ مُسَاوَمَتَهُمَا وَتَعَاقُدَهُمَا وَكُلُّ ذِيْ شُغُلٍ شُغْلَهُ . (۱)

قال الجصاص في تفسير الاية : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالَى ﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهُ وَأَنْصِتُوْا ﴾ قَالَ: اَلْمُؤْمِنُ فِيْ سَعَةٍ مِنَ الإِسْتِمَاعِ إِلَيْهِ إِلَّا فِيْ صَلَاةٍ مَفْرُوْضَةٍ . (۲)

او کوم علماء چې د وجوب قول کوي هغوی وايي :

يَجِبُ الإِسْتِمَاعُ لِلْقِرَاءَةِ مُطْلَقًا . (۳)

أَيْ فِي الصَّلَاةِ وَخَارِجَهَا لِأَنَّ الْآيَةَ وَإِنْ كَانَتْ وَارِدَةً فِي الصَّلَاةِ عَلَى مَا مَرَّ فَالْعِبْرَةُ لِعُمُوْمِ اللَّفْظِ لَا لِخُصُوْصِ السَّبَبِ ، ثُمَّ هٰذَا حَيْثُ لَا عُذْرَ ، وَلِذَا قَالَ فِي الْقُنْيَةِ : صَبِيٌّ يَقْرَأُ فِي الْبَيْتِ وَأَهْلُهُ مَشْغُوْلُوْنَ بِالْعَمَلِ يُعْذَرُوْنَ فِيْ تَرْكِ الإِسْتِمَاعِ إِنْ افْتَتَحُوا الْعَمَلَ قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَ إِلَّا فَلَا، وَكَذَا قِرَاءَةُ الْفِقْهِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ .

وَفِي الْفَتْحِ عَنِ الْخُلَاصَةِ : رَجُلٌ يَكْتُبُ الْفِقْهَ وَبِجَنْبِهِ رَجُلٌ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ فَلَا يُمْكِنُهُ اسْتِمَاعُ الْقُرْآنِ فَالإِثْمُ عَلَى الْقَارِئِ ، وَعَلَى هٰذَا لَوْ قَرَأَ عَلَى السَّطْحِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ يَأْثَمُ ... أَيْ لِأَنَّهُ يَكُوْنُ سَبَبًا لِإِعْرَاضِهِمْ عَنِ اسْتِمَاعِهِ ، أَوْ لِأَنَّهُ يُؤْذِيْهِمْ بِإِيْقَاظِهِمْ تَأَمَّلْ .

وَفِيْ شَرْحِ الْمُنْيَةِ : وَالأَصْلُ أَنَّ الإِسْتِمَاعَ لِلْقُرْآنِ فَرْضُ كِفَايَةٍ لِأَنَّهُ لِإِقَامَةِ حَقِّهِ بِأَنْ يَكُوْنَ مُلْتَفِتًا إِلَيْهِ غَيْرَ مُضَيِّعٍ وَذٰلِكَ يَحْصُلُ بِإِنْصَاتِ الْبَعْضِ ، كَمَا فِيْ رَدِّ السَّلَامِ حِيْنَ كَانَ لِرِعَايَةِ حَقِّ الْمُسْلِمِ كَفٰى فِيْهِ الْبَعْضُ عَنِ الْكُلِّ . إِلَّا أَنَّهُ يَجِبُ عَلَى الْقَارِئِ احْتِرَامُهُ بِأَنْ لَا يَقْرَأَهُ فِي الْأَسْوَاقِ

(۱) تفسير المنار ج۹ ص۵۵۲ ، ۵۵۳ .

(۲) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۱۵ باب القراءة خلف الامام ، فتاوی حقانيه ج۲ ص ۱۷۰ .

(۳) درمختار ۱ / ۵۳۶ لوړ يَجِبُ الإِسْتِمَاعُ لِلْقِرَاءَةِ مُطْلَقًا .

وَمَوَاضِعِ الْإِشْتِغَالِ ، فَإِذَا قَرَأَهُ فِيهَا كَانَ هُوَ الْمُضَيِّعَ لِحُرْمَتِهِ ، فَيَكُونُ الْإِثْمُ عَلَيْهِ دُونَ أَهْلِ الْإِشْتِغَالِ دَفْعًا لِلْحَرَجِ . (١)

يكره للقوم أنْ يقرؤوا القرآن جملةً لتضمّنها ترك الاستماع والإنصات وقيل لا بأس به . (٢)

## د تلاوت په وخت قصدًا شور کول د کافرانو عادت دی

الله تعالی د کافرانو په باره کې فرمايي :

﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴾ . (٣)

ترجمه : او وويل هغه کسانو چې کافران وو تاسو داقرآن مه اورئ ، او ( چې کله لوستلې شي نو ) په دې کې شور کوئ ، ددې د پاره چې تاسو غالب شی .

ددې آيت نه معلومه شوه چې د تلاوت کولو په وخت کې د خَلل اچولو په نيت سره شور کول د کُفر نخه ده ، او خاموشۍ سره اوريدل د ايمان نخه ده ، نو ځکه تلاوت اوريدل واجب دي .

نن صبا په هوټلو او بازارونو کې هم خلقو په ريډيو ( يا ټيپ ) باندې ځانته تلاوت لګولې وی خو هيڅوک ورته غوږ نه نيسي ، هر کس په خپل کار کې مصروفه وي . نو دا ډيره نقصاني خبره ده ، الله تعالی دې مسلمانانو ته هدايت وکړي چې يا خو په داسې موقعو کې تلاوت نه لګوي ، او که د تبرک د پاره يې لګوي چې بيا ورته په صحيح طريقې سره غوږ نيسي . (۴)

## د کېسټ نه تلاوت اوريدو سره د تلاوت ثواب نه ملاويږي ، البته د اوريدو ثواب ملاويږي

کله چې يو کس د ټيپ ريکارډ يا کېسټ نه تلاوت اوري او دې په ژبه باندې ورسره تلاوت نه کوي نو ده ته په دې اوريدو سره د تلاوت کولو ثواب نه ملاويږي .

(١) رد المحتار ج١ ص٣٦٦ مطلب الاستماع للقرآن فرض كفاية قبيل باب الامامة . فتاوی محموديه ج٧ ص١٢٣ .

(٢) حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ص٢٥٨ قبيل باب ما يفسد الصلوة . فتاوی محموديه ج٧ ص ١٢٢ .

(٣) سورة حم السجده (فصلت) آيت ٢٦ .

(۴) معارف القرآن ج٧ ص٦٣٧ .

لانّ القراءة فعل اللسان . (١)

البته ده ته د تلاوت آوريدو ثواب ملاويږي . (٢)

## د کېسټ په آواز باندې سجده تلاوت نه لازمیږي

که يو کس د مخکې نه رِيکارډ شوې تلاوت د ريډيو ، ټي وي او ټېپ ريکارډ په ذريعه آوري ، او دې آيت د سجدې هم واوري نو بيا هم په ده باندې سجدهٔ تلاوت نه واجبيږي .

ځکه د سجده تلاوت آوريدو د پاره تلاوتِ صحيحه شرط دی ، او د ټېپ ، ريډيو وغيره نه چې کوم آواز رااوځي نو دا عقلا او شرعًا صحيح نه دی ، او په دې باندې د تلاوت احکام نه جاري کيږي .

قال علاؤ الدين الكاساني رحمه الله : فَيُنْظَرُ إِلَى أَهْلِيَّةِ التَّالِيْ وَأَهْلِيَّتِهِ بِالتَّمْيِيْزِ .... بِخِلَافِ السَّمَاعِ مِنَ الْبَبْغَاءِ وَالصَّدَى فَإِنَّ ذٰلِكَ لَيْسَ بِتِلَاوَةٍ وَكَذَا إِذَا سَمِعَ مِنَ الْمَجْنُوْنِ لِأَنَّ ذٰلِكَ لَيْسَ بِتِلَاوَةٍ صَحِيْحَةٍ لِعَدَمِ أَهْلِيَّتِهِ لِانْعِدَامِ التَّمْيِيْزِ . (٣)

اگر چې د بعضو علماء کرامو په نزد باندې براهِ راست آوريدو سره سجدهٔ تلاوت واجبيږي . (٤)

## چې يو په کټ کې ناست وي او بل لاندې تلاوت کوي نو دا بې اَدبي ده

که چيرته يو کس په کټ يا کرسۍ کې ناست وي او بل کس ورسره نزدې لاندې په زمکه ناست وي ، او قرآن مجيد ورسره وي ، تلاوت يې کوي نو دا د قرآن بې اَدبي ده ( لهذا د کټ يا کرسۍ نه رابښکته کيدل په کار دي ، يا دې تلاوت کوونکې هم بره کټ ته اُوخيجي ) . (٥)

---

(١) حلبي كبير ص ٢٧٥ .

(٢) آپ كے مسائل اور ان كا حل ج٢ ص ٢٨٠ .

(٣) بدائع الصنائع ج١ ص ١٨٦ كتاب الصلاة فصل بيان من تجب عليه السجدة ، ومثله في خلاصة الفتاوى ج١ ص ١٨٢ الفصل السابع عشر في وجوب سجدة التلاوة ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج٢ ص ٢٨٢ قرآن كي عظمت اور اس كي تلاوت .

(٤) فتاوى حقانيه ج٣ ص ٣٣٨ .

(٥) فتاوى محموديه ج٧ ص ١٢٠ ، كفاية المفتي ج١ ص ١٢٦ كتاب العقائد .

همدارنګې که يو استاذ په کرسۍ کې ناست وي او د شاګردانو سره يې قرآن مجيد ونه يا سيپارې وي ، او دوی لاندې په تاټ ( يا پُوزکي ) باندې ناست وي نو دا هم د سُنت طريقې خلاف ده ، او د قرآن مجيد بې اَدبي ده ، استاذ ته هم په کار دي چې د شاګردانو سره لاندې کيني. لِأَنَّ تَعْظِيمَ الْقُرْآنِ وَالْفِقْهِ وَاجِبٌ. (١)

## قبرستان ( مقبرې ) ته د تلاوت د پاره قرآن مجيد وړل ندي په کار

د تلاوت کولو د پاره قبرستان ته قرآن مجيد وړل نه دي په کار ، بلکه په يادو چې ورته څه حِصه ياده وي هماغه دې په قبرستان کې لولي ، او که په يادو ورته څه نه وُ ياد نو په جُمات يا کور کې دې تلاوت وکړي او ثواب دې د مقبرې واله پسې اُوبخي.

وَأَمَّا جَعْلُ الْمُصْحَفِ عِنْدَ الْقُبُوْرِ وَإِيقَادُ الْقَنَادِيْلِ هُنَاكَ فَهٰذَا مَكْرُوْهٌ مَنْهِيٌّ عَنْهُ. (٢)

## په قبر کې د مړي سره قرآن مجيد اِيخودل ناجائز دي

په قبر کې د مړي سره مکمل قرآن مجيد يا د قرآن مجيد څه حصه ايخودل ناجائز دي ، ځکه مړې اکثر په قبر کې خرابيږي نو په داسې ځای کې قرآن کريم ايخودل بې اَدبي ده.

همدغه شان نور مُقدّس کلمات ورسره ايخودل هم ناجائز دي ، په سَلفو صالحينو کې د هيچا دا عادت نه وُ چې ګني په قبر کې يې د ځان سره مکمل قرآن مجيد يا څه حصه ايخي وي

وَقَدْ أَفْتَى ابْنُ الصَّلَاحِ بِأَنَّهُ لَا يَجُوْزُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَى الْكَفَنِ يٰسٓ وَالْكَهْفُ وَنَحْوُهُمَا خَوْفًا مِنْ صَدِيْدِ الْمَيِّتِ. (٣)

## د جُمات قرآن مجيد کور ته وړل صحيح نه دي

که په جُمات کې قرآن مجيد ونه دير زيات وي او دا ددې جُمات د ضرورت نه زياتي وي

---

(١) الفتاوی الهندية ج٥ ص ٣١٦ كتاب الكراهية الباب الخامس في آداب المسجد فتاوی محمودية ج٧ ص ١٤٢.

(٢) مجموع الفتاوی لشيخ الاسلام ابن تيمية ج٢٤ ص٣٠٠ هل قراءتهم تصل الى الميت ، فتاوی محموديه ج٧ ص ١٥٤ آداب قرآن.

(٣) شامي ج٢ ص ٢٣٦ مطلب فيما يكتب على كفن الميت قبيل باب الشهيد ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٤ ص ٢٨٢ قرآن کی عظمت اور اس کی تلاوت.

نو دا بل جُمات يا بلې مدرسې ته وړل جائز دي چېرته چې د دې ضرورت وي.

خو كورته وړل يې صحيح نه دي.

وَفِي الدُّرَرِ وَقَفَ مُصْحَفًا عَلَى أَهْلِ مَسْجِدٍ لِلْقِرَاءَةِ إِنْ يُحْصُوْنَ جَازَ . وَإِنْ وَقَفَ عَلَى الْمَسْجِدِ جَازَ وَيَقْرَأُ فِيْهِ . وَلَا يَكُوْنُ مَحْصُوْرًا عَلَى هٰذَا الْمَسْجِدِ وَبِهِ عُرِفَ حُكْمُ نَقْلِ كُتُبِ الْأَوْقَافِ مِنْ مَحَلِّهَا لِلْإِنْتِفَاعِ بِهَا . (١)

## د دَم اَچولو حكم :

په چا باندې دَم اَچول جائز دي خو د دې د جواز د پاره دوه شرطونه دي :

اول دا چې د دَم په الفاظو كې به شِركي يا مجهولُ المعنٰى الفاظ نه وي.

دويم دا چې دا دَم به مُؤثِر بِالذّات او سببِ حقيقي نشي ګڼړلی. (٢)

او په كومو روايتونو كې چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د دَم نه مَنع كړې نو د دينه هغه دَم مراد دی چې په شِركي او ناجائز الفاظو باندې مُشتمل وي، يا خلق دا دَم مُؤثِر حقيقي ګڼړي. (٣)

## د تعويذ حكم

تعويذ ليكل او اَچول هم د جمهورو علماؤ په نزد جائز دي خو چې شِركي، مُهمل او غير معلومُ المعنى الفاظ په كې نه وي. (۴)

البته د بعضو علماؤ په نزد تعويذ ليكل او اَچول جائز نه دي، دوی د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د رِوايت نه اِستدلال كوي، كوم چې امام ابوداوُد رحمه الله نقل كړي.

(١) الدر المختار مع الشامي ج۴ ص ٣٦٥ كتاب الوقف مطلب متى ذكر للوقف مصرفا. آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۴ ص ۴٩٢ قرآن كي عظمت اور اس كي تلاوت.

(٢) فتح الباري ١٠ / ٢٢٠، كشف الباري كتاب الطبّ ص ٥٨.

(٣) كشف الباري كتاب الطبّ ص ٥٩.

(۴) فتح الباري ١٠ / ٢٢٠، رد المحتار على الدر المختار كتاب الحظر والاباحة ٦ / ٣٦٣، كفايت المفتي ٩ / ٧٧ باب دوم عمليات و تعويذات، فتاوى حقانيه كتاب الكراهية والاباحة باب التداوي ٢ / ۴٠٠، كشف الباري كتاب الطب ص ٦٦.

نبي عليه السلام فرمايي :

إِنَّ الرُّقَى، وَالتَّمَائِمَ، وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ . (۱)

بيشکه دَم ، تعويذ (يعنی کودې) ، او مَنترونه (يعنی هغه تعويذ چې ښځې يې د خپل خاوند تابع کولو د پاره کوي ، دا تول) شِرک دی .

خو جمهور علماء فرمايي : د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په حديث کې چې کوم دَم او تعويذ ته شِرک ويل شوی نو ددې نه هغه دَم او تعويذ مراد دی چې په شِرکي الفاظو باندې مشتمل وي ، يا څوک دا تعويذ مُؤثِر حقيقي گڼړي . (۲)

په صحابهٔ کرامو کې د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ او حضرت عبدالله بن عباس ﷺ د روايتونو نه د تعويذ ثبوت ملاويږي .

ابن ابي شيبه د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ نه روايت نقل کړی ، کوم چې امام ابوداوُد رحمه الله هم نقل کړی :

حضرت عبدالله بن عمرو فرمائي چې څوک به (په خوب کې) يَريده نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به ورته دا کلمات خوده :

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَسُوْءِ عِقَابِهِ ، وَمِنْ شَرِّ الشَّيَاطِيْنِ وَأَنْ يَّحْضُرُوْنِ .

په روايت کې ذکر دي :

وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ يُعَلِّمُهُنَّ مَنْ عَقَلَ مِنْ بَنِيْهِ ، وَمَنْ لَمْ يَعْقِلْ كَتَبَهُ فَأَعْلَقَهُ عَلَيْهِ . (۳)

حضرت عبدالله بن عُمر ﷺ به په خپلو بچو کې چې څوک عاقل او پوهه وو هغوی ته به يې دا کلمات خوده ، ليکن چې کوم بچې به عاقل نهٔ (او د زده کولو قابِل به نه وُ) نو هغه له به يې دا کلمات اوليکل او په غاړه کې به يې ورته (د تعويز په شکل) واچول .

---

(۱) سنن ابي داؤد كتاب الطبّ باب في تعليق التمائم ۴/ ۹ رقم الحديث ۳۸۸۳ ، سنن ابن ماجه كتاب الطبّ باب تعليق التمائم ۲/۱۱۶۶ رقم الحديث ۳۵۳۰ .

(۲) فتح الباري ۱۰/ ۲۴۱ ، رد المحتار على الدر المختار كتاب الحظر والاباحة ۶/ ۳۶۳ ، فتاوى حقانيه ۲/ ۲۴۱ .

(۳) سنن ابي داؤد كتاب الطب باب كيف الرقى ۴\ ۱۲ رقم الحديث ۳۸۹۳ . كشف الباري كتاب الطب ص ۶۶ .

وفي رواية : وَكَانَ عَبْدُ اللهِ يُعَلِّمُهَا وَلَدَهُ مَنْ أَدْرَكَ مِنْهُمْ ، وَمَنْ لَمْ يُدْرِكْ كَتَبَهَا وَعَلَّقَهَا عَلَيْهِ . تفسير قرطبي ج ۱۰ ص ۲۷۸ سورة بني اسرائيل آيت ۸۲ .

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي چې دوی به د اَولاد په دَرد کې مبتلاء ښځې د پاره دا کلمات مفيد ګڼړل :

بِسْمِ اللّٰهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ . سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ . اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ . كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوْا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا . كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ لَمْ يَلْبَثُوْا إِلَّا سَاعَةً مِّنْ نَّهَارٍ بَلَاغٌ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفَاسِقُوْنَ .

په همدې روايت کې دا هم ذکر دي چې که دا کلمات په معمولي توره سياهي اُوليکلې شي ، او بيا ددې اُوبه په دغه زَنانه اُوڅکلې شي ، يا په دې دُعا باندې اُوبه دَم کړې شي او دا اُوبه دا زَنانه ماتحتَ السُرّة څنړکاوُ کړي ، يا ددې نه تعويذ جوړ کړې شي او دغه د اَولاد په دَرد مبتلاء ښځه يې په پَتون اُوتړي نو په دې سره به دې زَنانه ته فائده ملاوُ شي ، او ماشوم به يې په آسانه پيدا شي . (١)

په تابعينو کې د مجاهد ، محمد بن سيرين ، عُبيدالله بن عبدالله بن عمر ، ضحاک ، او سعيد بن المسيب رحمهم الله نه د تعويذ جواز نقل دی . (٢)

علامه ابن تيميه رحمه الله هم په خپله فتاویٰ کې صراحةً د تعويذ جواز ذکر کړی . (٣)

## دم او تعويذ د احاديثو نه ثابت دي

نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپله بيماران دَم کړي ، صحابه کرامو ته يې د دَم اچولو اِجازت ورکړی ، او صحابه کرامو په خپله هم بيماران دَم کړي .

---

(١) فتاوی ابن تيميه فصل ويجوز ان يكتب للمصاب وغيره من المرضى شيئاً من كتاب الله و ذكره بالمراد المباح ويغسل ويسقى ١٩ /٦٣ . كشف الباري كتاب الطبّ ص ٦٧.

(٢) مصنف ابن ابي شيبة ٨ / ٣٩ ، كشف الباري كتاب الطبّ ص ٦٧.

(٣) فتاوی ابن تيميه ١٩ / ٦٤ ، رد المحتار على الدر المختار كتاب الحظر والاباحة ٦ /٣٦٣ ، امداد الفتاوی تعويذات واعمال ٤/٨٩ . كشف الباري كتاب الطبّ ص ٦٧.

دا تولې خبرې په بخاري شريف او نورو د احاديثو په کتابونو کې صراحةً موجود دي . (١)

همدارنګې نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه عمليات هم جائز کړځولي کوم چې په شرکي الفاظو مشتمل نه وي .

لحديث مسلم : قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم : اَعْرِضُوْا عَلَيَّ رُقَاكُمْ لَا بَأْسَ بِالرُّقٰى مَالَمْ يَكُنْ فِيْهِ شِرْكٌ . (٢)

همدارنګې تعويذ ليکل او په غاړه کې اچول د صحابه کرامو نه ثابت دي .

لحديث عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه الذي رواه ابوداؤد :

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْفَزَعِ كَلِمَاتٍ : « أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ ، مِنْ غَضَبِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَأَنْ

---

(١) ١ . عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « كَانَ يَنْفِثُ عَلَى نَفْسِهِ فِي مَرَضِهِ الَّذِيْ قُبِضَ فِيْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ، فَلَمَّا ثَقُلَ كُنْتُ أَنَا أَنْفِثُ عَلَيْهِ بِهِنَّ، فَأَمْسَحُ بِيَدِ نَفْسِهِ لِبَرَكَتِهَا » . صحيح البخاري باب في المرأة ترقي الرجل رقم الحديث ٥٧٥١ .

٢ . عَنْ ابي سعيد الخدري رضي الله عنه : أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَوْا عَلَى حَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ فَلَمْ يَقْرُوْهُمْ، فَبَيْنَمَا هُمْ كَذٰلِكَ، إِذْ لُدِغَ سَيِّدُ أُولٰئِكَ، فَقَالُوْا: هَلْ مَعَكُمْ مِنْ دَوَاءٍ أَوْ رَاقٍ ؟ فَقَالُوْا: إِنَّكُمْ لَمْ تَقْرُوْنَا، وَلَا نَفْعَلُ حَتّٰى تَجْعَلُوْا لَنَا جُعْلًا. فَجَعَلُوْا لَهُمْ قَطِيْعًا مِنَ الشَّاءِ، فَجَعَلَ يَقْرَأُ بِأُمِّ الْقُرْآنِ، وَيَجْمَعُ بُزَاقَهُ وَيَتْفِلُ، فَبَرَأَ فَأَتَوْا بِالشَّاءِ، فَقَالُوْا: لَا نَأْخُذُهُ حَتّٰى نَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلُوْهُ، فَضَحِكَ، وَقَالَ : وَمَا أَدْرَاكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ، خُذُوْهَا وَاضْرِبُوْا لِيْ بِسَهْمٍ. صحيح البخاري بَابُ الرُّقٰى بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ رقم الحديث ٥٧٣٦ .

٣ . عَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: « أَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ أَمَرَ أَنْ يُسْتَرْقٰى مِنَ الْعَيْنِ » . صحيح البخاري باب رقية العين رقم الحديث ٥٧٣٨ .

٤ . عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى فِيْ بَيْتِهَا جَارِيَةً فِيْ وَجْهِهَا سَفْعَةٌ، فَقَالَ: « اِسْتَرْقُوْا لَهَا، فَإِنَّ بِهَا النَّظْرَةَ » . صحيح البخاري باب رقية العين رقم الحديث ٥٧٣٩ .

٥ . عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَوِّذُ بَعْضَ أَهْلِهِ، يَمْسَحُ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى وَيَقُوْلُ: « اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ أَذْهِبِ الْبَاسَ، اِشْفِهِ وَأَنْتَ الشَّافِيْ، لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا » . صحيح البخاري باب رقية النبي صلى الله عليه وسلم رقم الحديث ٥٧٤٣ . فتاوى فريديه ج١ ص ٢٠٥ .

(٢) رواه مسلم ، مشكوة المصابيح ج٢ ص ٣٨٨ كتاب الطب والرقى رقم الحديث ٤٥٣٠ الفصل الاول .

يَحْضُرُوْنِ » . وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ يُعَلِّمُهُنَّ مَنْ عَقَلَ مِنْ بَنِيْهِ، وَمَنْ لَمْ يَعْقِلْ كَتَبَهُ فَأَعْلَقَهُ عَلَيْهِ . (۱)

لهذا ددې خبرو نه انکار کول يا غلط فهمي ده، يا بَد فهمي ده . (۲)

قال العلامة آلوسي رحمه الله : وعند ابن المسيب يجوز تعليق العوذة ... ورخص الباقر في العوذة تعلق على الصبيان مطلقا، وكان ابن سيرين لا يرى بأسا بالشيء من القرآن يعلقه الإنسان كبيرا أو صغيرا مطلقا .... (۳)

البته ناجائز تعويذ حرام دی، او کوم تعويذ کې چې د قرآن کريم کلمات ليکل شوي وي هغه جائز دی . لما رواه ابوداؤد (۴)

## په تعويذ او تميمه کې فرق دی

په تعويذ او تميمه کې فرق دی، تعويذ ليکل او اَچول جائز دي، د ابوداؤد شريف او د نورو احاديثو نه ددې جواز معلوميږي .

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْفَزَعِ كَلِمَاتٍ : « أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ، مِنْ غَضَبِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَأَنْ يَحْضُرُوْنِ » . وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ يُعَلِّمُهُنَّ مَنْ عَقَلَ مِنْ بَنِيْهِ، وَمَنْ لَمْ يَعْقِلْ كَتَبَهُ فَأَعْلَقَهُ عَلَيْهِ . (٥)

---

(۱) سنن ابي داؤد كتاب الطب باب كيف الرقى ۲\۱۲ رقم الحديث ۳۸۹۳ .

(۲) فتاوى فريديه ج۱ ص ۴۰۵ كتاب الطب والرقية والتعويذ .

(۳) تفسير روح المعاني ۱۳۹/۸ سورة الاسراء .

وفي فردوس ديلمي ص ٦٠ :لابأس بتعليق التعويذ من القرآن . رواه ابونعيم عن عايشة رضي الله عنها . وهكذا في سنن الدارمي ص ۲۱۱ ، ومصنف عبدالرزاق ص ۳۴۵ . فتاوى فريديه ج۱ ص ۴۱۲ كتاب الطب والرقية والتعويذ .

(۴) لما رواه ابوداؤد كتاب الطب باب كيف الرقى ۲\۱۲ رقم الحديث ۳۸۹۳ .

(٥) سنن ابي داؤد كتاب الطب باب كيف الرقى ۲\۱۲ رقم الحديث ۳۸۹۳ . (د حديث ترجمه وړاندې تېره شوه ) .

او تميمه ناجائز ده.

لحديث عَبْدِ اللهِ بْنَ عَمْرٍو، قال: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: « مَا أُبَالِي مَا أَتَيْتُ إِنْ أَنَا شَرِبْتُ تِرْيَاقًا، أَوْ تَعَلَّقْتُ تَمِيمَةً ... (١)

ځکه تميمه خزرات، اظفار السباع و عظامها ته وايي، مبارکو کلماتو ليکلو ته تميمه ويل ګمراهي ده.

قال العلامة ابن عابدين: اَلتَّمِيمَةُ الْمَكْرُوهَةُ مَا كَانَ بِغَيْرِ الْقُرْآنِ. وَقِيلَ: هِيَ الْخَرَزَةُ الَّتِي تُعَلِّقُهَا الْجَاهِلِيَّةُ ... وَبَعْضُهُمْ يَتَوَهَّمُ أَنَّ الْمُعَاذَاتِ هِيَ التَّمَائِمُ وَلَيْسَ كَذٰلِكَ إِنَّمَا التَّمِيمَةُ الْخَرَزَةُ، وَلَا بَأْسَ بِالْمُعَاذَاتِ إِذَا كُتِبَ فِيهَا الْقُرْآنُ، أَوْ أَسْمَاءُ اللهِ تَعَالَى ... قَالُوا: إِنَّمَا تُكْرَهُ الْعُوْذَةُ إِذَا كَانَتْ بِغَيْرِ لِسَانِ الْعَرَبِ، وَلَا يُدْرَىٰ مَا هُوَ وَلَعَلَّهُ يَدْخُلُهُ سِحْرٌ أَوْ كُفْرٌ أَوْ غَيْرُ ذٰلِكَ، وَأَمَّا مَا كَانَ مِنَ الْقُرْآنِ أَوْ شَيْءٍ مِنَ الدَّعَوَاتِ فَلَا بَأْسَ بِهِ ... وَفِي الشَّلَبِيِّ عَنِ ابْنِ الْأَثِيرِ: التَّمَائِمُ جَمْعُ تَمِيمَةٍ وَهِيَ خَرَزَاتٌ كَانَتِ الْعَرَبُ تُعَلِّقُهَا عَلَى أَوْلَادِهِمْ يَتَّقُونَ بِهَا الْعَيْنَ فِي زَعْمِهِمْ، فَأَبْطَلَهَا الْإِسْلَامُ. (٢)

نبي عليه السلام فرمايي:

إِنَّ الرُّقَى، وَالتَّمَائِمَ، وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ. (٣)

نو لکه څرنګې چې هر قسمه رقيه ناجائز نه ده، بلکه هغه رقيه ناجائز ده چې په شِرکي کلماتو مشتمل وي، نو همدغه شان هر تعويذ هم ناجائز نه دی بلکه هر هغه تعويذ ناجائز دی چې په شِرکي کلماتو مشتمل وي. (۴)

(١) سنن ابي داؤد كتاب الطب باب في الترياق رقم الحديث ٣٨٦٩ .

(٢) رد المحتار هامش الدرالمختار ج٥ ص ٢٥٧ قبيل فصل في النظر، فتاوى فريديه ج١ ص ۴١٢ كتاب الطب والرقية والتعويذ.

(٣) سنن ابي داؤد كتاب الطب باب في تعليق التمائم ٢/ ٩ رقم الحديث ٣٨٨٣، سنن ابن ماجه كتاب الطب باب تعليق التمائم ٢/١١٦٦ رقم الحديث ٣٥٣٠. (د حديث ترجمه او تشريح وړاندې تېره شوه).

(۴) فتاوى فريديه ج١ ص ۴١٢ كتاب الطب والرقية والتعويذ.

# تعويذ په غاړه کې اچول يا په مټ باندې تړل جائز دي

جائز کلمات ليکل جائز دي، لما رواه ابوداؤد. (۱)

او په کوم حديث کې چې راغلي: إِنَّ الرُّقَى، وَالتَّمَائِمَ، وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ. (۲)

نو په دې کې د تمائم نه مراد: الخرزات التي تعلقها النساء في اعناق الاولاد على ظن انها تؤثر و تدفع العين.

( يعنی ممانعت د هغه مَشکنړو او مرئ نه راغلی چې په هغې کې د تبرُک هيڅ بُوی نشته ).

لکه څرنګې چې د رقی نه مراد اسماء الاصنام والشياطين مراد دي، نو همدغه رنګې د تمائم نه هم مراد ناجائز تعويذ مراد دی چې په شِرکي الفاظو مشتمل وي. (۳)

## د عمَلياتو حکم

لکه څرنګې چې دَم او تعويذ په مذکوره شرائطو سره جائز دي نو همدغه شان د عامو عمَلياتو او مخصوصو وظائفو حکم هم دی: چې که چيرته په دې کې شِرکي او مُبهم الفاظ نه وي نو دا جائز دي.

ځکه دا عمَليات هم د هر چا خپل خپل تجربات وي چې دوی د يو مقصد د پاره څه کلمات يا وظائف په معلوم مقدار ووايي، په هغې کې کامياب شي نو دوی دا مستقل وظيفه او عمل اوګرځوي، بل دا چې دوی دا څه شرعي حکم هم نه ګڼي.

ددې مثال داسې دی لکه مختلف جَړې او بُوټي چې خلقو په تجربو سره معلوم کړي چې داد فلاني مرَض د پاره فائده مند دي.

---

(۱) سنن ابي داؤد كتاب الطب باب كيف الرقى ۲\۱۲ رقم الحديث ۳۸۹۳ . (پوره حديث د ترجمې سره وړاندې تير شو ).

(۲) سنن ابي داؤد كتاب الطب باب في تعليق التمائم ۲/۹ رقم الحديث ۳۸۸۳، سنن ابن ماجه كتاب الطب باب تعليق التمائم ۲/۱۱۶۶ رقم الحديث ۳۵۳۰. ( د حديث ترجمه او تشريح وړاندې تېره شوه ).

(۳) فتاوى فريديه ج۱ ص۶۰۶ مسائل شتى.

نو همدغه شان دا جائز غيرمأثور عمليات هم دي چې بزرگانو په خپلو تجربو سره ددې فوائد او آثرات معلوم كړي ، لهذا دا جائز دي. (١)

**تنبيه** : مگر دا خبره ياد ساتل په كار دي چې په عمَليات سره څه قطعي حكم نه ثابتيږي ، مثلا بعضې خلق د غَل معلومولو د پاره څه عمليات كوي نو په دې سره قطعي او يقيني طريقې سره يو كس غَل ثابتول يا په هغه باندې د غَل احكام جاري كول نا جائز دي. (٢)

وَقَالَ الْقُرْطُبِيُّ : اَلرُّقَى ثَلَاثَةُ أَقْسَامٍ أَحَدُهَا مَا كَانَ يُرْقَى بِهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ مِمَّا لَا يُعْقَلُ مَعْنَاهُ فَيَجِبُ اِجْتِنَابُهُ لِئَلَّا يَكُوْنَ فِيْهِ شِرْكٌ أَوْ يُؤَدِّيْ إِلَى الشِّرْكِ .

اَلثَّانِي مَا كَانَ بِكَلَامِ اللهِ أَوْ بِأَسْمَائِهِ فَيَجُوْزُ . فَإِنْ كَانَ مَأْثُوْرًا فَيُسْتَحَبُّ .

اَلثَّالِثُ مَا كَانَ بِأَسْمَاءِ غَيْرِ اللهِ مِنْ مَلَكٍ أَوْ صَالِحٍ أَوْ مُعَظَّمٍ مِنَ الْمَخْلُوْقَاتِ كَالْعَرْشِ . قَالَ فَهٰذَا فَلَيْسَ مِنَ الْوَاجِبِ اِجْتِنَابُهُ وَلَا مِنَ الْمَشْرُوْعِ الَّذِيْ يَتَضَمَّنُ الْاِلْتِجَاءَ إِلَى اللهِ وَالتَّبَرُّكَ بِأَسْمَائِهِ فَيَكُوْنُ تَرْكُهُ أَوْلَى . (٣)

## د قرآن كريم په تعليم او دَم اچولو په عِوض كې اُجرت اخيستل

امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم كړى چې كه يو كس په دې شرط باندې دَم اچوي چې ماته به دومره معلوم مقدار چيلۍ وغيره راكوى نو دا هم جائز ده

" باب الشَّرْطِ فِي الرُّقْيَةِ بِقَطِيْعٍ مِنَ الْغَنَمِ " بيا يې د حضرت ابن عباس ﷺ په روايت باندې يوه واقعه رانقل كړى :

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي:

---

(١) فتح الباري ١٠ / ٢٤٠ ، كشف الباري كتاب الطب ص ٦٨.

(٢) فتح الباري ١٠ / ٢٣٠ ، رد المحتار على الدر المختار كتاب الحظر والاباحة ٦ / ٣٦٣ . امداد الفتاوى تعويذات و اعمال ٤ / ٨٨.

(٣) فتح الباري ١٠ / ٢٢١ .

# تعويذ په غاړه کې اچول يا په مټ باندې تړل جائز دي

جائز کلمات ليکل جائز دي ، لمارواه ابوداؤد . (١)

او په کوم حديث کې چې راغلي : إِنَّ الرُّقَى، وَالتَّمَائِمَ، وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ . (٢)

نو په دې کې د تمائم نه مراد : الخرزات التي تعلقها النساء في اعناق الاولاد على ظن انها تؤثر و تدفع العين.

( يعنی ممانعت د هغه مَشکنړو او مرئ نه راغلی چې په هغې کې د تبُرک هيڅ بُوی نشته ).

لکه څرنګې چې د رقی نه مراد اسماء الاصنام والشياطين مراد دي ، نو همدغه رنګې د تمائم نه هم مراد ناجائز تعويذ مراد دی چې په شِرکي الفاظو مشتمل وي . (٣)

## د عمَلياتو حکم

لکه څرنګې چې دَم او تعويذ په مذکوره شرائطو سره جائز دي نو همدغه شان د عامو عمَلياتو او مخصوصو وظائفو حکم هم دی : چې که چيرته په دې کې شِرکي او مُبهم الفاظ نه وي نو دا جائز دي .

ځکه دا عمَليات هم د هرچا خپل خپل تجربات وي چې دوی د يو مقصد د پاره څه کلمات يا وظائف په معلوم مقدار ووايي ، په هغې کې کامياب شي نو دوی دا مستقل وظيفه او عمل اوګرځوي ، بل دا چې دوی دا څه شرعي حکم هم نه ګڼي .

ددې مثال داسې دی لکه مختلف جَړې او بُوټي چې خلقو په تجربو سره معلوم کړي چې داد فلاني مرَض د پاره فائده مند دي .

(١) سنن ابي داؤد كتاب الطب باب كيف الرقى ١٢/٢ رقم الحديث ٣٨٩٢ . (پوره حديث د ترجمې سره وړاندې تير شو ).

(٢) سنن ابی داؤد كتاب الطب باب في تعليق التمائم ٩/٢ رقم الحديث ٣٨٨٣ ، سنن ابن ماجه كتاب الطب باب تعليق التمائم ١١٦٦/٢ رقم الحديث ٣٥٣٠ . ( د حديث ترجمه او تشريح وړاندې تيره شوه ).

(٣) فتاوى فريديه ج١ ص ٦٠٦ مسائل شتى.

أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرُّوا بِمَاءٍ، فِيهِمْ لَدِيغٌ أَوْ سَلِيمٌ، فَعَرَضَ لَهُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ المَاءِ، فَقَالَ: هَلْ فِيكُمْ مِنْ رَاقٍ؟ إِنَّ فِي المَاءِ رَجُلًا لَدِيغًا أَوْ سَلِيمًا، فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ، فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ عَلَى شَاءٍ، فَبَرَأَ، فَجَاءَ بِالشَّاءِ إِلَى أَصْحَابِهِ، فَكَرِهُوا ذَلِكَ وَقَالُوا: أَخَذْتَ عَلَى كِتَابِ اللهِ أَجْرًا، حَتَّى قَدِمُوا المَدِينَةَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! أَخَذَ عَلَى كِتَابِ اللهِ أَجْرًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللهِ. (۱)

(دا واقعه په تفصيل سره د همدې كتاب په صفحه ۲۰ باندې ذكر ده).

په بخاري شريف او نورو د احاديثو په كتابونو كې د ذكر شوي احاديثو نه شوافع او مالكيه دا استدلال كوي چې د كتابُ الله په تعليم، او همدارنګې په دَم دُرهه باندې أجرت (مزدوري) اخيستل جائز دي. (۲)

ليكن په أحنافو كې متقدّمين علماء كرام د قرآن كريم په تعليم باندې أجرت اخيستل جائز نه ګڼړي، البته د دَم اچولو په عِوض كې أجرت اخيستل جائز ګڼړي.

ځكه په چا باندې دَم اچول قُربتِ مَحضه (خالصه قربت) نه دى، بلكه دا د قبيلې د علاج نه دى، نو ځكه پرې أجرت اخيستل جائز دي. (۳)

ليكن په احنافو كې د متأخرينو علماؤ په نزد باندې د قرآن كريم په تعليم باندې هم أجرت اخيستل جائز دي.

---

(۱) صحيح البخاري بَابُ الشَّرْطِ فِي الرُّقْيَةِ بِقَطِيعٍ مِنَ الغَنَمِ رقم الحديث ۵۷۳۷.

په يو روايت كې داسې ذكر دي: أَصَبْتُمْ، اقْسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ بِسَهْمٍ. بخاري بَابُ النَّفْثِ فِي الرُّقْيَةِ رقم الحديث ۵۷۴۹. تاسو صحيح كار كړى، تقسيم يې كړئ، او ماله هم د خپل ځان سره حصه مقرر كړئ.

وفي رواية: قَدْ أَصَبْتُمْ، اقْسِمُوا، وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ سَهْمًا. صحيح البخاري بَابُ مَا يُعْطَى فِي الرُّقْيَةِ عَلَى أَحْيَاءِ العَرَبِ بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ رقم الحديث ۲۲۷۶.

(۲) عمدة القاري ۹۵/۱۲، المغني لابن قدامة كتاب الاجارة باب ما يعطى في الرقية ۱۲/۹۵، الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية كتاب الاجارات نوع في تعليم القرآن والحرف ۳۹/۵، كشف الباري كتاب الطبّ ص ٦٢.

(۳) عمدة القاري كتاب الاجارة باب ما يُعطى في الرقية ۹٦/۱۲، كشف الباري كتاب الطبّ ص ٦۴.

وجه داده چې په خَيرُ القرون کې به د مُعلمينو د پاره سَرکاري تَنخواګانې مقرر وی ، نو ځکه مُتقدّمينو په تعليم د قرآن باندې اُجرت اخيستل ناجائز کړي وو ، ليکن نن صبا د سَرکاري تنخواګانو دا سلسله د مُعلِمينو د پاره مُنقطِع شوی ، نو ځکه د ضرورت په وجه مُتأخرينو د جواز فتویٰ ورکړی . (١)

( قَوْلُهُ وَيُفْتَى الْيَوْمَ بِصِحَّتِهَا لِتَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ... ) قَالَ فِي الْهِدَايَةِ : وَبَعْضُ مَشَايِخِنَا رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالَى اِسْتَحْسَنُوا الْإِسْتِئْجَارَ عَلَى تَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ الْيَوْمَ لِظُهُوْرِ التَّوَانِيْ فِي الْأُمُوْرِ الدِّيْنِيَّةِ . فَفِي الْإِمْتِنَاعِ تَضْيِيْعُ حِفْظِ الْقُرْآنِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوىٰ .(٢)

مفتي فريد رحمه الله په فتاوی فريديه کې هم تعويذ ليکل او په دې باندې اُجرت اخيستل جائز ګرځولي .

لانّ الکتابة صنعة من الصناعات . فافهم (٣)

قال ابن عابدين لِأَنَّ الْمُتَقَدِّمِيْنَ الْمَانِعِيْنَ الْإِسْتِئْجَارَ مُطْلَقًا جَوَّزُوْا الرُّقْيَةَ بِالْأُجْرَةِ وَلَوْ بِالْقُرْآنِ كَمَا ذَكَرَهُ الطَّحَاوِيُّ . لِأَنَّهَا لَيْسَتْ عِبَادَةً مَحْضَةً بَلْ مِنَ التَّدَاوِيْ. (٤)

وفي الدر المختار : وَفِيْهَا: اِسْتَأْجَرَهُ لِيَكْتُبَ لَهُ تَعْوِيْذًا لِأَجْلِ السِّحْرِ جَازَ إِنْ بَيَّنَ قَدْرَ الْكَاغِذِ وَالْخَطِّ وَكَذَا الْمَكْتُوْبُ . (٥)

(١) عمدة القاري كتاب الاجارة باب ما يُعطى في الرقية ١٢/٩٦ ، كشف الباري كتاب الطبّ ص ٦٤ .

(٢) شامي ج٤ ص ٥٥ مَطْلَبٌ فِي الْإِسْتِئْجَارِ عَلَى الطَّاعَاتِ. آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج٤ ص ٢٨٧ قرآن کريم کی عظمت اور اس کی تلاوت. تخريج شده ايډيشن.

(٣) عن ابن عباس رضي الله عنهما : اَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرُّوْا بِمَاءٍ........ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللهِ. صحيح البخاري بَابُ الشَّرْطِ فِي الرُّقْيَةِ بِقَطِيْعٍ مِنَ الْغَنَمِ رقم الحديث ٥٧٣٧ .

(٤) رد المحتار هامش الدر المختار ج٥ ص ٣٩ كتاب الاجارة مطلب الاستيجار على الطاعات .

(٥) الدر المختار ج٥ ص ٦٣ مطلب في اجرة صك القاضي والمفتي . فتاوی فريديه ج١ ص ٢٠٨ كتاب الطب والرقية والتعويذ .

## د قرآن مجيد نه فال راويستل يا د غل نوم معلومول ناجائز دي

د قرآن كريم نه فال راويستل، يا يقيني طريقې سره دديې نه د غَل يا مُجرِم نوم معلومول ناجائز دي .

لا يَأخذ الفأل مِنَ المصحف .... و نص المالكية على تحريمه . (١)

او د كومو قرآن مجيدونو په اول يا آخر كې چې فالنامه لېيدلې وي نو دا په كې تاجرانو لږولې وي دديې د پاره چې خلق دا قرآن مجيد ډير واخلي ، لهذا د تاجرانو دا فِعل څه شرعي دليل نه دى .

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله هم ديته ناجائز ويلى . (٢)

خلاصه دا چې د قرآن مجيد نه فال راويستل حرام او گناه ده ، او دا فال د الله تعالى حكم كنرول ناداني ده ، ځكه د قرآن مجيد صَفحې مختلف دي ، كه يو كس يې راكلاؤ كړي نو يو آيت به ورته راواوړي ، خو كه بل كس يې كلاؤ كړي نو د جدا مضمون واله آيت به ورته راواوړي .

بل نقصان په كې دا هم دى چې كه يو كس د قرآن مجيد نه د څه كار په باره كې فال راأوباسي ؛ او دې په خپل نزد ورنه ښه مطلب واخلي ، بيا دديې كار نتيجه غلطه راأووځي نو خامخا به دده د قرآن مجيد متعلق بَد اِعتقادي پيدا كيږي چې نتيجه يې كفر ته رسي .

مفتي كفايت الله صاحب هم په خپله فتاوى " كفايت المفتي " كې ديته ناجائز ويلي . (٣)

---

(١) شرح فقه اكبر ص ١٨٣ زاد المعاد ج٢ ص ٣٦٦ ، فتاوى حديثية لابن حجر مكي ص ٢٣١ مطلب في انه يكره اخذ الفال من المصحف طبع دار الفكر بيروت . فتاوى محمودية ج٧ ص ٢٣٦ متفرقات قرآن ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج٢ ص ٥٣٤ توهم پرستي .

(٢) بهشتي زيور ج١ ص ٤٠ كفر اور شرك كي باتوں كا بيان ، امداد الفتاوى ج٤ ص ٥٨ ، فتاوى محمودية ج٧ ص ٢٣٧ متفرقات قرآن .

(٣) كفايت المفتي ج٩ ص ٢٢١ ، ١٢٩ ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج١ ص ٣٦٥ ، مسائل رفعت قاسمي ج٦ ص ٨٢ ، اغلاط العوام ص ٣١ .

په احاديثو کې د يو کار په باره کې د معلومات د پاره په سُنت طريقې سره اِستخاره راغلى ده، او په احاديثو کې د دې ترغيب هم راغلى. (۱)

## د فال متعلق يو اعتراض او د هغې جواب

که څوک دا اِعتراض وکړي چې د بعضو بزرګانو نه خو د قرآن مجيد نه تَفاؤل يعنى نيک فالي معلومول ثابت دي، نو بيا څنګه فال راويستل ناجائز دي؟

جواب دادى چې د دې اِعتراض مَنشاء اِشتراک لفظي دى، دا خبره صحيح ده چې په شريعت کې تفاؤل ثابت دى، خو د تفاؤل مطلب دادى چې:

مثلاً يو کس ته د څه کار متعلق تشويش او فکر وي، او په دې وخت کې ده اِتفاقاً يا په څه نا څه قصد سره د خوشحالۍ يا کاميابۍ لفظ واوريده، يا يې په دې باندې نظر پريوت، نو چونکه د الله ﷻ د رَحمت اُميد ساتل خو په هر مسلمان فرض دي، اوس دې لفظ آوريدلو يا کتلو سره دده د الله ﷻ نه د رحمت اُميد نور هم قوي شو. په شريعت کې د دې جواز شته.

خو په فال کې د عوامو عقيده دا وي چې دا کوم فال مونږ د قرآن نه معلوم کړو ګويا الله ﷻ د دې خبر ورکړى او اوس د دې خلاف ممکن نه دى، (که چيرته د دې خلاف کار اوشي نو بيا به يې خامخا په قرآن کريم باندې بَداِعتقادي پيدا کيږي چې دا ډيره نقصاني خبره ده). (۲)

## د ګناه کار په تلاوت سره شروع کول د قرآن کريم بې اَدبي ده

د ګناه کار د قرآن مجيد په تلاوت سره شروع کول د قرآن کريم ګستاخي، توهين او اِستهزاء ده.

وَمِن حُرمَةِ القُرآنِ أَن لَا يَقرَأَ فِي الأَسوَاقِ، وَفِي مَوضِعِ اللَّغوِ كَذَا فِي القُنيَةِ. (۳)

---

(۱) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۱ ص ۳۶۳، مسائل رفعت قاسمي ج۶ ص ۸۲.

(۲) اغلاط العوام ص ۳۱، ۳۲، مظاهر حق جديد ج۵ ص ۲۹۲، مسائل رفعت قاسمي ج۶ ص ۸۰.

(۳) عالمګيري ج۵ ص ۳۱٦ الباب الرابع في الصلاة والتسبيح ... ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۲۸۹.

مثلا د ويډيو سنټر يا بل د ګناه کاروبار اِفتتاح په تلاوت سره کول غټه ګناه ده ، بلکه په دې کې د کُفر خطره ده .

وفي البزازية : يَكْفُرُ مَنْ بَسْمَلَ عِنْدَ مُبَاشَرَةِ كُلِّ حَرَامٍ قَطْعِيِّ الْحُرْمَةِ . (١)

همدارنګې په کوم دُکان کې چې هر وخت د ګناه کار کيږي ( مثلا ټوله ورځ په کې سَندرې غږيږي ، فحش فِلمونه په کې کتلې شي ، هلکان او جينکۍ په کې يو ځای ويډيو ګيمز کوي ) نو په داسې دُکان کې د قرآن مجيد آيتونه د برکت د پاره لږول هم د قرآن کريم بې عزتي ده .

لَا يُلْقَىٰ فِي مَوْضِعٍ يَخِلُّ بِالتَّعْظِيمِ . (٢)

تَعْظِيمُ الْقُرْآنِ وَالْفِقْهِ وَاجِبٌ، كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِيْ خَانْ . (٣)

لهذا مسلمان ته ددې نه ځان ساتل په کار دي . بله دا چې د پروګرام شروع کولو نه مخکې خو تلاوت ددې د پاره کولې شي چې دا پروګرام برکتي شي ، نو د ګناه په کار کې د برکت تصوّر څنګه کيدې شي ؟ (٤)

## د قرآن مجيد سپکاوې کوونکې کس مُرتد او کافر دی

په شعائرُالله کې د ټولو نه غټه نخه قرآن مجيد دی ، لهذا په هر مسلمان باندې د قرآن کريم اِحترام او تعظيم فرض دی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ ﴾ . (٥)

ترجمه : او څوک چې د شعائرُالله تعظيم کوي نو بيشکه دا د زړونو د پرهيزګارۍ خبره ده .

---

(١) شامي ج١ ص٩ خطبة الكتاب ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٢ ص ٦١ .

(٢) الفتاوى الهندية ج٥ ص ٣٢٢ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي آدَابِ الْمَسْجِدِ وَالْقِبْلَةِ وَالْمُصْحَفِ.

(٣) الفتاوى الهندية ج٥ ص ٣٠٠ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِي الصَّلَاةِ وَالتَّسْبِيحِ وَرَفْعِ الصوت وعند قِرَاءَةِ الْقُرْآن . فتاوى محموديه ج٧ ص ١٥٧ . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٢ ص ٦١ .

(٤) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٢ ص ٢٨٩ .

(٥) سورة الحج آية ٣٢ . / وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ . الحج آيت ٣٠ .

او د قرآن مجيد په توهين کولو سره کُفر لازميږي .

لما قال العلامة ملا علي القاري رحمه الله : ومن استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما يعظم في الشرع كفر . (١)

وَفِي الْفَتْحِ مَنْ هَزَلَ بِلَفْظِ كُفْرٍ اِرْتَدَّ وَإِنْ لَمْ يَعْتَقِدْهُ لِلْإِسْتِخْفَافِ ... (٢)

لهذا د قرآن مجيد توهين کوونکي کس د پاره د ايمان او نکاح تجديد په کار دی ، ځکه د قرآن مجيد د سپکاوي په وجه انسان مُرتد کيږي .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : أَنَّ مَا يَكُوْنُ كُفْرًا اِتِّفَاقًا يُبْطِلُ الْعَمَلَ وَالنِّكَاحَ . وَمَا فِيْهِ خِلَافٌ يُؤْمَرُ بِالْإِسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ وَتَجْدِيْدِ النِّكَاحِ (٣)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري رحمه الله : رجل يقرأ القرآن فقال رجل : " اين چه بانگ طوفان است " فهذا كفر . (٤)

که داسې کس مړ شي نو په ده به د جنازې مونځ نشي کولی .

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا . (٥)

او دې به د مسلمانانو په مقبره کې نشي ښخولی .

وإذا مات ( المرتد ) .... لم يدفن في مقابر المسلمين . (٦)

د داسې کس سره به تعلقات نشي ساتلی .

---

(١) شرح الفقه الاكبر ص ١٦٨ فصل في القراءة والصلوة ، فتاوى حقانيه ج١ ص ١٣٧ كتاب العقائد والايمانيات .

(٢) درمختار مع الشامي ج٤ ص ٢٢٢ باب المرتد ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج٢ ص ٥٩ .

(٣) الدرالمختار على صدر رد المحتار ج٣ ص ٢٤٥ باب المرتد مطلب جملة ما لا يقتل اذا ارتد ، فتاوى حقانيه ج١ ص ١٣٨ كتاب العقائد والايمانيات .

(٤) الفتاوى التاتارخانية ج٥ ص ٣٩١ كتاب احكام المرتدين ... فيما يتعلق بالقرآن . فتاوى حقانيه ج١ ص ١٣٨ كتاب العقائد والايمانيات .

(٥) التوبة آية ٨٤ .

(٦) الاشباه والنظائر ج١ ص ٢٩١ الفن الثاني .

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ ﴾ (١)

# د قرآن مجيد پاڼې شلول ، او د بې عزتۍ په نيت يې په زمکه راويشتل کفر دی

فقهاء کرامو دا خبره په صراحت سره ذکر کړې چې د قرآن کريم سپکاوې کول کفر دی اگر چې دا توهين کوونکې کس د الله ﷻ د وحدانيت او د نبي عليه السلام د رِسالت قائل وي خو بيا هم کافر دی.

څکه چې د يو سړي په زړه کې د قرآن کريم عظمت نه وي او د سپکاوي په نيت د دې پاڼې شلوي، يا يې په زمکه راأوغورځوي نو داسې کس د اِسلام نه خارج دی.

أَوْ وَضَعَ مُصْحَفًا فِي قَاذُوْرَةٍ فَإِنَّهُ يَكْفُرُ . (٢)

لما قال العلامة ملا علي القاري رحمه الله : ومن استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما يعظم في الشرع كفر . ومن وضع رجله على المصحف حالفًا اِستخفافا كفر . (٣)

دداسې کس د پاره توبه ويستل په کار دي، دوباره به کلمه وايي، او تجديد دنکاح به کوي

إِذَا أَنْكَرَ آيَةً مِنَ الْقُرْآنِ وَاسْتَخَفَّ بِالْقُرْآنِ أَوْ بِالْمَسْجِدِ أَوْ بِنَحْوِهِ مِمَّا يُعَظَّمُ فِي الشَّرْعِ أَوْ عَابَ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ أَوْ خَطِئَ أَوْ سَخِرَ بِآيَةٍ مِنْهُ كَفَرَ (٤)

أَنَّ مَا يَكُونُ كُفْرًا اِتِّفَاقًا يُبْطِلُ الْعَمَلَ وَالنِّكَاحَ . وفي الشامية ويجدد بينهما النكاح . (٥)

---

(١) سورة الممتحنة آية ١ ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٢ ص ٥٩.

(٢) رد المحتار ج٢ ص ٢٢٢ باب المرتد. فتاوى حقانيه ج١ ص١٩٣ كتاب العقائد والايمانيات.

(٣) شرح الفقه الاكبر ص ٢٢٩ فصل في القراءة والصلوة ، و مثله في الهندية ج٢ ص ٢٦٦ الباب التاسع في احكام المرتدين ، فتاوى حقانيه ج١ ص١٩٣ .

(٤) مجمع الانهر ج٢ ص٥٠٧ ان الفاظ الكفر انواع ، فتاوى محموديه ج٧ ص١١٣ .

(٥) الدر المختار على هامش رد المحتار ج٢ ص ٣٩٠، ٣٩١ باب المرتد ، كتاب الشفاء ج٢ ص ٢٥٠ فصل في حكم من استخف بالقرآن ، فتاوى محموديه ج٧ ص١١٣.

# د قرآن مجید په باره کې د تغییر او تبدیل عقیده ساتل کفر دی

د اُمتِ مُسلِمه په بُنیادي عقائدو کې دا عقیده هم ده چې: په دې وخت کې د مونږ سره دا کوم قرآن کریم موجود دی دا هماغه قرآن مجید دی کوم چې د الله ﷻ د طرفه د حضرت جبریل علیه السلام په واسطې سره په نبي اکرم صلی الله علیه وسلم باندې په درویشت کاله کې نازل شوی، په دې کې تر اوسه نه څه تبدیلي راغلې او نه به تر قیامته پورې راشي، تر دې پورې چې د دې لِهجه او رسمُ الخط هم هماغه شان محفوظ دی، د نبي علیه السلام د زمانې نه نیولې تر دې زمانې پورې د کرورونو حافظانو په سینو کې محفوظ دی، د قرآن کریم هر هر حرف حدِ تواتر ته رسیدلی.

د ټولو فقهاء کرامو او مُتکلِمینو په دې باندې اِتفاق دی چې کوم کس په قرآن کې د تَغییر او تبدیل قائِل وي نو هغه بې د شک و شُبهې نه کافر دی، ځکه الله ﷻ په خپله د دې د حفاظت ذِمه واري اخیستې.

قال الله تعالی: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾. (١)

وقال ایضا: ﴿ قُرآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴾. (٢)

وقال العلامة عماد الدین ابن کثیر رحمة الله تحت قوله تعالی: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ ای ثُمَّ قَرَّرَ تَعَالَى أَنَّهُ هُوَ الَّذِيْ أَنْزَلَ الذِّكْرَ، وَهُوَ الْقُرْآنُ، وَهُوَ الْحَافِظُ لَهُ مِنَ التَّغْيِيْرِ وَالتَّبْدِيْلِ. (٣)

قال العلامة ابوعبدالله احمد القرطبي رحمه الله: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ مِنْ أَنْ يُزَادَ فِيْهِ أَوْ يُنْقَصَ مِنْهُ. قَالَ قَتَادَةُ وَثَابِتُ الْبُنَانِيُّ: حَفِظَهُ اللهُ مِنْ أَنْ تَزِيْدَ

---

(١) الحجر آیت ٩.

(٢) الزمر آیت ٢٨.

(٣) تفسیر ابن کثیر ج٢ ص٥٤٧ سورة الحجر آیت ٩.

فِيْهِ الشَّيَاطِيْنُ بَاطِلًا أَوْ تَنْقُصَ مِنْهُ حَقًّا . فَتَوَلّٰى سُبْحَانَهُ حِفْظَهُ فَلَمْ يَزَلْ مَحْفُوْظًا . (۱)

## د قرآن کريم نه انکار کول کفر دی

د مکمل قرآن کريم تصديق کول او په دې ايمان راوړل لازمي دي ، که چيرته د يو چا د ټول قرآن کريم يا د يو آيت متعلق دا عقيده وَه چې (نَعوذُ بِالله) " دا د الله ﷻ د طرفه نه دی نازل شوی " نو دا سړی کافر دی .

ومن جحد القرآن اى كله او سورة منه او آية قلتُ وكذا كلمة او قراءة متواترة او زعم انها ليست من كلام الله تعالى كفر . (۲)

إِذَا أَنْكَرَ آيَةً مِنَ الْقُرْآنِ وَاسْتَخَفَّ بِالْقُرْآنِ أَوْ بِالْمَسْجِدِ أَوْ بِنَحْوِهِ مِمَّا يُعَظَّمُ فِي الشَّرْعِ أَوْ عَابَ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ أَوْ خَطِئَ أَوْ سَخِرَ بِآيَةٍ مِنْهُ كَفَرَ . (۳)

البته که د انسان تصديق قلبي موجود وي خو عَملي کوتاهي کوي يعنی ګناهونه کوي نو په دې سره اګر چې ايمان کمزورې کيږي خو انسان وربانديې نه کافر کيږي .

و ينقص ( اى الايمان ) بارتكاب اعماله السيئة ( و فيه ) ثم الطاعة والعبادة ثمرة الايمان و نتيجة الايقان و تنور القلب بنور العرفان بخلاف المعصية فانها تسود القلب وتضعف محبة الرب وربما يجره مداومة العصيان الى ظلمات الكفر . (۴)

(۱) الجامع لاحكام القرآن ج۱۰ ص ۵ سورة الحجر آيت ۹ ، ومثله في شرح الفقه الاكبر ص ۱۶۷ فصل فيما يتعلق بالقرآن ، فتاوى حقانيه ج۱ ص ۲۳۲ ، وهكذا في فتاوى عثماني لمولانا تقي عثماني ج۱ ص ۸۱ .

(۲) شرح فقه اكبر ص ۲۰۵ طبع كتب رحيميه ديوبند .

(۳) مجمع الانهر ج۲ ص ۵۰۷ ثم ان الفاظ الكفر انواع طبع دارالكتب العلمية بيروت ، عالمكيري ج۲ ص ۲۶۶ الباب التاسع في احكام المرتدين ، كتاب الشفاء ج۲ ص ۲۵۰ فصل في حكم من استخف بالقرآن ، فتاوى محمودية ج۲ ص ۱۰۹ كفر و اعمال كفر .

(۴) شرح فقه اكبر ص ۲۰۵ طبع كتب رحيميه ديوبند ، فتاوى محمودية ج۲ ص ۲۹ اسلام اور ايمان .

# د حافظانو د توهين کوونکي کس حکم

که يو کس د قرآن کريم د حافظانو په باره کې د سپکاوي الفاظ استعمال کړي مثلاً دا وايي چې: "حافظان ټول ګونيان او حراميان دي ځکه زه په خپل ځوي حفظ نه کوم چې دا هم کوني نه شي" نو که ددې کس مقصد اِستغراق حقيقي وي (يعنی ټولو حافظانو ته ددې نسبت کوي) نو بيا دا کُفري الفاظ دي (په دې سره دا کس کافر کيږي).

او که مقصد يې اِستغراق بِحَسبِ العِلم وي (يعنی ده يو کس نيم ليدلې وي او دې هغه يادوي) نو دا بيا د ټولو حافظانو توهين نه دی، بلکه دا يو جاهلانه کلام دی.

وَلِاعْتِبَارِ التَّعْظِيْمِ الْمُنَافِيْ لِلْإِسْتِخْفَافِ كَفَّرَ الْحَنَفِيَّةُ بِأَلْفَاظٍ كَثِيْرَةٍ . وَأَفْعَالٍ تَصْدُرُ مِنَ الْمُنْتَهِكِيْنَ لِدَلَالَتِهَا عَلَى الْإِسْتِخْفَافِ بِالدِّيْنِ ...... أَوِ اسْتِقْبَاحُهَا كَمَنِ اسْتَقْبَحَ مِنْ آخَرَ جَعْلَ بَعْضِ الْعِمَامَةِ تَحْتَ حَلْقِهِ أَوْ إِحْفَاءَ شَارِبِهِ . قُلْتُ : وَيَظْهَرُ مِنْ هٰذَا أَنَّ مَا كَانَ دَلِيْلَ الْإِسْتِخْفَافِ يَكْفُرُ بِهٖ . وَإِنْ لَمْ يَقْصِدِ الْإِسْتِخْفَافَ لِأَنَّهٗ لَوْ تُوُقِّفَ عَلٰى قَصْدِهٖ لَمَا احْتَاجَ إِلٰى زِيَادَةِ عَدَمِ الْإِخْلَالِ بِمَا مَرَّ لِأَنَّ قَصْدَ الْإِسْتِخْفَافِ مُنَافٍ لِلتَّصْدِيْقِ . (١)

# حافظِ قرآن ته په غيرِ حافظ باند فوقيت حاصل دی

د قرآن کريم حافظ ته په غير حافظ باندې ډير فوقيت حاصل دی.

وَفَضْلُ كَلَامِ اللّٰهِ عَلٰى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللّٰهِ عَلٰى خَلْقِهٖ . أَيْ وَكَذٰلِكَ فَضْلُ الْإِشْتِغَالِ وَالْمُشْتَغِلِ بِهٖ عَلٰى غَيْرِهٖ . (٢)

همدا رنګې امام ته په مُقتديانو باندې هم فوقيت حاصل دی.

وَمُفَادُهٗ أَنَّهَا اى الامامة أَفْضَلُ مِنَ الْإِقْتِدَاءِ . (٣)

---

(١) رد المحتار ج٣ ص ٢١١ مطلب في منكر الاجماع . فتاوى فريديه ج١ ص١٠٦ .

(٢) مرقاة شرح مشكوة ج٢ ص ٥٩٠ كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني .

(٣) شامي ج٢ ص ٢٨٧ اول باب الامامة ، فتاوى محموديه ج٧ ص١٨٢ .

## په اَخبارونو کې د قرآن کريم آيتونه يا ترجمه شائع کول

د دين داِشاعت د پاره آيتونه او ددې ترجمه ليکل او شائع کول جائز دي.

فأن كتب القرآن و تفسير كل حرف و ترجمته جاز. (١)

ليکن بيا به دا اَخبارونه په رَدي کاغذونو کې نه اِستعمالوي، ځکه دا د آيتونو او ترجمې بې اَدبي ده.

وَيُكْرَهُ أَنْ يَجْعَلَ شَيْئًا فِي كَاغِدَةٍ فِيهَا اسْمُ اللهِ تَعَالَى كَانَتِ الْكِتَابَةُ عَلَى ظَاهِرِهَا أَوْ بَاطِنِهَا. (٢)

ولا يجوز لف شيء في كاغذ كتب عليه فقه أو اسم الله تعالى أو النبي صلى الله عليه وسلم. (٣)

همدارنګې که آيتونه ورسره نه وي خالِصه ترجمه وي نو بيا هم ددې د اَدب لحاظ په کار دی، په رَدي کاغذونو کې به بيا دا نه اِستعمالوي. (۴)

په کومو اَخبارونو کې چې د قرآن مجيد آيتونه ليکل شوي وي د کتلو نه پس چې کله يې نور څوک نه ګوري او ډير جَمع شي نو دا به په يوه پاکه کپړه کې تاوْ کړې شي، او په زمکه کې به خَخ کړې شي، په رَدي کاغذونو کې يې خرڅول بې حُرمتي ده.

وفي الهندية: اَلْمُصْحَفُ إِذَا صَارَ خَلَقًا لَا يُقْرَأُ مِنْهُ وَيُخَافُ أَنْ يَضِيعَ يُجْعَلُ فِي خِرْقَةٍ طَاهِرَةٍ وَيُدْفَنُ. (٥)

## قرآن مجيد په زَنګونانو باندې اِيخودل بې اَدبي ده

د تلاوت په وخت قرآن مجيد په رَحِل يا تَکيه ايخودل په کار دي، او که په زَنګونانو يې

---

(١) شامي ج١ ص٣٢٧ كتاب الصلوة مطلب في بيان المتواتر والشاذ.

(٢) الفتاوى الهندية ج٥ ص٣٢٢ كتاب الكراهية الباب الخامس.

(٣) مراقي الفلاح مع الطحطاوي ص١١٥ باب الحيض. فتاوى محمودية ج٧ ص١٢٢ آداب قرآن.

(۴) فتاوى محمودية ج٧ ص١٢٣ آداب قرآن.

(٥) الفتاوى الهندية ج٥ ص٣٢٣ كتاب الكراهية الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة والمصحف .. فتاوى محمودية ج٧ ص١٣۴.

ږدي نو بيا اَدب دادى چې د زنګونانو د پاسه تکيه يا کپړه کيدي .

وَيُسْتَحَبُّ تَطْيِيْبُ الْمُصْحَفِ، وَجَعْلُهُ عَلَى كُرْسِيٍّ . (١)

## قرآن مجيد په لاندې چَت کې اِيخودل جائز دي

که يو کور دوه يا درې چَته وي نو دهغې په لاندې چَت کې قرآن مجيد اِيخودل جائز دي ( اګر چې په پاس چَت باندې خلق ګرځي راګرځي ) .

اَلَا تَرَىٰ اَنَّهُ لَوْ وُضِعَ (القرآن) فِى الْبَيْتِ لَا بَأْسَ بِالنَّوْمِ عَلَى سَطْحِهِ . كَذَا هَاهُنَا . (٢)

## په کومه کمره کې چې قرآن کريم وي د هغې په چَت ګرځيدل جائز دي

د فقهاءِ کرامو د واضحه عباراتو نه معلوميږي چې په کومه کمره کې قرآن مجيد وي د هغې په چَت باندې پاس ګرځيدل يا تشې بَول کول څه پَرواه نه کوي .

قال العلامة ابن عابدين : فَهٰذَا كَمَا لَوْ بَالَ عَلَى سَطْحِ بَيْتٍ فِيْهِ مُصْحَفٌ وَذٰلِكَ لَا يُكْرَهُ . (٣)

وَإِذَا كُتِبَ اسْمُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَى كَاغَذٍ وَوُضِعَ تَحْتَ طَنْفَسَةٍ يَجْلِسُوْنَ عَلَيْهَا ، فَقَدْ قِيْلَ : يُكْرَهُ ، وَقِيْلَ : لَا يُكْرَهُ ، وَقَالَ : اَلَا تَرَى اَنَّهُ لَوْ وُضِعَ فِى الْبَيْتِ لَا بَأْسَ بِالنَّوْمِ عَلَى سَطْحِهِ كَذَا هَاهُنَا . كَذَا فِى الْمُحِيطِ . (۴)

## د قرآن مجيد تلاوت نه کوونکې د لوي نعمت نه محرومه دى

د قرآن مجيد تلاوت نه کوونکې اګر چې ګناه ګار نه دى خو د لوي نِعمت نه محرومه دى ( يعنى د تلاوت کولو په وجه چې انسان ته د هر حرف په عوض کې لس نيکۍ ملاويږي يا نور اَجرونه ورته ورکولې شي د هغې تولو نه تلاوت نه کوونکې محرومه دى ) . (٥)

(١) الاتقان في علوم القرآن ج٢ ص ١٧٢ فصل في آداب كتابته ، فتاوى محموديه ج٧ ص ١۴٦ .
(٢) الفتاوى الهنديه ج٥ ص ٣٢٢ ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۴٢٦ قرآن کريم کي عظمت ..
(٣) رد المحتار ج١ ص ٦١٥ مَطْلَبٌ يُطْلَقُ الدُّعَاءُ عَلَى الثَّنَاءِ وَالْاِعْتِبَارِ ... فتاوى حقانيه ج٢ ص ١٦٦ .
(۴) الفتاوى الهنديه ج٥ ص ٣٢٢ كتاب الكراهية الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة والمصحف .. فتاوى محموديه ج٧ ص ١١٢ .
(٥) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ٣٥٣ .

## دير شمه سيپاره ماشومانو ته مَعكوسه ( يعنى د آخِر طرف نه ) يادول صحيح دي ، خو مَعكوسه چاپ كول يې نقصاني دي

دير شمه ( ۳۰ ) سيپاره ماشومانو ته مَعكوسه يادول جائز دي ( يعنى اول ورته سورة الناس ياد كړي ، بيا سورة الفلق .. او همداسې په شا رار وان وي ، ځكه آخري سورتونه واړه دي يادول يې آسان دي ) .

ولايقرء منكِسا وَإِنَّمَا جُوِّزَ لِلصِّغَارِ تَسْهِيلًا لِضَرُورَةِ التَّعْلِيمِ . (۱)

ليكن معكوسه چاپ كول يې صحيح نه دي ( چې په چاپ كې اول سورة الناس راشي ، او په آخر كې سورة النبأ ) .

ځكه په دې كې دير مفاسِد دي : چې بيا به دې كس ته په مانځه كې د سورتونو ترتيب نه وي معلوم . (۲)

بل نقصان يې دا دى چې په اُلټه طرف چاپ كولو كې د ترتيب عُثماني مخالفت راځي او دا صحيح نه دى .

وَأَمَّا تَرْتِيبُ السُّوَرِ فَهَلْ هُوَ تَوْقِيفِيٌّ أَيْضًا أَوْ هُوَ بِاجْتِهَادٍ مِّنَ الصَّحَابَةِ ؟ خِلَافٌ . فَجُمْهُورُ الْعُلَمَاءِ عَلَى الثَّانِي .... وَيُوقِفُ جِبْرِيْلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَوْضِعِ الْآيَةِ وَالسُّوْرَةِ فَاتِّسَاقُ السُّوَرِ كَاتِّسَاقِ الْآيَاتِ وَالْحُرُوْفِ كله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ قَدَّمَ سُورَةً أَوْ أَخَّرَهَا فَقَدْ أَفْسَدَ نَظْمَ الْقُرْآنِ . (۳)

اګر چې د بعضې علماؤ د اقوالو نه معلومېږي چې د ماشومانو د آسانۍ د پاره كه دير شمه سيپاره د آخِر طرف نه چاپ شي ، او بيا ماشومان په دې باندې پوهه كړې شي چې دا

---

(۱) رد المحتار هامش الدر المختار ج۱ ص۴۰۲ قبيل باب الامامة ، فتاوى فريديه ج۱ ص ۲۴۸ ، آپ کے مسائل اور ان كا حل ج۴ ص ۴۳۸ .

(۲) وهو ان يعسر عليه القراءة مرتبا في الصلاة . فتاوى فريديه ج۱ ص ۲۴۹ .

(۳) الاتقان في علوم القرآن ج۱ ص ٦٢ فصل في ترتيب السور ، فتاوى فريديه ج۱ ص ۲۵۰ .

صرف ستاسو د آسانۍ د پاره داسې چاپ شوی ، او ددې سيپارې اصل ترتيب هغه دی کوم چې په قرآن مجيد کې دی نو بيا ددې جواز شته . (١)

خو باوجود ددې نه د ترتيب عُثماني موافق يادول او چاپ کول افضل او بهتر دي .

اَلْأَوْلٰى أَنْ يَقْرَأَ عَلٰى تَرْتِيْبِ الْمُصْحَفِ . قَالَ فِيْ شَرْحِ الْمُهَذَّبِ : لِأَنَّ تَرْتِيْبَهُ لِحِكْمَةٍ فَلَا يَتْرُكُهَا إِلَّا فِيْمَا وَرَدَ فِيْهِ الشَّرْعُ كَصَلَاةِ صُبْحِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ بألم تنزيل . و هَلْ أَتٰى وَنَظَائِرِهِ . فَلَوْ فَرَّقَ السُّوَرَ أَوْ عَكَسَهَا جَازَ وَتَرَكَ الْأَفْضَلَ . (٢)

## په لاؤډ سپيکر کې د تلاوت کولو يا دَرس کولو حکم

د قرآن دَرس کول ، تلاوت کول ، نعت خواني کول که په لاؤډ سپيکر سره وي يا بغير د لوډ سپيکر نه دا ټول جائز دي او د ثواب کار دی .

خو که په لوډ سپيکر کې تلاوت کولو يا دَرس کولو سره خلقو ته ضرر رسيده يا د قرآن کريم بې عزتي کيده نو بيا دا مکروه او د ګناه سبب دی .

قال العلامة طاهر بن عبدالرشيد البخاري : وَعَلٰى هٰذَا لَوْ قَرَأَ عَلَى السَّطْحِ فِي اللَّيْلِ جَهْرًا وَالنَّاس نِيَامٌ يَأْثَمُ . اى فالاثم على القاري . (٣)

## د قرآن کريم تلاوت کول افضل دی او که درود شريف ويل ؟

مولانا عبدالحي لکهنوي رحمه الله ليکلي چې په اوقاتِ مکروهه ؤ کې ( يعنی په هغه وختونو کې چې په هغې کې مونځ شرعًا مکروهه دی په دې کې ) درود شريف ، ذکر و اَذکار او تسبيحات ويل افضل دي . او د اَوقاتِ مکروهه ؤ نه علاوه په نورو وختونو کې د قرآن مجيد تلاوت کول افضل دي .

---

(١) فتاوى محموديه ج٧ ص ٢٢٨ .

(٢) الاتقان في علوم القرآن ج١ ص ٣٠٦ النوع الخامس والثلاثون في آداب التلاوة ، فتاوى محموديه ج٧ ص ٢٢٨ .

(٣) خلاصة الفتاوى ج١ ص ١٠٣ فصل فى القراءة . قال العلامة ابن الهمام رحمه الله : وَعَلٰى هٰذَا لَوْ قَرَأَ عَلَى السَّطْحِ فِي اللَّيْلِ جَهْرًا وَالنَّاس نِيَامٌ يَأْثَمُ . فتح القدير ج١ ص ٢٩٨ كتاب الصلوة فصل فى صفة الصلوة ، ومثله فى البحر الرائق ج١ ص ٣٢٣ كتاب الصلوة فصل في صفة الصلوة . فتاوى حقانيه ج٢ ص ١١٥ كتاب العلم .

لما قال الشيخ عبدالحي الكهنوي رحمه الله : القرآن أفضل الأذكار لانّه كلامُ الله تعالى كما في الحصن الحصين . لكن في الاوقات الّتي يكره الصّلوة فيها كما بعد صلوة الصّبح الى طلوع الشمس في التسبيح والدّعاء والصّلاة على النّبيّ صلى الله عليه وسلم فيها أفضل من قراءة القرآن . وكان السّلف يسبّحون في ذلك الوقت ولايقرأن . (١)

قال العلامة ابراهيم الحلبي رحمه الله : وسئل البقالي عن قراءة القرآن في الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها أهي أفضل أم الصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم والذكر والتسبيح؟ فقال : الصّلاة على النبي صلى الله عليه وسلم والذكر والتسبيح أفضل ... (٢)

## د ظالِم د هلاکت د پاره ختمِ قرآن کول

لکه څرنګې چې يو بې ګناه کس د ظاهري اَسبابو په ذريعه هلاکول حرام دي نو همدغه شان د عملياتو او خېرو په ذريعه هلاکول يې هم حرام دي ، ليکن که دا کس داسې وُ چې مُباح الدّم وُ مثلا بې ګناه کس يې وژلې وُ ، يا شادي شُده زِنا کار وُ ، يا مُرتد وُ نو که داسې کس د عملياتو او خېرو په ذريعه هلاک شي نو دا جائز ده . (٣)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ : اَلنَّفْسُ بِالنَّفْسِ . وَالثَّيِّبُ الزَّانِيْ . وَالْمَارِقُ لِدِيْنِهِ التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ . (٤)

---

(١) نفع المفتي والسائل ص ١١٢ ما يتعلق بقراءة القرآن .

(٢) حلبي كبيري ص ٤٩٦ تتمات فيما يكره من القرآن في الصلوة وما لايكره ... ، و مثله في الهندية ج٥ ص ٣١٦ كتاب الكراهية الباب الرابع في الصلوة والتسبيح ... ، فتاوى حقانيه ج٢ ص١٦٣ .

(٣) فتاوى فريديه ج١ ص٣١٣ كتاب الطب والرقية والتعويذ .

(٤) متفق عليه ، مشكوة المصابيح ج٢ ص٢٩٩ كتاب القصاص الفصل الاول رقم الحديث ٣٤٤٦ .

# د قرآن مجيد هېرولو په وعيد کې انسان هلته راځي چې بيا يې په ناظره هم نشي ويلی

که يو کس مکمل قرآن مجيد يا څه حصه ياده کړي او بيا يې د غفلت يا سستۍ په وجه هېره کړي نو دداسې کس د پاره په احاديثو کې سخت وعيدونه راغلي. (۱)

ځکه د سستۍ په وجه قرآن کريم هېرول دا د قرآن مجيد ناقدري او د يو عظيم نعمت ناشکري ده، او په ناشکرۍ باندې وعيد راغلی، الله تعالی فرمايي:

﴿ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴾. (۲)

ترجمه: که چيرته تاسو (زما) شکريه ادا کړئ نو زه به تاسو له ضرور نور (نعمتونه) هم درکړم، او که چيرته تاسو (زما) ناشکري وکړئ نو بيشکه زما عذاب ډېر سخت دی.

---

(۱) په احاديثو کې د قرآن کريم په هيرولو باندې سختې سزاګانې او سخت وعيدونه ذکر شوي، امام ابوداؤد رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړی: " بَابُ التَّشْدِيدِ فِيمَنْ حَفِظَ الْقُرْآنَ ثُمَّ نَسِيَهُ " او ددې د لاندې يې دا حديث رانقل کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنِ امْرِئٍ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ، ثُمَّ يَنْسَاهُ، إِلَّا لَقِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَجْذَمَ. سنن ابي داؤد بَابُ التَّشْدِيدِ فِيمَنْ حَفِظَ الْقُرْآنَ ثُمَّ نَسِيَهُ. رقم الحديث ۱۴۷۴، المعجم الکبير للطبراني رقم الحديث ۵۳۹۱، کنزالعمال رقم الحديث ۲۸۴۸. و ۲۸۲۹، مشکاة المصابيح کتاب فضائل القرآن حديث ۱۴.

کوم کس چې قرآن کريم اولولي بيا دا هير کړي نو دې به د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره په داسې حالت کې ملاقات کوي چې دده لاس به کټ وي.

د ابوداؤد او ترمذي شريف حديث دی، نبي اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُورُ أُمَّتِي حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ، وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوبُ أُمَّتِي فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمَ مِنْ سُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ أَوْ آيَةٍ أُوتِيَهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا. سنن ابي داؤد بَابٌ فِي كَنْسِ الْمَسْجِدِ رقم الحديث ۴۶۱، ترمذي باب ۱۹ رقم الحديث ۲۹۱۶، السنن الکبری للبيهقي بَابٌ فِي كَنْسِ الْمَسْجِدِ رقم الحديث ۴۳۱۲، کنزالعمال رقم الحديث ۲۸۳۴، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۴۷۹ باب الحصی فی المسجد و کنسه.

ماته د خپل امت نيک اعمال پيش کړې شو تر دې پورې چې، يو کس د جُمات نه ګند اوباسي دا عمل هم ماته پيش کړې شو. او ماته د خپل امت ګناهونه پيش کړې شو نو ما ددينه بله غټه ګناه او نه ليده چې يو کس ته د قرآن کريم يو سورة يا يو آيت ورکړې شي (يعنی ياد يې کړي) او بيا دا کس دا هير کړي.

(۲) سورة إبراهيم آيت ۷.

خو دا وعيدونه هلته دي چې انسان قرآن مجيد داسې هېر کړي چې بيا په قرآن مجيد کې کتلو سره هم ددې تلاوت نشي کولی .

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : مَا مِنَ امْرِئٍ يَقْرَءُ الْقُرْآنَ، ثُمَّ يَنْسَاهُ ... اى بالنظر عندنا ... (١)

وفى الفتاوى الهندية : إِذَا حَفِظَ الْإِنْسَانُ الْقُرْآنَ ثُمَّ نَسِيَهُ فَإِنَّهُ يَأْثَمُ، وَتَفْسِيْرُ النِّسْيَانِ أَنْ لَا يُمْكِنُهُ الْقِرَاءَةُ مِنَ الْمُصْحَفِ . (٢)

**تشريح** : **د قرآن کريم د هېرولو مطلب او معنی** : د احنافو په نزد د قرآن کريم د هيرلو مطلب دادی چې انسان د تلاوت نه کولو په وجه داسې حالت ته اُورسي چې بيا په قرآن کريم کې په کتلو سره هم ددې تلاوت نشي کولی .

د شوافعو په نزد ددې مطلب دادی چې انسان اول قرآن ياد کړي او بيا يې هير کړي .

يا ددې مطلب دادی چې انسان د قرآن کريم تلاوت کول مکمل پرېږدي اوس برابره خبره ده چې ده هير کړې وي او که نه ، خو دا کس په مذکوره وعيد کې داخل دی .

شاه محمد اسحاق رحمه الله به فرمايل : ددې مطلب دادی چې چا قرآن کريم حفظ (ياد) کړې وي نو دده هيرول دادي چې د تلاوت نه کولو په وجه دا داسې حالت ته اُورسي چې بيا په يادو باندې تلاوت نشي کولی . او چې چا صرف په ناظره ويلې وي د هغه هيرول دادي چې دې بيا په قرآن مجيد کې کتلو سره هم ددې تلاوت نشي کولی . (٣)

لهذا انسان ته په کار دي چې د قرآن کريم سرهٔ د کوتاهۍ معامله او نه کړي ، بلکه هميشه ددې تلاوت کوي ، ځکه د زده کولو او يادولو نه روستو د قرآن کريم هيرول ګناهِ کبيره ده .

---

(١) بذل المجهود شرح ابوداؤد ج٧ ص ٣١٥ كتاب الصلاة باب التشديد فيمن حفظ القرآن لم نسيه ، مرقاة ج٢ ص ٦١٠ كتاب فضائل القرآن الفصل الاول ، فتاوى هندية ج٥ ص ٣١٧ كتاب الكراهية الباب الرابع فى الصلوة والتسبيح ، حلبي كبير ص ٤٩٨ تتمات يكره من القرآن ، فتاوى محمودية ج٧ ص ١٨٥ .

(٢) فتاوى هندية ج٥ ص ٣١٧ البَاب الرَّابِع فِي الصَّلَاةِ وَالتَّسْبِيح .... آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٤ ص ٤٩٠ .

(٣) مظاهر حق شرح مشكوة ج٤ .

## چې څوک هره شپه سورة مُلک وايي هغه به د عذابِ قبر نه محفوظ وي

چې څوک په هره شپه سورةُ الملک ( تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ... ترآخره پورې ) وايي نو دا کس به په قبر کې د مُنکر نکير د سوال او عذابِ قبر نه محفوظ وي.

ځکه دا سورة به دده شفاعت کوي، او دې به د عذابِ قبر نه محفوظ کوي، دا مضمون په احاديثو کې ذکر دی.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : إِنَّ سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُوْنَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتَّى غُفِرَ لَهُ، وَهِيَ : سُوْرَةُ تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ . (١)

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ضَرَبَ بَعْض أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ وَهُوَ لَايَحْسَبُ أَنَّهُ قَبْرٌ فَإِذَا فِيْهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُورَةَ ( تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ) حَتَّى خَتَمَهَا فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيْهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ » . (٢)

قوله :( هِيَ الْمَانِعَةُ ) أَيْ تَمْنَعُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ، أَوْ مِنَ الْمَعَاصِي الَّتِيْ تُوجِبُ عَذَابَ الْقَبْرِ ، أَوِ الْمَانِعَةُ لِقَارِئِهَا عَنْ أَنْ يَنَالَهُ مَكْرُوْهٌ فِي الْمَوْقِفِ مَنْعًا كَامِلًا . (٣)

## چې کوم کس قرآن و حديث قابِل د عمل نه ګڼي د هغه حکم

که يو کس د قرآن و حديث په باره کې دا وايي چې ( نَعُوذُ بِالله ) " دا پخوانۍ زړې خبرې دي، دا ددې دوَر سره مناسب نه دي، ددې اصول او احکام قابِل د عمل نه دي، او په دې سره د ژوند اِصلاح نه کيږي " نو دا سړی مسلمان نه د ی.

---

(١) رواه الترمذي كتاب فضائل القرآن رقم الحديث ٢٨٩١ ، وابن ماجه كتاب الادب حديث ٣٧٨٦ ، واحمد حديث ٩٧١٥ ، مشكوة المصابيح ص ١٨٧ كتاب فضائل القرآن ، وحسنه العلامه الألباني رحمه الله فى صحيح الجامع ٢٠٩١ .

(٢) رَوَاهُ التِّرمِذِيّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيث غَرِيب ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني رقم الحديث ٢١٥٣ .

(٣) . مرقاة حاشيه مشكوة ٣/ ١٢٨١ كتاب فضائل القرآن ، وروح المعاني ج٢٩ ص ٢ ، ٣ ، سنن الدارمي ج٢ ص ٣٥٥ باب في فضل سورة تنزيل السجدة وتبارك ، فتاوى محموديه ج٧ ص ١٧٦ .

لَوْ قِيلَ لِمَ لَا تَقْرَأُ الْقُرْآنَ ؟ فَقَالَ : " بيزارشدم ازقرآن " يَكْفُرُ .(١)

## په کور کې د برکت د پاره ختمِ قرآن کول

که يو کس نوې کور جوړ کړي او دې په دې کې په خپله يا نور دوستان يې د برکت د پاره تلاوت کوي نو دا جائز دی ، د تلاوت نه پس دا دُعا په کار ده چې الله تعالی په دې کور کې خير و برکت واچوي ، ددې کور اُوسيدونکو ته د عبادت کولو او د نبي عليه السلام د سُنتو اِتباع کولو توفيق ورکړي ، د ګناهونو نه يې محفوظ اُوساتي ، همدارنګې د شيطانانو جِنّاتو او ګاونډيانو د شَر نه يې محفوظ اوساتي .

د مشکوة شريف حديث دی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا تَجْعَلُوا بُيُوْتَكُمْ مَقَابِرَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِيْ يَقْرَأُ فِيْهِ سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ » . (٢)

## د قرآن کريم د واقعاتو فِلم جوړول ناجائز دي

د قرآن کريم د واقعاتو مُصوّر فِلم جوړول او کتل ناجائز دي ( مثلا نن صبا چې د حضرت يوسف عليه السلام يا کوم نور فِلمونه جوړ شوي ) ، بلکه د قرآن کريم د بې حُرمتۍ په وجه په دې کې د سختې سزا خطره ده ، ددې د ناجائز والي ډير وجوهات دي ، يو څو په کې دادي :

١ . د قرآن کريم په مضامينو کې چې کوم عَظمت او جَلال دی د هغې تقاضا داده چې دا مضامين د قرآن کريم په الفاظو کې په ډير اَدب او اِحترام سره اُولوستې شي ، يا واوريدې شي ، او په فِلم کې چې کوم پيشه وَر اَداکاران يا هيروګان دي د دوی په ذريعه د قرآن کريم د بيان شوي واقعاتو مصنوعي نقالي کول دا د قرآن کريم د آيتونو سره لوبې کول دي ، چې دا د قرآن کريم په نَص سره حرام دي .

الله تعالی فرمايي :

---

(١) عالمګيري ج٢ ص ٢٦٧ ما يتعلق بالقرآن ، کتاب السير باب احکام المرتدين . فتاوی محمودية ج٢ ص ١١٠ .

(٢) رواه مسلم ، مشکوة المصابيح ١ / ٦٥٣ باب فضائل القرآن الفصل الاول رقم الحديث ٢١١٩ ، فتاوی محمودية ج٧ ص ١٦٧ آداب تلاوت .

﴿ وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ﴾.(۱)
ترجمه: او پرېږده هغه خلق چې د خپل دين نه يې لوبه او تماشه جوړه کړې ده، او د دُنيا ژوند دوی ته دُهوکه ورکړې ده.

۲. هيڅ يو فِلم د جانداره تصويرونو نه خالي نه وي، او دجانداره شيانو تصويرونه جوړول شرعًا ناجائز دي، لهذا قرآني مضامينو لره په داسې ذرائعو سره پيش کول چې په احاديثو کې د هغې ممانعت راغلی دا ناجائز دی، بلکه دا يو قِسم د قرآن کريم توهين دی.

۳. د واقعاتو فِلم تر هغه وخته پورې نه مکمل کيږي ترڅو پورې چې په دې کې د ښځو کِردار نه وي، او په مذکوره فِلمونو کې د ښځو کِردار هم موجود دی. او د ښځو بې حِجابه د سرو مخې ته راتلل، يا دهغوی تصويرونه بِلاضرورته نامحرمو ته خودل د قرآن وحديث په رڼا کې ناجائز دي، او ناجائزه کار د قرآن کريم د مضامينو بيانولو دپاره ( يعنی فِلم جوړولو د پاره ) ذريعه جوړول هم حرام دي.

۴. کله چې يوې رِښتينې واقعې ته هم د فِلم شکل ورکړې شي نو په دې کې به خامخا د فِلم ساز فرضي تخيّلات هم شامل وي، همدارنګې د قرآن کريم په واقعاتو کې چې د کومو خلقو تذکره راغلې وي نو په دې فِلم کې به د هغه خلقو شکل و شباهت، د هغوی د ناستې پاستې اَنداز، د هغوی عبادات وغيره د قياسي مَفروضاتو په بُنياد پيش کولې شي، او خلق بيا دا ټولې خبرې قرآن کريم طرف ته منسوب کوي، چې دا يو قِسم د قرآن مجيد معنوي تحريف هم دی.

همدارنګې په دې فِلمي واقعاتو کې د اِسرائيلي رِواياتو خبرې هم شاملې شوې وي، نو نَاواقفه خلق بيا دا د اِسرائيلي رِواياتو خبرې هم د قرآن کريم واقعه ګڼي، بيا دوی د قرآن او غير قرآن په مينځ کې تميز نشي کولی، چې دا ځانله يو عظيم جُرم دی.

۵. په قرآن کريم چې کوم واقعات ذکر دي نو په ډيرو ځايونو کې داسې الفاظ اِستعمال شوي چې د هغې د يو نه زياته تشريح ممکن ده ( يعنی په هغې کې ډير اِحتمالات وي)، په هغې ځای کې قطعي طريقې سره يو مُراد اخيستل او نور باطلول ناجائز وي، دغه وجه ده چې مفسّرينو هم د هغې ډير اِحتمالات ذکر کړي وي.

(۱) سورة الانعام آيت ۷۰.

او په فِلم کې د فِلم جوړوونکي په ذِهن کې چې ددې الفاظو څنګه تشريح راشي نو په هماغه اَنداز باندې به دې دا واقعه پيش کوي ، بيا به د خلقو په ذهنونو کې دا خبره خامخا راځي چې ددې الفاظو صرف همدا مطلب دی کوم چې په دې فِلم کې ذکر شوی . او دا هم يو غټ نقصان دی چې په قطعي طريقې سره يو مراد واخيستې شو او نور مکمل باطل کړې شو .

٦ . د فِلم جوړولو اَصلي مقصد تعليم ، تبليغ او عِبرت حاصلول نه وي بلکه صرف د طبعيت خوشحالول او لوبې تماشې وي ، ددې غټه نخه داده چې که چيرته يو عالِم د قرآن کريم همدا واقعات په اَصلي صورت کې د قرآن مجيد نه بيانول شروع کړي نو بيا دا خلق په داسې مجلس کې شرکت نه کوي .

معلومه شوه چې د فِلم جوړولو اَصلي مقصد نصيحت يا عبرت حاصلول نه دي ، بلکه صرف لوبې ، تماشې او لِذت حاصلول دي ، او د قرآني واقعاتو مقصد لوبې تماشې ګرځول صحيح نه دي . بلکه ددې مقصد نصيحت او عبرت حاصلول دي .

د قرآن کريم د واقعاتو مُصوّر فِلم جوړولو نور هم ډير نقصانات دي ، دا خو ما درته يو څو بيان کړه ، لهذا مسلمانانو ته په کار دي چې دداسې قِسمه فِلمونو جوړولو ، کتلو او نَشرولو نه ځان اوساتي ، همدارنګې د حکومتِ وقت هم دا فرض دي چې داسې فِلمونه جوړول مکمل بند کړي ، ددې د پاره چې د قرآن کريم سپکاوې کول بند شي . (١)

## فرښتې هر وخت په خپله خوَښه د قرآن کريم تلاوت نشي کولی

فرښتې هر وخت په خپله خوَښه د قرآن کريم د تلاوت کولو قدرت نه لري ، ځکه هر وخت په خپله خوَښه باندې تلاوت کول د انسانانو د پاره کرَامت او عزت دی ، فرښتې په دې قدرت نه لري ، بلکه دوی د انسانانو تلاوت ته غوَږ نيسي ، دغه وجه ده چې چيرته تلاوت کيږي نو هلته فرښتې د اَوريدلو د پاره راجَمع کيږي .

قَالَ ابْنُ الصَّلَاحِ فِيْ فَتَاوِيهِ : قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ كَرَامَةٌ أَكْرَمَ اللهُ بِهَا الْبَشَرَ فَقَدْ وَرَدَ أَنَّ الْمَلَائِكَةَ لَمْ يُعْطَوْا ذٰلِكَ وَأَنَّهَا حَرِيْصَةٌ لِذٰلِكَ عَلَى اسْتِمَاعِهِ مِنَ الْإِنْسِ . (٢)

---

(١) فتاوی عثماني لمولانا تقي عثماني دامت برکاتهم العالية ج١ ص١٩٥ .

(٢) الاتقان في علوم القرآن ج١ ص١٠٥ قبيل النوع الخامس والثلاثون في آداب تلاوته ، الفتاوى الحديثية ص ٢٣٢ ، مطلب يجوز تكرير سورة الاخلاص ، فتاوى محمودية ج٧ ص٢٣٨ .

حضرت جبريل عليه السلام به چې وَحي راوړله او نبي عليه السلام ته به يې د قرآن مجيد تلاوت کولو نو دا قدرت به ده ته صرف د وَحي راوړلو په وخت حاصل وُ ، د وَحي راوړو بغير په بل وخت کې يوې فرښتې ته هم دا قدرت ندې حاصل چې په خپله خوَښه باندې کله يې چې زړه اُوغواړي تلاوت اوکړي.

بلکه دا عزت الله رب العزت صرف انسانانو ته ورکړی چې دوی هر وخت په خپله خوَښه تلاوت کولې شي. (۱)

## شيطانان د قرآن مجيد په تلاوت کولو قدرت نه لري

مولانا عبدالحي لکهنوي رحمه الله نقل کړي دي چې شيطانان د قرآن مجيد په تلاوت کولو قدرت نه لري.

که څوک دا اِعتراض وکړي چې په بخاري شريف کې اُوړده واقعه ذکر ده چې شيطان حضرت ابوهريرة ﷺ ووېل :

چې کله ته خپلې بِسترې ته د اُوده کيدلو د پاره ځې نو آية الکرسي تر آخِر د آيت پورې لوله ، ځکه ددې په وجه به الله جل جلاله ستا د حفاظت د پاره يوه فرښته مقرر کړي ، او تر سهره پورې به تا ته هيڅ شيطان (د ضرر رسولو د پاره) نه درنزدې کيږي. (۲)

نو ددې حديث نه خو معلوميږي چې شيطانان تلاوت کولې شي.

علماؤ ددې مختلف جوابونه کړي : بعضې وايي چې شيطان آيت الکرسي مکمل نه وه ويلی بلکه صرف د آية الکرسي نوم يې واخيست ، او دا په ويلو کې نه شمار کيږي.

مُحققينو علماؤ دا جواب کړی چې په دې وخت کې شيطان د انسان په شکل باندې وُ نو ځکه يې آية الکرسي ويلې شوه.

---

(۱) فتاوى محمودية ج۷ ص ۲۳۸ متفرقات قرآن.

(۲) د بخاري شريف الفاظ دا دي چې شيطان حضرت ابوهريرة ﷺ ته ووېل ،

إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الكُرْسِيِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ: { اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلَّا هُوَ الحَيُّ القَيُّومُ } . وَقَالَ لِي: لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ، وَلاَ يَقْرَبَكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ . صحيح البخاري رقم الحديث ۲۳۱۱ بَابُ إِذَا وَكَّلَ رَجُلًا، فَتَرَكَ الوَكِيلُ شَيْئًا فَأَجَازَهُ المُوَكِّلُ فَهُوَ جَائِزٌ...

والذي تبدّى لأبي هريرة في حديث الباب كان على هيئة الآدميين . (١)

## د ختمِ قرآن په وخت دَعوت او اِجتماع جائز ده

که يو کس يا دده بچي قرآن مجيد ختم کړي يا يې حفظ کړي او دې په خپله خوښه باندې ددې په خوشحالۍ کې خپل خپلوان ، دوستان او عام مسلمانان راجَمع کړي ، هغوی له دَعوت وکړي نو دا جائز دی .

ځکه چې دا ددې نعمت قدَرداني کول دي ، بل دا چې په دې سره به نورو خلقو ته هم د حفظ شوق پيدا شي ، او دا اِجتماع به د مسلمانانو د پاره د ترغيب او تبليغ يوه ذريعه اوګرځي .

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چې کله سورة بقره ياده کړه نو اُوښ يې ذبح کړو ، په خپلوانو او غريبانانو باندې يې اُوخوړو .

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : تَعَلَّمَ عُمَرُ الْبَقَرَةَ فِي اثْنَتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً ، فَلَمَّا خَتَمَهَا نَحَرَ جَزُورًا . (٢)

په تفسير عزيزي کې ذکر دي :

بيهقي در شعب الايمان از ابن عمر رضي الله عنه روايت کرده که حضرت امير المؤمنين عمر بن الخطاب ﷺ سورة بقره را باحقائق و دقائق آن در مدت دوازده سال خوانده فارغ شدند ، و روزِ ختم شترې را کشته ، طعام وافر پخته ، به ياران حضرت پيغمبر ﷺ خورانيدند . (٣)

همدا رنګې په اسلافو کې هم ددې مثال موجود دی .

---

(١) شرح القسطلاني إرشاد الساري لشرح صحيح البخاري ج٥ ص ٣٢٦ حديث ٢٣١١ كتاب الوكالة باب اذا وكل رجلا فترك الوكيل ... ، حديث ص ٢٣٣ مطلب يجوز تكرير سورة الاخلاص ... ، فتاوی محموديه ج٧ ص ٢٣٧ متعلقات قرآن .

(٢) تفسير درمنثور ج١ ص ٥٣ سورة البقرة قبيل آيت ١ ، تفسير قرطبي ج١ ص ٤٠ باب كراهية التعلم والفقه لكتاب الله ... اوجز المسالک ج٤ ص ١٣٢ كتاب الصلوة مكث ابن عمر على سورة البقرة ثمان سنين .

(٣) تفسير عزيزي بقرة ٨٦ قبيل خواص سورة بقره براى دفع جيچک . فتاوی محموديه ج٧ ص ١٧٧ آداب تلاوت .

د حافظ ابن حجر رحمه الله په باره کې شاه عبدالعزيز رحمه الله ليکلي دي چې کله ده د بخاري شرحه " فتح الباري " ختمه کړه نو ده ددې په خوشحالی کې يو دَعوت جوړ کړو ، او په هغې باندې يې پنځه سوه دِيناره خرچ کړه . (۱)

ليکن دا کارونه خالِصه د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دي ، ځکه که د رِيا او فخَر د پاره يو کار اوشي نو هغه د الله ﷻ په نزد نه قبليږي . (۲)

که په دعوت کولو او جَلسې جوړولو سره يو رَسم يا څه پريشاني جوړيده او ده خامخا صدقه ورکول غوښته نو بيا په پټه باندې د غريبانانو سره اِمداد په کار دی .

همدارنګې چيرته چې دې ماشوم حفظ کړی د هغه مدرسې طالبانو او اُستاذانو سره په پټه اِمداد په کار دی . (۳)

خلاصه دا چې که د انسان وَس کيده او د ختمِ قرآن په وخت يې دَعوت کول غوښته نو دا ختم بِدعت نه دی ، بلکه جائز دی .

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يَجْمَعَ أَهْلَهُ وَوَلَدَهُ عِنْدَ الْخَتْمِ وَيَدْعُوَ لَهُمْ ، كَذَا فِي الْيَنَابِيعِ . (۴)

د حضرت انس بن مالک ﷺ متعلق نقل دي :

كَانَ إِذَا خَتَمَ الْقُرْآنَ جَمَعَ أَهْلَهُ وَوَلَدَهُ ، فَدَعَا لَهُمْ . (۵)

کله به چې ده قرآن کريم ختم کړو نو د خپل کور واله او بچي به يې راجَمع کړه ، او دوی ته به يې دُعا وکړه .

---

(۱) شاه عبدالعزيز رحمه الله ليکلي : بعد از اتمام آن (يعنى فتح الباري شرح صحيح البخاري) شادي کرد و قريب به پانصد دينار در وليمه آن صرف نمود . بستان المحدثين ص ۱۱۵ .

(۲) عَنْ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللهُ بِهِ وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللهُ بِهِ » . متفق عليه . مشكاة المصابيح ص ۴۵۴ باب الرياء والسمعة رقم الحديث ۵۳۱۶ طبع ياسر نديم ديوبند .

(۳) فتاوى محموديه ج۷ ص ۱۷۷ آداب تلاوت .

(۴) عالمگيري ج۵ ص ۳۱۷ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِي الصَّلَاةِ وَالتَّسْبِيحِ . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۴ ص ۲۷۷ .

(۵) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۷۴ ، التفسير من سنن سعيد بن منصور محققا رقم الحديث ۲۷ (۱ / ۱۴۰) .
وفي رواية : عن أنس بن مالك قال : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَتَمَ جَمَعَ أَهْلَهُ وَدَعَا . ابن النجار ، كنز العمال ادب الختم رقم الحديث ۴۲۱۹ .

رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه موقع وفرمایل:

... وَمَنْ شَهِدَ خَتْمَ الْقُرْآنِ فَكَأَنَّمَا شَهِدَ الْغَنَائِمَ حِيْنَ تُقْسَمُ . (۱)

او څوک چې د ختمِ قرآن مجلس ته حاضر شو ګويا دا د مالِ غنيمت د تقسيم په وخت حاضر شو.

علامه قرطبي رحمه الله ليکلي:

قُلْتُ: وَيُسْتَحَبُّ لَهُ إِذَا خَتَمَ الْقُرْآنَ أَنْ يَجْمَعَ أَهْلَهُ. (۲)

په سنن دارمي او نورو د احاديثو په کتابونو کې هم د ختمِ قرآن په وخت د اِجتماع او دُعا کولو جواز نقل دی. (۳)

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما متعلق نقل دي چې ده يو کس صرف ددې د پاره مقرر کړې وُ چې چا به د قرآن کريم تلاوت کولو نو دې کس به دهغه څارَنه (معلومات) کولو، کله به چې دې تلاوت کوونکي د قرآن کريم د ختمولو اِراده وکړه نو دې مقرر شوي کس به حضرت ابن عباس ﷺ ته ددې اِطلاع ورکړه (چې فلانکې د قرآن کريم د ختمولو اِراده لري)، نو حضرت ابن عباس ﷺ به راغی، او ددې ختمِ قرآن په مجلس کې به يې شِرکت وکړو. (۴)

حکم بن عتيبه رحمه الله فرمايي: ماته امام مجاهد رحمه الله او عبدة ابن ابي لبابه يو کس راوليږل، دوی دې کس ته ويلي وو چې ده ته ووايه:

اِنَّا نُرِيْدُ أَنْ نَخْتِمَ الْقُرْآنَ، وَكَانَ يُقَالُ: إِنَّ الدُّعَاءَ يُسْتَجَابُ عِنْدَ خَتْمِ الْقُرْآنِ.

مونږ د قرآن کريم د ختمولو اِراده لرو (نو ته راشه)، ځکه دا مشهوره خبره ده چې د ختمِ قرآن په وخت دُعاګانې قبليږي.

---

(۱) الشيخ والديلمي من طريقين عن ابن مسعود، كنز العمال رقم الحديث ۲۴۳۱.

(۲) تفسير القرطبي ج۱ ص ۲۹، ۳۰ باب ما يلزم قارئ القرآن وحامله من تعظيم القرآن وحرمته.

(۳) فتاوى فريديه ج۱ ص ۲۵۳ كتاب ما يتعلق بالقرآن والتفسير.

(۴) وروي عن ابن عباس رضي الله عنهما أنه كان يجعل رجلاً يراقب رجلا يقرأ القرآن فإذا اراد أن يختم أعلم ابن عباس ليشهد ذلك. نزهة الناظرين كتاب تلاوة القرآن ص ۲۴۲.

پس هر کله چې دوی د ختمِ قرآن نه فارغ شو نو دوی ډیرې دُعاګانې اُوغوښتې. (۱)

اګر چې په فتاوی هِندیه پنځم جلد کې یې د محیط نه نقل کړي چې دا اِجتماع او دُعا مکروه ده. وجه یې دا بیان کړی چې په دې باندې تعامُل نه دې راغلی، او دا په خیرُ القرون کې ډیره معمول نه وه.

خو بیا یې د نورو فقهاوُ نه نقل کړي چې د ختمِ قرآن په وخت د اِجتماع او دُعا په باره کې به د عدمِ جواز فتویٰ نشي ورکولی، ځکه د صحابه کرامو د آثارو نه معلومیږي چې د ختمِ قرآن په وخت اِجتماع او دُعا مستحب ده.

بل دا چې د یو حکم د جواز او اِستحباب د پاره د صحابه کرامو قول کافي دی، که په دې باندې تعامُل راغلې وي او که نه.

(لهذا د ختمِ قرآن په وخت د اِجتماع او دُعا په باره کې د صحابه کرامو اَقوال او آثار موجود دي نو ځکه جائز ده). (۲)

## د قرآن کریم ختمولو نه پس سورة فاتحه او د سورة بقرې پنځه آیتونه ویل مستحب دي

د قرآن کریم ختمولو نه پس دا مُستحب دي چې انسان سورة فاتحه او د سورة بقرې اوّلني پنځه آیتونه اُولولي (یعنی د الٓمٓ نه تر هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ پورې).

(۱) عَنِ الْحَكَمِ، قَالَ: أَرْسَلَ إِلَيَّ مُجَاهِدٌ، وَعِنْدَهُ ابْنُ أَبِي لُبَابَةَ. قَالَا: إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكَ أَنَّا نُرِيدُ أَنْ نَخْتِمَ الْقُرْآنَ، وَكَانَ يُقَالُ: "إِنَّ الدُّعَاءَ يُسْتَجَابُ عِنْدَ خَتْمِ الْقُرْآنِ، فَلَمَّا فَرَغُوا مِنْ خَتْمِ الْقُرْآنِ دَعَوْا بِدَعَوَاتٍ" رواه البیهقي في شعب الایمان (۵/ ۳۵) ۱۹۰۹.

په بعضې کتابونو کې دا خبره داسې ذکر ده: عَنِ الْحَكَمِ، قَالَ: بَعَثَ إِلَيَّ مُجَاهِدٌ، قَالَ: إِنَّمَا دَعَوْنَاكَ أَنَّا أَرَدْنَا أَنْ نَخْتِمَ الْقُرْآنَ وَإِنَّهُ بَلَغَنَا أَنَّ الدُّعَاءَ يُسْتَجَابُ عِنْدَ خَتْمِ الْقُرْآنِ، قَالَ: «فَدَعَوْا بِدَعَوَاتٍ» اخرجه الدارمي في سنن ۴/ ۲۱۸۲ (۳۵۲۵) بَابٌ: فِي خَتْمِ الْقُرْآنِ.

(۲) فتاوی فریدیه ج۱ ص ۲۵۳ کتاب ما یتعلق بالقرآن والتفسیر.

أَخْرَجَ الدَّارِمِيُّ بِسَنَدٍ حَسَنٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَرَأَ { قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ } اِفْتَتَحَ مِنَ الحَمْدِ ثُمَّ قَرَأَ مِنَ البَقَرَةِ إِلى: { أُولٰئِكَ هُمُ المُفْلِحُونَ } . ثُمَّ دَعَا بِدُعَاءِ الخَتْمَةِ ثُمَّ قَامَ . (١)

وفي مجمع البحرين : قراء مكة اذا ختموا القرآن ابتدءوا وقرءوا الفاتحة وخمس آيات من اوّل البقرة الى المفلحون . (٢)

## په كومه ګتمه چې د قرآن مجيد آيت يا قرآني كلمات ليكل شوي وي دا بيتُ الخلاء ته وړل مكروهه دي

په كومه ګتمه چې د قرآن مجيد آيت يا څه قرآني كلمات ليكل شوي وي او دا د انسان په ګوته وي نو دا بيتُ الخلاء ته د ځان سره وړل مكروهه دي ، بيتُ الخلاء ته د تللو نه مخكې دا ويستل په كار دي .

وَيُكْرَهُ أَنْ يَدْخُلَ فِي الخَلَاءِ وَمَعَهُ خَاتَمٌ عَلَيْهِ اسْمُ اللهِ تَعَالى أَوْ شَيْءٌ مِنَ القُرْآنِ . كَذَا فِي السِّرَاجِ الوَهَّاجِ . (٣)

(١) الاتقان في علوم القرآن ١ / ٣٨٥ النوع الخامس والثلاثون : في آداب تلاوته وتاليه .

(٢) فتاوى فريديه ج١ ص٢٥٣ كتاب ما يتعلق بالقرآن والتفسير .

(٣) الفتاوى الهندية ج١ ص٥٠ الباب السابع في النجاسة واحكامها . آپ كے مسائل اور ان كا حل ج٣ ص٣٤٢ .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جُمعې اوله خطبه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلِيِّ الذَّاتِ عَظِيْمِ الصِّفَاتِ سَمِيِّ السِّمَاتِ كَبِيْرِ الشَّانِ . جَلِيْلِ الْقَدْرِ رَفِيْعِ الذِّكْرِ مُطَاعِ الْأَمْرِ جَلِيِّ الْبُرْهَانِ . فَخِيْمِ الْإِسْمِ عَزِيْزِ الْعِلْمِ وَسِيْعِ الْحِلْمِ كَثِيْرِ الْغُفْرَانِ . جَمِيْلِ الثَّنَآءِ جَزِيْلِ الْعَطَآءِ مُجِيْبِ الدُّعَآءِ عَمِيْمِ الْإِحْسَانِ . سَرِيْعِ الْحِسَابِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ أَلِيْمِ الْعَذَابِ عَزِيْزِ السُّلْطَانِ .

وَنَشْهَدُ أَنْ لَّآ اِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْکَ لَهٗ فِي الْخَلْقِ وَالْأَمْرِ . وَنَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ . اَلْمَبْعُوْثُ إِلَى الْأَسْوَدِ وَالْأَحْمَرِ . اَلْمَنْعُوْتُ بِشَرْحِ الصَّدْرِ وَرَفْعِ الذِّكْرِ . وَصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ خُلَاصَةُ الْعَرَبِ الْعَرْبَآءِ . وَخَيْرُ الْخَلَائِقِ بَعْدَ الْأَنْبِيَاءِ .

أَمَّا بَعْدُ فَيَآ أَيُّهَا النَّاسُ وَحِّدُوا اللهَ فَإِنَّ التَّوْحِيْدَ رَأْسُ الطَّاعَاتِ . وَاتَّقُوا اللهَ فَإِنَّ التَّقْوٰى مِلَاكُ الْحَسَنَاتِ . وَعَلَيْكُمْ بِالسُّنَّةِ فَإِنَّ السُّنَّةَ تَهْدِيْ إِلَى الْإِطَاعَةِ . وَمَنْ أَطَاعَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ رَشَدَ وَاهْتَدٰى . وَإِيَّاكُمْ وَالْبِدْعَةَ فَإِنَّ الْبِدْعَةَ تَهْدِيْ إِلَى الْمَعْصِيَةِ . وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ وَغَوٰى . وَعَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يُنْجِيْ وَالْكِذْبَ يُهْلِكُ . وَعَلَيْكُمْ بِالْإِحْسَانِ فَإِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ . وَلَاتَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللهِ فَإِنَّهٗ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ . وَلَاتُحِبُّوا الدُّنْيَا فَتَكُوْنُوْا مِنَ الْخَاسِرِيْنَ . أَلَا وَإِنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوْتَ حَتّٰى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا . فَاتَّقُوا اللهَ وَأَجْمِلُوْا فِي الطَّلَبِ وَتَوَكَّلُوْا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ . وَادْعُوْهُ فَإِنَّ رَبَّكُمْ مُجِيْبُ الدَّاعِيْنَ . وَاسْتَغْفِرُوْهُ يُمْدِدْكُمْ

بِأَمْوَالٍ وَبَنِيْنَ ۔ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۔ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْ أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ ۔

بَارَكَ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ فِي الْقُرْآنِ الْعَظِيْمِ ۔ وَنَفَعَنَا وَإِيَّاكُمْ بِالْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ۔ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ لِيْ وَلَكُمْ وَلِسَائِرِ الْمُسْلِمِيْنَ ۔ فَاسْتَغْفِرُوْهُ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۔

# د جُمعې دویمه خطبه

(**نوټ**: خطیب به د اولې خطبې ویلو نه روستو دومره اندازه کینې چې اندامونه یې مطمئن شي، یا به اُودریږي او دا لاندې دویمه خطبه به شروع کړي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ ۔ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ ۔ وَنَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ۔ أَرْسَلَهُ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ ۔ مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ رَشَدَ، وَمَنْ يَّعْصِهِمَا فَإِنَّهُ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهُ ۔ وَلَا يَضُرُّ اللّٰهَ شَيْئًا ۔ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ۔ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ ، وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ ۔ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّاتِهِ ۔

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْحَمُ أُمَّتِيْ بِأُمَّتِيْ أَبُوْبَكْرٍ ، وَأَشَدُّهُمْ فِيْ أَمْرِ اللّٰهِ عُمَرُ ، وَأَصْدَقُهُمْ حَيَاءً عُثْمَانُ ، وَأَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ ، وَفَاطِمَةُ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ ۔ وَالْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ ۔ وَحَمْزَةُ أَسَدُ اللّٰهِ وَأَسَدُ رَسُوْلِهِ ۔ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً لَا تُغَادِرُ ذَنْبًا ۔ اَللّٰهَ اَللّٰهَ فِيْ أَصْحَابِيْ ،

لَاتَتَّخِذُوْهُمْ غَرَضًا مِن بَعْدِيْ ، فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ أَحَبَّهُمْ ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ أَبْغَضَهُمْ ، وَخَيْرُ أُمَّتِيْ قَرْنِيْ ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ، وَالسُّلْطَانُ ظِلُّ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ ، مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ أَهَانَهُ اللّٰهُ ، إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيْتَآءِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ. فَاذْكُرُوْنِيْ أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَاتَكْفُرُوْنِ.

## د وړوکي اختر اولنۍ خطبه

اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْمُنْعِمِ الْمُحْسِنِ الدَّيَّانِ ، ذِي الْفَضْلِ وَالْجُوْدِ وَالْإِحْسَانِ ، ذِي الْكَرَمِ وَالْمَغْفِرَةِ وَالْإِمْتِنَانِ ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ الَّذِيْ أُرْسِلَ حِيْنَ شَاعَ الْكُفْرُ فِي الْبُلْدَانِ ، صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ مَا لَمَعَ الْقَمَرَانِ وَتَعَاقَبَ الْمَلَوَانِ ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ .

أَمَّا بَعْدُ فَاعْلَمُوْا أَنَّ يَوْمَكُمْ هٰذَا يَوْمُ عِيْدٍ لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ فِيْهِ عَوَآئِدُ الْإِحْسَانِ ، وَرَجَآءُ نَيْلِ الدَّرَجَاتِ وَالْعَفْوِ وَالْغُفْرَانِ ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَقَدْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيْدًا وَهٰذَا عِيْدُنَا . اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ عِيْدِهِمْ يَعْنِيْ يَوْمَ فِطْرِهِمْ بَاهٰى بِهِمْ مَلَآئِكَتَهُ فَقَالَ يَا مَلَآئِكَتِيْ مَاجَزَاءُ أَجِيْرٍ وَفّٰى عَمَلَهُ ، قَالُوْا رَبَّنَا جَزَاءُهُ أَنْ يُوَفّٰى أَجْرَهُ ،

قَالَ مَلَآئِكَتِيْ عَبِيْدِيْ وَ إِمَائِيْ قَضَوْا فَرِيْضَتِيْ عَلَيْهِمْ ثُمَّ خَرَجُوْا يَعُجُّوْنَ إِلَى الدُّعَآءِ ، وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ وَكَرَمِيْ وَعُلُوِّيْ وَ ارْتِفَاعِ مَكَانِيْ لَأُجِيْبَنَّهُمْ فَيَقُوْلُ ارْجِعُوْا قَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ وَبَدَّلْتُ سَيِّاٰتِكُمْ حَسَنَاتٍ ، قَالَ فَيَرْجِعُوْنَ مَغْفُوْرًا لَّهُمْ . اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ اَتْبَعَهُ سِتًّا مِّنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ بَيْنَ أَضْعَافِ الْخُطْبَةِ وَيُكْثِرُ التَّكْبِيْرَ فِيْ خُطْبَةِ الْعِيْدَيْنِ ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ، قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى وَ ذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى .

## د وړوکي اختر دويمه خطبه

( **نوټ** : خطيب به د اولې خطبې وېلو نه روستو دومره اندازه کيني چې اندامونه يې مطمئن شي ، بيا به پاڅي او دا لاندې دويمه خطبه به شروع کړي )

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ ، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ، أَرْسَلَهٗ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا ، بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ ، مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ رَشَدَ ، وَمَنْ يَّعْصِهِمَا فَإِنَّهٗ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهٗ وَلَا يَضُرُّ اللّٰهَ شَيْئًا ، اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَآئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ، اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ ، وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ ، وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اَزْوَاجِهٖ وَ ذُرِّيَّتِهٖ .

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْحَمُ أُمَّتِيْ بِأُمَّتِيْ اَبُوْبَكْرٍ ، وَأَشَدُّهُمْ فِيْ أَمْرِ اللهِ عُمَرُ ، وَأَصْدَقُهُمْ حَيَاءً عُثْمَانُ ، وَ أَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ ، وَفَاطِمَةُ سَيِّدَةُ نِسَاءِ اَهْلِ الْجَنَّةِ ، وَالْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، وَحَمْزَةُ أَسَدُ اللهِ وَاَسَدُ رَسُوْلِهٖ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَ وَلَدِهٖ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَّ بَاطِنَةً لَّاتُغَادِرُ ذَنْبًا ، اَللهَ اَللهَ فِيْ أَصْحَابِيْ ، لَاتَتَّخِذُوْهُمْ غَرَضًا مِنْ بَعْدِيْ ، فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ أَحَبَّهُمْ ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ أَبْغَضَهُمْ ، وَخَيْرُ أُمَّتِيْ قَرْنِيْ ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ، وَالسُّلْطَانُ ظِلُّ اللهِ فِي الْاَرْضِ ، مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللهِ فِي الْاَرْضِ أَهَانَهُ اللهُ ، إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيْتَاءِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ، فَاذْكُرُوْنِيْ أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَاتَكْفُرُوْنِ .

## د غټ اختر اوله خطبه

اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ لِكُلِّ أُمَّةٍ مَّنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ، وَعَلَّمَ التَّوْحِيْدَ وَاَمَرَ بِالْإِسْلَامِ ، اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ، اَلَّذِيْ هَدَانَآ اِلٰى دَارِ السَّلَامِ ، اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ قَامُوْا بِإِقَامَةِ الْأَحْكَامِ ، وَبَذَلُوْا اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَيَالَهُمْ مِنْ كِرَامٍ ، وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا ، اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ .

اَمَّا بَعْدُ فَاعْلَمُوْا اَنَّ يَوْمَكُمْ هٰذَا يَوْمُ عِيْدٍ لِلّٰهِ شَرَعَ لَكُمْ مَّا فِيْهِ مَعَ اَعْمَالٍ اُخَرَ ، هُوَ ذَبْحُ الْاُضْحِيَةِ بِالْإِخْلَاصِ وَصِدْقِ النِّيَّةِ ، وَبَيَّنَ نَبِيُّهُ وَصَفِيُّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُجُوْبَهَا وَفَضَائِلَهَا ، وَدَوَّنَ عُلَمَآءُ اُمَّتِهٖ مِنْ سُنَنِهٖ فِيْ كُتُبِ الْفِقْهِ مَسَائِلَهَا ، اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، فَقَدْ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَا عَمِلَ ابْنُ آدَمَ مِنْ عَمَلٍ يَّوْمَ النَّحْرِ اَحَبَّ اِلَى اللهِ مِنْ اِهْرَاقِ الدَّمِ وَ إِنَّهُ لَيَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُوْنِهَا وَ اَشْعَارِهَا وَ اَظْلَافِهَا وَ إِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ اَنْ يَقَعَ بِالْاَرْضِ فَطِيْبُوْا بِهَا نَفْسًا ، اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَقَالَ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا هٰذِهِ الْاَضَاحِيُّ قَالَ سُنَّةُ اَبِيْكُمْ اِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ، قَالُوْا فَمَا لَنَا فِيْهَا يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ ، قَالُوْا فَالصُّوْفُ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ مِّنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ ، اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَنْ وَّجَدَ سَعَةً لِاَنْ يُّضَحِّيَ فَلَمْ يُضَحِّ فَلَايَحْضُرْ مُصَلَّانَا ، اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ اَلْاَضَاحِيُّ يَوْمَانِ بَعْدَ يَوْمِ الْاَضْحٰى ، وَعَنْ عَلِيٍّ مِثْلُهُ ، اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ، لَنْ يَّنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا وَلَادِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللهَ عَلٰى مَا هَدٰاكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ .

# د غټ اختر دويمه خطبه

( **نوټ** : خطيب به د اولې خطبې ويلو نه روستو دومره اندازه کېني چې اندامونه يې مطمئن شي ، يا به پاڅي او دا لاندې دويمه خطبه به شروع کړي )

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ ، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَاهَادِيَ لَهُ ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ، أَرْسَلَهُ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ ، مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ فَقَدْ رَشَدَ، وَمَنْ يَّعْصِهِمَا فَإِنَّهُ لَايَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهُ وَلَا يَضُرُّ اللّٰهَ شَيْئًا . اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَآئِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا . اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَ رَسُوْلِكَ ، وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ . وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ ،

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْحَمُ أُمَّتِيْ بِأُمَّتِيْ اَبُوْبَكْرٍ ، وَأَشَدُّهُمْ فِيْ أَمْرِ اللّٰهِ عُمَرُ ، وَ أَصْدَقُهُمْ حَيَآءً عُثْمَانُ ، وَ أَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ ، وَفَاطِمَةُ سَيِّدَةُ نِسَآءِ اَهْلِ الْجَنَّةِ . وَالْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ . وَحَمْزَةُ اَسَدُ اللّٰهِ وَاَسَدُ رَسُوْلِهِ . اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَ وَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَّ بَاطِنَةً لَّاتُغَادِرُ ذَنْبًا . اَللّٰهَ اَللّٰهَ فِيْ أَصْحَابِيْ ، لَاتَتَّخِذُوْهُمْ غَرَضًا مِنْ بَعْدِيْ . فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ أَحَبَّهُمْ ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ أَبْغَضَهُمْ ، وَخَيْرُ أُمَّتِيْ قَرْنِيْ ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ، وَالسُّلْطَانُ ظِلُّ اللّٰهِ فِي الْاَرْضِ . مَنْ اَهَانَ سُلْطَانَ اللّٰهِ فِي الْاَرْضِ أَهَانَهُ اللّٰهُ . إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيْتَاءِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ . فَاذْكُرُوْنِيْ أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَاتَكْفُرُوْنِ .

## نوټ:

د جُمعې او اخترونو په دويمه خُطبه کې (يعنى د اولې خُطبې ويلو نه پس چې خطيب کيني او بيا پاڅي) دا پاس مذکوره خُطبه ويل هم صحيح دي، او همدغه شان يوه بله خُطبه هم درته ليکم چې که د خطيب خوښه شي نو د دويمې خُطبې په ځاى باندې دا لاندينۍ خطبه هم ويلې شي. ابوالشمس عفي عنه

اَلحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ ، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَاهَادِيَ لَهٗ . وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ . صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ .

اَمَّابَعْدُ فَاِنَّ أَصْدَقَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللّٰهِ ، وَأَوْثَقَ الْعُرٰى كَلِمَةُ التَّقْوٰى ، وَخَيْرَ الْمِلَلِ مِلَّةُ اِبْرَاهِيْمَ . وَخَيْرَ السُّنَنِ سُنَّةُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَأَشْرَفَ الْحَدِيْثِ ذِكْرُ اللّٰهِ . وَأَحْسَنَ الْقَصَصِ هٰذَا الْقُرْآنُ ، وَخَيْرَ الْاُمُوْرِ عَوَازِمُهَا ، وَشَرَّ الْاُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا ، وَأَحْسَنَ الْهَدْيِ هَدْيُ الْاَنْبِيَآءِ ، وَأَشْرَفَ الْمَوْتِ قَتْلُ الشُّهَدَآءِ

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْحَمُ أُمَّتِيْ بِأُمَّتِيْ اَبُوْبَكْرٍ ، وَأَشَدُّهُمْ فِيْ أَمْرِ اللّٰهِ عُمَرُ ، وَأَحْيَاهُمْ عُثْمَانُ ، وَأَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ ، وَسَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ اَلْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ ، وَسَيِّدَةُ نِسَآءِ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَاطِمَةُ ، وَسَيِّدُ الشُّهَدَآءِ حَمْزَةُ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهٖ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً لَاتُغَادِرُ ذَنْبًا ، اَللّٰهَ اَللّٰهَ فِيْ أَصْحَابِيْ ، لَاتَتَّخِذُوْهُمْ مِنْ بَعْدِيْ غَرَضًا ، مَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ أَحَبَّهُمْ ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ أَبْغَضَهُمْ ، وَخَيْرُ الْقُرُوْنِ قَرْنِيْ ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ، وَالسُّلْطَانُ الْعَادِلُ ظِلُّ اللّٰهِ ، مَنْ اَكْرَمَهٗ

اَكْرَمَهُ اللهُ ، وَ مَنْ أَهَانَهُ أَهَانَهُ اللهُ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ ، وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ، رَبَّنَا اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ ، اَلْاَحْيَاءِ مِنْهُمْ وَالْاَمْوَاتِ ، اَللّٰهُمَّ انْصُرْ مَنْ نَصَرَ دِيْنَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاجْعَلْنَا مِنْهُمْ ، وَاخْذُلْ مَنْ خَذَلَ دِيْنَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَجْعَلْنَا مِنْهُمْ ، عِبَادَ اللهِ رَحِمَكُمُ اللهُ ، اِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَاءِ ذِى الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ، اُذْكُرُوا اللهَ يَذْكُرْكُمْ وَادْعُوْهُ يَسْتَجِبْ لَكُمْ ، وَلَذِكْرُ اللهِ تَعَالٰى اَعْلٰى وَاَوْلٰى وَاَعَزُّ وَاَجَلُّ وَاَهَمُّ وَاَعْظَمُ وَاَكْبَرُ .

# د نکاح خطبه

د نکاح ترلو نه مخکې دا خطبه ویل په کار دي:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ ، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ .

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهِ وَالْاَرْحَامَ اِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا . يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا .

# د تقرير شروع کولو نه مخکې خطبې

د تقرير شروع کولو نه مخکې چې کومه خطبه ويلې شي هغه ما د هر تقرير په شروع کې ليکلې ده ، خو دلته درته يو څو نورې خُطبې ليکم ، خطيبان د تقرير شروع کولو نه مخکې دا خطبې هم ويلې شي . د هرې موضوع موافق آيت او حديث دې ورسره ملګرې کوي .

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ..........

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..........

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم .

---

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى النَّبِيِّ الْمُصْطَفَى الْمُخْتَارِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَخْيَارِ .

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ..........

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..........

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم .

---

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَبْدَعَ الْاَفْلَاكَ وَالْاَرْضِيْنَ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ كَانَ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ..........

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..........................
صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

---

اَلْحَمْدُ لِاَهْلِهِ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى اَهْلِهَا ، اَمَّا بَعْدُ......

---

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَنْعَمَ عَلَى الْخَلْقِ بِبَعْثَةِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ ، امابعد.

---

الحمد لله الّذي خلق كلّ شيء فقدّره تقديرا ، وأتقن ما شرعه وصنعه حكمة وتدبيرا ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وكان الله على كل شيء قديرا ، وأشهد أنّ محمدا عبده ورسوله أرسله إلى الخلق بشيرا ونذيرا ، وداعيا إلى الله بإذنه وسراجا منيرا ، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان وسلم تسليما كثيرا. أما بعد.....

---

الحمد لله الذي خلق خلقه أطواراً ، وصرّفهم كيف ما شاء عزة واقتداراً ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن سيدنا ونبيّنا محمدًا عبده ورسوله.

---

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ ، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَامُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَاهَادِيَ لَهُ ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ، أَرْسَلَهُ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا ، بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ ، مَنْ يُّطِعِ اللهَ وَ رَسُوْلَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَّعْصِهِمَا فَاِنَّهُ لَايَضُرُّ اِلَّا نَفْسَهُ وَلَا يَضُرُّ اللهَ شَيْئًا .

أَمَّابَعْدُ فَإِنَّ خير الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللهِ ، وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَشَرَّ الْأُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا ، وَكُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ ، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ ، وَكُلَّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ .

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالفُرقَانِ الْحَمِيْدِ : ......................

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ........... .... .....

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

په مختلفو ژبو ( یعنی پښتو ، اردو ، عربي ، فارسي او انګریزي )
کې د تقریر اِستِعداد پیدا کولو د پاره اَولنۍ ، بې مِثله ، نایاب ، جامِع ،
عِلمي او تحقیقي کتاب :

# هر تقریر په مُختلفو ژبو کې

## كُلُّ خُطْبَةٍ بِلُغَاتٍ مُخْتَلِفَةٍ

## ہر تقریرِ مختلف زبانوں میں

## هر تقریر در زبان هاى مختلف

## Every speech in different Languages

تالیف

اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

**نوټ** : دا کتاب د علماؤ او طلباؤ د پاره ډیر ضروري دی ، ځکه په دې کتاب کې هر تقریر په مختلفو ژبو کې لیکل شوی . مثلاً یو تقریر اول په پښتو ژبه کې لیکل شوی ، بیا همدا تقریر په اُردو ، فارسي ، عربي او انګریزي کې هم لیکل شوی ، چې په دې سره په اهلِ عِلمو کې دا اِستعداد پیدا کیږي چې مختلفې ژبې هم په آسانه یادولې شي ، او بیا په مختلفو ژبو کې تقریر هم کولې شي . په دې آنداز باندې دا اولنی او بې مِثله کتاب دی . ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د اَهلِ علمو او خطيبانو د پاره د خُوشحالئ خبر

زه اَهلِ عِلمو او خطيبانو ته يو ځل بيا . خوشحالئ خبر ورکوم چې اِن شاء الله د تقريرونو ليکلو دا سلسله به د الله ﷻ په توفيق سره همداسې جاري ساتم .

ځکه يو څو ډيرې اَهمې موضوع ګانې د ليکلو نه پاتې دي . دويم دا چې کومو ملګرو او خطيبانو راته په يو څو مخصوصو موضوع ګانو باندې د ليکلو په باره کې تاکيدي خبره کړې وه د هغوی آرزو ګانې به هم پوره شي .

اګر چې بعضې موضوع ګانې خو په دې جِلد کې اوليکلې شوی ، خو چې کومې پاتې دي هغه به اِن شاء الله په راتلونکو جِلدونو کې همداسې په تفصيل سره اُوليکم .

که د يو څو راغلې اِمتحاناتو او مُشکلاتو نه اُووتم نو د الله ﷻ په توفيق سره به په ډير نژدې وخت کې **شپږم جِلد** هم تيار کړم .

الله رب العزت دې دا کتابونه د خپلې رَضا ذريعه اوګرځوي ، پروَردِګارِ عالم دې دا د معاشرې د اِصلاح سبب اُوګرځوي ، او رَبِّ لايَزال دې دا کتابونه زما ، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذريعه اوګرځوي

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

په خپلو مقبولو دُعاګانو کې مو مه هېروئ .

ستاسو ورور

**ابوالشمس نُورالهدیٰ عفی عنه**

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولې شئ .

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

# خوشخبري

(دتقريرونو دويمه سلسله)

دتقريرونو دا اوله سلسله په همدې پنځلسم جلد باندې پوره شوه. ددينه پس به إن شاءَ اللّٰه دتقريرونو يوه بله سلسله شروع کوم، دهغې نوم به وي:

## "دتقريرونو مُدَلَّلـه ذَخيره"

په هغې کې به هم په مختلفو موضوعګانو باندې هم دغه شان تفصيلي، مُدلَّلْ او جامِع تقريرونه وي، هغه سلسله به داول جلد نه شروع کيږي.

ابو الشمس مولانا نورالهدا عفی عنه
موبائل نمبر: ۰۳۰۶-۵۴۴۷۱۷۴

مکتبه اعزازیه
جاده ميوند پخته فروشی کابل: 0764857797